یوئې ظلم یوئې جبر زمانه که سمنــدر دې
په غریب د وخت ګزار دې د چپو په ګنګخړو

# د پښتو ناول

# ګنګخړی

**مصنف**

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو، انگلش)**





**ټول حقوق محفوظ دي**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ګنګخړی |
| لیکوال: | پرویز شیخ |
| اشاعت: | مئی ٢٠١٢ء |
| کمپوزنګ: | حبیب الرحمن (صافی) |
| شمېر: | (200) |
| پرېس: | اعراف پرنټرز محله جنګی پېښور<br>+92-91-2580006 |
| بیعه: | (200) روپۍ |

**د موندلو درکونه**

یونیورسټي بک ایجنسي پېښور
یونیورسټي بک شاپ
زیب آرټ پبلشرز محله جنګي پېښور

## ټړون

پہ ډيره مينه دَ نوی کوُل نامتو ناول نګار
افسانه نګار ، رومانی شاعر ، پہ پښتو او
پښتنو مئين او دَ اعراف پرنټنګ پريس پروپرائيټر
ښاغلی **ايازاللّٰه ترکزي** ته

پرويز شيخ
24/4/2012


www.pukhto.net



## ړومبې باب

عنبرين به هم لاړه شی ؟ هغه به هم دَ بل دَ کوره شی ؟ چې هغه لاړه شی نو زۀ به څۀ کوم ؟ زۀ به چرته ځم ؟ زما او دَ هغې لارې به واقعی بيلې شی ؟ زۀ به بيا هغې سره نشم ملاويدے ؟ دَ هغې نه بغير به د دے ژوند څۀ خوند وی ؟ زما په ژوند کښی به څۀ پاتے شی ؟ زۀ خو به پاګل شم ، ليونے به شم .......ته يې پاګل ، ته يې ليونې ....ليونے تور وی که سپين ؟ ....ستا هغې سره څۀ نسبت ؟ څۀ تعلق ؟ ...څۀ ؟ دَ مينے تعلق ؟ ستا او دَ هغې دَ مينے څۀ جوړ دے ؟ هغه دَ شهباز خان طوطی خيل لور ده او تۀ دَ هغۀ دَ يو غريب زميدار او خدمت ګار ځوے يې ـ لږ ځان ته پام اوکړه ، آيا تۀ دَ هغې دَ مينے جوګه يې ؟ ستا پلار دَ هغې پلار سره جغ اوړے شی ؟ تۀ دَ خانانو په وندر کښې تلے شے ؟ نه هيچرے هم نه ـ

دا هغه خود کلامی وه چې عدنان دَ عنبرين دَ وادۀ په ورځ ځان سره کوله او دَ هغې دَ ډولۍ په انتظار کښې دَ سړک په غاړه بوټو کښې پټ په دے غرض ناست وو چې درنګ ساعت له به دَ هغې ډولۍ په دے سړک تيريږی او دَ هغې اخری ديدن به اوکړی ـ

ډولۍ دَ موټرو په قطار کښې دَ هغۀ په خوا کښې تيره شوه ، کاکی خيل ته لاړه او هغه نميګړې نيمه خوا هلته پاتے شو ـ طوطی خيل او کاکی خيل کلی په لږه لږه فاصله باندے پرله پسې پراتۀ وو ـ دَ دواړو کلو خپلې خپلې خانی وې البته په دواړو کلو کښې دَ خانانو نه علاوه

دَ هغوی زمیدار ، کسب ګر او مزدور پیشه افراد هم اوسیدل ۔ دغه خلقو به دَ هغوی زمکے هم کرلے ، دَ هغوی خدمتونه او بیګارونه به یې هم کول ، دَ هغوی ټوپک ماری به یې هم کوله او دَ شپې به یې دَ هغوی دَ کورونو څوکۍ هم کولے ۔ د دے کلو دَ خانانو زمکے تر لرے لرے خورے پرتے وې۔ دا دواړه خیلو نه بیل بیل قومونه وو او یو بل سره یې دَ وینے رشتے نه لرلے البته مړے ، ژوندے به یې یو بل سره ښۀ په نره کوو ۔ دَ سړو نه علاوه زنانه به هم مړی ژوندی او غم ښادی له تلے راتلے ۔ دَ هر خیل دَ پیژندو قدرتی لحاظ سره خپله نښنخه وه ۔ طوطی خیل دَ طوطی بابا اولاد وو او چې په کوم کلی کښې هغه اوسیدو نو هغے کلے دَ هغه په نامه مشهور شو ۔ دَ طوطی بابا خپل نوم هاشم خان وو ۔ دَ هاشم بابا دَ پوزے سوکه اوږده او لکه دَ طوطی دَ مخوکے لاندے سپیرو ته سلامی شوے وه ۔ دے نه علاوه دَ هغه دَ پوزے په سر یوه سره ټاکۍ وه ۔ دَ هغه دَ پوزے او دَ طوطی دَ مخوکے دَمناسبت او مشابهت په وجه هغه په طوطی بابا مشهور شو ۔ بیا روستو دَ هغه ټول اولاد په طوطی خیل نومیدۀ ۔

کاکی خیل دَ نور الدین کاکی بابا اولاد وو ۔ دَ هغوی دَ پیژندو نښنخه دا ده چې دَ هغوی دَ هر نارینه اولاد په تندی به دَ مهراب پیدائشی نښنخه وه ۔ هغوی خپل شجرۀ نسب بختیارؔ کاکی ته رسولے وو۔ دَ مهراب نه علاوه دَ هغوی دَ نومونو په اخره کښې به دَ کاکی ټکې ارو مرو راتلو ۔





دا دواړه کلی ښۀ آباد او خوشحال وو ۔ دَ هر کلی سړکونه ، لارے کوڅے ، لختی او دَ اوبه خوړولے پخے وې ۔ دے نه علاوه په هر کلی کښې یوه ډاکخانه ، یا تارګهر او یو ، یو بی ایچ یو وو ۔ دَ جینکو هائی سکول دَ دواړو کلو په شاملات کښې جوړ وو او دَ هلکانو هائی سکول دَ لوے هدیرے یو اړخ ته وو۔ دے نه علاوه په دواړو کلو کښې واړۀ واړۀ بازارګی هم وو چې هغے کښې دَ ضرورت هریو څیز ملاویدو ۔ دا دواړه کلی دَ خواۀ شا نورو کلو په نسبت ښه آباد وو ۔ دیکښے وجه دا وه چې کله به دَ الیکشن شپې ورځې شوے نو دَ دواړو کلو دَ اصلاحی کمیټو ممبران او چیرمینان به یو ځائے ته راغونډ شو او دَ مشترکه مفادات او اجتماعی مقاصد حاصلولو دَ پاره به یې یو مشترکه امیدوار او ټاکو ، دَ هغه نه به یې دَ عوامو دَ خدمت پورا وعده واخسته او دَ زړه دَ خلاصه به نر ، ښځو ووټونه ورکړل او چی کله به هغه کامیاب شو نو دَ مبارکۍ سره سره به یې ورته دَ عوامی کارونو فهرست او مطالبه مخکښے کړه ۔ دَ هغه به دا کوشش وو چې خپل ړومبې فنډ د دغه کلو په کارونو اولګوی ۔ دَ الیکشن نه علاوه دَ دواړو کلو دَ کمیټو اجلاس به هم کله کله یو ځائے کیدو ۔ دَ یو بل نه به یې ډیر څۀ ازده کول او مشورے به یې ورکولے ۔ دے نه علاوه د دے کلو اصلاحی کمیټو به دَ خپل خپل کلی وړے وړے جهګړے هم فیصله کولے ۔ دے سره سره هغوی یوه رابطه کمیټی هم جوړه کړے وه چې هغے کښې دَ دواړو کلو دوه دوه ممبران شامل وو او دَ هغے دَ چیرمین



Pukhto.Net
www.pukhto.net

انتخاب به د دغه ممبرانو په ووټونو کیدو ۔ د دے کمیټی کار دا وو که چرے دَ دواړو کلو ترمینځه به څۀ ناګهانی جنګ ، جهګړه راغله نو دَ هغے فیصله به دغه کمیټئ کوله ۔ دَ هر کلی دَ اصلاحی کمیټی ممبرانو به په بهرنی سړی نظر ساتو ۔ که چرے په غلطئ کښی به چا چابړی فروش څۀ مضر صحت ځیزونه راؤړل نو په هغه ساعت به یې د۔ کلی نه بهر کړو او آئنده دَ پاره به یې ورته دَ نه راتلو وارننګ ورکړو ۔ که چرے یو زلمی به دَ جینکو دَ سکول مخکښے اوختو را اوختو ، یا جینکو ته به په لاره کښی اودریدو یا ورپسې به یې شپیلۍ یا آخ تېخ کوو نو هغوی به ورپسی ورغلل، سپورے ، ستغے به یې ورته اووے او هله به یې پریښودو چی پوزه به یې پرے راخکله ۔ که چرے چا به ورسره چیړ اوکړو او په هغه به یې زورنه رسیدو نو چیرمین ته به یې رپورټ ورکړو ۔ چیرمین به فوری طور پولیس ته اطلاع ورکړه او چې هغه به په ځان پوهیدو نو پولیس به ورته شړنګیدلے هتکړئ مخکښے ولاړ وو ، تانے ته به یې بوتلو او تر هغے به په حوالات کښې پروت وو ترڅو چې به دَ اصلاحی کمیټئ چیرمین معاف کړے نه وو ۔

د دے کلو اکثر مشران بے تعلیمه پاتے شوی وو خو دَ هغوی کشره زیلئ ، هلکان او جینکئ ښه تعلیم یافته هم شو او په ښه ښه نوکرو هم اولګیدل ۔ دَ کمیټئ ممبرانو به دَ سکول په استاذانو ، دَ علاقے په پټواری ، دَ بی ایچ یو په سټاف او دَ تانے په ایس ایچ او هم نظر ساتو ۔ هم دا وجه وه چی دَ بیل بیل خیلونو او قومونو باوجود د دے کلو تر



www.pukhto.net



مینځه جهګړه نه وه شوے ۔دا دواړه کلی په هر لحاظ سره په پرمختګ روان وو او چی کله دَ سکول طالب علمان او طالبات نهم ته اورسیدل نو دَ لسم جماعت پاس کولو نه ورته مخکښے دوه کالجونه جوړ شو ۔ په دغه دوو کښی یو دَ هلکانو دَ پاره وو او بل دَ جینکو دَ پاره ۔ دے سره دَ نوے کول خپلو کښې دوستانے او ملګرتیا جوړے شوے ۔ دے نه علاوه دَ هغوی سینے ارتې ، ذهنونه وسیع او سترګے رڼا شوے ۔ دَ خان او مزدور او دَ امیر او غریب بال بچ په یو سکول او کالج کښې به سیټ په سیټ او اړوه په اوږه کیناستل ۔

عالمے کاکا دَ طوطی خیل کلی اوسیدونکے وو او پلار په نیکه دَ دغه کلی دَ خانانو زمیدار وو ، دَ عالمی درے ځامن او یوه لور وه ۔ دَ ځامنو نومونه یې ناصر خان ، سجاد خان او عدنان وو او دَ لور نوم یې بخت بی بی وو ۔ ناصر خان ، سجاد خان او بخت بی بی تر اتهم جماعته پورے لاړل البته عدنان دَ خپل کلی په کالج کښی دولسم جماعت پاس کړو ۔ دَ عالمئ خپل نوم عالم خان وو خو څۀ دَ مور پلار له خوا او څۀ له خپلو مینو له خوا دَ عالمی په نوم مشهور شو ۔ عالمې دَ خانانو په کورنئ کښې نه وو بلکه یو غریب سړے وو او دَ شهباز خان زمیدار وو خو په خوی بوی او شکل وصورت کښې دَ هغوی نه کم نه وو ۔ لوړ دنګ ، سور سپین ، دروند سړے وو او ښه درنه زمیداری به یې کوله ۔ په خپلې خوارئ او محنت به یې دَ زمکے نه ښه امدن اخستو ۔ دَغویانو ښه زبردسته جوړه به یې ساتله او چی سحر به یې دَ

یوے په موتی۔ لاس کیښودو نو هله به دَ پټی نه وتو چی خپل ټاکلې شوے کار به یې ختم کړو ۔ هم دغه وجه وه چی نورو خانانو به خپلو زمیدارو ته دَ هغهٔ دَ فصل او خوارۍ محنت مثال ورکوو۔

دَ عالمی کړهٔ اوړهٔ ، خبرے اترے ، ناسته پاسته اوګرځیده هم دَ سړو وو ۔ ډیر اصولی ، قناعت پسند ، خوږ ژبانه او قدردان سړے وو کله چی به شهباز خان او دَ هغه ناظر په پټو ګرځیدل او په هغه به ورغلل نو هغه به خپل ضروری کار پریښودو ، دَ هغوی خوا له به ورغی۔ او په خندا او مسکا به یې ورسره روغ جوړ اوکړل ۔ بیا به یې څادر په زمکه اوغوړوو او هغوی ته به یې پرے دَ ناستے ست اوکړو ۔ که هغوی سره به وخت وو نو شیبه نیمه به کیناستل ، یوه ټوټه ګپ به یې هم اوویشتو او دَ شوملو کنډولی به یې هم ترینه اوڅکل او که هغوی به دَ ناستے په موډ کښې نه وو نو په ولاړه ولاړه به یې ورسره خوږے خوږے خبرے اوکړے او په خندا خوشحالۍ به یې رخصت کړل ۔ دا دومره ماتختی هغهٔ دَ څهٔ لالچ دَ پاره نه کوله بلکه دَ هغوی دَ عزت دَ پاره یې کوله ۔ هغه ته دَ خان او غریب ، دَ نائیک او زمیدار دَ حیثیت او مراتبو احساس وو ۔ بله دا چې هغه باندے دَ شهباز خان دَ پلار ، سراج خان ډیر احسانات وو او په څو څو نازکو موقعو کښې دَ هغه شاته دَ هغه په مرسته ولاړ وو ۔ عالمی ډیر دَ مړانے او غیرت زلمیتوب تیر کړے وو ۔ ډیر ډیر بدمعاشان او وران کاری یې نیغ کړی وو ۔ اوس دَ خپل عمر په لحاظ هغه اګر چې په خپله یې دا هر څهٔ پریښی وو او خپله ټوله



www.pukhto.net



توجه یې زمیداری له ورکړے وه خو دَ هغه څامن دَ وور بخری وو او دَ هیچا غلطه خبره یې نشوه برداشت کولے ۔

دَ شهباز خان کور او حجره دَ طوطی خیل کلی په مینځ کښې وهٔ دَ هغه نه چاپیره دَ هغه دَ همسایه ؤ کورونه وو ۔ دَ هغهٔ دَ کور او حجرے بیل بیل ګیټونه وو البته یو ورَ دَ کور نه حجرے ته وو چې په هغے به شهباز خان یا دَ هغه څامن کور ته تلل راتلل ، دَ حجرے دَ کمرونه لړے یو خوا ته نورے لوے لوے کمرے وې چی هغه دَ غلے دانے دَ پاره دَ ګودام په طور استعمالیدے ۔ دَ حجرے دَ لوے ګیټ نه علاوه یو وړوکے ګیټ وو چې هغے ته به دَ شاور ویلے کیدو ۔ چې کله به دَ حجرے لوے ګیټ بند شو نو دَ حجرے نوکران او څوکیدار وغیره به بیا په دغه وړوکی ګیټ تلهٔ راتلهٔ ۔ دَ شهباز خان دَ کور سره جخت په لویه چاردیوارۍ کښې بند یو وړوکے باغ وو چې هغے کښې به کله کله دَ کور زنانهٔ ؤ سیل سپاټه کوله ۔ دے نه علاوه هغه دَ خپلو زمیدارو او همسایه ؤ دَ پاره په لوے ډاګ کښې دَ ختو لوتو یوه لویه کوټه او هغے ته مخامخ یو لوے دَ لوُخے سپر جوړ کړے وو ۔ په دغه حجره کښې به دَ هغه زمیدارو او همسایه ؤ ناسته پاسته او النه پالنه کوله ۔ په حجره کښې دَ کټونو نه علاوه یو غټ چیلم اویو غټ منګی وو ۔ دَ منګی په خوله ربړ تړلے شوے وو ۔ دَ کوټے یو ګوټ ته دَ جالندهر ملنګ باچا کټ وو او په کټ کښې دَ هغهٔ زړه کیندړه ۔ په کیندړه کښې به دَ هغه رباب انغښتے پروت وو او چی کله به ماښام ماسخوتن دَ بهرنه راغی۔

نوکچکول به یې دَ هر قسم څیزونو نه ډک راوړے وو ـ چې ډوډۍ به یې اوخوړه او دَ چرسو ډک چیلم به یې ورسپې اووهو نو بیا به یې رباب راواخستو او خپل سُر کښې به لګیا شو ـ شیبه پس به بونډې هم راغې نو هغه به ورسره منګې جوړه کړو ـ ملنګ باچا به رباب هم وهو او لوبے به یې هم ویلے ـ کله چې به دَ ملنګ باچا طبعیت ښه نه وو نو عملی ماما به داستان شروع کړو ـ ډکه حجره به ورته ترناوخته ناسته وه او دَ هغهٔ داستان به یې اوریدو او چې کله به دَ باد، باران یا دَ څهٔ بیمارۍ په وجه هغه رانه غې نو ګل دین کاکا خو چرته تلے نه وو، هغه به دَ خپل وخت دَ مشرانو، دَ انګریزانو، دَ انقلاب دَ ملګرو او دَ جیل دَ دوستانو خبرے شروع کړے ـ

دَ عالمی کور دَ حجرے نه لرے دَ کلی په ړومی سر او دَ سړک په غاړه وو ـ چې څه خاص خبره یا غم ښادی به نه وه نو هغه او دَ هغه ځامن به دَ ماسخوتن نه راتلل ـ عملی ماما او ګل دین کاکا په زړو مشرانو کښې پاتې وو ـ دواړه ښه اوزګار وو ځکه چې دَ ښځو نه خلاص وو ـ عملی ماما خو وادهٔ نه وو کړے او زلمی بوډا شو ـ دَ خوراک، څښاک او وینځل، ګنډل به ورله دَ خپل اورارهٔ تبرکول ـ په ځوانی کښې به یې کله کله دَ ګډو، چیلو سوداګری کوله اودومره به یې ګټلې چې افیوم او ډوډه به یې پرے کیده ـ بیا روستو چې دَ پړسوپریوتو نو دَ ډوډے خرچه به ورله اورارهٔ ورکوله ـ د دے په بدل کښې به یې هغه له هټۍ، بستیاوۍ او دَ کلی مړے ژوندے کوو ـ



www.pukhto.net



ګل دین کاکا وادهٔ کړے وو او دَ دوو ځامنو او دوو لوڼو پلار وو او دَ ګڼو نواسه، نواسو نیکهٔ هم وو ـ چې ښځه یې مړه شوه نو ځامنو ترینه لاس واخستو او دَ مشرے لور کره ډیره شوه ـ دَ هغه جامه پیزار او خوراک څخاک دَ زوم دَ کوره وو ـ د دے په بدل کښې به هغه ورسره کله کله دَ زمیدارۍ په کار کښې لاس هم کوو او دَ هغه تلے راغلے به یې هم کوو، په اوړی کښې به دَ عملی ماما او دَ ګل دین کاکا ملاقات سحر، په لوے سپر کښې او دَ ژمی به په لوے ډاګ کښې پیتاوی ته کیدو مازیګر، ماښام به دواړه دَ مسکین کبابی په کړهی ناست وو، دَ هغه کړهی ته به یې سپیاکے هم ایښودے او خپلې خبرے به یې هم کولے ـ دَ نهے او چارشنبے په ورځ به دواړه دَ شمشاد بټیاری سره ناست وو، دَ هغه بټ پسې به یې اور هم بلوؤ او دَ پولۍ پړق ته به یې هم سترګے وې ـ

سحر به زمیدار پټو ته لاړل، مزدور پیشه او کسب ګر به خپلو کارونوله لاړل ـ دَ ټول کلی په نارینهٔ کښې به هغوی پاتے شو، دواړه به کیناستل او لوے لارے به ته یې کتل ـ دَ عملی ماما او ګل دین کاکا په خولو کښې غاښونه نه وو ـ عملی ماما به دَ میده شوے پوست بوجکۍ دَ واسکټ دَ جیب نه را اوویستله او دَ اوبو نه بغیر به یې ترینه چونډې خولے ته واچوله ـ دَ هغے په جواب کښې به ګل دین کاکا دَ څادر دَ پسکی نه دَ ستوانو بوجکۍ را اوویستله او خولے ته به یې ترینه چونډې وراوویشتله ـ بیا به دواړو شخوند مات کړو او تر هغے به

چپ وو تر څو چې به يې ذره ذره تيره کړې نه وه ۔ عملي ماما لوړ دنګ سړے وو ۔ په ناستے به اکثر اودۀ وو او په ملاسته به ويښ وو ۔ چې په لاره به روان وو نو سترګے به پرے پټې وے او که چرے چا ماشوم يا زنانه به ترينه ځان بچ کړے نه وے نو هغه به پرے دَ پاسه ورختو ځکه چې هغه به خلاصے واړے روان وو ۔

ګل دين کاکا سپک دسته او جانجے وانجے سړے وو ۔ چې په لاره به روان وو نو يوه جي اوبله جي به يې وهله ۔ په خوله کښې يې لکه دَ عملي ماما غاښ نه وو خو دَ خبرو طوطي وو ۔ دَ هغه دَ ستړي ټول زور دَ هغه خولے ته راغونډ شوے وو ۔

دَ اليکشن شپے ورځے نزدے وے ۔ دَ زړو سياسي پارټو نه علاوه څۀ نورے طائع آزما پارټۍ هم ميدان ته را اوتے وے ۔ په دغه پارټو کښې يوه پارټي "دهقان" وه ۔ دا پارټي دَ خانانو او اميرانو سخته خلاف وه ۔ دَ پارټۍ منشور دَ خانانو دَ زمکو او دَ اميرانو دَ دولت مساوي تقسيم وو او د دے پارټي چغه وه " د الله زمکه دَ الله دَ بنديانو ده "۔ دے پارټۍ دَ زميدارو او دهقانانو په ذهنونو او زړونو کښې يو انقلاب او انتشار پيدا کړو ۔ د دے چغے اواز تر لرے لرے خور شو ۔ په خواؤ شاکلو او بانډو کښې دَ خانانو خلاف بلوے شروع شوے وې ۔ دَ خانانو او زميدارو تر مينځه به هره ورځ ډزے کيدے او څۀ ناڅۀ مرګ ژوبله به پکښې کيده ۔ دَ دغه زهريله هوا بوئيں طوطي خيل ته هم اورسيدو او هلته هم په هره پوله او هرکمر دغه خبرے شروع شوے ۔



www.pukhto.net



يوه ورځ ټول زميدار په حجر کښې راغونډ شو او ټولو مشترکه طور سره يو قرارداس پاس کړو چې ځان له يو يونين جوړ کړي ۔ عالمي او دَ هغه ځامنو ته هم په دے غونډه کښې دَ شرکت بلنه ورکړے شوے وه خو هغه او دَ هغۀ ځامن په خپل کار کښې دومره بوخت وو چې دے غونډه کښې يې شرکت اونه کړے شو ۔ دَ يونين دَ صدارت دَ پاره ډير نومونه خوښ کړے شو دَ خپل کار او مصروفيت په وجه ورته چا غاړه کښې نه ښوده ځکه چې چابه وې "پټے راته وتره دے اوزګارنه يم" چا به وې " دا کار دَ اوزګارو دے او زۀ اوزګار نه يم" چابه څۀ وې او چا څه ۔ قريبه وه چې دا غونډه ناکام شوے وه خو بونډې ميدان ته اودانګل او وے وئيل " تاسو ټول په قلاره کينئ او دا کار ماته پريږدئ ۔ زۀ دَ يو څو کسانو نومونه اخلم او دا عوامي خدمت هغوی ته حواله کوم ۔ زما خبره هسے مشوره ده ، فيصله نه ده ۔ فيصله به ستاسو په خوښه کيږي ۔ زمونږ په کلي کښې دَ عمر او عقل په لحاظ سره دوه مشران دي ، يو ګل دين کاکا دے او بل عملي ماما دے ۔ زما خپله رائے دا ده چې ګل دين کاکا به دَ دهقان يونين صدر شي او عملي ماما به د دے جنرل سيکرټري شي ۔ ستاسو خوښه ده ۔

ټول : (لاسونه پرقوی) ډير ښه ، ډير ښۀ ۔ زمونږ دَ ټولو خوښه ده ۔

بونډې :۔ دَ پروپيګنډه سکرټري کرسۍ به جالندهر ملنګ باچا ته حواله کړو او دَ رابطه سکرټري فرائض به زۀ سمبال کړم ستاسو خوښه ده ۔

ټول:۔ (لاسونه پرقوی) ډير ښه ، ډير ښه ۔

بونډۍ :۔ دے دَ پاره یوه زنانه هم پکار ده چې دَ خواتین نمائندګی اوکړی ، ستاسو په نظر کښې څوک شته ؟

ګل دین کاکا:۔ یه هلکه سیکرټری صیب ، چاپسې به څۀ ګرځو خو هم ستا مور ته به دغه کار حواله کړو ۔

بونډۍ : صدر صیب ! ستا خبره په ګل بدله خو هغه غریبه په کټ کښې پرته ده پاڅیدے نشی ۔

ګل دین کاکا:۔ سیکرټری صیب ! مونږ په هغے دلته څۀ کوو خو نوم به یې چلیږی ۔

بونډۍ :۔ ډیره ښۀ ده زما مور بی بی پکښے دَ خواتین له خوا ایډیشنل جنرل سکرټری شوه ۔ اوس دے دَ پاره دَ پارټی یو شاعر هم پکار دے ۔ که ستاسو خوښه وی نو دَ پارټۍ دَ شاعر کرسۍ به هم ملنګ باچا ته حواله کړو ۔

ټول:۔ (لاسونه پړقوی) ډیر ښه ، ډیر اعلیٰ ۔

بونډۍ :۔ شکریه ۔ تاسو به تنګ شوی یې خو بس کار اوشو ، خبره ختمه شوه ۔ دَ دهقان یونین صدر ګل دین کاکا شو ، عملی ماما جنرل سیکرټری شو ، ملنګ باچا پروپیګنډه سیکرټری شو ، زۀ دَ یونین رابطه سیکرټری شوم ، زما والده صیبه دَ خواتین دَ نمائندګی په طور ایډیشنل جنرال سیکرټری شوه ۔ دے نه علاوه ملنګ باچا یو ښه انقلابی شاعر دے نو دَ پارټۍ دَ شاعر کرسۍ مودوی ته حواله کړه ۔ زۀ دَ خپل طرفه دے ټولو صیبانو ته دَ زړۀ دَ کومے نیکے پیروزنے ورکوم او



www.pukhto.net



امید کوم چې دوی به دَ پارټی نوم روښانه کړی ۔ والسّلام ۔ ټولو لاسونه اوپړقول او په خندا خوشحالۍ خپلو خپلو پټو ته لاړل ۔

چی ګل دین کاکا ته دَ صدارت منصب حواله شو نو هغه د ډیرے خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیدو ۔ دَ هغه لور کور په کور اوګرځیده او ټولے زنانه یې خبر کړے ۔ دغه رنګے دَ عملی ماما د منصب خبر هم په کلی کښې خور شو ۔ دَ کلی ښځے دَ بونډۍ دَ مور دَ دواجان ترور په نمائندګی باندے ډیرے خوشحاله شوے او کور په کور دغه خبرے شوے ۔ دَ ګل دین کاکا لور چې دَ هغه نه دَ دے یونین دَ اعراض ومقاصد په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه په خندا شو او دومره یې اوخاندل چی دَ سترګو نه یې اوښکے روانے شوے ۔ خپلې اوښکے یې اوچے کړے او وے وئیل "دا مونږ چې پکښې اوسو دا کور دَ چا دے ؟ هغے جواب ورکړو دَ خانانو ۔ دا ستا خاوند زما ځامن او د دے ټول زمیندار دَ چا زمکے کری ؟ هغے اووے دَ خانانو ۔ ګل دین کاکا هی شابشې ! دا کورونه او دا زمکے به اوس زمونږه او د دے ټولو زمیندارو شی ۔ هغه مسکے شوه او وے وئیل "که داسے اوشی خو بیا دَ دے ټولو مزے دی ۔

ګل دین کاکا :۔ مزے دی که مزے دی او داسے شوی دی ، ته ګوره بله ورځ زۀ اجلاس راغواړم او ټول به په دے پوهوم ، دَ هغه لور په خندا شی او وائی "زۀ ورځم چی تاله حلوا پخه کړم"

ګل دین کاکا:۔ ویّ تۀ په پیردے رحمت شه ، دا خبرے کوه ۔

## دويمه برخه

ګل دين کاکا پخوانے سړے وو دَ هغه په ذهن کښې خو دَ مخکښے نه پرته وه چې خپله خاؤره ، خپل اختيار ، نو هغه په ړومبۍ ميټنګ کښې ټولو زميدارو ته اووے چې خانانو باندے دَ زمکے آمدن بند کړې او که چا څۀ وې نو ماله يې راولی. چې زۀ ورسره په خپله خبرے اوکړم " ټول زميدار شهباز خان ته بلوه شو او دَ زمکے حاصل يې پرے بند کړو ۔ د شولو فصل تيار شوے وو ۔ بوجی. به ډکيدے او هغوی به کورونو ته اوړے ۔ که ناظر يا دَ هغه نوکر به ورغی. نو هغه به يې سپک اوشړو ۔ شهباز خان ته چې پته اولګيده نو هغه ډير غصه شو ۔ هغه خپل ناظر زميدارو پسې اوليږو او دا پيغام يې ورکړو چې ټول دَ شهباز خان حجرے ته ورشی ۔ دَ هغه دَ ورتلو چا پرواه اونه کړه او دَ هغۀ په خبره هډو چا غوږ اونه ګره وو ۔ ماسخوتن هغوی ټول خپله حجره کښې راغونډ شو او دا قرارداد يې پاس کړو چې يو کس به هم دَ شهباز خان حجرے ته نه ورځی ،او که دَ هغه مونږه سره څۀ کار وی نو هغه به زمونږ حجرے ته راځی ۔ په دغه غونډه کښې ملنګ باچا يو انقلابی شعر هم اووے چې :

مونږ دَ ظالم ګريوان تار ـ تار غواړو

په خپله خاؤره ، خپل اختيار غواړو

دے انقلابی شعر په عوامو کښې ، دَ شهباز خان نه کرکه او نفرت پيدا کړو او دَ هغۀ خلاف ډيرے ګډے وډے خبرے اوشوے ۔ په دے ميټنګ





کښې دَ شهباز خان خيرخواه کسان هم ناست وو ، هغه ته شپه په شپه دغه خبرے ټکی په ټکی اورسيدے ۔ هغه ډير غصه شو او سحر يې ورپسې ناظر سره دَ دوو مسلح سړو پټو ته اوليږو چې خپله نيمه برخه شولے دَ خان حجرے ته راؤړی ۔ زميدارو ته چې دَ هغه دَ ارادے پته اولګيده نو هغوی ټول ورپسې سره دَ کوتکو او ټوپکو اووتل او هغوی يې راګير کړل ۔ ټوپکے يې ترينه واخستے او کوتکے يې ورته اونيولے او ګوته بيرته يې دومره اووهل چې ايله په توره يې ترينه ځان خلاص کړو ۔ دے نه علاوه يې شهباز خان له دَ صدر صيب دا پيغام اوليږو چې که ستا سړی بيا دَ هغوی په طرف ورغلل نو خپې به پرے ماتے کړی ۔

عالمے د دے هرڅۀ نه خبر وو خو هغه په دے جنجال کښې ځان نه اخته کوو البته خپل حاصل يې دَ الله په توره نيم کړو او دانه ، دانه يې دَ خان حجرے ته اوليږو ۔

يوه ورځ دَ کلی خلق راغونډ شو ، تورے جهنډے يې په لاسونو کښې اونيولے او دَ شهباز خان د حجرے او کور محاصره يې اوکړه د شهباز خان نوکران کورته اوتختيدل او هغه ځان پسې دَ حجرے ګيټ بند کړو ـ چې نوکران اوتختيدل نو هغه ناظر له دَ راتلو خبر ورکړو ۔ چې دَ هغه نه نااميده شو نو دَ دخدمتګارے په خوله يې عالمے خبر کړو هغه چې دَ خدمتګارے خبره ووريده نو خپل کارې په ځائے پريښودو او په يوه منډه ، ساه ختلې ، راغی. او خلقو ته يې اووے "زما مشرانو ،



Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

کشرانو او هم ځولو رونړو که ستاسو اجازت وی نو زۀ به يو څو خبرے اوکړم "۔

ګل دين کاکا:۔ که تۀ دَ ثالثئ خبرے کوې نو بے شکه بے شبے کولے شی او کـه دَ پيـرې جنبې خبرے کوے يا مونږ ته دَ شهباز خان يا دَ هغه دَ بال بچ صفائی پيش کول غواړے نو مونږ ستا يوے خبرے اوريدو ته هم تيار نه يو ۔

عـالـمے :۔ ګل دين کاکا ! ته ماله دَ خبرے اجازت راکړه که زما خبره دے مغـزو کښې پريـوتـه او خـوښـخـه دے شو خو ښـۀ پـه ښـه ګينی بيا ستاخوښخه ده که منے او که نه منے ۔

ګل دين کاکا :۔ اجازت دے وايه ( هغۀ پټکې په ښکر کيښوده )

عالمے :۔ رومبی خبره دا ده چې ستاڅۀ مطالبه ده او څۀ ويل غواړې ؟

ګـل ديـن کاکا:۔ عالميه ! خبره دَ ويلو نه اوتے ده ، غوښتو له راغلے ده ۔ مونږ خپل حق غواړو ۔

ټول :۔ په سپيرو او په شرق غواړو ... مونږه خپل حق غواړو ۔

مـلـنګ باچا:۔ مونږ دَ ظالم ګريوان تارتار غواړو ۔ په خپله خاؤره خپل اختيار غواړو ۔

عالمے :۔ ګل دين کاکا تاسو دَ څۀ حق غواړې ۔

ګل دين کاکا :۔ دَ شهباز خان په جائيداد کښې خپله برخه غواړو ۔

عالمے :۔ ستا دَ شهباز خان په جائيداد کښې څۀ اړيک ، شريک شته ؟

ګل دين :۔ عالميه ! ښه پو هيږې خو نه پو هيږې ، ځان دے ناجانه کړے



www.pukhto.net



دے ۔ ګټـه بـه پـه مـونـږ اوکړے او ډب بـه يې بنيادی ته اوځی ۔ تۀ خو داسے خبرے کوے لکه چې تۀ هډو دَ څه نه خبر نه يې ۔

عالمے :۔ زۀ واقعی نه يم خبر ګل دين کاکا ۔

ګـل ديـن کـاکـا :۔ چې پو هـ نه يې نو ځان پو هـ کړه مونږه دَ خپلو برخو زمـکـو او خپـلـو کـورونـو انتـقـال غـواړو ۔ مونږ د دے زمکو مالکانه حقوق غواړو ۔

بـونـډې ۔ مـعـافی غواړم صدر صيب ! صرف مالکانه حقوق نه بلکه "جمله مالکانه حقوق" دے سره ټول خاندی ۔

عـالـمے :۔ اوه ، ښه نو دا خبره ده ... ګوره ګل دين کاکا دا تاسو چې څۀ غـواړی نـو دا دَ زيـاتـی دَ پاڅه زيـاتـے دے ۔ يو مو دَ هغه زمکه په زور نيـولـے ده ۔ ټول حاصل مو ترينه کور ته يوړو او ... اوس ترينه اوچ په اوچه انتقال غواړی ۔ ډير ناشکرته خلق يې ۔

ګـل ديـن کـاکـا:۔ ناشکرته نه يو عالميه ! ته ځان پو هـ کړه ۔ دا دَ خداې زمکه ده او مونږ دَ خداې بنديان يو

ملنګ باچا :۔ ـ اخـــر مـــونـــږ هـــم انسانان يو ۔

زمکۀ دَ الله ده مونږه يې بنديان يو ۔

ټول لاسونه پرقوی او خاندی ۔

ګل دين :۔ زياتے مونږ نه بلکه دے کوی چې زمونږ په جائيدادې خيته اچولے ده ۔ تانه يو تپوس کوم چی دا يواځے دے دَ خداې پيدا دے او که نـه مـونـږه يـې هم يو ؟ دے زمونږ نه په څۀ ښه دے په خبرو ، په عليک

سلیک ، په سیاست او که په ښځهٔ ځوانۍ او مته ـ

عالمے :ـ ګل دین کاکا ! اوس واپس شي په دے به بیا خبرے اوکړو ـ

ګل دین کاکا :ـ یَـه هلکه عالمیه ! ته څهٔ زمونږ دَ لارے خنډ جوړے شوے یې ـ مونږ ترینه سوال خونه کوو ـ خپل حق ترینه غواړو ـ مونږ بیا بیا نشو راتلے ـ اوس به ورسره فیصله کوو مونږ ټولو خپل سرونه په خپلو تلو کښې ایښې دی یا آر یا پار ـ

عالمے :ـ ښه نو دَ هغه بال بچ سره خو زیاتے مه کوی کنه ـ دَ هغوی دَ کالج لارے مو بندے کړی دی او هغه غریبانان دَ کوره نشی وتے ـ

ګل دین :ـ زهٔ خو دا ویم چې دوی کور کینی او زمونږ دَ مته زور ورته معلوم شی ـ

عالمے :ـ ګوره ګل دین کاکا:ـ ته خو مشر سړے یې ، د دنیا په لانجو ګونجو ښه پوهیږے ، ګوری که اخوا دیخوا اوشو نو دا ټول به درنه اوتختی او تا به په ډاګه پریږدی ـ هغه نورے خبرے پریږده خو که اوس یې پولیس ته ټیلیفون او کړنګولو نو بیا به دے دَ تپوس ځوک نه وی ـ

ګل دین کاکا:ـ ماته پته ده چې ته ما په پولیس یره وے خو ته ځان پوهـ کړه چې مانشې یرولے ـ دَ پولیس هم لاس خلاص او ورسره ستا هم ـ

عالمے ( دَ تندی خوله اوچوی ) ټیک ده چې څنګه دے خوښه وی ـ زما خو مشوره ده چې نه منے نو لاړم درنه ـ سلام علیکم ـ

ټول ( طنزیه ) وعلیکم سلام ورحمت الله وبرکاته او په مخه دے ښه ـ

ګل دین کاکا :ـ ورځه ورځه او بیا په دے باره کښې رانشې ـ



www.pukhto.net



عالمې په ډیره مایوسۍ دَ هغوی نه روان شو ـ دَ اوږے نه یې څادر کوز کړو دَ مخ خوله یې پرے اوچه کړه ، بیا ئے څنډ ورکړو او په اوږه یې کیښودو ـ لږه شیبه پس هغه او دَ هغه درے وانړه ځامن په بدله لاره د شهباز خان حجرے ته راغلل ـ شهباز خان یې کورته اولیږو او په خپله دَ هغهٔ دَ حجرے برج ته اوختو ناصر خان سجاد خان ، عدنان درے وانړه ښه مسلح وو ، تیار ولاړ وو او دَ پلار دَ حکم انتظار یې کوو ـ الله یار خان ، باز خان په حجره کښې کتابونه په لاس یو خوا ته ولاړ وو او دَ شهباز خان لور عنبرین دَ حجرے ورسره کتابونه په لاس حیرانه ولاړه وه ـ

عالمې چې دَ خپل څادر نه پټکی اووهو نو ګل دین کاکا له یې دَ بره نه اواز ورکړه ـ

"ګل دین کاکا ! دَ صدارت نوم په تا کښې نشه پیدا کړے ده ـ تا باندے دَ چا دَ خبرے اثر نه کیږی ځکه چې تهٔ ځوک دَ ځان جوګه نه ګنې خو یو اخری نصیحت درته کوم او ښه په پرانستے غوږونو یې وورہ چې دَ خپل ځائے نه رپ اونه وهې ګینی خون دے دَ خپلی غاړے دې ـ دَ شهباز خان بال بچ سره زما دَ ځامنو بهر در اوځی ، لاره ورته پریږدی ګینی خیر مو نشته ـ تهٔ هلکه ، ناصرخانه الله یار خان سره اوځه ، کالج ته ورسره لاړ شه او خیال ساته که دَ چا په سترګو پوهـ شوے نو چې اسره پرے اونکړے ـ او تهٔ سجاد خانه ! باز خان سره لاړ شه ، دَ کلاشن کوف په کوتری ګوتے کیږده او که چا غوږ اوړکوو نو غوږ پرے اوله او که چا لاس اوخوځوو نو لاس پرے اوله ـ او ته عدنانه ، کشرے

سره لاړ شه او که دَ چا په سترګو پوهـ شوے نو اسره پرے اونکړے ۔
(هغوی ته) "تاسو ټول په خپل خپل ځائے اودریږئ چې ځان اونه خوځوئ ۔ او که چا ځان اوخوځوو نو ځان دے په مرګ اوشميری ۔

ګل دين کاکا :۔ يه هلکه عالميه ! ته راکوز شه مړه خبره ووره ۔ راشه چې دا خبره روغے ته اوباسو ۔

عالمے :۔ ګل دين کاکا ! دَ پوليس دَ راتلو پورے چې اونه خوځے ګينی زما ړومبی نښخه به ته يې ۔ ټول يو ، يو ، دوه ، دوه روانيږی او ځان سره وائی ، عالمے پوهـ شه او صدر صيب پوهـ شه ، زمونږ په دے کښې څه کار دے ؟

ګل دين کاکا :۔ يه هلکه عالميه ! تۀ خو په والله چې ډير کم عقل سړے يې ۔ ته خو هډو په خبره نه پو هيږے ۔

عالمے :۔ ګل دين کاکا ! ته دا مه وايه چې عالمے لاړو بوډا شو ۔ زما چې هلکانه وه نو په اوم تار به مِ سړے تړلو او هغه به رپ نشو وهلے خو اوس د دغے ضرورت نشته بغير تاره او بغير پړی به ولاړې ..ځان اونه خوځوی ۔

ګل دين کاکا :۔ يه هلکه نو هغه نور خو لاړل اوتختيدل دا ما غريب څۀ ګناه کړے ده ۔ تۀ دَ خدائے روی اومنه ...ته خو ډير اوښيار سړے يې دا بے عقله خبرے ولے کوی ۔ ماله شهباز خان ، پلار خو نه دے وژلے ۔ اجازت راکړه چې ځم درنه ۔

عالمے :۔ اجازت به په يو شرط درکړم چې دا ټول زميدار راغونډ کړه او کوم حاصل چې دوی کور ته اوړے دے هغه ټول دے زر تر زره دَ خان





حجرے ته راؤړی ۔ څه ورشه زر کوه ۔

ګل دين کاکا :۔ يې دا دے لاړم ورپسې دے سره هغه منډه کړی او په يو منډه اوځی ۔

## دريمه برخه

ګل دين کاکا او دَ هغۀ کسانو سترګے سرے کړے او سرونه يې په تلو کښې اينښی وو خو چې دَ عالمی او دَ هغۀ دَ ځامنو دَ ټوپکو تورے شپيلۍ يې اوليدے نو په ټولو سترګے تورے شوے او روځے خړے شوے ۔ هغوی ته معلومه شوه چې دَ عالمی دَ زلميتوب په ايره کښې لا سرے سکروټے شته ۔دے د پاره دَ هغه مخے له څوک نشو راتلے ۔ بله دا چې په دغه کسانو کښې اکثر داسے وو چې دَ هغوی دَ عالمی نه بغير رغيدنه نه کيده ۔ ځينے پکښې دَ هغه نزدے خپلوان او عزيزان وو او ځينے يې زاړه دوستان ، چې کله هغوی دَ عالمی په نيت پوهـ شو نو غلے غوندے اوخويدل ۔

چه دا هله ګوله ختمه شوه او خلقو ته دَ خپلې غلطۍ احساس اوشو نو هغوی ټول عالمی ته کيناستل او خپله ملامته يې واخسته ۔

عالمی دَ هغوی جرګه په دے شرط اومنله چې هغوی ټول دَ خپلو کورونو نه دَ شهباز خان برخه غله دانے په رهړو کښې واچوی او ټول دَ هغۀ دَ حجرے مخے ته دَ ننواتے په شکل کښې اودريږی ۔ هغه زياته کړه چې چا بے ايمانی اوکړه او هغه پورا برخه يې راؤړنه ړه نو هغۀ سره به دَ هغوی ټولو بائيکاټ وی ۔ ټولو دَ هغه په خبرا منه اوکړه ۔



www.pukhto.net

کورونو ته لاړل او دَ خان برخه غله دانے یې رهړو کښې واچولے او دَ هغه دَ حجرے مخے ته دَ هغه په انتظار کښې اودریدل ۔ عالمی به دَ هر سړی مال چیک کوو او دَ هغه نه به یې پورا تپوسونه کول ۔ دَ چا په مال کښې چې به لږ ډیر کمے وو نو هغه به یې واپس کړو او ورته به یې اووے چې دا پورا کړه نو بیا راځه ۔

چې کله دَ هغه تسلی اوشوه نو بیا یې دَ خان په ګودام کښې ټوله غله دانه سمباله کړه او دَ هغوی روغه جوړه یې اوکړه ۔ شهباز خان نه صرف دَ هغوی ننواتے اومنله بلکه هغوی ټول یې دَ زړۀ دَ خلاصه معاف کړل ، دَ هغوی یې ډیر قدر اوکړو او ښۀ په عزت یې رخصت کړل ۔

د دے واقعی نه پس عالمی دَ شهباز خان ، دَ هغه دَ بی بی ، ځامنو او دَ هغه دَ لور په سترګو ډیر خوږ لګیدو ۔ شهباز خان دَ خپلې بی بی په وینا څو څو ځله هغه ته دَ ناظری پیشکش اوکړو خو هغه ډیر په ادب سره دَ هغۀ د دے پیرزونے نه انکار اوکړو ۔ چې کله به شهباز خان مړی ژوندی له دَ کلی نه بهر تلو نو دَ ناظر یا دَ نوکر په ځاے به یې ځان سره هغه بوتلو چې کله به عالمی دَ تلی راغلی سپینه جوړه واغوسته ، سپین پټکې به یې په اوتړلو او دَ شهباز خان سرداری شپږ ډزے طماچه به یې غاړے ته واچوله او هغه سره به په ټانګه کښې کیناستونو ناپیژندګلوخلقو به هغه خان ګڼلو او شهباز خان دَ هغه نوکر ۔ په څو څو موقعو کښې پرے خلق دهوکه شوی وو خو هغه ډیر اوښیار سړے وو ، زربه یې په مسکا مسکا دَ هغوی اصلاح اوکړه او اوبه یې وئیل



www.pukhto.net



”زۀ خان نه یم صیب ، شهباز خان دا دے زۀ د ده نوکر یم“ ۔

چې حالات ښه شو نو دَ ناصر خان او سجاد خان ډیوټی هم ختمے شوے البته دَ عدنان ډیوټی لا هغسے جاری وه ۔ هغه به سحر عنبرین سره په موټر کښې تلو او د چهټی نه پس به ورسره واپس راتلو ۔ هغه دَ خپلې ډیوټی نه دا فائده واخسته چې دَ عنبرین په اجازت یې دَ هغے په ګاډی ډرائیونګ ازده کړو ۔ چه هغه به یې کالج ته اورسوله نو بیا به یې دَ کالج په خواؤ شا سړکونو دَ ډرائیونګ مشق کوو۔ په یو څو ورځو کښې یې لاس پوخ شو او بیا خبره دے له راغله چې هغه دَ عنبرین ذاتی ډرائیور شو او دَ هغے په موجودګی کښې به ګاډی هغه چلووا او هغه به ورسره په فرنټ سیټ کښې ناسته وه ۔

چې کله عنبرین دولسم جماعت پاس کړو نو دَ څوارلسم جماعت دَ پاره دَ پیښور په یو اعلیٰ کالج کښې یې داخله واخسته ۔ عدنان ته چې دَ هغے دَ داخلے پته اولګیده نو خادر یې په اوږه واچوو او کور ته راغی ۔ په څلورمه ورځ شهباز خان حجرے ته اوغوښتو او دَ هغه نه یې دَ هغۀ دَ نه راتلو دَ وجے تپوس اوکړو او وے وئیل ”عدنانه بچے“ تۀ درے ورځے چرته وے ، ولے رانه غلے ؟ ناجوړه خو نه وې ؟

عدنان:۔ نه خان جی ناجوړه نه ووم خو چې کشرے بی بی په پیښور کښې داخله واخسته نو زما ضرورت پاتے نشو ۔

شهباز خان :۔ ستا ضرورت پاتے نشو ؟ څۀ مطلب ؟

عدنان:۔ مطلب دا چې اوس حالات هم ښه دی او دَ خطرے څۀ خبره

نشته ـ بله دا چې کشره بی بی په هاسټل کښې داخله واخلي نو زما څۀ ضرورت پاتے شو ؟

شهباز خان:ـ ستا ضرورت شته ـ رومبۍ خبره دا ده چې هغه به په هاسټل کښې نه اوسيږي هلته به خورجی سره بنګله کښے وی او تۀ به ورسره يې ـ سحر به يې کالج ته رسوے او دَ چهټئ نه پس به ئے واپس هلته بوځے ـ

عدنان:ـ خان جی چې ترڅو زمانه کيده نو ما خپل فرض ادا کړو اوس چونکه حالات ښه دی او دَ خطرے څۀ خبره نشته نو ماله اجازت راکړه چې زۀ ځان له چرته سرکاری نوکری اوګورم ـ

شهباز خان :ـ دَ نوکرئ غم مه کوه ، تۀ ماسره نوکر شوے ، څه ته ورشه خپله غاړه غوټه راواخله چې هغه اورسوے ـ

عدنان :ـ زۀ ستاسو ډير مشکوريم خان جی خو که ماته سرکاری نوکری ملاؤ نشی نو زۀ به اوورايج شم ـ

شهباز خان :ـ (خاندی) خدُاے دے مۀ اوړايج کوه ، چې سړے مړ شی نو هغه اوړايج شی ـ بله خبره دا ده چې تاته دَ سرکار ضرورت نشته ، زۀ ستا دَ پاره سرکار يم ـ ستا خوراک ، څښاک جامه پيزار په ما ستا دَ سيل سپاټے خرچه په ما ، دا هرڅۀ دَ تنخواه نه علاوه دی ، تاته به مياشت په مياشت په خپل کور کښې تنخواه ملاويږی او ستا جيب خرچ به تاته عنبرين درکوی ، ماستا برخه ، رقم هغے له ورکړے دے ـ سړی ډير دی بچے ، زما خپل نوکران شته ، دَ ناظر ځلمی ځامن شته ، زما په تربورانو



www.pukhto.net



کښې بے روزګاره ځلمی شته خو زما په چا اعتبار نشته ـ

عدنان :ـ خان جی دا مسله زما دَ مستقبل ده ـ که ماته سرکاری نوکری په يو څو ورځو کښې ملاؤ نشی نو ......

شهباز خان :ـ بچے يو تپوس درنه کوم چې ستا مستقبل پکار دے او که زما عزت ؟ جواب راکړه ـ

عدنان :ـ زما دواړه پکار دی ـ

شهباز خان :ـ دے دواړو کښې دَ يو انتخاب اوکړه ـ

عدنان :ـ ډيره مشکله ده ـ

شهباز خان :ـ تاته دَ کشرے بی بی نه څۀ ګيله شکوه شته ؟ که څۀ خبره وی نو ماته صفا صفا اووايه ـ

عدنان :ـ نه خان جی ، داسے هيڅ خبره نشته ـ

شهباز خان :ـ چې داسے څۀ خبره نشته نو بيا ؟ تاسره دَ خپل مستقبل غم شته او دَ هغے دَ مستقبل نشته ـ دَ هغے دَ عزت غم درسره نشته ـ

عدنان :ـ خان جی ..ستاسو او دَ هغے په عزت زما سرهم قربان دے ـ

شهباز خان :ـ شاباش دَ نر بچيه ! زۀ تا نه قربانی غواړم او هغه دَ چا خبره چې مال زار شه دَ سره او سر زار شه دَ عزته ...څه ورشه خپل تيارے اوکړه چې هغه پيښور ته اورسوے ـ

عدنان :ـ ټيک ده خان جی چې څنګه ستاسو خوښه وی ـ

☆☆☆☆☆

☆☆☆

Pukhto.Net

## دويم باب

عـدنـان خپله غاړه غوټه اوتړله ، دَ مور او خور نه يې رخصت واخستو او دَ شهباز خان حجرے ته روان شو ۔ چې هلته اورسيدو نو ګاډى يې دَ ګيـراج نـه را اوويستـلـو او دَ هغے صفائى يې کوله ۔ هغه لا په صفائى کښـې لـګيـا وو چې عنبرين دَ يو غټ سوټ کيس او دَ کتابونو دَ بنډل سره دَ کـوره را اووتـه عـدنـان چـې هـغه اوليده نوزر يې ورمنډه کړه او هغـے تـه يـې اووے " دا سـامـان ماله راکړه بى بى " هغے ورته په غصه اوکتـل او وے وئيـل " نـه جى ، شـکريه " عدنان ( دَ تابعدارۍ په انداز کښې ) " دا سوټ کيس ماله راکړه پليز "

عنبرين ( په سنجيده موډ کښى ) " ستا دَ تعاون ډيره شکريه ۔

عدنان :۔ بى بى جى پليز ۔ دا ډير درونډ دے ماله يې راکړه پليز ۔

عـنبرين :۔ NOt at all ، چـرے هـم نـه ، څـه ورشـه ګاډى کښې کينه ، هـغـه خپل سامان په غصه دَ ګاډى روستى سيټ ته ورغورځوى او په فـرنـټ سيـټ کښې کينى ۔ عدنان په ګاډى کښې کينى او دَاجازت په نـظر هغے ته ګورى ۔ عنبرين هغه ته په غصه وائى " زمامخ ته څۀ له ګورې څه کنه "۔

عدنان :۔ سورى ميډم : دے سره هغه ګاډے روان کړى ۔

عنبرين :۔ زۀ نه ميډم يم او نه بى بى جى ۔ زما نوم عنبرين دے ۔

عـدنـان چـى هـغـه دَ غـصـے پـه مـوډ کښې اوليده نو چپ هم شو او سنجيده هم ۔ ګاډې روان وو او هغوى دواړه داسے خاموش وو لکه چې



www.pukhto.net



پـه يـو قبر کښـى دوه مـړى پـراتـۀ وى ۔ عـدنـان پـه زړۀ کښى دا وجـه مـعـلـومـول غـوښـتـل چـى عـنبرين ولے غصه ده ۔ آيا دَ هغه نه څۀ بے ادبى شـوے ده او کـه دَ هـغـے طبعيت ناساز دے خو دَ تپوس جرأت يې نشـول کـولے ۔ په دے غرض يې يو ځل بيا هغے ته اوکتل خو چې هغے ورته په سنجيده موډ کښې اوکتل او دَ دواړو سترګے اولګيدے نو هغه شرمـنـده شـو ، ځان سره يـې غـلے غونډے سورى اووے او مخ يې بل طرف تـه واړه وو ۔ چې دَ هـغـه پـه سورى باندے هغے دَ خپل ردِ عمل اظهـار اونـکړو نـو هـغـه هـم سـنـجـيـده شو او خپلـه ټولـه توجـه يې ډرائيونګ ته ورکړه ۔ کله کله به يې دَ هغے تاثرات معلومولو دَ پاره په شيشـه کښـې هـغـے تـه غـلے غونډے اوکتل او بيا به يې ترينه سترګے واړولے ۔ دَ خـامـوشۍ ختـمـولـو دَ پـاره هـغـه دَ ګاډى ټيپ ريکارډ اولـګـولـو۔ عـنبرين هغه ته په غصه اوکتل او وے وئيل " بنده کړه ټيپ ريکارډر " عدنان ټيپ ريکارډر بند کړو خو دَ سورى ټکې يې اونه وے ۔

پـه دے دومـره مـوده کښې عدنان په ړومبى ځل هغه دَ غصے په حالت کښـى اوليـده ۔ هـغه په خپل ذهن کښې دَ هغوى دَ يو ځائے کيدو او دَ تـلـو راتـلـو دَ ړومبۍ ورځے نه دَ هغے نفسياتى تجزيه شروع کړه او په خپـل زړۀ کښـې بـه يـې دَ هـغـے نـفـسيـاتى کيفيات جمع کول ۔ " پـه ړومبۍ ورځ هـغـه يـريـده ۔ ځان يې پړونى کښې انغښتې وو او ګاډې چـلـوو ۔ پـه دريـمـه ، څـلـورمـه ورځ هـغـه سـنـجـيده وه او دَ هغے دا سنجيدګى اووه ، اتـهـه ورځے وه ۔ په لسمه ، دولسمه ورځ دَ هغے په مخ

کښې دَ مانویست نخښې ښکاریدې ـ په دیارلسمه څوارلسمه دَ هغې په سترګو کښې مسکا او په مخ ځلاوه ـ په پنځلسمه ، شپاړسمه ورځ به هغې کله کله په شیشه کښې په مسکا کتل او چې دَ هغۀ سترګې به ورسره اولګیدې نو هغه به اوشرمیده او سترګې به يې خکته کړې ـ بیا خبره دې له راغله چې کتابونه به يې دَ عدنان روستی سیټ ته وراوغورځول او خورې زلفې به يې ډرائیونګ کوو او چې کله عدنان ډرائیونګ ازده کړو نو بیا به هغه ډرائیونګ کوو او هغه به ورسره په فرنټ سیټ کښې ناسته وه او دَ کور نه واخله تر کالجه پورې به يې ورسره خبرې کولې خو اوس ولې دَ هغې په رویه کښې بدلی او په لهجه کښې تلخی راغله ؟

عدنان د دې مسلې دَ حل کولو کوشش کوو خو هیڅ معلومات ورته اونشو ـ یو ځل هغه غاړه تازه کړه او په ترڅ نظر يې هغې ته اوکتل ـ د دې په جواب کښې هغې څۀ ویل غوښتل خو چپ پاتې شوه ، ډیره شیبه پس عدنان دَ تپوس جرأت اوکړو او وې وئیل " ولې عنبرین ستا طبعیت ټیک نه دې ؟

عنبرین :ـ زۀ بالکل ټیک ټاک یم ـ

عدنان :ـ زمانه څۀ غلطی یا بې ادبی شوې ده ؟

عنبرین :ـ دغه ستا مسله ده ، لږ سوچ اوکړه او ځان ته یاد کړه ـ

عدنان :ـ اوه سوری عنبرین ، ماته مغالطه شوې وه ـ زما دا خیال وو چې ته پیښور کښې داخله واخلې نو بیا زما ضرورت نشته ځکه چې . . .



www.pukhto.net



عنبرین ( دَ هغۀ دَ خولې نه خبره اخلی ) "ضرورت نشته ؟ ماته ستا ضرورت شته ، نن دریمه ورځ ده چې کلاسونه شروع شوی دی ، نورې جینکۍ کالج ته ځی او زۀ په کور کښې په دې انتظار کښې ناسته یم چې صیب به کله راځی او مابه رسوی ـ

عدنان :ـ سوری عنبرین بیا به داسې نه کیږی ـ

عنبرین :ـ او که اوشو نو بیا ؟

عدنان :ـ بیا زه مجرم ـ تاته اجازت دې چې څۀ سزا راکوې ـ

عنبرین :ـ ته ولې نه راتلې ؟ ستا څۀ مجبوری وه ؟

عدنان :ـ هیڅ مجبوری نه وه عنبرین ـ زما نه غلطی اوشوه او زۀ خپله غلطی منم ـ

عنبرین :ـ صفا صفا حال اووایه ، اخر څه وجه وه ؟ ولې نه راتلې ؟

عدنان :ـ عنبرین که یو تپوس درنه اوکړم نو خفه کیږې خو به نه ـ

عنبرین :ـ داسې تپوس مه کوه چې ما پرې خفه کړې او که هسې زما خفګان دې مطلب وی نو اوکړه تپوس ـ

عدنان :ـ خبره دَ خفګان نه ده خوځه یره وی دې ، هسې نه چې بیا رانه خفه شې ـ

عنبرین :ـ ښه وایه ، څۀ تپوس کول غواړې ، زۀ نه خفه کیږم ـ

عدنان :ـ تاخو ماته دَ راتلو دَ پاره نه وو ویلې ؟

عنبرین :ـ زۀ به تاته ویم نو ته به راځې ؟ ډیره دَ افسوس خبره ده چې ته داسې وائې ـ تۀ زما سرې يې او چې ترڅو درته مانه وی ویلې نو تۀ به

ماسره یې ۔

عدنان (خاندی) تاته هم غلطی اوشوه عنبرین ، سوری اووایه نو هله به معاف کیږې ۔

عنبرین :۔ زمانه څۀ غلطی اوشوه وایه ؟

عدنان :۔ ستاخوله خطا شوه او دَ نوکر په ځائے دے اووے " تۀ زما سړے یې "۔

عنبرین :۔ نوولے یې نه ؟ تۀ د دے نه انکار کوے ؟

عدنان :۔ (خاندی) زۀ ستا نوکریم ، سړے نه یم ۔

عنبرین :۔ نه عدنانه ! نوکر ، نوکروی او سړے ، سړے وی ، نوکر دومره قابلِ اعتباره نه وی ، دَ هغه خپلې ډیوټۍ سره کاروی ، دے نه علاوه هیڅ نه او سړے دَ ټول عمر دَ پاره وی ، قابل اعتباره هم وی او ملګرے هم ۔

عدنان ( خاند ) دَ سړی په مطلب پوهـ یې ؟ دا غلطی نه ده نو څۀ دی ؟

عنبرین (مسکۍ شی ) ښه ښه پوهـ شوم ، پوهـ شوم ، تا ترینه بل مطلب واخستو خو دا غلطی نه ده۔ (دواړه یو بل ته ګوری او مسکی شی ...لږه شیبه پس عنبرین وائی " عدنانه هغه بله ورځ زۀ کالج ته داخلے له تلے ووم ۔ چې داخله مِ اوکړه او بهر راوتم ...نو تاته پته ده چې څۀ مِ اوکړل ؟

عدنان :۔ دا دے اوکړل چې ګاډې کښې کیناستې او روانه شوے ۔

عنبرین :۔ دے نه مِ مخکښے دا اوکړل چې دَکالج ګیټ سره یو فالی ناست وو هغه سره مِ فال یعنی دَ خپل قسمت حال اوکتو ۔





عدنان :۔ اوه ، تۀ سره دَ دومره پوهے د دغه خلقو په خولو یقین کوے ؟

عنبرین :۔ دا تۀ چې څۀ وائی دا ټیک ده ۔ زما هم مخکښے دا نظریه وه ۔ ما ورسره هسے فولنګ (Fooling) کوو خو هغه چی څۀ اووے نو بالکل یې صحی اووے او زما پرے یقین اوشو ۔

عدنان :۔ هغه څۀ اووے او ستا دَ هغه په کومه خبره یقین اوشو ۔

عنبرین :۔ خفه کیږے خو به نه ۔

عدنان :۔ چرے هم نه ۔

عنبرین ( خاندی ) هغه وې ...چې ..چې ...چې ( مخ په لوپټه کښې پټ کړی ) چې ستا دَ سړی دَ نوم په شروع کښې "ع " او اخره کښې "ن " راځی ۔

عدنان :۔ اوه ۔ ښه نو دا خبره ده ۔ ته په دے خبره دومره خوشحاله یې ۔

عنبرین :۔ ولے تۀ خوشحاله نه یې ؟

عدنان :۔ زماستاسړی سره څۀ تعلق ؟ که خوشحالیږے نو ته به خوشحالیږے ۔

عنبرین :۔ ته لږ سوچ اوکړه ، ستا دَ نوم په شروع کښی "ع " او په اخره کښې "ن " راځی ۔

عدنان :۔ کیدیشی هغه ته تا سره فولنګ کړے وی ۔

عنبرین :۔ اوه نو هغه فولنګ نه دے کړے بلکه هغه سنجیده وو ۔

عدنان :۔ چی دا خبره ده نو داسے ډیر نومونه دی چی دَ هغے په شروع کښې "ع " او اخره کښی "ن"راځی ۔



www.pukhto.net

عنبرین :۔ مثلاً کوم ، کوم ۔

عدنان :۔ مثلا عثمان ، علی رحمان ، علی زمان وغیره ۔

عنبرین :۔ نه ۔ نه ۔ داسے نه ده ۔ هغۀ چی ماته کومے نښخے اوښولے نو هغه ټولے ماته معلومے دی ۔

عدنان :۔ کومے کومے نښخے ۔

عنبرین :۔ هغه وې چې سور سپین ، لوړ دنګ ځوان به وی ، سرۀ ویښتۀ غټې تورے سترګے به یې وی او په عمر کښې به زمانه دوه ، درے کاله مشر وی ۔

عدنان :۔ دا نښخے تا په چا کښے اولیدلے ؟

عنبرین :۔ په تا کښے دا ټولے نسخے موجود دی ۔

عدنان :۔ ډیره بے شرمه یې ۔ داسے خبرے څوک کوی ؟

عنبرین :۔ بے شرمه ولې یم ، د زړه خبره مِ دره اوکړه ۔ ته خوشحاله نه شوے ؟

عدنان :۔ زما په خپل قسمت دومره اعتبار نشته ، زۀ دا خوبونه نشم لیدے ۔

عنبرین :۔ که دا خوب حقیقت شی نو بیا ؟

عدنان :۔ اوه نو ۔ څنګه به حقیقت شی ، ریبالسټک اپروچ پکار دے ۔ تۀ دَ شهباز خان ایکے یوه لورې او زۀ دَ هغۀ دَ یو غریب زمیدار ځوے یم ۔

عنبرین :۔ دا څۀ دومره لویه خبره نه ده ۔ داسے شوی دی او داسے کیږی ۔



www.pukhto.net



عدنان :۔ داسے صرف په فلمونو او ډرامو کښې کیږی ۔ د دے نه بهر داسے نه کیږی ۔

عنبرین :۔ که داسے اوشی نو بیا ؟

عدنان :۔ که دا دَ قسمت فیصله وی نو بیا خو ترینه تیختہ نه کیږی ۔

عنبرین :۔ زۀ دَ قسمت خبره نه کوم ، ستا ذاتی رائے معلومول غواړم ۔ ماته دَ زړۀ خبره اوکړه تۀ خوشحال یې که خفه ؟

عدنان :۔ که داسے اوشی نو (چپ شی)

عنبرین :۔ وایه ، وایه ، ولے چپ شوے ۔

عدنان :۔ که داسے اوشی نو دے دَ پاره خو دَ خوشحالۍ ټکې وړوکے دے ۔ بیا خو به دا دنیا ما دَ پاره جنت شی ځکه چې دَ جنت حوره به زما دَ ژوند ملګرے شی ۔

عنبرین :۔ ته رشتیا وایې عدنانه ؟

عدنان :۔ چی څنګه ستا زما په خبره یقین نه کیږی ، داسے زما د دے ارمان په پوره کیدو یقین نه کیږی ۔

عنبرین :۔ داسے به کیږی عدنانه خو زۀ په تا یریږم ، ماسره پورا وعده اوکړه

عدنان :۔ دَ وعدے نه علاوه بل داسے مضبوط او پوخ ټکې نشته ؟

عنبرین :۔ شته ( هغه له لاس ورکوی ) وعده ده ؟

عدنان ( هغے له لاس ورکوی ) بالکل وعده ده ۔

دے نه پس هغوی ډیره شیبه خاموش او په خپلو خپلو سوچونو کښې



Pukhto.Net

ډوب وو ، شايد هغوى د دے لويے فيصلے په شا دَ ځينے خطرناکو او زړهٔ بوګنونکى مخالف قوتونه ليدل چى په مختلفو صورتونو کښې دَ هغوى دَ لارے خنډان جوړيدے شو او دَ هغوى دهمکى آميز ګواخونه يې اوريدل خو دَ هغوى دَ پخے ارادے او استقلال مخکښے دغه هرڅه دَ اوبو زګ ښکاريدو چې دَ ګوتے ور اوړو سره ختميديشو۔ کله کله به دواړه مسکى شو او يو بل ته به يې اوکتل او کله کله به دواړه سنجيده شو لکه چى يو غيبى او ناليدونکې څيز هغوى يره وى ۔

نمر په غرغره وو چى هغوى حيات آباد ته اورسيدل ۔ هرشے ورته په مسکا او خندا ولاړ وو ۔ اونے ، بوټى دَ خوشحالۍ نه زانګيدل او ګلونه ، ګل دستے په لاس قدم په قدم ولاړ وو ۔ دَ نمر زيړو پلوشو دَ هغوى مخونه ښکلول يخے هوا دَ هغوى وجودونه تښنول او دَ شفق سرے وريځے د اسمان په لمنو دَ جان وجانان ټکى ليکل او خورول ۔ توتاکرکى په فضا کښې په مستۍ او په ګډا وو او دَ فطرت ټول ذى روح نغمه سرا وو هغوى ته ټوله دنيا خوشحاله ښکاريده ځکه چې هغوى په خپله خوشحاله وو ۔ دَ خوشحالۍ په دغه بدرګو کښې هغوى دَ خورجى بنګلے ته اورسيدل ۔ عدنان دَ ګيټ مخے ته ګاډے اودروو او هارن يې اووهو ۔ خورجى هغوى ته په کړکۍ کښې اوکتل او مسکۍ شوه ۔ لږه شيبه پس دَ خورجى خدمتګارے نجمه راغله ، هغوى ته يې ګيټ لرے کړو او هغوى دننه ورغلل ۔ نجمے دَ عنبرين سوټ کيس اوچت کړ او عنبرين دَ کتابونو بنډل ۔ دَ هغوى دَ تلو نه



www.pukhto.net



پس عدنان دَ ګاډى صفائى شروع کړه ۔

هغه لا هغسے په صفائى کښې اخته وو چې نجمه بيا راغله او هغه ته يې اووے "خان جى چائے تياره ده ۔ خورجى وى چى راشه چائے اوڅکه"۔

عدنان هغے ته يو نظر اوکتل ، صفائى يې مختصر کړه او هغے سره روان شو ۔ نجمے هغه ګسټ روم کښې کينولو او په خپله اووته ۔ لږه شيبه پس هغے ښه مکلفه چائے راوړه ، هغه ته يې په ميز کيښوده او بهر وته چې عدنان ترينه تپوس اوکړو "عنبرين بى بى به دلته چائے له راځى"

نجمه په تلو تلو کښې اودريده ، هغه ته يې په شا اوکتل او وے وئيل ، نه خان جى هغوى دواړه په ډرائينګ روم کښې ناست دى ، دَ هغوى فکر مه کوه هغوى به هلته چائے اوڅکى" دے سره هغه بهر اووته ۔

عدنان ډيره شيبه دَ ګسټ روم سجاوټ ته کتل او چى هرڅيز يې دَ نظره اوويستلو نو بيا يې چائے څکل شروع کړل ۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆

Pukhto.Net

## دريم باب

ګل دين کاکا په ټول کلي کښې دَ صدر صيب په نوم مشهور شوے وو ـ اګر چې دَ هغه صدارت دَ هغه دَ پاره څۀ نيک شګون نه وو ځکه چې هغه په ړومبي کوشش کښې دومره اوشرميدو چې چاسره يې دَ سترګو لګيدو شان نه وو پاتے شوے ـ خو بيا هم هغۀ سترګے کلکے کړے وې او خپل کوشش يې جاري ساتلے وو ـ دَ اصلاحي کميټۍ ممبرانو او چيرمين به هغه کله کله خپل دفتر ته راغوښتو او هغۀ سره به يې ټوقے مسخرے کولے ـ دَ هغه په نسبت عملي ماما اوښيار وو دَ جلوس په ورځ هغه دَ بيمارۍ بهانه اوکړه او دَ کوره راؤنه وتو ـ په دے وجه ترينه دَ ګل دين کاکا خاطر لږ دروند او طبعه خټه وه ، خو بيا هم دواړو خپله يارانه نه پريښوده او ورځ کښې به يو ځل دوه کله دَ شمشاد په بټ او کله دَ مسکين کبابي په دوکان ملاويدل ـ

يو مازيګر دواړه دَ هغه په کړهۍ ناست وو ـ عملي ماما ته په خاؤرين تالۍ کښې يو روپۍ وال وړوکے کباب او غټ موټے پريکړے شوي پياز پراتۀ وو ـ دَ هغه په يو لاس کښې دَ جوارو ډوډۍ وه ـ په بل لاس به يې په نوړۍ دَ کباب نه يوه سوکه پريکړه ، د کباب دَ پوټے به يې پيازو سره ګډوډ کړو او يوه غټه شوړه به يې خوله کښې دننه کړه ـ شيبه پس به يې ويلے " مسکين جانه ! دے تالۍ ته يو موټے پياز را اوله : مسکين به ورته تندۍ ګونجے کړو او موټے پياز به يې تالۍ ته ورواچول خو چې کله تنګ شو نو دَ غصے او خندا په ګډون يې ورته





اووے " بس که عملي ماما دا څۀ کوې ـ دَ روپۍ کباب سره دے دَ لسو پياز اوخوړل ـ زما دَ پيازو تال تش شو او ستا کباب لا نيمے ته هم نه دے رسيدلے "ـ

دَ مسکين په خبره باندے ګل دين کاکا مسکے شو او دَ ستوانو چونډۍ يې خولے ته ورواچوله ـ عملي ماما دَ ګل دين کاکا په طنزيه مسکا پوهـ شو ـ يو نظريې هغه ته دَ بڼو لاندے اوکتل خو هيڅ يې اونه وے ـ چې نوړۍ يې تيره کړه او په بلۍ يې شروع کوله نو ګل دين کاکا ته يې اووے " ښه صدر صيب ! جوړه جاړه دَ خيره اوشوه "ـ

ګل دين کاکا :ـ هاؤ عملي جانه اوشوه

عملي ماما :ـ څه ښۀ اوشو ، ډير ښه اوشو ـ جوړه ښه ځيز دے ، که سل مرګه اوکړے خو اخر به جوړے ته کيني ، ګيني تاخو پړے سر په نه ده کړے "

ګل دين کاکا دَ ستوانو چونډۍ خولے ته واچوله "يره منم دے صدر صيب ! دَ شهباز خان نه خو دے ټپوس خان جوړ کړے وو ـ دۀ دَ چا سترګے نه وے ليدلے "ـ دے سره ګل دين کاکا قيخ قيخ په خندا شو ـ دَ خندا سره دَ هغه دَ خولے نه دَ ستوانو بڅرى اووتل او دَ عملي ماما په تالۍ کښې پريوتل ـ عملي ماما هم د دے موقعے په انتظار کښې وو ـ هغۀ ورته په غصه اووے " دا څۀ کوے ګل دينه ! ټول تالۍ دے راته دَ لاړو نه ډک کړو ـ ستا خوله ده او که دَ لاړو فواره "ـ

ګل دين کاکا :ـ دا لاړے نه دي عملي جانه ! دَ ستوانو بڅرى دي ( هغه



Pukhto.Net
www.pukhto.net

مسواکه ګوته په لاړو لونده کړه دَ هغه په تالی کښې يې وهله )

عملی ماما :۔ دا څۀ کوی ګل دينه ،، اوس رانه کباب خورے څه ؟

ګل دين کاکا:۔ کباب دے ستا نصيب شی ، زۀ پکښی خپل ستوان غونډوم ۔

عملی ماما :۔ لرے شه مړه ، دا اوړے ارواح دے نيولے ده ۔ تا باندے خو دے خلقو دَ صدر نوم شرمولے دے ...يه هلکه ! تاخو په چل چل کښې زمانه ټول پياز اوخوړل ۔

ګل دين کاکا :۔ يريږه مه ، زۀ نه دَ چامال خورم او نه خپل چاته پريږدم ۔

عملی ماما(دَ تالی نه کباب اوچتوی او خولے ته يې وراولی) ۔ که اوړے شوے يې نو هنّ دا ډوډۍ واخله او دغه ټول پوټی ورسره اوخوره ۔

ګل دين کاکا دَ هغۀ دَ لاس نه ډوډۍ اخلی او وائی " اوړے نه يم خو ستا خبره کوزه نشم غورځولے"۔

عملی ماما :۔ ته ګوره ورته ۔ الټا په ما احسان کوی ،

ګل دين ماما :۔ مسکين جانه يو موټے پياز دے تالی نه را اوله ۔

مسکين :۔ اوچ په اوچه پياز را اوله ۔ دۀ خورانه دَ روپۍ کباب واخستل خو تا څۀ واخستل؟

(لړ شان تالی ته وراولی ) هنّ دا واخله خوره "عملی ماما هغه ته په يوه سترګه اوګوری اومسکې شی ۔ ګل دين کاکا غاړه تازه کړی او وائی " څه عملی جانه ! داستان شه پکښې "۔

عملی ماما :۔ داستان به درته هله ويم چې مخکښے ستا دَ خولے نه يو





نوے ريکارډ وورم۔

ګل دين کاکا :۔ نوے ريکارډ دا دے چې دَ عالمی موګے لاړو په درياب اولګيدو ۔

عملی ماما :۔ يَه هلکه صدر صيب ! زۀ په پيچيده خبرو نه پوهيږم ، سم ډاګيز چليږه ۔

ګل دين کاکا:۔ دَ عالمی څوے عدنان لاړو اوختو ، دَ شهباز خان لور سره ډيراور شو ۔

عملی ماما :۔ ډيراوری څۀ دومره لويه خبره خو نه ده ۔ ماوے که څۀ نوره خبره ده ۔

ګل دين کاکا:۔ نوره خبره هم پکښے شته ( هغه نوړی په خوله منډی )

عملی ماما :۔ هغه څنګه ؟

ګل دين کاکا:۔ چاته دے دَ خولے نه اونه څی خو خلق وائی چې هغه هلک په دغه جينۍ ګرم دے ۔

عملی ماما :۔ دے کښی شک نشته هغه به ګرم وی ځکه چې ځوان زلمے دے خو دَ جينۍ څه حال دے۔

ګل دين :۔ دَ هغے هم ورسره لار ده او يو شو ورځو کښې به خبر شے ۔

عملی ماما:۔ ښه ښه لکه خبره دے له راغلے ده ۔ ماوچے چې عالمے او دَ هغه ځامن په شهباز خان دومره کلک ولے ولاړ دی ۔

ګل دين کاکا :۔ پيشو دَ خداې دَ پاره منګک نه نيسی عملی جانه ۔ زۀ



Pukhto.Net
www.pukhto.net

پرے دَ مخکښے نه پوهـ ووم خو دَ یرے نه مِ غږ نشو کولے ۔ اوې خبرې ؟ شهباز خان پرے هم پیۍ راپریښی دی ۔ دَ ګل ریزی برخه لس جریبه زمکه یې هم عالمی له ورکړه ۔ او دا کار ورله کشرے بی بی اوکړو ۔ ولے نه ؟ چې دا نه کوی نو څۀ به کوی ۔ بے غمه ورسره دَ حیات آباد په بنګله کښې پروت دے ، ښه په غوړو زیړو او مزو چرچو ی سر دے "۔

عملی ماما :۔ دا څۀ وائے صدر صیب ! دے نه خو په والله که زۀ خبر ووم ۔

ګل دین کاکا:۔ هله به خبر شې چې تارو جبے له ورشې "۔ (دَ شهباز خان ناظر راځی )

ناظر:۔ یَه اوزګار خیلو دا بیا دَ چا سپکه او خپله درنه وائۍ ؟

ګل دین کاکا او عملی ماما " په خیر راغلے ناظر صیب ! راځه راځه کینه "۔

ناظر:۔ کینم نه ، دَ خان میلمانۀ راغلی دی ، کبابو پسې راغلم (مسکین ته ) مسکینه یو دوه سیره ښه زبردست کباب جوړ کړه او حجرے ته یې را اولیږه ۔

مسکین :۔ بے غمه اوسه ، ځه ته ورځه ، هلک به یې دراوړی ۔

ناظر :۔ ښه زۀ درنه لاړم ۔

ګل دین کاکا :۔ مسکین جانه ! دے ناظر زما خبرے خو اوریدلے نه دی ؟

مسکین :۔ ولے نه ، تا خبرے کولے او هغه ستا شاته ولاړ وو ۔

ګل دین کاکا :۔ دا دے څۀ اووے ؟



www.pukhto.net



عملی ماما :۔ دۀ چی هر څۀ اووے ، د دۀ خبره پریږده خو ستا خبرے یې تولے وورید‌ے ۔

ګل دین کاکا :۔ دا به څۀ کیږی عملی جانه ! دا خو ښه اونشو ۔

عملی ماما :۔ یریږه مه صدر صیب ! تۀ خو دَ ټولو زمیدارو صدر یې ، که یو شپیلۍ دے اووهو نو ټول به راغونډ شوی وی ۔

مسکین (خاندی ) ټول به راغونډ شوی وی خو که یو عالمے کاکا ښکاره شو نو بیا به ټول په سوړو کښې ننوځی ۔ دا هغه بله ورځ ټول راغونډ شوی نه وو خو چې دَ هغه سترګے یې اولیدے نو ټول اوتختیدل او تا هم منډے وهلے ۔

ګل دین کاکا :۔ منډه مِ نه ده وهلے خو خپو له مِ زور ورکړے وو ۔

مسکین :۔ هغه خو دَ شهباز خان کهاته وه خو که د دے نه خبر شو نو صدر صیب خیر دے نشته ۔

ګل دین کاکا :۔ چې ته ورته اونه وائے نو څنګه به خبر شی ۔ په عملی جان مِ باور شته خو په تا مِ نشه۔

مسکین :۔ چې په ما دے باور نشته نو زۀ به یې ورته اوویم ۔

ګل دین کاکا:۔ تاله به زما په بے عزتۍ کښې څۀ په لاس درشی ۔

عملی ماما :۔ تا هم خبره غلطه اوکړه صدر صیب ۔ تادۀ ته ولے وے چی په تا مِ اعتبار نشته ۔

ګل دین :۔ یره دا خوله مِ دَ ماتولو ده چی ما پرے دا خبره کوله ۔

عملی ماما :۔ ښه نو څنګه دے خوښخه ده ۔ دے یې درله ماته کړی او

که په خپله یې ماتوې ـ

ګل دین کاکا :ـ ته هم را پورې خاندې عملی جانه ـ چې زما په بده ورځ ژړا کولې نشې نو خانده خو راپورې مه کنه ـ

عملی ماما:ـ نه ، نه دا خبره نه ده ـ ما خو هسې خبره اوکړه ـ

ګل دین کاکا :ـ اوس راته څۀ لار اوښایه چې ځان سپین کړم ـ

مسکین :ـ لار بـه درتـه زۀ اوښایم ـ راشـه دا کباب واخلـه او دَ خان حجرې ته یې یوسه ـ

ګل دین کاکا :ـ دا خبره مِ خوښخه شوه ـ راکړه دا تالې ـ

مسکین :ـ تالې درکوم خو په لاره پکښې ټونګې او نه وهې ـ

عملی ماما:ـ نه ، نه ، داسې خو به نه کوی ـ هلکه مسکین جانه په دې خبره به کانې کیږدو ښۀ دروند.

ګل دین کاکا:ـ اوس دې خبره سمه کړه عملی جانه (خاندی) یره په والله چې دَ یارانو یار یې.

مسکین :ـ صدر صیب ! او زۀ ـ

ګل دین کاکا:ـ ته خو مِ بچې یې مسکین جانه ـ

## دویمه برخه

دَ خورجی بنګله په څلور کناله زمکه کښې پرته وه ـ دَ بنګلې ډیزائن دَ یورپ نه راغوښتې شوې وو او هم په هغه طرز جوړه شوې وه ـ دا بنګله دَ پلاټ په مینځ کښې جوړه شوې وه ـ دَ بنګلې ګیټ لوې سړک ته وو او دغه اړخ ته دَ کور شاوه ـ دَ کور دَ ګیټ او دَ بنګلې دَ





عمارت په مینځ کښې لوې ځائې وو ـ دغلته دَ ګاډو دَ پاره دوه ګیراجونه ، دَ ډرائیور دَ ناستې پاستې او ملاستې دَ پاره یوه کمره ، دَ ګیټ خوا کښې دَ څوکیدار چیک پوسټ او هغې سره نزدې دَ هغۀ دَ پاره یوه کمره ، دَ ګاډی وینځلو او صفائی دَ پاره یو پِټ (Pit) ، هغې سره جخته دَ اوبو یوه نلکه او نلکې سره جُخت دَ پالتو سامان ایښودو دَ پاره دَ سټور یوه کمره ـ دَ کور دَ ټولو کمرو کړکی دَ مخې نه علاوه شاته هم وې ـ دَ کور نه چاپیره شپږ فټه اوچته چاردیواری ، هغې سره جخت په دواړو اړه دوه واړه ورونه لګیدلی وو ـ دَ دیوال غاړې سره دَ ګلونو ، نارنجانو جنپلې او ګل شبوګې بوټی ، دَ بنګلې په مینځ کښې چمن ـ دَ چمن نه چاپیره رنګا رنګ ګلونه او دَ چمن په مینځ کښې دَ ایرو کیریا بوټې ، دَ بنګلې مخې ته برنډه ، دَ برنډې لاندې پوړۍ ، دَ لیونګ رومز سره خوا کښې ډائننګ روم ، هغې سره خوا کښې کِسټ روم ـ دَ کِسټ روم خوا کښې باورچی خانه او باورچی خانې سره خوا کښې دَ باورچی دَ اوسیدو دَ پاره یوه کمره ـ دَ چمن لاندې یو میدان او په میدان کښې سویمنګ پول ـ چی کله به دَ سپرلی ورځې شوې نو دَ نارنجانو او دَ نورو ګلونو وږمې به چاپیره په چپو شوې ـ دا وه دَ خورجی دَ کور نقشه او جغرافیه ـ په دې دومره لوې کور کښې خورجی یک تنها اوسیده ، هغې سره دَ اخلی پخلی دَ پاره یوه خدمتګاره وه ـ دې نه علاوه نور هیڅ نه البته دَ هراتوار په ورځ به یو مالی راتلو ، چی خپل کار به یې ختم کړو نو بیا به تلو ـ چی کله به



www.pukhto.net

کار ډير وو نو هفته کښې به دوه درے ځله هم راغې۔

عدنان خپله ډيوټی شروع کړے وه ۔ سحر به يې عنبرين کالج ته بوتله او چې هغه به يې اورسوله نو ګاډې به يې راوستو په پټ باندے به يې اودروو او دَ هغے صفائی به يې کوله ۔ چې دا هر څۀ به يې اوکړل نو دَ ډرائيور په کمره کښې به يې ډډه واچوله ۔ که څۀ نوے يا زوړ اخبار به يې اوموندو نو هغه به يې کتو او دَ عنبرين دَ چُهټۍ انتظار به يې کوو ۔ عنبرين سره به دَ هغۀ ملاقات صرف کالج ته په تلو راتلو کښې کيدو ، دے نه علاوه بله موقع نه ملاويده او چې کله به هغه دَ چُهټۍ په ورځ کالج ته نه تله نو بيا خو به بيخی ليدل کتل نه کيدل ځکه چې هغه بغير اجازته دَ خورجی کورته دننه نشوتلے۔

دَ خورجی متعلق څۀ لږ ډير معلومات هغۀ ته دَ مخکښے نه وو خو چی اوس يې هرڅۀ په خپلو سترګو اوليدل نو دَ هغے متعلق يې په معلوماتو کښې نوره هم اضافه اوشوه ۔ هغه په رومبو ورځو کښې دَ هغے په سخته رويه خفه وو خو دَ وخت تيريدو سره حالاتو سره رو رو بلد شو ۔ په رومبۍ ورځ دَ هغۀ چائے ډوډۍ او ملاسته په ګِسټ روم کښې شوے وه ۔ دے نه پس هغه دَ ګيراج سره نزدے دَ ډرائيور کمرے ته شفټ شو او شپه ورځ به يې هلته وه ۔ يو څو ورځے ورله نجمے ډير په مينه چائے ، ډوډۍ هلته اوړه خو بيا روستو به هغه لکه دَ مسافر دَ وړوکی ور شاته اودريدو او نجمے ته به يې دَ ډوډۍ اواز کوو۔ دے نه پس په دے کښې هم ادلی بدلی اوشوه او هغه ته دَ چائے ډوډۍ وخت



www.pukhto.net



اوښولے شو ۔ ټيک په هغه وخت به هغه چاے ډوډۍ له ورتلو او دَ نجمے لاره به يې سارله خو اواز يې نشو کولے ځکه چی اواز په خورجی بد لګيدو ۔ په دے دومره موده کښې نه عنبرين دَ هغه نه دَ قيام وطعام په باره کښې څۀ تپوس کړے وو او نه دَ هغۀ دَ خولے نه دَ شکايت ټکی اوتے وو ۔

چی کله به عنبرين کالج ته تله راتله نو هغے به کتابونه روستی سيټ کښې کيښودل او هغه سره به په فرنټ سيټ کښې کيناسته ۔ خورجی به دَ خپلې کمرے په کړکۍ کښې دَ هغوی دَ تلو راتلو جاج اخستو ۔ يوه ورځ يې چرته په کوزيدو کښې دَ عنبرين په خوله خندا اوليده ۔ عنبرين چې کورته لاړه نو سخته زورنه يې ورکړه او آئنده د پاره يې ورته په روستی سيټ دَ کيناستو حکم ورکړو ۔ دے نه علاوه هغے دَ هغوی دَ تلو راتلو وخت مقرر کړو۔ مجال شته که هغوی دَ خپل وخت نه يو منټ ليټ شوے وے ۔

دا دَ خورجی هدايات وو او په دے عمل کول دَ هغوی کار وو ۔ هغوی ته پته لګيدلے وه چې خورجی په کړکۍ کښې دَ هغوی دَ تلو راتلو سارنه کوی دے دَ پاره په ګاډی کښې دَ کيناستو او کوزيدو په وخت به هغوی ډير سنجيده وو ۔ نه به يې يو بل ته کتل او نه به يې يو بل سره خبرے کولے ۔ خورجی ډيره خوشحاله وه چی هغے هغه دواړه په موټی کښې نيولی دی او رپ قدرے ترينه نه نشی وهلے خو مينه او خوشبو باندے دَ چا زور رسی او ځوک يې قابول کولے شی او بيا دَ عنبرين او

عدنان مینه ؟ ناممکن (Impossible)، هغوی به چې دَ خورجی دَ نظره پناه شو نو ګاډې به یې اودروو او عنبرین به ورسره په فرنټ سیټ کښې کیناسته ۔ دواړه به دَ نوی سحر دَ نوې تحفو تبادله اوکړه او دَ زړونو خبرې به یې شروع کړې ۔

یوه ورځ عدنان عنبرین ته دَ خورجی دَ رویے خلاف شکایت اوکړو او وے وئیل ، "عنبرین داسے معلومیږی چې خورجی زما او ستا په مینه خوشحاله نه ده " ؟

عنبرین :۔ زمونږ مینه دَ چا دَ خوشحالولو دَ پاره نه ده بلکه دا زمونږ فطری میلان دے ۔ دا به هم داسے وی که څوک خوشحالیږی او که خفه کیږی ۔

عدنان :۔ زما متعلق دَ هغے خیالات صحی نه دی ۔

عنبرین :۔ ستا تعلق ماسره دے ، هغے سره نه دے ۔ تۀ دَ هغے په خیالاتو څۀ کوې ....عدنانه که دَ هغے دَ حاله خبر شوے نو توپے به اوباسے ۔ هغه غریبه ډیره دړدیدلے او غم زپلے ده ۔ دَ هغے دَ مینے کور دوه میاشتے پس وران شو او نواز کاکاجی مړ شو ۔ دَ هغه دَ مرګ نه پس خورجی دَ هغه په ماتم کښې شپه ورځ ډوبه پرته وی ۔ په خپله کمره کښې دَ هغه تصویرونو او هغه سره ویستلی شوی خپل ګروپ تصویرونو ته ګوری او ژاړی ۔ هروخت په اعتکاف کښې وی او دَ هر نامحرم سړی نه ستر کوی ۔ دَ هغے نه به ګیله نه کوې ۔

عدنان :۔ نه ، نه ګیله نه کوم خو هغه په ما شک منه ده ۔



www.pukhto.net



عنبرین :۔ ماخو درته اووے چې هغه په هر نامحرم شک منه ده ۔ بله دا چې تۀ خو لا تۀ یې چې زۀ او نجمه هم دَ هغے کمرے ته نشو ورتلے ۔

عدنان :۔ په ننی وخت کښې دا دَ وفا انتها ده ۔

عنبرین :۔ هغه وائی چې هغه مړ شو نو هغه ولې ژوندی ده ۔ بله خبره دا ده هغه چې څۀ کوی نو زمونږ دَ فائدے دَ پاره یې کوی او زۀ هم ورته لږه لاندے ځم ځکه چې زما پکښې خپل مطلب دے ۔

عدنان:۔ ستا په کښې څۀ مطلب دے ؟

عنبرین :۔ زما مور پلار دَ هغے خبره کوزه نشی غورځولے ۔ زۀ ویم چې کومه وعده زما او ستا ترمینځه شوے ده په هغے کښې زما سفارش اوکړی ۔

عدنان ( خاندی ) ستا سفارش خو به هغه اوکړی خو زما سفارش به څوک کوی ۔

عنبرین (خاندی) هغه زما کار دے خو تۀ کلک اوسه ۔

یو څو ورځے پس خورجی دَ عدنان په ډرائیونګ پابندی اولګوله او عنبرین ته اوویلے شو چې هغه به کالج ته یواځے ځی راځی ۔ دے سره دَ عدنان په ډیوټی کښې هم ادلے بدلے راغی ۔ دَ هغه کار صرف دَ ګاډی صفائی ، دَ هغے تیل ، او به چیک کول وو او دَ یو نوکر په حیث دَ بازار نه سودا راوړل وو ۔ دا ټول هدایات به خورجی نجمے ته ورکول او هغے به عدنان ته من وعن رسول ۔ دے دومره موده کښې نه هغه خورجی لیدلے وه او نه یې ورسره خبرې شوے وې ۔

Pukhto.Net

یو مازیګر هغه ته اوویلے شو چې دَ خورجی ګاډی بهر کړی او دَ هغے صفائی دے اوکړے شی ۔ عدنان دَ هغے دَ حکم مطابق هرڅۀ اوکړل ۔ چې ګاډې سټ شو نو نجمه راغله او هغه ته یې اووے چې پرده اوکړی، خورجی بهر اوځی ۔ عدنان هم داسے اوکړل ، خپلی کمرے ته دننه شو او ورپ ځان پسې پورے کړو ۔ نجمے ورپسی وردَ بهر نه بولټ کړو چی چرته په چودو کښې اونه ګوری ۔ چې ګاډے په ګیټ اووتو نو نجمے ګیټ بند کړو او کور ته لاړه ۔ عدنان یوه شیبه انتظار اوکړو خو چې نجمه رانه غله نو ورله ورغی. خو ورلرے کیدے نشو ځکه چې دَ بهر نه بولټ وو۔

عدنان چی ناامیده شو نو په خپل کټ کښې سملاستو او دَ خورجی دَ ستر او پردے په باره کښې یې سوچ کوو ۔ هغه ته دَ مغلو دَ شهزادګو متعلق دَ تاریخ هند یوه واقعه رایاده شوه او هغه دا چې کله به دَ لاهور شاهی محل ته دَ مغلو شهزادګۍ راغلے او دَ راوی سیند نظارے ته به یې زړۀ اوشو نو دَ شپے په تیاره کښې به دَ محل پاس چهت ته اوختی او دغه نظاره به یې کوله خو د دومره لرے نه دَ سیند مکمله نظاره نه کیده نو دَ شهنشاه په حکم دَ شاهی محل نه دَ راوی دَ غاړے پورے یو لوے سرنګ اوویستلے شو او دَ رڼا دَ پاره پکښے فانوسونه اولګولے شو ۔ بیا به په دغه سرنګونو کښې شهزادګۍ سیل له تلے راتلے ۔ دَ هغه په خیال کښې دَ خورجی مثال هم دَ مغلو دَ شهزادګۍ وو ... په دغه خیالونو او فکرونو کښې دَ هغه سترګے اولګیدلے او په دروند خوب


www.pukhto.net



اودۀ شو ۔

ماسخوتن تیر په ګیټ هارن اووهلے شو ۔ دَ عدنان سترګے اوغړیدے اوپاڅیدو چې هغوی ته ګیټ لری کړی خو چی ورله ورغی. او دَ هغے دَ لرے کولو کوشش یې اوکړو نو هغه ته معلومه شوه چی ورلا هغسے دَ بهر نه بند دے ۔ هغه بیا غلے غوندے په کټ کښې ډډه واچوله ۔

خورجی پرله پسې درے هارنے اووهلے خونجمه رانه غله ۔ چې اونشوه نو عنبرین دَ هغے په سهاره په دیوال اوختله او ګیټ یې لرے کړو ۔ خورجی چی ګاډې دننه کړو نو ډیره په تیزۍ او غصے سره کورته دننه شوه ۔ عنبرین هم دَ هغے قدم سره قدم ملاؤ کړے وو ۔ دَ هغوی دَ ننوتو سره یو کس دَ نجمے دَ کمرے نه را اووتو ، دَ دیوال په سیوری په منډه روان شو او په دیوال ووختو ۔

خورجی او عنبرین دواړو هغه اولیدو او په سوالیه نظریې یو بل ته اوکتل ۔ هغوی دواړه دَ نجمے کمرے ته ورغل او چی اوې کتل نو هغه لا بے حجابه پرته وه ۔ هغوی ترینه مخ واړه وو او نجمے په وارخطائی کښې زر زر ځان راغونډ کړو ۔ خورجی ورله په مخ یو شرق ورکړو او وے وئیل " دا څوک وو چې دلته راغلے وو " ۔ دَ نجمے وارخطا شو او په ساه نیولی اندازې اووے " دا خورجی هغه وو ... دا هغه وو"۔

خورجی :۔ شابه حال اووایه ، بے حیا، بے شرمی ، دا څوک وو ؟

نجمه :۔ دا خورجی .... دا عدنان وو"

عنبرین :۔ اوه مائی ګاډ ، د عدنان دا جرأت ۔

خورجی عنبرین ته ګوری او وائی " اودے لیده ، دَ عدنان کارنامه "

عنبرین :۔ سوری خورجی خو زۀ په دے حیرانه یم چی هغه دومره قبیح حرکت ولے اوکړو ۔

خورجی :۔ حیرانه ولے شوے ، دَ قبیح سړی نه قبیح حرکت کیږی ۔

عنبرین :۔ زۀ ورځم چې دَ هغه نه دا تپوس اوکړم ۔

خورجی :۔ د تپوس ضرورت نشته ، دَ هغه حرکات دَ مخکښے نه مشکوک وو او دے ماته څو څو ځله مخکښے هم دَ هغۀ شکایت کړے وو ۔

عنبرین ( نجمے ته ) دے نه مخکښے هغه تاته په غلط نظر کتلے وو ؟

نجمه :۔ هاؤ بی بی جی ، څو څو ځله ، او مادَ هغۀ شکایت خورجی ته کړے وو ۔

عنبرین :۔ اوه مائی ګاډ ۔ که دا رښتیا وی نو روغ به رانه نه ګرځی ، زۀ به هغه شوټ کړم ۔

خورجی :۔ دَ هغه شوټ کولو سره ستا څۀ کار نشته ، پولیس له به یې ورکړو چی ټول عمری په جیل کښې پروت وی ۔

عنبرین :۔ زۀ هغه پسی ورځم ۔

خورجی :۔ هغۀ پسی چرته ورځے ؟ هغه خو زمونږ په مخکښے په دیوال ووختو ۔

عنبرین :۔ کیدیشی خپلې کمرے ته واپس راغلے وی ۔



www.pukhto.net



خورجی :۔ هاؤ کیدیشی ، ته اودریږه زۀ هم درسره ځم۔

خورجی پټ مخ هغے سره روانه شی چی هلته اورسی نو عنبرین هغه ته ورډبوی او وائی "عدنانه ورلرے کړه ۔ شابه زر کوه "

عدنان :۔ وردَ بهر نه بند دے ، تۀ ې لرے کړه "عنبرین چې لګیدلے بولټ اوینی نو خورجی ته په سوالیه نظر ګوری او بولټ خلاصوی ، چی ورلرے شی نو عدنان دَ غصے په انداز کښی وائی " دا ما کوم جرم کړے دے چې ورمو راپسې بند کړے وو "۔

عنبرین :۔ دا چا بند کړے وو ؟

عدنان :۔ تاسو چې بهروتې نو نجمه راغله او وے وئیل چی " پړده اوکړه بیبیانے بهراوځی ، ماځان پسې وربند کړو او هغے راپسے بولټ کړو ۔ ستاسو هارن ما وورېدو خو دروتے نشوم ۔

خورجی :۔ داسے معلومیږی چی هغه بل څوک وو ۔ تاسو راځی چی دَ هغے نه تپوس اوکړو "۔

چی هغوی کورته لاړ شی او دَ نجمے کمرے ته ورشی نو نجمه سره دَ غاړے غوټے تختیدلے وی ۔

عنبرین :۔ تینک ګاډ ۔

عدنان :۔ ولے عنبرین څۀ چل شوے دے ۔

عنبرین :۔ تابه اوس لیدلی وو خو دا ښه ده چی هغه کور نشته تختیدلے ده ۔ مونږ دَ نجمے نه دا تپوس کول غوښتل چی هغے تا پسے ورولې بند کړے وو ۔



Pukhto.Net

عدنان :۔ نیور مائنډ عنبرین ۔ دَ هغے غریبے نه غلطی اوشوه معاف یې کړی ۔ داسے کله کله کیږی . . .ښه ماته څۀ حکم دے ۔

خورجی :۔ تاته دا حکم دے چې دَ هغه پخ کړے کټوی بهر اوغورځوه او عنبرین سره دَ کټوی په پخلی کښې تعاون اوکړه ۔

## دریمه برخه

دَ عنبرین دَ رشتے غوښتو له دَ خانانو ډلے راماتے وې ۔ دَ شهباز خان او دَ هغۀ دَ زمیدارو تر مینځه چې کوم تاؤ تریښوالے راغلے وو ، هغه به یې بهانه کړه او هغه له به یې دَ خپل مکمل تعاون یقین دهانی ورکوله ۔ ټولو ته پته وه چې جوړه شوے ده او اوس دَ هغوی ترمینځه هیڅ نشته خو بیا به هم هغوی په دغه مړه ایره کښې ګوتے وهلے چې دغه خبرے به اوشوے نو بیا به خپل مقصد له راغلل او دَ عنبرین رشته به یې ترینه اوغوښتله ۔ شهباز خان به په ډیره نرمه او پسته ژبه هغوی جوابی کړل او ورته به یې اووئیل چې " لور خور دَ ورکولو څیز دے تاسو نه زار قربان خو هغه لا سبق وائی او چې سبق ختم کړی نو بیا به ګورو "۔

یوخوا دغه رشتے راماتے وے او بل خوا دَ عملی ماما او ګل دین کاکا خبره کور په کور خوره شوه ۔ دغه خبرے دَ شهباز خان نوکرانو او ناظره ته هم اورسیدلے ۔ دَ ناظر او خان لکه دَ سکول دَ پرنسپل او بابو هره پته ، بربنډه یوه وی ۔ هغه دا ټولے خبرے شهباز خان ته اورسولے ۔ شهباز خان پوهـ شو چې دا خلق لا قلار نه دی ، هسے نه صبا له



www.pukhto.net



راپورے نورے خبرے اوترې ۔ هغۀ دَ خپلې ښځے سره صلاح اوکړه او دَ هغے په مشوره یې دَ کاکی خیل دَ سید رحیم کاکی دَ ځوی ، ګوهر کاکی رشته یې قبوله کړه ۔ بیا دَ زنانهٔ تګ راتګ شروع شو ۔ په څلورمه ورځ دعائے خیر اوشوه او دَ خواؤ شاکلو غټو غټو سټو پکښې شرکت اوکړو ۔ د دے خبرے اطلاع خورجی ته هم وه خو هغه لانه ړه البته په ټیلیفون یې ورته دَ خپلې خوشحالی اظهار اوکړو ۔

بل خوا ګل دین کاکا او عملی ماما دواړو دَ حجرے دیوال ته ډډے وهلې وې ، پیتاوے یې هم کوؤ او خبرے یې هم کولے ګل دین کاکا عملی ماما ته اووے "عملی جانه ! دَ نوے ریکارډ نه خبریې۔

عملی ماما :۔ نه خدای ګونه یم خبر ۔ که تاراته څۀ اووے خو ویلے به دے وی ګینی د دے کلی خلق ماته څۀ حال نه وائی ۔ که په کلی کښې اور اولګی اولښې او لوګے ترینه خیژی نو چې زۀ دَ چانه تپوس اوکړم نو وائی "ماته پته نشته "۔

ګل دین کاکا :۔ نه نو څۀ دربانده سخته ده چې دَ بل چا نه تپوس کوې ستا دَ پاره خو یو زۀ ډیر یم . . . ښه دَ غندل خان او پوردل خان دَ ښځو دَ جنګ نه خو به خبرې کنه ۔ چې دواړو دَ سپیاکو جنګ کوو او دواړه ژوبلے شوے ۔

عملی ماما:۔ دا خو راته ملعومه ده خو په دے نه یم پوهـ چې دَ سپیاکو په جنګ کښې څنګه ژوبلے شوے

ګل دین کاکا(خاندی) ولے ته یې خبر ؟ دغه ظالمے په سوټو کښې دَ

خاؤرو ، ختو نه علاوه ، کاڼی ، ټیکری هم اغړی او سپیاکے ترینه جوړه وی ۔

اول خو سپیاکے بلیړی نه او چی په لوګی لوګی کښی ایره شی نو نغرۍ دَ خاؤرو کاڼو او ټیکرونه ډک شی۔

عملی ماما :۔ دَ هغوی خو جوړه اوشوه کنه ۔

ګل دین کاکا:۔ هاؤ جوړه ورله دغه کوڅه ډبو ، اصلاحی کمیټۍ والا اوکړه ۔ تاڼے ته ورپسی لاړل او هلته یې ورله جوړه جاړه اوکړه ۔

عملی ماما :۔ جوړه په څۀ بنیاد اوشوه ۔

ګل دین کاکا :۔ جوړه یې په دے بنیاد اوشوه چې پنځه پنځه زره روپۍ تانیدار او پنځه پنځه زره روپی اصلاحی کمیټی جرم کړل او دَ آئنده دَ پاره یې دَ هغوی دَ سپیاکو په خرڅولو پابندی اولګوله ۔

عملی ماما :۔ دغه رنګے ۔ دا ښه کار اوشو صدر صیب ! چی دا خلق سوتے په ډیران نه غورځوی نو سره به دَ کومے راشی ۔

ګل دین کاکا:۔ دَ بلے نه دے خبر کړم ۔

عملی ماما :۔ هاؤ ، هاؤ ، وایه ، وایه ، دا دومره لویه ورځ به په څۀ تیره وو۔

ګل دین کاکا:۔ اوریدلے مِ دی چې شهباز خان خپله لور دَ کاکاخیل دَ سید رحیم خان ځوی له ورکړه ۔

عملی ماما :۔ دا دے څۀ اووے ۔ تا خو هغه بله ورځ بل بل څۀ وې ۔

ګل دین کاکا:۔ ما چی څۀ وی هغسے اونشوه ۔ دَ عالمی ځوے دَ اوښ



www.pukhto.net



په شا سپو اوخوړو ۔

عملی ماما ( خاندی ) او هغه هم دَ کاکی خیلو لیونو سپو ...خو په دے هلک غریب خفه شوم چی د دۀ به څۀ کیږی ۔

ګل دین کاکا : عملی جانه ! ښه اوښیار سړے یې ۔ دنیا دے خوړلے ده ، تا چرے داسے لیدلی دی یا دے اوریدلے دی چې یو خان راپاڅیدو او خپله لور یې یو نوکر له ورکړه ۔

عملی ماما :۔ دا مِ لیدلی یا اوریدلی نه دی البته دا مِ اوریدلے دی چې نوکر لګے شو او دَ خان لورۍ او تختوله ۔

ګل دین کاکا :۔ هیّ ته په پیر دے رحمت شه نو دغه لاره خو دۀ ته کهلاؤ ده ۔ چی هغسے اونشوه نو داسے دے ورسره اوکړی ۔

عملی ماما :۔ یره یوه خبره درته کوم ، تۀ ګوره دا هلک به څه نا څۀ کوی ۔

ګل دین کاکا :۔ یره عملی جانه چې داسے ورسره اوکړی نو بده به نه وی ، نور هغه پوهـ شه او دَ هغه کار ، زمونږ پکښے څۀ کار دے ۔

عملی ماما :۔ هاؤ یره ! لاره به ورته مونږ اوښایو خوویستې یې ورسره نشو ۔

☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

☆

## ځلورم باب

دَ نجمے دَ تلو نه پس دَ هغے کار عنبرین او عدنان ته حواله شوے وو هغوی دواړو به په شریکه اخلې پخلې کوو ـ کله کله به ورسره خورجی هم لاس کوو خو دَ هغے دَ ستر په وجه به هغے ته مشکلات پیښیدل ـ چې کله به عنبرین کور نه وه نو هغے به دَ عدنان په موجودګی کښې پټ مخ پخلې کوو۔ کله کله به دَ عدنان په زړهٔ کښې راغله چی دَ قدرت کارونه هم عجیبه وی ـ هغه یې دَ عنبرین دَ محافظ نه دَ هغے ډرائیور کړو ، دَ ډرائیور نه نوکر کړو او دَ نوکر نه یې باورچی کړو ـ خلق په بره خیژی او هغه لاندے راغورځیږی ـ دَ هغه په زړهٔ کښې چی دَ عنبرین متعلق کوم خائسته رومانی خیالات او تاثرات وو هغه دَ خورجی دَ سختے رویے په وجه ټول ګډوډ شو ـ اوس هغه ته دومره موقع نه ملاویده چې هغے سره ځان له یو څو خوږے خبرے اوکړی ـ که چرته باورچی خانه کښې به خورجی هغه دواړه یو ځائے اولیدل نو مخ پټې به راغله او هغوی سره به کیناسته ـ

وخت تیریدو سره هغه دَ کور یو فرد اوګرځیدو ـ هغه هم په خپل کار کښی دلچسپی واخسته او په کور کښې یې ځائے په ځائے خائسته ګلونه اوکرل۔ او دَ ځینے نایاب ګلونو راؤړلو دَ پاره یې مالی ته اووے هر سحر به یې چې چمن له اوبه ورکړے نو بیا به بازار ته لاړو او دَ خورجی په مشوره به یې سودا راؤړه ـ خورجی به دَ کټوی تیارے



www.pukhto.net



کوو او هغه به دَ کمرو صفائی کوله ـ هغه هرے کمرے ته تلے شو خو دَ خورجی کمرے ته نشو تلے ـ دَ هغے صفائی به هغے په خپله کوله ـ دَ خورجی یو عادت دا هم وو چی کله به عدنان او عنبرین دَ شپے خپلو خپلو کمرو کښې اوده شو نو هغه به غلے غلے غوندے ورغله او دَ هغوی کمرے به یې دَ بهر نه بولټ کړے ـ بیا به لاړه او خپله کمره کښې به سملاسته ـ که لږ څه شک به یې راغی نو طماچه په لاس به دَ کمرے نه غلے غوندے اووته او دَ مشکوک ځایونو جائزه به یې اخسته ـ عدنان ته دَ هغے دَ څوکۍ معلومات نه وو ـ څو څو ځله دَ هغهٔ دَ کمرے دَ ورخوا سره هغه دَ چا دَ خپو اواز به وورېدو خو بیا به خاموشی شوه ـ

یو ځل په خبرو خبرو کښې هغه خورجی ته دا خبره اوکړه خو هغې ورته اووے چی "تاسو ښه په آرام خپل خوب کوی هیڅ نشته او که بالفرض څهٔ شک موراشی نو دَ کمرو نه بهر مه اوځی ، یو خو دا چې دا علاقه خطرناکه ده هسے نه څوک دربانده ډز اوکړی بله دا چې دلته پیریان دی او په بدله بدله جامه کښې کله کله راځی "۔

عدنان چې دَ پیریانو وورېدل اویریدو او عنبرین باندے خو دَ یرے نه رڼچ راغی ـ یوه شپه هغه دَ چا دَ خپو اواز وورېدو ـ دا اواز تلو تلو او دَ خورجی په کمره باندت ختم شو ـ هغه دومره یرے اخستے وو چې کړکی یې هم نشوه لرے کولے ـ د خپو دا اواز به هره شپه نه وو بلکه په هفته کښې به یو ځل وو او هغه چې پوره اندازه واخسته نو دا به

اکثر دَ خالی په ماسخوتن یعنی دَ اتوار په شپه وو ۔
یوه شپه هغه دَ خپلی کمرے خوا کښې د چادَ خپو اواز وورېدو هغه په یره یره دَ ور لرے کولو کوشش اوکړو خوور دَ بهر نه بند وو ۔ هغه زر کړکۍ لرے کړه ۔ یو سړے رو ، رو په غلو غلو قدمونو دَ خورجی کمرے ته ور روان وو آن چی دَ هغے کمرے ته اورسیدو ۔ دَ کمرے ورې لرے کړو او دننه ورغی ۔ هغه دَ کړکۍ نه دَ وتو کوشش کوو خو دَ سیخانو اوګرل په وجه هغه داسے اونکړے شو ۔
دَ خورجی دَ کمرے نه هیڅ قسمه اواز رانه غی ۔ هغه ته داسے معلومه شوه چی دا څه راز دے ۔ دے سره دَ هغه په تجسس کښې نوره هم اضافه اوشوه او هغه په هر قیمت د دے دَ معلوملو کوشش کوو۔ دَ سحر دَ اذان پورے هغه کړکۍ کښی ولاړ وو ۔ دَ اذان نه پس دَ خورجی دَ کمرے ورلرے شو او هغه سړے ترینه بیا را اووتو ۔ دَ هغه دَ کمرے خوا کښې تیر شو او هغه سره جخت په لنډی دیوال ووختو۔
دے سره هغه ته دَ خورجی شخصیت مشکوک ښکاره شو او دَ هغۀ په زړۀ کښې څۀ نورے نورے خبرے راغلې خو چې دَ هغے متعلق ورته دَ عنبرین خبرے ورمخکښے شوے نو بیا به دَ هغه شک په نورو شکونو کښې تقسیم شو ۔ هغه به کله وې دا انسان دے ، کله به یې وې پیرے دے او کله به یې وی کیدیشی دا دَ نواز خان روح وی ۔ په صبا هغه عنبرین ته د دے خبر ذکر اوکړو نو هغے اووے چی انسان کو کیدے نشی څکه چې خورجی یوه نمونځ ګوزاره او تهجد ګوزاره ښځه ده


www.pukhto.net



البته پیرے کیدیشی ۔ کیدیشی دا پیرے دَ هغے تابع وی او دَ هغے حفاظت دَ پاره راځی ۔ دا هم کیدیشی چی دا دَ نواز خان کاکاجی روح وی او هغے له راځی ۔ دیکښے هم څۀ شک نشته چې دَ نیکۍ فرشته وی او دَ هغے ملګرے جوړه شوے وی ۔ دا دَعنبرین خبرے او دَ هغے معصومانه خیالات وو خو دَ عدنان دَ هغے په خبرو تسلی نه کیده ۔
هغه دَ خیالی او د قیانوسی قیاسیانو باندے یقین نه لرو ۔ دَ هغه تجسس ورځ په ورځ زیاتیدو او هغه په هرحالت کښې دا معلوم غوښتل چی اخر دا څۀ څیز دے چې نورو کمرو ته نه راځی او صرف دَ هغے کمرے ته ورځی او خورجی نورے کمرے ولی بولټ کوی ۔
هغه دَ راتلونکی اتوار شپے ته انتظار کوو ۔ چی کله ډوډی اوخوړے شوه او عنبرین او خورجی خپلو خپلو کمرو ته لاړل نو هغه هم لاړو په خپل کټ کښې سملاستو چی کله ماسخوتن تیر شو نو هغه دَ کمرے نه ځان سره خپله طماچه واخسته او غلے غوندے دَ کمرے نه اووتو ۔ ورې دَ بهرنه ځان پسی پورے کړو او دَ دیوال غاړے سره دَ ګل شبو په بوټی کښې پټ کیناستو ۔ هغه چې هغه ځائے ته خیال اوکړو په کوم به چی هغه سړے تلو راتلو نو دَ هغه ځایه خښتې نړیدلے وې او دیوال سره لاندے ایښودے شوے وې ۔ هغه پورا اندازه واخسته چی دا هم هغه ځائے دے په کوم چی دا سړے ځی راځی ۔ چی کله شومه دم شوه نو خورجی دَ خپلې کمرے نه را اووته ، دَ عنبرین او دَ عدنان ورونه یې بولټ کړل او خپلے کمرے ته لاړه ۔

Pukhto.Net

لړه شيبه پس دَ عدنان سره جخت ديوال سره ښکالو اوشوه ـ يو سړے غلے غوندے په ديوال راووختو، دَ ګل شبو بوټی سره اودريدو او بيا غلے غلے دَ باورچی خانے خوا کښې ووختو او دَ خورجی کمرے ته اورسيدو ـ دَ هغے دَ کمرے ور دَ مخکښے نه لرے وو ـ هغه بغير څۀ رکاوټه کمرے ته دننه شو او وريې ځان پسی پورے کړو ـ په کمره کښی بجلی اولګيده ـ عدنان خپلې ځپلی هلته اوويستلی او غلے غلے دَ خورجی دَ کمرے په طرف روان شو ـ دَ کړکی سره جخت اودريدو او دَ هغوی ګنګوسی ته يې غوږونه بُوس کړی وو ـ دَ کړکی په چودو کښې دَ هغوی دَ خبرو اواز راتلو او دَ خبرو نه صفا پته لګيده چی دا نه پيرے دے او نه روح دے بلکه انسان دے ـ دَ هغوی هره يوه خبره هغه اوريده او هغه دَ خبرو پيژندګلو هم کولے شوه ـ دَ خورجی او د دغه سړی دَ خبرو صفا صفا پته لګيده ـ عدنان چی ورته دَ کړکی په چودو کښې اوکتل نو خورچی په نيم عريان لباس کښې خورے زلفې ناسته وه خولے ته يې ګلاس نيولے وو او څۀ مشروب نه به يې په خوند خوند ګوټ کوو دَ هغے په يو لاس کښې ګلاس او بل لاس يې دَ هغۀ په اوږه ايښے وو ـ په دے چودی کښې دَ سړی دَ مخ پته نه لګيده خو هغه چې ورته کوز پاس شو نو دَ سړی مخ يې اوليده ـ سړے دَ څلويښت دوه څلويښت کالو په عمر کښے وو ـ دَ هغه په يو لاس کښې ګلاس وو او بل لاس دَ هغے دَ نرۍ ملا نه تاؤ کړے وو ـ خورجی به چی کله په نازوادا زلفو له څنډ ورکړو او دَ سر سره به يې بدن جنبش اوکړو نو دَ


www.pukhto.net



پنځلسو کالو پيغله ښکاريده ـ عدنان څو څو ځله دَ هغے نه مخ واړو او په خپلو سترګو يې ګمان نه راتلو چې يوه عبادت ګوزاره تقویٰ داره او ستر پوشه ښځه داسے کيديشی ـ ډيره شيبه هغوی په چپو خولو دَ مينے دَ تحفو تبادله کوله ـ هغه په خپل لاس هغه ځان ته راکړه کړه، هغه دَ هغه په غيږ کښې پريوته او زلفې يې څۀ دَ هغۀ په غيږ کښې راغلې او څۀ لاندې زانګيدے ـ په نيم کښو سترګو يې هغه ته اوکتل او وے وئيل : تابشه نن دے ولے ناوخته کړو"ـ

تابش ګلاس په ميز کيښودو او وے وئيل :" نن هغه نجمه راغلے وه هغے را باندے ناوخته کړو "ـ

خورجی :ـ هغے څۀ وے ؟ خفه خو نه وه ؟

تابش :ـ تانه ډيره خفه وه او ماته يې ګيلے کولے ـ تا هغے له مخ سپيره ولے ورکوله ـ

خورجی :ـ سپيره مِ ځکه ورکړه چی هغے زما حق اخستے وو ( خاندی )

تابش:ـ دَ هغے په ځائے څوک راغلی دی ؟

خورجی :ـ دَ هغے ډيوټی يو نوکرکوی ـ

تابش ( خاندی ) هسے نه زما په حق هغه قبضه اوکړی ـ

خورجی :ـ چرے هم نه ، دَ هغه نه زۀ ستر کوم او دومره مِ يرولے دے چې زما کمرے ته نزدے هم نشی راتلے ـ

تابش:ـ تا باندے څۀ اعتبار ؟

خورجی :۔ اوه ، دا اعتبار کم دے چې دَ ستا په غيږ کښې پرته يم ۔

تابش :۔ داسے خو تهٔ دَ نواز خان غيږ کښې هم پرته وې او څنګه ګوزار دے ورکړو ۔

خورجی :۔ ګوزار ما ورکړو که تا ؟

تابش:۔ ما خو صرف ستا د حکم تعميل کړے دے ۔ ستا فرمائش مِ پورا کړے دے ۔ تهٔ دَ هغهٔ دے فوټوانو ته خو لږ اوګوره مونږ ته ګوری او خاندی ۔ دا زړهٔ مِ وائی چې دا ټول لاندے را اوغورځوم او دَ پاسه پرے اوخيژم ۔ دے خو به درته کله کله يادېږی ۔

خورجی :۔ مړو سره کلې نه کېږی تابشَ، چې تير شی نو هير شی ۔

تابش:۔ د دے نوے هلک څهٔ نوم دے ؟

خورجی :۔ د ده نوم عدنان دے ۔

تابش:۔ اجازت راکړه چې دے هم لرے کړم ۔

خورجی :۔ چې دے لرے کړے نو کار به په چا کوم ۔

تابش (خاندی ) زهٔ به دَ نوکر په جامه راشم ۔

خورجی :۔ نه فی الحال نه ۔ چې وخت راشی نو زهٔ به درته اوويم ۔

تابش:۔ زما د دهٔ نه يره کېږی هسے نه چې چرته مو اووينی او خبره ډنډوره کړی ۔

خورجی :۔ دا خبره خو به يو څل ښکاره کېږی که نن نه وی نو صبا او که صبا نه وی نو بله ورځ ۔

تابش :۔ څه مطلب ؟



www.pukhto.net



خورجی :۔ تا چې کوم تخم کرلے دے هغه زرغون شوے دے ( هغه په خپله خيټه لاس وهی )

تابش :۔ واقعی ؟ دا به څهٔ کېږی ؟

خورجی :۔ دا تپوس خو زهٔ تانه کوم چې ده سره به څه کوو ۔

تابش :۔ Nip the evil in the bud

خورجی :۔ د دهٔ دَ Nipping وخت تير شوے دے ۔ هغه بله ورځ ما ډاکټرے سره خبره کړے وه ۔ هغے وی چې دے سره اوس هيڅ نه کېږی ۔ دا به څهٔ کېږی تابش ۔ که دا ماشوم واقعی خپلې مودے ته اورسی او پيدا شی نو زما به لويه بدنامی اوشی ۔

تابش :۔ زهٔ هم نه پوهيږم چې ده سره څهٔ اوکړو ۔

خورجی :۔ د دے يو حل شته او هغه دا چې ماسره وادهٔ اوکړه چې دا ناجائز ماشوم جائز شی ۔

تابش :۔ وادهٔ ؟

خورجی :۔ هاؤ واده ۔ ماسره سم وادهٔ اوکړه چې دَ خلقو په نظر کښې بدنامه نشم ۔

تابش:۔ ټيک ده ۔ واده به درسره اوکړم خو په يو شرط ۔

خورجی :۔ شرط ؟ څه شرط ؟

تابش :۔ دا نوے جينئ عنبرين ماسره ملاؤ کړه ۔

خورجی :۔ ولے زهٔ دَ عنبرين نه کمه يم څهٔ ؟ هرجائی مه جوړېږه ۔

تابش:۔ تهٔ مه يرېږه ، په تا هيڅ نه کمېږی ۔



Pukhto.Net پښتو

خورجی :۔ دا دَ عدنان معشوقه ده ۔

تابش:۔ ماته پته ده هغه به ورسره ډرائیونګ کوو ۔

خورجی :۔ ماخو تاته ښه اسانه کړې ده ۔ دَ هغه ډیوټی مِ ختمه کړې ده اوس یواځے څی راځی ۔

تابش:۔ ماته پته ده ، ما څو ځله هغې له لاس ورکړو خو هغې لفټ رانکړو ۔ زۀ هغې سره یو ملاقات غواړم او دا ملاقات که دلته اوشی نو ډیر به ښه وی ۔

خورجی :۔ دا څۀ دومره ګرانه خبره نه ده ، دا به اوشی خو زما دَ کیس به څۀ کیږی ۔

تابش:۔ چی دغه اوشی نو بیا به په دے سوچ کوم ۔

خورجی :۔ دا اسانه ده ، بیا په دے شپه راشه ما به دَ مخکښې نه هر څۀ سټ کړی وی ۔

تابش :۔ ریېلی ( Really )

خورجی :۔ بالکل دا زما ذمه شوه خو تابش زما دَ پاره څۀ اوکړه زه ډیره پریشانه یم ۔

تابش:۔ ستا کیس اسان دے ۔ دا به په عدنان ورواړه وو او دَ هغه نه به یو ګرز اوباسم ۔

خورجی :۔ زما بدنامی خو ختمه نشوه کنه ۔ زۀ دَ بدنامی نه یریږم ، زۀ ویم چی زمونږ وادۀ اوشی او تۀ دَ دے ماشوم پلار شے ۔

تابش:۔ زۀ په هر څۀ پوهـ یم خو ستا دا ارمان به هله پوره کیږی چې



www.pukhto.net



زما ارمان پوره شی ۔

خورجی :۔ اوه ، خبره دے حد له راغله چی دَ هغے ملاقات ستا ارمان جوړ شو ۔

تابش :۔ هغے ماله لفټ نه دے راکړے ۔ زۀ دَ هغے دا غرور ختمول او دَ هغے سترګے خکته کول غواړم۔

خورجی:۔ دا څه دومره لویه خبره نه ده ، دا زما ذمه شوه اوس خو لږ اوخانده کنه ( دواړه خاندی )

عدنان غوږونو له ګوتے اوړی او توپے اوباسی ۔ بیا غلے غوندے څی او په بوټو کښې پټ کینی ۔ دَ سحر اذانونه چې شروع شو نو دَ خورجی دَ کمرے ورلرے شو او تابش او خورجی دواړه ترینه را اووتل ۔ دواړه دَ هغه دَ کمرے په طرف راغلل ، چې دَ هغه خواله راغلل نو دواړه اودریدل او یو بل ته ورتر غاړه وتل ۔ خورجی هغه ته غلے غوندے اووے " ډیر زور مه راکوه"

تابش :۔ ولے خوږ شوے څۀ ؟

خورجی :۔ نه په دے ماشوم یریږم ۔

تابش:۔ یریږه مه هیڅ نه کیږی ۔ ښه لاړم درنه ۔

خورجی :۔ په مخه دے ښه ۔

عدنان ته دَ خورجی او تابش په بیګانی خفیه او رنګین ملاقات سخته ذهنی او قلبی صدمه رسیدلے وه کله کله به دَ هغۀ په زړۀ کښې راتله چی آیا دا هر څۀ هغه په ویښه لیدلی دی او که په خوب



Pukhto.Net پښتو

کښې او چې کله به ورته پورا یقین اوشو چې دا هر څۀ هغه په ویښه لیدلی دی او د دے په لیدو او اوریدو دَ هغه حسه ګواه دی ، دا نه خیالی خبرے دی او نه خوابی نو وجود به یې زیګ شو ۔ ویښتۀ به یې نیغ اودریدل او په زړۀ کښې به یې سنسنی خیز جذبات او هیجانی کیفیات پیدا شو ۔ دَ هغۀ په زړۀ کښې دَ نفرت سمندر چپې وهلے او دَ هغه په سر دَ غر نه درونـد بـوجهـ پروت وو ۔ دَ هغه وجود دروند او ستړے ستړے وو ۔ دَ هغه په خیال کښې دَ دنیا ټولے ښځے ناقابلِ اعتبار او بے وفا وې ۔ دَ نوم ښځے نه دَ هغۀ زړۀ تور شوے وو ځکه چې دَ خورجی کردار به ورته مخکښے شو نو ټول بدن به یې دَ غصے نه رچیدو ۔ دَ هغه په زړۀ کښې دَ عنبرین دَ پاره هم دَ نفرت چینې را اوتے وې . . .په دیکښے دَ هغے څۀ قصور ؟ قصور شته یا نشته ، بهرحال هغه هم دَ ښځو په جنس کښې شامله ده ۔ کله کله به یې په زړۀ کښې راتله چې دا هر څۀ پریږدی او دے ګنده ماحول نه ځان اوباسی خو بیا به یې په زړۀ کښې راغله چې دَ عنبرین به څۀ کیږی ، هغه دَ چا په رحم وکرم پریږدی ، دَ خورجی که دَ تابش ۔ دَ هغے دَ ګیرولو دَ پاره خو دَ هغوی پلیننګ تیار دے صرف دَ وخت انتظار دے ۔ خورجی تابش سره دَ هغے دَ ملاویدو ښه پخه وعده کړے ده او هغه شهباز خان سره دَ هغے دَ عزت دَ تحفظ لوظ کړے دے ۔ کله کله به دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې عنبرین ته دا ټوله قیصه ټکې په ټکې ، اوکړی او هغۀ دَ هغوی دَ غلطو ارادو نه خبر کړی خو بیا به یې په زړۀ کښې



www.pukhto.net



اووے چې عنبرین به دَ هغه په خبره یقین اوکړی ؟ ظاهره خبره ده چې کله هم نه ۔ کله به یې وې چې عنبرین له په هاسټل کښې اوسیدل پکار دی ، بیا به یې دَ هغے تردید اوکرو چې نه هغے له پکار دی چې یو کور په کرایه اونیسی او هغے کښې هغوی دَ چا دَ مداخلت او حکم نه بغیر په خپل مخ سر اوسیږی خو آیا هغه به دے ته تیاره شی او که هغه تیاره شی نو شهباز خان به دَ هغے خبره اومنی ، دواړو له به په یو کور کښې دوه په دوه دَ اوسیدو اجازت ورکړی ؟ چرے هم نه۔ هرڅۀ چې کیږی او په هره طریقه چې وی هغے له دَ دے ځائے نه تلل پکار دی ، خورجی هغه په هغه لاره بوتلل غواړی په کومه چې هغه په خپله روان ده خو هغه به هغه چرے هم دے ته پرے نه ږدی ۔که دَ هغے عزت لاړ شی نو بیا دَ هغه دَ ژوند څۀ فائده ؟ هغه په دے ذهنی کړکیچ کښې پروت وو او په مختلفو زاویوې سوچ کولو او تر هغے پروت وو چې عنبرین ناشته تیاره کړه او هغه پسې راغله چې هغه ویښ کړی او ناشته اوکړی ۔ هغه دَ هغه کټ سره اودریده او وے وئیل "پاڅه عدنانه ناشته تیاره ده"

عدنان :۔ زۀ ناشته نه کوم عنبرین ، زما طبعیت ښه نه دے ۔

عنبرین :۔ ( هغه دَ لاس نه نیسی ) اوه ، تۀ خو تبی نیولے یې ؟

دَ عدنان په زړۀ کښې یو ځل راغلل چې هغے ته ټوله خبره اوکړی او هغے ته دَ محتاط اوسیدو تاکید اوکړی خو بیا یې په زړۀ اوخوړه چې هسے نه خبره ښکاره شی او دَ هغه په وجه دَ هغوی په مینځ کښې

اختلاف پیدا شي ۔ دے د پاره دَ موزون او مناسب وخت په انتظار کښې هغه دا خبره اوځانګوله او هغے ته یې اوئیل " زهٔ بالکل ټیک ټاک یم ، هیڅ نشته ۔ څهٔ معمولي غوندے تبه ده لامبلو سره به ښهٔ شي (دے سره هغه پاځي او واش روم ته لاړ شي هغه لا په واش روم کښې وی چې خورجي باورچي خانے ته ناشتے دَ پاره راشي دَ ناشتے په دوران کښې عنبرین هغے ته دَ عدنان دَ بیمارۍ ذکر اوکړی ، هغه جواب ورکړی ۔

خورجي :۔ داسے معلومیږی چې دا هلک بے آرامه شوے دے ۔ هغه ته وایه چې یو څو ورځو له کلی ته لاړ شي او آرام اوکړی ۔

عنبرین :۔ که ستاسو اجازت وی نو زهٔ به هم ورسره یو څو ورځو له کلی ته لاړه شم ۔

خورجي :۔ نه هغه به یوائے لاړ شي ، ته لامهٔ ځه ، چې هغه راشي نو زهٔ او ته به دواړه یو ځائے لاړشو۔ بله دا چې دَ هغه په غیرموجودګۍ کښې به زه سن انجوائے کړم خورجي چې ناشته اوکړی نو خپلې کمرے ته لاړه شي . . .دَ هغے دَ تلو نه روستو عدنان راشي او ناشته کوی ۔

عنبرین :۔ اوس څنګه یې عدنانه ۔

عدنان :۔ I feel better ، دَ مخکښے نه ښه یم ۔

عنبرین :۔ ستا دَ بیمارۍ ذکر مِ خورجي ته اوکړو هغې وې چې یو څو ورځو له دے کلی ته لاړ شم چۀ آرام اوکړی ۔



www.pukhto.net



عدنان :۔ ماسره به تهٔ هم ځے ؟

عنبرین :۔ نه ماته اجازت ملاؤ نشو ۔

عدنان :۔ چې ته نهٔ ځے نو زهٔ کلی کښې څهٔ کوم ۔

عنبرین :۔ دا دَ خورجي حکم دے ۔

عدنان :۔ زهٔ دَ هغے دَ حکم تابع نه بلکه ستا دَ حکم تابع یم ۔ که تهٔ وائے نو لاړه به شم ګینی تانه بغیر نه ځم ۔یوتپوس کولے شم چې دا دومره مهربانی دَ کومے خبرے او کومے کارکردګۍ په وجه ده ؟

عنبرین :۔ خورجي وې چې تهٔ بے آرامه شوے یې ۔ ته به یو څو ورځے ارام اوکړے او هغه به ستا په غیر موجودګۍ کښې سن انجوائے کړی ۔

عدنان :۔ زما په غیر موجودګۍ کښې ولے ؟

عنبرین :۔ اوه ، تهٔ لا اوس هم نه یې پوهه ، هغه دَ سړو نه سترکوی ۔

عدنان :۔ زهٔ هم په سړو کښې شامل یم ؟

عنبرین :۔ ولے ستا په خپل ځان کښې شک دے څه ؟

عدنان :۔ نوکر او مزدور ته خو څوک سړے نه وائی ؟ ( دواړه خاندی ) "ښه چُهټی دَ څو ورځو ده "

عنبرین :۔ دوه ، درے ورځے تیرے کړه او راځه ۔

دَناشتے نه پس هغه خپله غاړه غوټه ځان سره اخلی او دَ کوره اوځی ۔ چې هغه په ګیټ اوځی نو خورجي دَ کمرے نه بهر رااوځی او په ارت مټ په کور کښې ګرځی ۔

شیبه پس هغه او عنبرین ګلونو او چمن له اوبه ورکړی ، دے نه پس په



Pukhto.Net

برنډه کښې په کټ کښې نمر ته سملی او ډډې په ډډې اوړي را اوړي ۔

عنبرین دَ هغې خواله راځي او ورته وائي "خورجی په خپو درله زور کړم ؟

خورجی :۔ په خپلو نه په ټول بدن راله زور اوکړه ۔ بیګاه مِ دے بدن داسے دړدونه کول چې سترګه مِ ترینه نه ده پټه کړے ۔

عنبرین :۔ خپے او غزوه خورجی ۔ اوس به دے چاپې کړم چې ټوله ستومانی به دے اوځي ، خورجی سترګے پټې کړي او په پټو سترګو هغې سره خبرے کوي

عنبرین دا عدنان څنګه هلک دے ؟

عنبرین (مسکې شی ) ښه هلک دے خورجی ۔ ښه ایماندار ، وفادار او تابعدار ۔

خورجی :۔ ستا ورسره تعلقات څنګه دی ؟

عنبرین :۔ ښه دی ، بد نه دی ۔

خورجی :۔ دَ ښهٔ نه ستا څهٔ مطلب دے ؟

عنبرین :۔ مطلب دا چې هغه ښه انسان دے او ښهٔ انسان دَ هرچا په سترګو ښه لګی ۔

خورجی :۔ او ستا په سترګو بیا ډیر ښه لګی داسے ده که نه ده ؟

عنبرین ( شرمیږی ) بالکل هم داسے ده ۔

خورجی :۔ چې کوم څیز په سترګو ښهٔ لګی نو په زړهٔ هم ښه لګی ۔ داسے ده که نه ده ؟



www.pukhto.net



عنبرین :۔ بالکل هم داسے ده ۔

خورجی :۔ دے نه معلومیږی چې ته هغهٔ سره مینه کوے ۔

عنبرین :۔ (مسکې شی ) جی ۔

خورجی :۔ ستاسو ترمینځه دا رومانس دَ کوم وخت نه چلیږی ؟

(عبرین چپ پاتے شی )

"چپ ولے شوے ، ماته صفا صفا اووایه "۔

عنبرین :۔ دَ تیرو دوو کالو نه ۔

خورجی :۔ ستاسو ترمینځه څهٔ لوظ ، قول ، وعده ، وعید شوے دے ؟

عنبرین (مسکې شی ) خورجی تهٔ داسے تپوسونه ولے کوے ؟

خورجی :۔ چه زهٔ یې نه کوم نو څوک به یې کوی ؟ زهٔ په خپله ښځه یم او دَ ښځے جذبات او کمزوری ماته معلومه ده ...تهٔ هغه دَ ژوند ملګرے جوړول غواړے ؟

عنبرین :۔ جی ، خورجی ،

خورجی :۔ دَ هغه حیثیت درته معلوم دے ؟

عنبرین :۔ جی ، خورجی ۔

خورجی :۔ او بیا هم دا غواړے ؟

عنبرین :۔ جی ، خور جی ۔

خورجی :۔ ستا مور ، پلار به دَ زوم په حیث هغه قبول کړی ۔

عنبرین :۔ چی زهٔ یې دَخاوند په حیث قبول کړم نو هغوی به یې ضرور قبلوی ۔



Pukhto.Net پښتو

خورجی :۔ ناممکنه ده ۔ ستا مور ، پلار به چرې هم دے ته تیار نشی او چی هغوی دے ته تیار نشی نو بیا به څۀ کوے ؟

عنبرین :۔ چې هغوی زما خبره اونه منی نو بیا به خپله منم ۔ چه څۀ مِ زړۀ غواړی هغه به کوم ۔

خورجی :۔ هغه پسې به اوځے ۔

عنبرین :۔ چی دَ هغه نشم نو دَ بل چا به هم نشم ۔

خورجی :۔ د دے په انجام خبر یې ؟

عنبرین :۔ هاؤ ، کامیابی یا ناکامی ۔

خورجی :۔ نه ، په دواړو صورتو کښې مرګ ، بدترین او دردناک مرګ

عنبرین :۔ دَ مرګ نه لویه بله سزا نشته ؟

خورجی :۔ یعنی تۀ هغے ته هم تیاره یې ؟ خو عدنان به دے ته تیار شی ۔

عنبرین :۔ زۀ دَ ځان خبره کوم دَ عدنان نه ۔

خورجی :۔ دا سزا خو به دواړو ته ملاویږی ۔

عنبرین :۔ بیا خو ډیره ښه ده چې دواړه په مرګ هم یو شو ۔

خورجی :۔ عنبرین د داسے قدم پورته کولو نه مخکښے خپله مور یا پلار اعتماد کښې واخله ۔

عنبرین:۔ چی ته یې نو دَ هغوی ضرورت نشته ۔

خورجی :۔ اوه ، اوه ۔ چې دا خبره ده نو تۀ بے غمه اوسه، نور کار زما دے ۔

دے سره عنبرین هم مسکی شی او خورجی هم ۔ عنبرین هغه



www.pukhto.net



ښکلوی او وائی "مائی ډیر خورجی"۔ او چی سترګے اوچتے کړی نو خورجی ته وائی ، خورجی هغه ده امی مِ راغله ، خورجی په کټ کښی کینی ۔ عنبرین دَ کټ نه پاسی او دَ مور مخے له ورځی او وائی "امی سلام علیکم"

امی :۔ وعلیکم سلام ، (دَ عنبرین په سر لاس اړدی او هغه ښکلوی )"ښنګه یې لورے"؟

عنبرین :۔ ښه یم امی :۔ خورجی دَ کټ نه پاځی او یو څو قدمه مخکښے دَ هغے پۀ خیر راغلئ له ورځی ۔ خورجی سلمیٰ آپا سلام علیکم ۔

سلمیٰ آپا :۔ وعلیکم سلام ( خورجی ښکلوی ) خورجی ښنګه یې ۔

خورجی :۔ ښه یم آپاجی . . .تۀ ښنګه یې ، خان لالا ښنګه دے ، هلکان ښنګه دی ۔

سلمیٰ آپا :۔ ټول ښه دی خورجی ۔ کینه ۔

خورجی :۔ هله به کینم چی تۀ کینے ۔

سلمیٰ آپا :۔ زۀ کینم نه خورجی ۔ بهر راته ګاډے ولاړ دے ۔ په صدا راوتو یو، ډیر کورونه دی راته ۔

خورجی :۔ دَ څۀ صدا ؟

سلمیٰ آپا:۔ دَ عنبرین وادے دے دَ خیره ۔ دے له به درے څلور ورځے مخکښے راځے ۔

عنبرین :۔ دَ چاوادۀ دے امی ، زما ؟

سلمیٰ آپا :۔ هاؤ لورے ستا ،

عنبرین :۔ واه ، ماته پته هم نشته او وادهٔ تیار دے ۔ زهٔ وادهٔ نه کوم ، زه لاسبق ویم ۔

سلمیٰ :۔ وې لورے دا څه وایے ، وادهٔ نه کوے ؟ او ستا دَ سبق خبره مونږ هغوی سره کړے ده ۔ هغوی زمونږ په رضا رضا دی ۔

خورجی ( مسکی شی ) وادهٔ کله دے ؟

سلمیٰ آپا :۔ دے راتلونکی اتوار له ، خو ډولۍ به دَ خالی په ورځ یعنی دَ اتوار په شپه اوړی ۔

خورجی ( عنبرین ته ) ورشه عنبرین ، بی بی له څهٔ یخ ، ګرم راؤړه ۔

سلمیٰ آپا :۔ نه خورجی ، هر څه مِ کړی دی ، اوس دَ صالحے دَ کور نه راغلو ، راځه لورے مه راؤړه ۔ ښه خورجی ته به درے ، څلور ورځے مخکښے راځے ۔ او ته لورے ځان تیار کړه چې ځو ۔

عنبرین :۔ چرته ځو ۔

سلمیٰ آپا :۔ کور ته ځو لورے ، ستا واده دے ۔ دَ ګوانډ ټولے جینکۍ ستا په طمعه دی ۔

عنبرین :۔ نه امی نه ، زهٔ واده نه کوم ، زهٔ لا سبق وایم ۔

سلمیٰ آپا :۔ وی لورے ، مونږ ستا نیته ایښے ده او تهٔ داسے خبرے کوے ۔

عنبرین :۔ که مړه مِ کړے هم وادهٔ نه کوم ۔

خورجی :۔ دَ وادهٔ نه ولے انکار کوے ؟ که ستا په زړهٔ کښې څوک وی



www.pukhto.net



نو صفا خبره ورته اوکړه ، مور دے ده ، څهٔ پردی ښځه خو نه ده ۔

عنبرین :۔ زهٔ که واده کوم نو عدنان سره به کوم بل هیچا سره نه ۔

سلمیٰ آپا :۔ عنبرین ؟ بکواس مه کوه ۔ ستا واده به هلته کیږی چرته چی مونږ ورکړے ې ۔ که پلار دے د دې نه خبر شو نو پوټی پوټی به دے کړی او سپو ته به دے واچوی ۔

خورجی :۔ خیر دے آپاجی ۔ د دے خبرو پسی مخ مه اوړه ، دا به زهٔ پوهـ کړم دا ذمه واری په ما شوه ۔ بله ورځ به یې زهٔ ځان سره درولم ۔

سلمیٰ آپا :۔ ښه خورجی زهٔ به درنه لاړه شم ، ډیره په منډه یم چی دا کار راغونډ کړم ۔

خورجی :۔ ځه ته ورشه ۔ دا ماته پریږده ، زهٔ به یې پوهـ کړم ۔

سلمیٰ آپا :۔ ښه خورجی لاړم درنه ۔ سلام علیکم ۔

خورجی :۔ وعلیکم سلام په مخه دے ښه ۔

Pukhto.Net پښتو

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆☆

## پنځم باب

عدنان دوه ورځے په کلی کښې تیرے کړے او په دریمه ورځ یعنی دَ نښخے ( منګل ) په ورځ واپس دَ خورجی کور ته لاړو ۔ چی ځنګه اورسیدو نو خورجی ورته اووی چی دَ هغے ګاډې تیار کړی ۔ هغهٔ دَ خورجی دَ ګاډی صفائی شروع کړه او په صفائی کښې لا اخته وو چی عنبرین دَ کالج نه واپس راغله ۔ دَ راتلو سره یې عدنان سره روغ جوړ اوکړل او خپلے کمرے ته لاړه ۔ خورجی دَ مخکښے نه دَ هغے دَ راتلو انتظار کوو ۔ عنبرین جامے بدلے کړے او ځان یې سنګار کړو ۔ چې هغه تیاره شوه نو خپل سوټ کیس یې دَ کمرے نه بهر کړو او په برنډه کښې کینښودو ۔ خورجی دَ ماتم تورے جامے واچولے ، توره بورقه یې په سر کړه او دَ مخے رو بند یې پرے راخور کړو ۔ دَ تلو نه مخکښے یې ټولے جرنده شوے کمرے یو ځل بیا چیک کړے او دواړه روانے شوے ۔ چی ګاډی له اورسیدے نو عدنان ګاډی صفا کړے وو او دَ هغوی انتظار یې کوو ۔ هغه ورته ګیټ لرے کړو او عنبرین ډرائیونګ ته کیناسته ۔ چی ګاډی یې سټارټ کړو نو ځۀ وریاد شو زر دَ ګاډی نه کوزه شوه او کور ته لاړه ۔ خپل سوټ کیس یې اوچت کړو او ګاډی له یې راؤړو ۔ عدنان ورته په مسکا اووے "ماته به دے ویلے وو ، ما به راؤړے وو" دے سره ترینه هغه سوټ کیس واخستو او ګاډی کښې یې کیښودو ،

عنبرین :۔ تینک یو عدنان ، بائی ، بائی ، هغے ورته په مسکا او خندا لاس اوخوځو او په ګیټ اووتل ۔ عدنان ډیره شیبه هغوی ته ولاړ وو او



www.pukhto.net



دَ هغوی ننداره یې کوله ۔ چی ګاډے دَ نظر نه پناه شو نو هغه ګیټ بند کړو او کور ته دننه راغی۔ په خپل کټ کښې سملاستو ۔ هغه په کور کښې بالکل یوائے وو ، دے تنهائی۔ نه هغه دا فائده واخسته چی پاڅیدو او په خپل کار یې شروع کړو ۔ رومبی۔ شروع هغه دَ برنډے نه اوکړه ۔ دَ هغے فرش یې اووینځلو او بیا ئے اوچ کړو ۔ دے نه پس یې چمن اوبه کړو او په ګلونو یې دَ اوبو پونه اوکړه ۔ چی دا هر څۀ یې اوکړل نو بیا په کټ کښې پریوتو ۔ دَ خورجی هغه بله شپنی۔ واقعه دَ هغه په زړۀ او دَ ذهن په پړدو داسے نقش شوے وه چې هغه ټول منظر او هغه ټولے خبرے ورته یو په یوه یادے وې ۔ هغه کلی ته لاړو ، دوه شپے یې هم اوکړے خو نه یار دوست سره یې لیدل کتل اوشو او نه ورته دَ کلی دَ موجوده حالاتو او واقعاتو پته اولګیده او نه یې په دغه څیزونو کښې دلچسپی وه ۔ دَ هغه په کچه ذهن چې دَ خورجی کوم تصویر نقش شوے وو هغه ډیر نفرت انګیز وو ۔ هغه ښځه چی دَ خاوند دَ مرګ نه لس کاله پس هم په پړدو کښې وه ، دَ هغے لیدو پسے دَ طوطی خیل خانان ړاندۀ شو ، چا به چې په کور کښې هم په مخ نقاب اچوو او دَ چا ستر او پړده چې په طوطی خیل کښې مشهوره وه ، چا به چې دَ خپل لیور شهبازن خان ، دَ هغهٔ دَ ځامنو او دَ نور خپلو مینو نه ستر کوو او کلی کښې به دَ غم ، ښادی په موقعه په کوټه کښې ناسته وه ، چا به چې چائے اوبه او خوراک څښاک دَ روبند په پړده کښې وو ، هغے څنګه ټولے پړدے ختمے کړے او دَ یو اجنبی په غیږ



Pukhto.Net

کښې پریوته ۔

هغه به چې کله دَ عدنان په موجودگۍ کښې په خپل کور کښې پټ مخ گرځیده نو عدنان له به دَ هغې په ظاهری نمود کرکه ورتله ۔ دغه کرکه وار تر واره زیاتیده او تر دې را اورسیده چې هغه په ټولو ښځو باندې د دې اطلاق اوکړو ۔ هغه ته ټولې ښځې بې حیا ، بې وفا او بې شرمه ښکاریدې ۔ چاچې دَ خپل مړ خاوند دَ تصویرونو نه خپله کمره ډکه کړې وه او دَ هغه په مرگ او جدائۍ به یې ژړا کوله ، اوس دَ هغه دَ قاتل په غیږ کښې پرته وی ، چاچې دَ خپل ناجائز نفسانی خواهش پورا کولو دَ پاره خپل مینه ناک خاوند دَ خپلې لارې نه لرې کړو هغه به دَ بل چا سره څۀ وفا اوکړی ۔ دَ هغې نه به دَ بل دَ عزت څۀ توقع اوشی ۔ هغه دا ټولې خبرې عنبرین ته څو څو ځله کول غوښتل او دَ هغې منل یانه منل بیله خبره ده خو هغه له خپل فرض ادا کول پکار دی چې په پټو سترگو په هغې اعتبار اونکړی ۔ کله کله به دَ عنبرین نه هم دَ هغه په زړۀ کښې نفرت پیدا شو ځکه چې دَ هغه په خیال کښې هغه سره دَ هغې مینه نه وه پاتې که کوم چې هغه توقع کوله ۔ هغه ته دا احساس هم اوشو چې هغه دَ عنبرین دَ مینې جوگه نه دې خو دَ کوم کار دَ پاره چې شهباز خان هغه هغې سره کړې وو ، هغه دَ هغې دَ عزت تحفظ دې او هغه به په هر حالت کښې هغه کوی ۔ کله کله به یې په زړۀ کښې راغله چې دَ خورجی او تابش نه یو گرز اوباسی او ځی ترینه خو دَ هغې انجام هم ورته معلوم وو ۔ بهر حال



www.pukhto.net



هغۀ په زړۀ کښې فیصله اوکړه چې هغه یو نوکر دې او نوکر به وی ، هغه له خپل کار سره کار پکار دې او دَ بل چا په کار کښې گوتې وهل نه دی پکار البته که عنبرین نه دَ هغۀ دَ مدد ضرورت شو نو په هر حالت کښې به هغه کوی ۔ هغه ډیر شیبه په کټ کښې پروت وو او دغه خیالونه به بیا بیا دَ هغه ذهن ته راتلل او په هغه به دَ اور لنبې گرځیدې ۔ دا سوچونه او فکرونه لکه دَ سرو مچو دَ هغه زړۀ او دماغ پورې انختی وو او ټکونه به یې ورکول ۔ دَ دې نه دَ ځان خلاصولو دَ پاره هغه دا غوښتل چې دَ عنبرین دَ گاډی صفائی اوکړی او په هغې وخت تیر کړی ۔

دې دَ پاره هغه جانگې واچوو او قمیص یې اوویستلو او گاډی ته یې دَ اوبو پائپ اونیوو۔ چې گاډې دَ پاس نه صفا شو نو بیا ورلاندې سملاستو او دَ لاندې نه یې دَ پائپ په ذریعه دَ هغې صفائی شروع کړه ۔ گاډی لاندې ډیر خیرن وو او چې کله پرې اوبه ښه په پریشر کښې ورغلې نو ټولې خاؤرې او خټې ترینه لاندې څۀ په هغه او څۀ په نورو ځایونو لاندې پریوتې ، لاندې زمکه هم لونده شوه او دَ پاس خاؤرې او خټې یې په سر مخ او په نور بند راپریوتې ۔ هغه لا په دغه صفائی کښې اخته وه چې په گیټ هارن اووهلې شو ۔ هغه چې ورته دَ لاندې نه اوکتل نو هغه خورجی وه ۔ عدنان زر زر دَ گاډی نه اووتو او گیټ له یې منډه کړه ، خورجی لا هغسې په مخ نقاب اچولې وو ۔ هغې چې گاډې اودرو نو عدنان ورمنډه کړه او هغې ته ئې دَ گاډی کړکۍ لرې کړه

او وې وئيل ""بي بي جي سلام عليکم "
دَ سلام په جواب کښې هغې اووې "What is it ـ What do I see ?"
? " دا څۀ دي ؟ دا تۀ په کوم حالت کښې يې ؟ بې شرمه ، بې حيا ، بې غيرته ، دې سره يې ترينه په مخ يو شرق اوويستلو ـ عدنان په مخ لاس کيښودو ، هغې ته يې په عاجزۍ اوکتل او وې وئيل " ولې بي بي جي ، زما نه څۀ بې ادبي شوې ده ؟

خورجي :ـ دا بې ادبي نه بلکه بې غيرتي ده ستاکپړې نشته چې په جانګي کښې صفائي کوې ـ

عدنان :ـ معافي غواړم بي بي جي ، دا صفائي په جامو کښې نه کيږي ـ

خورجي :ـ چې په جامو کښې نه کيږي نو بيا جانګې اوباسه چې بالکل بربنډ شې ـ شابه دا زما ګاډي هم لاندې باندې صفا کړه ـ زر کوه او چې صفا شي نو ماله O.K رپورټ راکړه ـ

عدنان :ـ ډيره ښه ده بي بي جي ـ بې غمه اوسه چې هغه کور ته لاړه شي نو هغه بيا دَ عنبرين دَ ګاډي صفائي شروع کړي ـ چې دَ هغې صفائي اوکړي نو بيا يې ګيراج کښې اودروي او دَ خورجي دَ ګاډي صفائي شروع کړي ـ معلومه نه وه چې دَ څومره مودې نه سخا وو ـ ختې ، خاؤرې او سوټې ورپورې اوچې شوې وې ـ عدنان هغه اوچې خاؤرې ، ختې څو څو ځله لوندې کړې او چې کله خوړينې شوې او هغه ورته دَ اوبو پائپ اونيوو نو ټولې دَ هغه په بدن راپريوتې ـ هغه دَ


www.pukhto.net



ګاډي صفائي کوله او خورجي غلې غونډې په کړکۍ کښې ولاړه وه دَ هغه دَ بدن منظر کشي يې کوله ـ چې کله هغه مطمئنه شوه نو مسکۍ شوه او دَ کړکۍ نه اخوا شوه عدنان چې ګاډي صفا کړو نو ګيراج کښې يې اودرو او واش روم ته ورغې ـ چې کله يې اولامبل او صفاجامې يې واغوستې نو باورچي خانې ته ورغې چې ځان له يوه پيالې چائې پخه کړي ، چې کله هغه باورچي خانې ته ورتلو نو حيران شو ځکه چې هلته خورجي ښکاره مخ ناسته وه ـ هغه زر روستو شو ، ديوال سره غلې غونډې اودريدو اووئې وئيل ـ پړده اوکړه بي بي جي زه باورچي خانې ته درځم ـ

خورجي :ـ تا خو زه اوليدم اوس به څۀ پړده اوکړم ، راځه ، عدنانه ـ

عدنان ( دننه ورځي ) بي بي جي ستاسو ګاډي صفا شو او ګيراج کښې م اودرولو ـ

خورجي :ـ Well done ، شاباش ، راځه کينه ، چائې اوڅکه ، يخني به دې شوې وي ـ

عدنان ډکه پيالۍ په لاس کښې نيسي او بهر اوځي " چرته ځې ، دلته په دې چوکۍ کينه "

عدنان :ـ نه جي مهرباني ، دغلته ماته ځان ښه نه ښکاري ـ

خورجي :ـ داسې معلوميږي چې تۀ زما نه خفه يې ؟

عدنان :ـ نه بي بي جي نه ـ چرې هم نه ، خورجي پاسې هغه دَ لاس نه نيسي دننه يې راولي او وائي " دلته په دې چوکۍ ماته مخامخ

کینه عدنانه تهٔ زمانه خفه یې "؟ زه معافی غواړم ۔

عدنان۔ نه بی بی جی نه ، معافی به درنه زهٔ اوغواړم ۔ که سود دے نه وی شوے نو په دے بل مخ هم رانه شړق اوباسه ، زهٔ خو ستاسو نوکر یم ۔

خورجی :۔ ښه چی خفه نه یې نو لږ راته اوخانده ( خاندی )

عدنان :۔ زهٔ پردو ښځو ته نه خاندم ۔

خورجی :۔ زهٔ خو پردۍ نه یم ۔ ( هغے نور هم ویل غوښتل خو اوې نه ویلے شو )

عدنان :۔ ستا او زما رشته صرف دَ مالکے او نوکر ده ۔ دے نه علاوه هیڅ نه ده ۔

خورجی :۔ ښه څه خپل بدل دے واخله ۔ د سپیړے بدل په سپیړه ۔

عدنان :۔ لاس مِ دے مات شی چې زهٔ به خپلی بی بی له سپیړه ورکوم ۔

خورجی :۔ که عنبرین زما سفارش اوکړی نو بیا به پخلا شے ۔

عدنان :۔ دَ هغے دَ سفارش ضرورت نشته بی بی جی ، زهٔ پُخلا یم ۔

خورجی :۔ عدنانه ! تاخو هډو دا تپوس اونکړو چې عنبرین ولے رانه غله ۔

عدنان :۔ تا زما دَ سلام جواب په سپیړه اوکړو نو دَ هغے تپوس به مِ څهٔ کړے وې ۔

خورجی :۔ او هاؤ عدنانه پلیز ۔ آئی ایم سوری ، ریيلی سوری ۔ اوس دے معاف کړم که نه ؟



www.pukhto.net



عدنان :۔ اوس معاف شوے خو دَ زړهٔ نه مِ نه اوځی ۔

خورجی :۔ دَ زړهٔ نه به دے څنګه اوځی ؟

عدنان :۔ دَ وخت تیریدو سره او دَ نورو غمونو راتلو سره به دا په خپله ختم شی ۔

خورجی :۔ بیګاله به تهٔ زما میلمه یې ۔ زهٔ اوس هوټل ته فون کوم ، دَ هغوی موبائیل سټاف به ډوډی دلته راؤړی ۔

عدنان :۔ نه بی بی جی نه ۔ ډیره مهربانی ، ماته خپل حیثیت معلوم دے ۔

خورجی :۔ ته هسے احساس کمترۍ کښې مبتلا یې ۔ ستا مقام ډیر اوچت دے ۔

عدنان :۔ ډیره مهربانی ۔ ستا دَ ستاینے ډیره شکریه ۔

خورجی :۔ اوشوه کنه ؟

عدنان :۔ نه بی بی جی نه ۔ زه ستاسو نوکر یم زه څنګه ستا میلمه جوړیدے شم ۔

خورجی :۔ ښه که داسے نه کوې نو زهٔ به ستا میلمنه شم ۔

عدنان :۔ بی بی جی ، ستا مرتبه خو دَ میلمه نه ډیره اوچته ده ۔ ستا په یوه اشاره خو زهٔ کینم، پاسم۔

خورجی :۔ ښه نو چی زهٔ څهٔ کوم ، زما مخے له به نه راځے ، بیګاه دَ پاره کټوې مه پخوه ۔

دے سره هغه په روانه روانه کښې په موبائیل دَ هوټل منیجر سره خبرے کوی ۔

## دویمه برخه

دَ ډائننګ روم په میز باندے دَ دنیا نعمتونه لګیدلی وو ۔ خورجی او عدنان دواړه ورته دوه په دوه ناست وو او دَ هر یو نه یې سکه کوله ۔ چې کوم پلیټ به په خورجی ښه اولګیدو نو هغه به یې اوچت کړو او دَ عدنان مخے ته به یې کیښودو ۔ یوه موقع دوه داسے راغلے چې خورجی دَ خپل پلیټ نه قاشوغه ډکه کړه او دَ عدنان خوله کښې یې ورکړه ۔ دغه شان عدنان دَ هغے په بدل کښې دَ خپل پلیت نه قاشوغه ډکه کړه او خورجی له یې په خوله کښې ورکړه ۔ دَ خوراک په دوران کښې به کله کله مسکی شول او یو بل ته به یې په مینه اوکتل او کله کله به یې لکه دَ دوو دوستانو په زوره زوره اوخاندل ۔

دَ خورجی سپیره دَ عدنان دَ پاره دَ خوشحالو باعث اوګرځیده ۔ عدنان د دے دَ انجام نه خبر وو خو هغه په زړۀ کښې غوټه کړے وه چې وخت راشی بیا به ګورو ۔ خورجی اوس هغه خورجی نه وه چې په خپل کور کښې به پټ مخ ګرځیده او نه عدنان هغه عدنان وو چې په خبره خبره به یې په یره یره هغے ته بی بی جی وې او لاندے به یې کتل ۔

خورجی چې په دے یخه یخنۍ کښې کومے جامے اغوستے وې په هغے کښې دَ هغے دَ بدن هر پټه حصه بربنډه ښکاریده او په سر یې دَ لوپټې په ځائے خپلې زلفے خورے کړے وے ۔ عدنان حیران وو چې په دومره لږ وخت کښې دَ هغے دَ سترګو ازغے دَ هغے دَ سترګو تورخنګه جوړ شو ، آیا دَ هغے په زړۀ کښې رحم راغلی ؟ نه ، نه داسے نه ده ۔ دا هغه



www.pukhto.net



ورانه ماشوړه وه چې د دے سر نه معلومیدۀ خو خورجی د دغه ورانے ماشوړے سر په ګوتو کښې نیولے وو او په مزه مزه دَ ماشوړے تار سپړدلے کیدو ۔ یوه موقع داسے راغله چې دَ هغے دَ خولے نه ارادی یا غیر ارادی طور باندے دَ ډارلنګ ټکی اووتو ۔ دے ټکی سره دَ هغه بدن زیګ او رنګ یې متغیر شو خو ډیر زر یې خپل ځان قابو کړو ۔ چې ډوډۍ اوخړے شوه نو عدنان پاسیدو او لوښی یې راغونډول ۔ خورجی دَ هغه لاس اونیوو او وے وئیل :۔ نه دا کار ستا نه دے بلکه زما دے ۔ سړی دَ ښځو په کار ښه نه ښکاری ۔ هغه دَ لوښو غونډولو دَ پاره پاڅیده خو دَ پاڅیدو سره یې دَ خولے نه دَ "ویش" ټکې اووتو او کیناسته ۔ عدنان وارخطا شو او په ساړه نیولې انداز یې اووے ،

"ولے بی بی جی څۀ دربانده اوشو" ؟

خورجی :۔ زما طبعیت خراب دے ، ما خپل بیډ ته اورسوه ۔

عدنان هغه دَ لاس نه اونیوه چې په خپلو خپو اودریږی نو بیډ ته به یې اورسوی ۔

عدنان :۔ پاڅۀ بی بی جی ، لږ همت اوکړه ، خپې اولګوه بی بی جی ۔

خورجی ( په کمزوری اواز ) زه پاڅیدے نشم عدنانه ، ما اوچته کړه ۔

عدنان له دَ هغے په حالت رحم ورغی ، لاسونه یې ورلاندے کړل اوچته یې کړه او په سلګو سلګو یې بیډ ته اورسوله ۔ په بیډ کښې یې واچوله ، خپې لاس یې ورله سم کړل او خفه دلګیر ورته اودریدو ، یوه شیبه پس یې په پټو سترګو اووے " اوبه " عدنان ډائننګ روم ته منډه کړه او یو

ګلاس اوبه یې راؤړے ـ ګلاس یې ورته اونیوو او وے وئیل " بی بی جی ، اوبه واخله " ـ هغې اوبو ته لاس کړو خو پاڅیدے نشوه ـ عدنان په یو لاس دَ هغې سر اوچت کړو او په بل لاس یې دَ هغې خولے ته ګلاس اونیوو ـ هغې یو دوه ګوټه اوبه اوڅکلے او سر یې په بالخت کیښودو ـ

عدنان ترینه په یره تپوس اوکړوه " اوس څنګه یې بی بی جی " ؟

خورجی :ـ بدن مِ اور کوی ، بلے لنبی راباندے ګرځی ، هغه په خپله سینه او خیټه لاسونه وهی ، کټ کښې ډډے په ډډے اوړی را اوړی او وائی "مړه شوم ، مړه شوم ".

عدنان :ـ ډاکټر پسی ورشم بی بی جی ؟

خورجی :ـ ډاکټر پسی مه ځه ، ما یواځے مه پریږده ـ

عدنان :ـ څۀ سونډ ، سپیرکۍ درله دَ باورچی خانے نه راؤړم ـ

خورجی (په ګنګوسی کښې) ماسره کینه عدنانه ، زما په خیټه لاس وهه ـ

عدنان :ـ بی بی جی ، زه دا جرأت څنګه کولے شم ؟

خورجی :ـ زۀ مرم او ته دَ جرأت خبرے کوے ـ

عدنان دَ هغې لاس په خپل لاس کښې نیسی او دَ هغې په خیټه یې مږی ـ ډیر وخته پورے هغه دغه مشق کوو خو چې کله دَ هغې سترګے ورغلے نو هغه غلے غوندے اووتو او خپلې کمرے ته لاړو ـ

عدنان حیران وو چې دا دَ هغې مکر وو او که هغه واقعی بیمار وه ـ که هغه دَهغې او تابش خبرے نه وے اوریدلے نو هغه به پرے یقین کړے وو خو کله کله به یې په زړۀ کښې راغله چې کیدیشی هغه ناجوړه وی ـ



www.pukhto.net



## شپږم باب

ګل دین کاکا او عملی ماما دَ حجرے چمبکی ته باد پناه ډډے وهلے وې او پیټاوے یې کوو ـ عملی ماما په ناسته سترګے پټې کړے وې لکه چې په یولوے سوچ کښې ډوب وی ـ ګل دین کاکا په څادر کښې ځان انغښتې وو او لوے لارے ته یې کتل ـ چې چا به پرے سلام واچوو نو ګل دین کاکا به سلام واخستو او دَ هغه نه به یې دَ روغ جوړ تپوس اوکړو "چرته روان یې خیر خو دے ، که څه منډه ، ترږه وی نو وایه ـ اویَه هلکه هغه مور دے څنګه ده ، لورمِ راته وې چې هغه ډیره ناجوړه ده ـ ګوری په پیسو درنه پاتے نی ـ پیسے ډیرے دی ". دے سره به یې دَ بړے نه دَ کپړے کسوړه را اوویستله او هغه ته به یې اوشړنګوله ـ دَ شړنګاری نه صفا ښکاریده چې ټولے پکښے پخوانۍ سوری پیسے دی چې اوس نه لګی ـ بهرحال هغه به مسکے شو او اوبه یې وئیل " ډیره مهربانی صدر صیب ، لا ضرورت نشته او خدای دے ضرورت نه راولی زمونږ بل څوک دی ، تاله به راځو" ـ چې څوک مره به ترینه هغه ځان خلاصوو نو هغه به ورپورے پله شو " ستا دے قسم وی ، اینے تۀ ګوره قسم مِ درته واچوو چې ما خپل خدمت کښې هیر نه کړے ". چې هغه به ترینه په سلامونو ځان خلاص کړو نو بیا به یې بل لاروې ته سترګے وې ـ چې بل به پرے سلام واچوۀ نو هغه به ورته اووے "وعلیکم سلام ، یه هلکه چرته روان یې ؟ خیر دے ؟ هغه پلار دے څنګه شو ـ هغه لورمِ راته وې چې هغه بله شپه پرے

دَ ایضے ( هیضے ) چپه راغلے ۔ هسے لا فے ډوزے درته نه کړم خو چې څه خدمت وی نو اواز کولے شے ۔ او چی دَ پیسو پروا اونه کړے ، پیسے ډیرے دی " دے سره به یې دَ پیسو کسوړه په بډه کښې دننه اوشړنګوله ۔ که څوک به پرے په بے خیالۍ کښے تیر شو نو هغه به غاړه تازه کړه او اوبه ئې وئیل " یه هلکه ګوره کنه ، اوس ګورۍ غلے تیریږے ، چې دَ هغه به ورته خیال شو نو اوبه یې وئیل " صدر صیب سلام علیکم ! لږ کارِ دے ، توندی کښې یم " نو ګل دین کاکا به ورته اووے " دَ دنیاکارونه چاختم کړی دی ، راځه مړه چې یو ګوته مجلس اوکړو " هغه به ورته اووے " مجلس به درسره عملی ماما اوکړی او زهٔ به درنه لاړ شم ۔ څهٔ ضروری کارِ دے " ګل دین کاکا به زیاته کړه " یه هلکه ! که څهٔ ضروری کار وی چې زهٔ هم درسره لاړ شم ۔ او که پیسو ته ضرورت وی نو پیسے ډیرے دی " عملی ماما به غلے غوندے اووے " پیسے ډیرے دی خو یوه هم پکښې نه لګی " دے سره به عملی ماما مسکې شو ، بیا به یې سترګے پټې کړے او په پټو سترګو به یې دَ دنیا ننداره کوله ۔ یوه شیبه پس یې بیا سترګے اوغړولے او ګل دین کاکا ته یې اووے " یره صدر صیب ، ډیره موده اوشوه هغه اشنا مِ دے اونه لیدو "۔

ګل دین کاکا :۔ زما خو ډیر اشنایان دی ته دَ چا خبره کوے ؟

عملی ماما:۔ زهٔ دَ بختیار کاکا خبره کوم ، هغه مِ ډیر یادیږی ۔

ګل دین کاکا : شاباش نره ! ته یې اوس تپوس کوی ، دَ هغه خو دا دریم کال دے چی کټ یې نیولے دے۔



www.pukhto.net



عملی ماما :۔ اوس څنګه دے ؟

ګل دین کاکا :۔ یره عملی جانه ! خوندیې نشته ۔

عملی ماما :۔ څهٔ وخت ځان تیار کړه چی پوښتنے له یې ورشو ۔

ګل دین :۔ زه هغه بله ورځ ورغلے ووم ۔ زهٔ لا ناست نه ووم چی توښی پرے راغۍ ۔ په توښی کښې یې ساه لاړه نو لاړه ، ما په زړهٔ کښې وې چې سړے هم ورپسی لاړو ۔ "ډیره شیبه پس پکښې بیا ساه راغله او دے سره پرے بیا توښی راغۍ " توښه ، توښه ، دے سره بے دمه پریوتو ۔ چې کله پکښے بیا ساه راغله نو تانه څهٔ پړده عملی جانه ! خدائیګو زړه مِ پرے خوږ شو ۔ په زړهٔ کښې مِ راغله چې د داسے ژوند نه خو مرګ ښه دے ۔ دغه دَ زړهٔ خبره مِ په خوله راغله ، ما ورته دَ همدردی په غرض اووے ، تا له دے خدای مرګ راولی ، د داسے ژوند نه خو مرګ دے ۔ دے سره یې رابانده دَ کونټی ګوزار اوکړو خو خدای ترینه بچ کړم ۔ ما وے دا ګوزار خو خطا شو هسے نه چی په بل اولګم ، جوړ خپې مِ ترینه سپکې کړے او راشت مِ وهلے ۔ د هغے نه پس نه یم ورغلے .... اوس څه کنه یو داستان شه پرے ۔

عملی ماما :۔ کوم داستان ؟

ګل دین کاکا :۔ هغه دَ ممتاز شهزاده داستان نیمګړے پاتے شوے وو ، هغه پوره کړه ۔ هغه ځائے ته رسیدلے وې چی :

ماه سُندره چی دَ اصله ښاپیری ده  
بادام چشمه ، غونډه زنه ، ملا نری ده

دا دختـــر ده دَ شاپال ښاپیری ښکـــلے
ډیر په شــوګړ کــړی دی دغـــه بلــبلے

عملی ماما(خاندی) واه واه ، صدر صیب تاته خو ټول داستان یاد دے ۔

ګـل دیـن کـاکـا ( خـاندی ) واه عملی جانه ، چی بیا نه وی ، ټکی ټکی راته یاد دے ۔

عـمـلـی مـاما :۔ داستان به درته اوویم خو مخکښے راته یو تازه ریکارډ وورِوه ۔

ګل دین کاکا:۔ تازه ریکارډ دا دے عملی جانه ! چې دَ سید رحیم کاکی خیـل دَ ځـوی وادهٔ دے ۔ او زمـونـږ ټـول کـلـی پسې یې دَ وادهٔ کارډونه رالیږلی دی ۔ ځان تیاره وه چی ځو ډوډۍ له ۔

عملی ماما :۔ ډوډۍ دَ کله نه شروع کیږی ۔

ګـل دیـن :۔ وه عـملی جانه ! ډوډۍ شروع شوے ده دَ پرون نه او دا تپوس نشتـه کـه دوه ځـلے ورځـے او درے ځله ، دَ نا ، منعے څوک نشته ۔ پرون دَ زیارت ورځ وه او دَ کـاکـی خیـلـو ډوډۍ وه ۔ نن دَ جمعے په ورځ زمونږ دَ کـلـی ده ۔ صبا دَ خالی په ورځ عام وخاص او دَ پاتے راپاتے خلقو ده ۔ او دَ اتوار په ورځ یې ولیمه ده۔

عـملی ماما :۔ یره صدر صیب ! یو کارډ خو ماپسې هم راغلې دے خو دَ ورځے معلومات راته نشته۔

ګـل دین :۔ که خدائے مِ نه غلطوی نو تاپسی به دَ ولیمے کارډ وی ځکه چی تـه خـو مـاشاء الله باتِ هم یې ۔ په هغه ورځ به غټې غټې ستې





ناستې ی ۔ او ته به دَ کاکی خیل دَ خانانو حسب ونسب بیانوی۔

عملی ماما :۔ دا خبره دے ټیک ده صدر صیب ۔

ګـل دیـن کـاکـا :۔ عـملـی جانه ! یره هسے دَ زړهٔ خبره درته کوم ، اینے تهٔ ګـوره کـنـه ، که رشتیا راباندے وائی نو دَ شهباز خان دَ لور ډولۍ چی دَ عالمی په کوڅه تیریږی نو دَ هغه دَ ځوی په زړهٔ به څهٔ تیریږی ۔

عـمـلی ماما:۔ اور دے اور صدر صیب ، سرے سکروټے دی ، ډیره سخته به وی ۔ خدایې شته چی ماله هم دَ هغه په حال باندے افسوس راځی ، کـه هـرڅه دے خو زمونږ دَ کلی خو دے کنه ۔ یره صدر صیب ! زمونږ نـه هم یوه غلطی اوشوه او هغه دا ، که مونږ ټول یو موټې شوے وې او شهـبـاز خـان تـه د دے هلک په باره کښې ناست وې نو کیدیشی زمونږ خبره یـې کـوزه نـه وے غـور ځـولے او دغه جینۍ یې دَ عالمی ځوی له ورکړے وې ۔

ګـل دین کاکا :۔ نه عملی جانه ، چرے هم نه ، خان ، خان وی او غریب ، غریب وی ۔

عملی ماما :۔ په عالمی نه یم خو په هغه هلک غریب مِ زړهٔ خوږیږی ۔

ګـل دین کاکا :۔ اوریدلے م دی چې بیګا له نکریزے دی او په نکریزو به ډمے راځی ۔

عـمـلی ماما :۔ یره صدر صیب ! نور مِ دَ زړهٔ په فرهرونو مالګه مه دوړه وه ۔ دا هـلـکانه مونږ هم تیره کړے ده او دا هر څه راته معلوم دی ځکه چې داسے مـاسره هم شوے دی ، اوس هم چې هغه وخت رایاد کړم نو



Pukhto.Net
www.pukhto.net

لـنبـه لـنبـه شم او لکه دَ موسيګار دَ خپله ځانه اور اخلم ( هغه په چغو چغو ژاړی )

ګـل ديـن کـاکـا:۔ يـه هـلـکه عملی جانه ! تا باندے څه اوشو ، زړه کلک کړه مړه ۔

عملی ماما ( په سلګو کښی ) زړه څنګه کلک کړم صدر صيب ، هغه وخت اوس هـم مـاتـه يـاديـږی ۔ ۔ زهٔ ولاړ ووم او زمـا پـه مخکښے زما دَ ارمانونو جهان تاله واله شو ، ( ژاړی او چغے وهی )

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆



www.pukhto.net



## اووم باب

سـحـر چې عدنان ناشته اوکړه نو دَ خورجی کمرے ته ورغی او هغے ته يې اووئيل "بی بی جی ! اوس دے طبعيت څنګه دے ؟

خورجی ( مسکی شی ) دَ مخکښے نه لږ ښهٔ دے ۔

عـدنـان :۔ بی بی جی ! داسے مـعـلـوميږی چی د هوټل دے خوراکه کښې څهٔ چل وو ۔

خورجی :۔ نه ، نه ، داسے ما باندے کله کله کيږی ،خوراکه ټيک ټاک وه ۔

عـدنـان :۔ بی بی جی ! ناشتـه تيـاره ده او ستاسو انتظار دے ۔ تاسو هلته تلهٔ غواړی او که ناشته دلته راؤړم ؟

خورجی :۔ ستا څنګه خوښه ده ۔ ناشته هلته اوکړو که دلته ؟

عـدنـان :۔ بی بی جی کـه تـاسو ته تلو کښې تکليف نه وی نو هلته هرڅهٔ ګرم او تازه پراتهٔ دی ۔

خـورجی :۔ ښه ماپاڅوه "عدنان په يو لاس دَ هغے سراو چتوی او په بل لاس دَ هغے لاس نيسـی او پاڅـوی يې ۔ خورجی دَ هغه په اوږه لاس کيـږدی او هغـه سره رو رو روانيـږی ۔ چې دَ کمرے نه بهر اوځی نو دَ هغے خپې کږے وږے شی اوغورځيږی خو عدنان دَ هغے دَ ملا نه لاس چاپيـره کړی او رو ، رو يې ځان سره روانه کړی ۔ په لاره کښې چی کله هغـه کـږه وږه شـی نـو عـدنان هغه دَ غورځيدو نه دَ بچ کولو دَ پاره په خپـل لاس ځان تـه راکاږی ۔ دَ هغــه پـه لاس کښی دومره حرارت او تـوانـائـی وی چی دَ هغے يخه وينه په غورځنګ شی او دَ هغے خپو او

Pukhto.Net

لاسونو کښې نوے طاقت راشي ـ هغه هم خپل لاس له زور ورکوی او دَ هغه اودهٔ جذبات دَ ویښولو کوشش کوی ـ دَ جذباتو په دغه پټ پټانې کښې هغوی باورچی خانے ته اورسیدل ـ عدنان هغه نغری سره جخته کینوله او ناشته یې ورته مخکښے کیښوده ـ هغوی ناشته هم کوله او خپلو کښې یې خبرے هم کولے ـ په خبرو خبرو کښې عدنان اووے " بی بی جی ! تاسو چرته پوهـ ډاکټر ته ځان اوښایې چې ستاسو پورا چیک اپ اوکړی او ستاسو دَ بیماری تشخیص اوکړی ـ

خورجی :ـ لکه څنګه چې ما مخکښے اووے ، داسے ماسره کله کله کیږی او کله کله څه چې اوس خو اکثر کیږی ـ کله مِ په زړه بوجهـ راشي او کله په سر . . .اوه مائی ګاډ ـ

( هغه خپل سر په دواړه لاسه نیسی )

عدنان ( په یره ) څهٔ اوشو بی بی جی !

خورجی :ـ سر مِ مات شو عدنانه ـ ماخپل بیډ ته اورسوه ـ

عدنان هغه په دواړه لاسه نیسی او پاڅوی یې ، په مزه مزه یې خپل بیډ له راولی ـ چې هغه په بیډ سملوی نو هغه ورته خفه اودریږی او وائی " بی بی جی ! که تکلیف زیات وی چې ګاډے را اوباسم او ډاکټر له دے اورسوم "ـ

خورجی :ـ تا نه بل ښه ډاکټر څوک دے ؟

عدنان ( په حیرانتیا ) ـ جی ؟

خورجی :ـ عدنانه ! سر مِ مات شو ـ په سر راله زور اوکړه ـ



www.pukhto.net



عدنان په دواړه لاسه دَ هغے په سر زور کوی ـ لږه شیبه پس هغه یوه لویه ساه واخلی او هغه ته په مسکا اوګوری او وائی " بس عدنانه بس ـ راځه ماسره کینه ستړے شوے ـ

عدنان :ـ نه بی بی جی ، ستړے نه یم ، زما فکر مه کوئ ، ستاسو طبعیت اوس څنګه دے ـ

خورجی :ـ اوس بالکل ښه یم ـ داسے معلومیږی چې زهٔ هډو بیماره نه یم ـ راځه ماسره کینه ـ

عدنان :ـ " ډیر شکر دے بی بی جی چې ته خدایے ښه کړے " (عدنان هغے ته مخامخ په صوفه کښې کینی ) ـ

خورجی :ـ راپاسه عدنانه ماسره په بیډ کښې کینه ـ

عدنان :ـ بی بی جی زهٔ ـ

خورجی :ـ (مسکی شی ) هاؤ ته ، دلته بل عدنان خو نشته کنه ـ

عدنان پاڅی او په یره یره هغے سره کینی ـ خورجی یوه خپه اوچته کړی دَ هغه په غیږ کښې کیږدی او بله دَ هغه ملا ته ارمه کړی ـ عدنان پوهـ شو چې قیصه خرابه شوه ـ خورجی بیا دَ ملا خپه اوغزوی او دَ دواړو خپو پنجے یو ځائے کړی او رو رو زور ورکوی ـ عدنان دَ هغے دَ خپو په قینچی کښې ګیر شوے وو هغه که دَ وتو کوشش کوو نو وتے نشو ـ هغے په مختلفو حرکتونو هغه کښې دَ اشتغال پیدا کولو کوشش کوو ـ خو هغه دَ جذبات نه عاری ، بے حسه ، بے حرکته دَ هغے په غیږ کښې پروت وو ـ چې دَ هغے دَ جذباتو سلسله اوږده شوه

Pukhto.Net

او دَ جنون حد تـه اورسيـده نـو هغـه ورتـه غلے غوندے اوکتل او وے وئيـل " بی بی جی ، تـه اوس ښـه شوے یې ، که اجازت وی نو زهٔ به درنه لاړم " ( هغه دَ پاڅيدو کوشش کوی)

خورجی :۔ دَ تلو کوشش مه کوه عدنانه ، ته تلے نشی ۔

عـدنان :۔ بی بی جی ؟ ... زهٔ ستـا پـه اراده پو هـ شوم خو ته چی څهٔ غـواړے زهٔ هغـے ته تيار نه يم ۔ ماتاته تل دَ مشرے بی بی په نظر کتلی دی ۔ زهٔ ستـا دَ عـزت تـحفظ کولے شم خو ستا عزت اخستے نشم ۔ زه نمک حلال يم ، نمک حرام نه يم ۔

خورجی :۔ نمک حلال به هله يې چې زهٔ څهٔ غواړم هغه اوکړے ۔

عدنان :۔ ته څهٔ غواړے ، ماته صفا صفا اووايه ۔

خورجی :۔ زهٔ تاسره وادهٔ کول غواړم ۔

عدنان :۔ زهٔ افسوس کوم چی زهٔ ستا دا خواهش نشم پوره کولے ځکه چی دا وعده مابل چاسره کړے ده ۔

خورجی :۔ عـدنانـه تـا چې چاسره دَ وادهٔ وعده کړے ده هغے تا سره بے وفـائی اوکـړه ۔ دَ اتـوار پـه ورځ دَ هغـے وادهٔ دے او بيګالـه دَ هغے دَ وادهٔ نکريزے دی او بله ورځ به دَ هغے ډولۍ ځی ۔

عدنان :۔ داسے چرے هم نشی کيدے ، هغے ماسره وعده کړے ده ۔

خـورجی :۔ کـه بـل څوک وی خو هغه بيله خبره ده او که ستا په ذهن کښې عنبرين وی نو دَ هغے وادهٔ دے او هغه وادهٔ دَ پاره تلے ده ۔ دَ هغے نه زړهٔ صبر کړه ۔



www.pukhto.net



عدنان :۔ ته رشتيا وائې بی بی جی ؟

خـورجی :۔ که زما په خوله يقين نه کوې نو اوس به ورته رنګ اوکړم او تهٔ به ورسره په خپله خبرے اوکړے ۔

عـدنان :۔ اوه مائی ګاډ ! چا دَ پاره چې ما خپل مستقبل خاؤرے ، ايرے کړو هغے خو زما ژوند تباه وبرباد کړو ۔ هغه په ډکو سترګو خورجی ته ګوری، په شا لاړ شی او يخ يخ دَ هغے په غيږ کښې پريوځی ۔ خورجی پـه خپـلـه غيـږ کښـې دَ هـغـهٔ دَ ګرمولو کوشش کوی خو هغه پټی سترګے پروت وی ۔ خورجی هغه دَ خپو دَ قينچۍ نه ازاد کړی او په خپـل بيـډ کښـې یې سملوی ۔ هغه دَ هغه په زړه او سر لاس وهی خو هغه بے حسه ، بے حرکته ، دانه وانه پروت وی ، يو شيبه پس چی هغه پـه هـوش کښـې راشی او سترګے اوغړوی نو خورجی ورته په مسکا اوګوری او وائی "شکر دے چې ته په هوش کښې راغلې ۔ هڅ دا اوبه اوڅکه چې طبعيت دے ښه شی ( هغه ورته دَ اوبو ګلاس نيسی )

عدنان :۔ نه بی بی جی زهٔ ښه يم ، شکريه ۔

خورجی :۔ عـدنـانـه ، تهٔ خفه کيږه مه ، دا ټولے دَ قسمت لوبے دی ، چا بـانـدے قسـمـت لوبے کوی او څوک قسمت سره لوبے کوی ۔ تا دَ خپل مستـقبل خبره کړے وه نو ستا دَ مستقبل ذمه زما شوه ۔ دَ شهباز خان په زمکه کښې سل جريبه زمکه ماپسی انتقال ده او د هغے حاصلات ماته ملاويږی ۔ دا ټوله زمکه ستا شوه ۔ زهٔ به یې تاپسی انتقال کړم ، سـل تـولـے دَ سرو کـالـی ماسره دے دا ستا ۔ ( هغه يو سوټ کيس لرے



Pukhto.Net

کوی او دَ هغے دَ رپو بنډلے را اوباسی او په قالین یې غورځوی ) دا توڼلے روپۍ ستا۔ مستقبل به پیسه جوړیږی دا واخله ستا شوے خو بس یو ځل راته "هاں" اوکړه ۔

عدنان :۔ بی بی جی پلیز ، دا خبره پریږده ۔ دَ نوم ښځے نه مِ زړه تور دے ۔

خورجی :۔ زمانه هم ؟ که عنبرین بے وفا شوه نو زۀ خو بے وفا نه یم ۔ هسے خپله ځوانی مه خاؤرے کوه ۔ خپل مستقبل او ژوند جوړ کړه ۔ ته ماته اوګوره ما لس کاله نواز خان پسی ژړا اوکړه ۔ لس کاله راسے دَ هغه په پت کښې ناسته یم ، خو چی مجبوره شوم او ژوند مِ تباه کیدو نو اخر مِ وادۀ ته غاړه کیښوده او تۀ ړومبی سړے یې چې تاله مِ دَ مینے لاس درکړو ۔ عدنانه راځه چی خپل کور جوړ کړو پلیز او دواړه په مینه محبت او په خندا خوشحالۍ دَ سکون ژوند تیره وو ۔

عدنان :۔ نه بی بی جی نه ، زما مینه عنبرین وه چی هغه لاړه نو دَ ژوند مزه ختمه شوه ۔ مینه جنسی سودا بازی او نفسانی تسکین نه دے ، دا یوه لافانی او ابدی عطیه ده چې ، نه زړیږی ، نه ختمیږی او نه روکیږی ۔ دا دَ روح ، روح سره تړون دے ۔ دا دَ روحوا انضمام دے ۔ بدن خاؤرے شی ، ایرے شی فنا شی خو مینه نه ختمیږی او نه فناکیږی ۔ مینه جائیداد ، دولت او بنګله نه غواړی ، مینه ، مینه غواړی ، بی بی جی ، زه افسوس کوم چی مونږ دواړه نشو چلیدے ۔ سوری بی بی جی ۔



www.pukhto.net



خورجی :۔ که تۀ داسے نه منے نو ماله بل چل هم راځی ، خو ښه به دا وی چی ته په خپله غاړه کیږدے ۔

عدنان :۔ بل څۀ چل ؟

خورجی :۔ زۀ په تا دَ زیاتی او دَ هتکِ عزت دعوئ هم کولے شم او دے جرم نه خبر یې ؟ په جیل کښې به روست شې خو دَ بهر هوا به دربانده اونه لګی ۔

عدنان :۔ بی بی جی ، تاله خدای حسن درکړے دے ، مال ودولت او ښکلے بنګله او جائیداد درکړے دے ، خپل هم څنګ اوګوره او هغه سره دَ مینے کور جوړ کړه ۔ زۀ یو بے حیثیته ، غریب سړے یم ، زمانه څۀ غواړے ؟

خورجی :۔ په ما کښې څۀ کمے دے ؟ زۀ دَ عنبرین نه په څۀ کمه یم ؟ په حسن کښې په ځوانۍ کښې په مال ودولت کښې ، په مینه محبت کښې ۔ وایه ؟

عدنان :۔ عنبرین یوه معصومه ، حسینه او پاکه جینۍ ده ۔

خورجی : او زۀ ؟

عدنان :۔ تۀ هغسے نه یې ۔

خورجی :۔ څۀ مطلب ؟ زه څنګه یم ، وایه ، وایه ؟

عدنان ( پاڅی ) سوری بی بی جی ۔

خورجی :۔ په سوری نه خلاصیږے ، صفا خبره اوکړه ۔ وایه ۔

عدنان :۔ که صفا خبره مِ درته اوکړه نو خفه به شے ۔

Pukhto.Net پښتو

خورجی :۔ زما دَ خفګان پروا مه کوه ۔ خپله خبره کوه ۔

عدنان :۔ بی بی جی ۔ تهٔ چې ماسره وادهٔ کوے نو دے ماشوم سره به څهٔ کوے ؟

خورجی :۔ کوم ماشوم سره ؟

عدنان :۔ دا ستا په خيټه کښې چې پروت دے ۔ دا به زما په اوږو سوری که دَ تابش ؟ دَ عدنان په خبره هغه دَ اور لنبه شی ، دَ هغه نه په مخ شړق اوباسی او وائی " حرامی ، بے شرمه ، بے غیرته ! ته په ما تور لګوے ۔

عدنان :۔ دا تور زهٔ نه لګوم بلکه دا تور په تا لګیدلے دے ۔ دے نه ځان نشی خلاصولے ۔ ما ستا دَ عزت تحفظ ځکه اونکړے شو چې تا په خپله دا غوښتل ۔ تا به مونږ پسې ورونه دَ بهر نه بند کړل او هغه به دے را اوغوښتو ۔

خورجی :۔ بند کړه دا بکواس ( دَ هغه نه په بل مخ سپیړه اوباسی )رزیله ، حرامی ، نمک حرامه ، زما په ټکړو لوے شوے او ماته داسے خبرے کوے ۔ اوس پولیس راغواړم او تا پرے جیل ته لیږم ( هغه موبائیل را اوباسی ) ۔

عدنان :۔ ته داسے نشې کولے او که دے اوکړل نو خپل ځان سره به په خپله بد اوکړے ، په تابانددے دَ نواز خان دَ قتل شبه هم ده ۔

خورجی :۔ دَ نواز خان دَ قتل ؟

عدنان :۔ ستا په فرمائش بانددے هغه تابش قتل کړو ...څه کنه



www.pukhto.net



پولیس ته اطلاع ورکړه ؟

خورجی :۔ دے نه معلومیږی چې تا زما او دَ تابش ټولے خبرے اوریدلے دی ۔

عدنان :۔ ما صرف ستاسو خبرے نه دی اوریدلے بلکه هر څهٔ مې لیدلی هم دی ۔

خورجی :۔ پلیز ، پلیز ، نورڅه مه وایه ۔ چې څهٔ شوی دی هغه شوی دی نور په خوله لاس کیږده۔ دا ټولے روپۍ او چتې کړه خو نوره مې اونه شرموے ۔

عدنان :۔ بی بی جی ! ماته ځان انتهائی شرمنده ښکاره شو چې ما ستا دَ عزت تحفظ مې اونکړے شو خو افسوس چې ستا په وجه زهٔ مجبور ووم ۔ پاتے شوے پیسے ؟ نو پیسے دَ عدنان مخکښے هیڅ حیثیت نه لری ۔ ماته پته ده چې ستا عزت زما عزت دے نو ستا دَ بے عزته کولو او رسوا کولو کوشش به څنګه اوکړم ۔ او ... او که ته خپل عزت په خپله غواړے نو یوه مشوره درکوم چه دا ناجائز ماشوم دے په څهٔ طریقه جائز کړه چې اونه شرمیږې ۔ زهٔ درنه لاړم بی بی جی ۔ خوړلی ، څکلی راته اوبښنه ، سلام علیکم ۔

عدنان دَ هغے دَ کمرے نه اووتو او خپلی کمرے ته لاړو .. خپله غاړه ، غوټه یې راواخسته ، دَ څادر په پسکی یې خپلې اوښکے اوچے کړی او روان شو ۔ خورجی دَ خپلی کمرے په درشل ولاړه وه " چې هغه یې په تلو کښې اولیدو نو مسکې شوه او ورته یې اووے " اودریږه عدنانه ، دَ

Pukhto.Net

تـلـو نـه مـخـکـښـې دَ خپلې خور په سر لاس کیږده " عدنان هغې له ور روان شی ، هغـه کـمـرے ته ننوځی او دَ بالخت نه طماچه را اوباسی ۔ عـدنـان ډیر پـه تیـزی سره خپـلـه طمـا چـه دَ هغې په سر اړدی او وائی "راکړه طماچه"

خورجی باندے رچ اولګی او طماچه هغه له ورکوی ۔ عدنان دَ هغې نه طماچه واخلی او روان شی ۔ چې لږ مخکښې لاړ شی نو اودریږی ، دَ هغې دَ طماچے نه کارتوس اوباسی ۔ کارتوس یو خوا اوغورځوی او طماچه بل خوا لړه کړی او ډیر په تیزی سره بهر اوځی ۔

## دویم برخه

دَ عـدنـان دَ تـلـو نه پس خورجی په خپل بيډ کښې ډبه ډوبه پريوته او دَ خپـل ژونـد پـرانستې کتـاب يې پانه په پانه لوستلو ۔ دَ تابش سره دَ هغـې رومبی ملاقات هغه وخت اوشو چې کله هغه دَ کالج ستوډنټه وه ۔ دَ کـالـج چُھتی شـوے وه او نـورے جيـنـکی په خپلو خپلو ګاډو کښـې خپـلـو خپـلـو کـورونو ته لاړلے خو هغه دَ خپل ګاډی په انتظار کښـې دَ سـړک پـه غـاړه ولاړه وه ۔ ګـاډے دَ څه خرابی په وجه ډير ليټ شـو ۔ پـه دیکښـې تابش په خپل ګاډی کښې دَ کالج مخے ته تيريدو خو چې هغـه يې اوليده نو بريک يې اولګوو ، مسکې شو او هغې ته ئې اووے "چرتـه ځې بی بی " ؟ هغـې په پټ مخ جواب ورکړو "زه ميل خيـل تـه ځم " تابش يو ځل بيا مسکې شو او وے وئيل " بی بی که بد نـه ګنې خو ما سره را اوخيژه ، زما لار هم ستاسو په کلی ده "هغـې ورته





اووے " نه مهربانی تاسو له ولے تکلیف درکړم ، ګاډې به راشی " تابش ورته په التجائی سترګو اووے " دیکښې دَ تکلیف څۀ خبره ده بی بی ۔ زما لار هم پـه هغـه طرف ده ، راخيـژه بی بی " دے سره هغه ورته دَ فـرنـټ سيـټ کـړکـۍ لـرے کړه خو هغه دَ فرنټ سيټ په ځائے روستی سيټ کښې کيناسته ۔

ګـاډې روان وو خـو هـغـوی دواړه خاموشه وو ۔ دَ خاموشۍ ختمولو دَ پاره تابش هغې ته په مسکو سترګو اوکتل او وے وئيل " بی بی که بد نه ګنې نو دا ټيپ ريکارډر به آن کړم ، هغې په لا پروائی جواب ورکړو ، زمـا پـرے اعتـراض نشتـه " دے سره هغـه ټيپ ريکـارډر آن کـړو ۔ رومبی ګـانا پـکښـې دَ حديقه کيانی په اواز راغله "تم ملے تو ایسا لگا، جیسے برسوں کی پہچان ہے" ۔ دا ګانا دومره برمحل وه چې هغې ته هم محسوسه شـوه چې تـابش سـره دَ هغـې پيژندګلو دَ کالو راسے ده ۔ چې دا ختمه شـوه نـو بيا پرے بله راغله ۔ "کبھی کبھی میرے دل میں خیال آتا ہے، کہ جیسے تجھ کو بنایا گیا ہے میرے لئے" ۔ دے ګانے سره په هغې وجدانی کيفيت راغی ۔ دَ هغه رنګ متـغـيـر شو او دَ خيالو په سمندر کښې پريوته ۔ تابش په شيشه کښې دَ هغې هيجانی کيفيات کتل او غلے غلے مسکې مسکې کيدو ۔ چې دا ګانا ختميده نو تابش ګاډے دَ لارے يو رستوران ته ستون کړو ۔ ټيپ ريـکـارډر يـې بـنـد کړو او هغې ته ئې اووئيل " راځه بی بی جی چې ډوډۍ اوخورو " هغې دَ نفی په انداز کښې جواب ورکړو " نه ، نه ، ضـرورت نشتـه ۔ زۀ نـه خـورم ۔ تـابش هغې ته کړکۍ لرے کړه او په



Pukhto.Net
www.pukhto.net

نرمه لهجه یې ورته اووے " بی بی پلیز انکار مه کوه ، زۀ هم اوږے یم او ته هم اوږے یې ۔ راځه بی بی راځه پلیز " ۔ دے سره هغه دَ ګاډی نه کوزه شوه او هغه سره هوټل ته روانه شوه ۔ دواړه دَ پردے شاته کیناستل او دَ ډوډۍ آرډر ورکړے شو " دَ ډوډۍ نه مخکښے ترینه تابش تپوس اوکړو " بی بی ستا نوم څۀ دے " هغے په یره یره جواب ورکړو "زما نوم زیب النساء دے "

تابش :۔ ډیر ښه ، ډیر اعلیٰ ، تۀ واقعی چې اسمِ باسمیٰ یې ۔

زیب النساء : هغه څنګه ؟ تابش مسکې شو او وے وئیل " دَ زیب النساء مطلب دے ، دَ ښځو ښائست ، ته واقعی چې دَ ټولو ښځو دَ پاره دَ ښائست یو مثال یې " دے سره هغه مسکۍ شوه او تابش په خندا شو ۔ چې ډوډۍ اوخوړے شوه نو هغوی دواړو یو بل له پتې او دَ موبائیل نمبرے ورکړے ۔ په دغه رومبی ملاقات کښې هغوی یو بل ته دومره نزدے شو چې لکه دَ هغوی پیژندګلو دَ کالو راسے وی ۔ دے نه پس دَ ملاقاتو سلسله شروع شوه ۔

تابش او زیب النساء په یو بل ورک لیونی وو دواړو دا غوښتل چې هغوی په رشته ازدواج کښې اوتړلے شی خو دَ هغوی په لاره کښې لوئے خنډ شاه حسین وو ۔ شاه حسین دَ هغے دَ ترور زوے او دَ بچپن چنغول وو ۔ یو ځل شاه حسین هغه تابش سره په یو هوټل کښې اولیده ۔ چې هغوی دواړه پردے ته ورغلل نو هغه غلے غوندے دَ هوټل نه اووتو ۔ شاه حسین یو ښه تعلیم یافته او شریف هلک وو ۔



www.pukhto.net



هغه وخت هغه په خوله څۀ اونه وې خو دَ هغے نه یې زړۀ تور شو او میاشت کښې دننه دننه انګلینډ ته لاړو ۔ دَ هغه دَ تلو نه پس دَ هغوی دَ ملاقاتونو سلسله اوږده شوه ، کله به په پکنک وتل او کله په ټور (Tour) دَ هغوی دا سرګرمۍ لا شروع وے چې تابش اچانک غیب شو ۔ هغے دَ موبائیل په ذریعه هغه سره دَ رابطے کولو ډیر کوشش اوکړو خو دَ هغۀ هیڅ پته اونه لګیده ۔ څۀ موده پس دَ هغے ملاقات په یو فنکشن کښې نواز خان سره اوشو ۔ نواز خان دَ شهباز خان مشر ورور وو ۔ دَ ښکلی ځوانۍ او دَ ښائسته خوبیو مالک وو ۔ دَ هغه کشر ورور شهباز خان وادۀ کړے وو او دَ بال بچ پلار وو خو دَ هغۀ چوائس لا نه وو پیدا شوے ۔ دَ زیب النساء ملاقات دَ هغه ټول انتخاب شاته کړل او په هغے یې زړۀ داسے ورغی چې په هر قیمت یې هغه حاصلول غوښتل خو هغه ته هم دغه دَ شاه حسین مسله پیښه شوه ۔ دَ زیب النساء او دَ شاه حسین مور پلار نه غوښتل چې هغه دَ بل چا کور ته لاړه شی ۔ دَ نواز خان مور څو څو ځلے دَ هغے رشتے غوښتوله لاړه خو هر ځل به دَ زیب النساء دَ مور دا خبره وه چې "دا هغے خپل خوریې ته ویلے ده " دَ تلو په لسم کال دَ شاه حسین له خوا خپل مور ، پلار او خپلې ترور له یو یو خطر را اولیږو او یو یو ګروپ فوټو ، په خط کښې صرف دَ خیریت او دعا سلام ذکر وو او ګروپ فوټو کښې دَ هغه دَ ښځے او دَ دوو بال بچ فوټوان وو ۔ دے نه پس چې دَ نواز خان مور بیا ورغله نو دَ زیب النساء مور ورته غاړه کیښنوده او په مهر کښې یې ترینه د



Pukhto.Net

سل جریبه زمکے انتقال ، سل تولے دَ سرو کالے او په حیات آباد کښې دَ یوے بنګلے مطالبه اوکړه ۔ نواز خان په هر قیمت هغه دَ ژوند ملګرے جوړول غوښتل او دَ هغوی دا ټولے مطالبے یې پوره کړے ۔ ښهٔ په ډنګه ډونګه یې وادهٔ اوکړو۔ دَ زیب النساء دَ وادهٔ نه یوه میاشت پس تابش هم پیدا شو ۔

چی کله تابش زیب النساء سره په موبائیل رابطه اوکړه او هغے سره یې خبرے کولے نو دَ دواړو خبرے او دَ هغوی خنداګانے نواز خان ووریدے ۔ زیب النساء هم پوهـ شوه چې دَ تابش خبرے نواز خان اوریدلے دی خو دواړو دا خبره دَ یو بل نه پټه ساتلے وه او یو بل له به یې دا احساس ورکوو چې هغوی په یو بل هډو پوهـ نه دی ۔ نواز خان لا دَ هغهٔ دَ مرګ بناء تړله چی هغه پرے مخکښے شو او سره دَ ګاډی یې سورے سورے کړو۔ پولیس دَ هغه مرګ دَ جائیداد تنازعه اوګرځوله او شهباز خان پکښې اونیولے شو۔ هغه څهٔ موده جیل اوخوړو خو اخر بریٔ شو ۔ دَ نواز خان دَ مرګ نه پس هغه دَ هغه ځلوینښتی پورے دَ خلی کمرے نه راوته ۔ دَ ماتم په تورو جامو کښې به یې شپه ورځ هغه پسې ژړا کوله ۔ دَ هغه دَ ځلوینښتی نه پس چی کله هغه دَ خپلې کمرے نه اووته نو په خپل کور کښې به پټ مخ ګرځیده ۔ څهٔ موده پس دَ حیات آباد بنګلے ته لاړه او دَ یوے خدمتګارے نجمے نه علاوه په کور کښې یوائے اوسیده ۔ تابش یو بین الاقوامی سمګلر وو ۔ هغه سره دَ دولت څهٔ کمے نه وو ۔ چی کله هغه ته معلومه شوه چې زیب النساء


www.pukhto.net



المعروف به خورجی دَ حیات آباد بنګلے ته تلے ده نو دَ هغے بنګلے سره یې جخته یوه بنګله په بیعه واخسته او دواړه ګاونډیان شو ۔ دَ تابش تعلقات ډیر وسیع وو او دے تعلقاتو کښې ګڼ تعداد دَ صنف نازک وو ۔ دَ نورو نه علاوه هغه یوه شپه یعنی دَ اتوار شپه خورجی له ورکړے وه او خورجی ته به دَ هر اتوار په شپه دَ هغه د راتلو یقین وو ۔ په دے دوران کښی ډیرنونهالان دَ سترګو غړولو نه مخکښے د دے دنیا نه پټی سترګے لاړل ۔ دا اخری ماشوم معلومه نه ده چې په څهٔ وجه پاتے شو او لاپاتے دے چې دَ هغے په ژوند کښې یې دَ مایوسۍ تیرے خورے کړے دی ۔ یو ځل دوه دَ هغے په زړهٔ کښې راغله چی چاړه راواخلی په خپله خیټه کښې دننه ټکړے ټکړے کړی او په ډسټ بین کښې یې اوغورځوی خو چی په لاس کښې به یې چاړه اونیوه نو په زړهٔ کښې به یې راغله چې آیا هغه به داسے اوکړے شی ؟ هغه به دا دردونه برداشت کړې شی ؟ هغه به ژوندۍ پاتې شی ؟ دے سره به دَ هغے زړهٔ یوه ډبۍ اووهله او دَ سترګو نه به یې غټې غټې اوښکے روانے شوے ۔ هغے په مختلفو طریقو سوچ کوو خو اخر به دے له راغله چی د دے مسلے واحد حل دا دے چی په څهٔ طریقه دا ناجائز ماشوم جائز کړی ۔ دے دَ پاره هغه هرے قربانۍ ته تیاره وه ۔ هغه لا په دغه سوچونو کښی ډوبه وه چې د تابش رِنګ راغی ۔ چی دَ هغه سره یې یو څو خبرے اوشوے نو حوصله یې اوموندله او پاڅیده ۔ هغه لا دَ کمرے نه وه اوتے چې دَ عنبرین رنګ راغی ۔ هغے بیا موبائیل اوچت کړو او

هغې ته يې اووے زۀ درغلم ، دے سره هغے تولے کمرے لاک کړے ، اعلیٰ ترين او دلکش سوټ يې واچوو ، په ګاډی کښې کيناسته او دَ کور نه بهر شوه۔

**دريمه برخه**

عدنان چې دَ جامو غوټه په لاس دَ خورجی دَ کوره اووتو نو په درنو خپو او درونـد وجود دَ کـلی دَ اډے په طرف روان شو ۔ چې دَ کلی بس کښې کيناستو نو اکثر کسان پکښې دَ هغۀ پيژندګلو وو۔ دَ عليک سليک او روغ جوړ نه پس هغوی سره په بس کښې کيناستو ۔ چې بس روان شو نودَ يو سيټ نه نور رحيم اواز اوکړو "عدنانه ته جوړ وادۀ له روان يې" ؟ عدنان حيران وو چې هغه له څۀ جواب ورکړی چې دَ بل سيټ نه سيد عالم اواز اوکړو ۔ "چې دے نه ځی نو څوک به ځی ، دَ نيکے يې واده دے" دَ بل سيټ نه غفوری اواز اوکړو " اوريدلے مِ دی چی بيګاه له پکښې دَ ډمو پروګرام دے" ۔ نور رحيم ورپسی زياته کړه ، " ما خو دا اوريدلے دی چی دَ نکريزو په شپه ډمے به په ګډا ګډا دَ کاکی خيل نه طوطی خيل ته راځی ۔ هلته به ميدان هم ګرموی او جينی له به نکريزے هم لګوی ۔ دَ طوطی خيل نه به بيا په ګډا ګډا کاکی خيل ته ځی" عدنان به دَ هر يو خبرے اوريدے او دَ هغے په جواب کښې به مسکې کيدو۔

سيد عالم :۔ دا ډمے خو دَ پرون نه شروع دی ۔ ګډيړی په کاکی خيل کښی او دَ ګونګروګانو او د وکړو اواز يې طوطی خيل ته راځی ۔


www.pukhto.net



غفورے :۔ نه سيد عالمه ! دا هغه پرونۍ جوړه نه ده ۔ دا دَ لاهور نه دَ ګوهر کاکی يو خاص دوست راوسته ده ۔ هغه په خپله هم فلمی ايکټر دے او دا ډمے هم فلمی ايکټرانے دی ۔

نور رحيم :۔ عدنانه بيګاه له ځان تيار کړه ، دے له به کاکی خيل ته ځو او هغوی سره به په نکريزو راځو ۔

عدنان :۔ زۀ به درسره څنګه لاړ شم ؟

سيدعالم :۔ دے نشی تلے نور رحيمه ۔ د دۀ په سر ډير کار دے ۔ دے مۀ مجبوره وه ۔

عدنان :۔ که دے وائی نو لاړ به شم ورسره ، زۀ خو تابعدار يم ۔

سيد عالم :۔ نه ، نه ، ته نشی تلے ، تۀ دَ خانانو دَ کاره هم نشی اوزګاريدے ۔ پلار غريب دے کله يو خوا منډے وهی کله بل خوا ۔ شهباز خان خو ترينه ځان خلاص کړے دے ۔ هر څۀ يې هغه ته سپارلی دی ۔ تۀ هغه سره لاس اوکړه دا ډيره ده "۔

په دغه خبرو اترو کښې هغه کلی او کور ته اورسی ۔ چې کور ته اورسی نو غوټه کټ ته اولی او مور له اواز ورکړے "مورے چرته يې" دَ هغه مور ګل خوبان دَ ماستو چاټۍ شاربله چې هغه يې اوليدو نو دَ کوټے نه بهر شوه او وے وئيل " وې دا خومِ دَ خيره عدنان بچے راغلے دے" هغه عدنان په دواړه مخه ښکلوی او وائی " زار شم ، قربان شم درنه ، دا ولې ځويه دومره مانده شوے يې ۔ دوه ګوتے مخ دے را اووتو ، دا ولې" ؟

عدنان (خاندی) زۀ ټیک ټاک یم مورے ۔ تا ته هسے کمزورے ښکارم ۔

ګل خوبان :۔ ته کینه بچے زۀ تاله شاربلے ماسته راؤړم ۔

عدنان :۔ چې ماستۀ راؤړے نو یوه دَ جوارو ډوډۍ هم ورسره راؤړه مورے ، چی ماته کړم پکښې ، مور هغه له دَ ماستو کټورے او دَ جوارو ډوډۍ ورکوی ۔ عدنان په ماستو کښې دَ جوارو ډوډۍ ماته کړی او ږومبۍ نوړۍ سره وائی ، ”مورے بخت بی بی څۀ شوه “۔

ګل خوبان :۔ هغه او پلار دے دواړه ناقلاره دی ۔ دَ پلار خو دے پوره یوه میاشت اوشوه چې دَ خانانو حجره یې نیولے ده او دَ بخت بی بی نن دریمه ورځ ده چی تلے ده ۔

عدنان :۔ هغه ولے تله ، نه به دے پرینښوه ۔

ګل خوبان :۔ داسے راته ، ناصر خان اوسجاد خان هم ویلے خو څۀ مِ کړے وے څویه مشرے بی بی وریسی څو څو ځله خدمتګاره را اولیږله ۔ ما هم په زړه کښی وے چې لاړه دے شی ۔ دَ هغے هم دغه لږے ورځے دی چی جینکو سره خندا خوشحالی اوکړی ، چی دَ بل دَ کوره شی نو بیا خو پکښې دَ خپل مور ، پلار واک پاتے نشی ۔

عدنان :۔ دَ بل دَ کوره ؟ څه مطلب ؟

ګل خوبان : هاؤ کنه څویه ، شپږ میاشتے پس به داؤد خان دَ خیره دَ سعودی نه راځی ۔ دَ هغه مور راته وې چې هغه راشی نو دَ وادۀ به لنډه شان نیته کیږدو ۔ هغوی هرڅۀ تیار کړی دی ، جوړے ، جامے او کالی هرڅۀ شوی دی ، خو بس دَ هغه راتلو ته خبره بنده ده ۔





عدنان :۔ تاسو څۀ تیارے کړے دے ؟

ګل خوبان :۔ یَه څوایه زمونږ به څۀ تیارے وی ، دغه جوړے جامے او نرے سامان مو کړے دے او دغه پالنګ به دے پلار راؤړی . . .تۀ څویه دَ کشرے بی بی وادۀ له راغلے ؟

عدنان :۔ هاؤ مورے زۀ دَ هغے وادۀ له راغلم ۔

ګل خوبان :۔ ډیر دے ښه اوکړل څویه ۔ ډیره موده دے ورسره تیره کړه ، په تاپې د دے اخری خدمت حق جوړیږی او رشتیا تا پسی خو دَ هلک له خوا هم دَ وادۀ کارډ راغلے دے ( هغه دَ واده کارډ واخلی او هغه له یې ورکوی ۔ عدنان چی کارډ اوګوری نو یو خوا ته یې کیږدی او وائی ”مورے زه ستړے یم که ستا خوښه وی نو لږ ارام به اوکړم “۔

ګل خوبان :۔ ورشه څویه ، ځان ته کوټه کښې کټ سم کړه او بے غمه سروغوږ شه “۔ عدنان هم داسے اوکړل ، کټ یې ځان ته سم کړو او پکښې سملاستو ۔ هغه دَ مایوسۍ دومره ډغرو وهلے وو چی لږه شیبه پس په درونډ خوب اودۀ شو او هله ویښ شو چې دَ خپلې کوټے مخے ته یې دَ دوکړو او باجو اوازونه ، دَ ګونګروګانو شړنګار او دَ ټوپکو تړقار وورېدو ۔ هغه تر هغے په کټ کښې پروت وو چې تر څو دغه اوازونه تیر شوی نه وو ۔ چې دغه آوازونه دَ شهباز خان حجرے ته اورسیدل او لږه قلاری شوه نو هغه پاڅیدو ۔ دَ شپے تورے زلفې په زمکه خورے شوے وې ۔ ناصر خان او سجاد خان دَ پټی نه راغلی وو ۔ ډوډۍ یې خوړلے وه او دَ شهباز خان حجرے ته دَ خدمت دَ پاره رسیدلی



Pukhto.Net
www.pukhto.net

وو ـ عدنان څادر دَ ځان نه تاؤ کړو او غلے غوندے دَ کور نه بهر اووتو ـ هغه باندے دَ عنبرین په نکریزو راغلې دَ سرود اواز ډیر بد لګیدو ـ هغه مخکښے روان وو خو دَ سرود اوازونه هغه سره په جلب کښې روان وو ـ هغه دَ کلی دَ حدودو نه بهر اووتو او ډیر لرے لاړو خو دَ سرود اوازونو دَ هغه ملګرتیا پرے نښودہ ـ هغه تر هغے روان وو چې تر څو دغه اوازونه راتلل او چې کله قلاره قلاری شوه نو هلته دَ هغهٔ خپی اودریدے او هغه یوه لویه ساه واخسته ـ هغه چې اخوا دیخوا اوکتل او دَ ماحول جائزه یې واخسته نو هغه دَ چا زمیدار دَ ډنګرو په ډیره کښې ولاړ وو ، دا ډیره چې په اصل کښې جنګی وه دَ ګڼو اونو بوټو یو تور ځنګل ښکاریدو ـ هغه یوے اونے سره اودریدو ، سترګے یې پټې کړے او یوه شیبه پس یې بیا اوغړولے ـ هغه ته په دغه تیاره کښې یو ځناور ښکاره شو او چې هغه ورته ښه په غور سره اوکتل نو هغه په اخور تړلے شوے یو خر وو ، چې دَ هغهٔ پرے دَ خر یقین پوخ شو نو نزدے ورغی ، دَ هغه په نزدیکت سره خر سپیړمے اووهلے او اوپرشیدو ـ هغه چې لږ مخکښے تیر شو نو هلته یې یو وړوکے کټ اولیدو ، چې کټ ته ورنزدے شو او وے کتل نو په هغے کښې څهٔ غوټه پرته وه ـ هغه چې ورله په یره یره لاس یوړو نو هغه ته دَ څهٔ پوست څیز احساس اوشو ـ دے سره دَ کټ نه څهٔ څیز ټوپ کړو ، دَ هغه دَ ټوپ سره دَ عدنان دَ خولے نه دَ یرے چغه اووته ، چغے سره هغه څیز منډه کړه او چې هغه ورته خیال اوکړو نو هغه پیشو وه ، عدنان دومره



www.pukhto.net



یریدلے وو چې ډیره شیبه لکه دَ بت په غړیدلو سترګو بے حسه ، بے حرکته دم ختلې ولاړ وو ـ په یخه یخنۍ کښې پرے هغه خوله راغله چې جب جوب شو ـ هغه ډیره شیبه ولاړ وو ، نه دَ یرے نه کیناستو او نه روانیدو شو ـ چې کله یې حوصله په ځائے شوه نو کټ یې اوڅنډو او په هغے کښې کیناستو ـ یو ساعت ناست وو خو اخر یې ډډه واچوله او سملاستو ـ دَ ستورو ډک اسمان لکه دَ جنجیانو دَ اسمان په میدان بے ترتیبه ډلے ډلے خوارهٔ وو او په مسکا مسکا یې دَ عنبرین دَ وادهٔ په نکریزو راغلی خلقو ته یې کتل ـ عدنان دَ اسمان په لمنو کښې دغه خورو ورو ډلو ته کتل او دَ عنبرین خیال به ورته مخکښے مخکښے کیدو ـ دَ هغے تصویر دَ هغه په زړهٔ کښې داسے نقش شوے وو چې دَ هغه دَ نفرت باوجود هم کلکے خپی او کلکے سترګے ولاړ وو ـ دے تصویر سره دَ هغهٔ زړه خبرے کولے ـ دا خبرے دَ ګیلے مانے وے ، دَ طنز وے او کله کله به ډیرے ترخے وې خو دَ هغے تصویر چرے هم دَ هغه په سپورو ، ستغو بد نه ګڼل بلکه په مسکا مسکا به یې دَ هغهٔ خبرے اوریدے ـ چې دَ هغهٔ دَ زړهٔ خبرے ختمے شوے نو هغے اووے ، عدنانه چې څهٔ دے خوښ وی نو ماته وایه ، زهٔ ستا مجرمه یم خو زهٔ بے وفا نه یم ـ زما ډولۍ به لاړه شی خو زما وفا به لاړه نشی ـ زما وفا به تل تاته سترګے په لار ولاړه وی ـ زهٔ به همیشه ستا په زړهٔ کښې موجود یم ـ د دے په جواب کښې هغه غلے غوندے اووے ”چې زما په زړهٔ کښې موجودې نو دا خوزما وفا شوه ، ستا وفا څه شوه ـ ستا په

زړۀ کښې څوک دی ؟ وفا خوبه هله وه چې زما تصویر ستا په زړۀ کښې موجود وې ۔ دے سره هغه په خندا شوه ، کړه ، وړه شوه او بیا نیغه شوه او وے وئیل " ډیر ساده یې عدنانه ، ستا تصویر خو زما دَ زړۀ دَ شیش محل رڼا ده ۔ په دے رڼا کښې اووه رنګونه دی او هر رنګ جُدا جُدا ځلا کوی ۔ هغه غلے غوندے اووے " عنبرین ستا نکاح بل سره تړلے شوے ده ۔ چې ستا دَ بدن اختیار دَ بل شی نو دا ګینې بے وفائی نه ده او که دا وفا وی نو دے ته به دَ وفا کوم قسم ویلے شی ۔ په یو زړه کښې دوه مینے نه ځائیږی یا زما شه یا دَ ګوهر کاکی شه ۔ هغے په راز دارانه انداز اووے " ته ولے نه پوهیږے ۔ بدن دَ وینے او غوښے یو ختمیدونکے څیز دے ۔ اصل څیز روح دے ۔ زما دَ روح نکاح ستا روح سره تړلے شوے ده چې هغه نه ختمیدونکے او ابدی څیز دے " عدنان دَ عنبرین په فلسفه دَ ځان پو هولو کوشش کوو ۔ په دغه سوچونو او فکرونو کښې دَ صبا سترګه را اوخته او چاپیره اذانونه شروع شو ۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆



www.pukhto.net



## اتهم باب

سحر په خړه چې دَ عنبرین مور سلمیٰ بیګم دَ عنبرین کمرے ته ورغله نو هغه په خپله کمره کښی نه وه ۔ بیا ئے ورپسې غلے غلے نورے کمرے اوکتې ، واش رومونه یې هم ورپسې اوکتل خو هغه یې اونه لیده ۔ دَ هغے زړۀ تهکه اوخوړه چې څه چل دے ۔ چې اونشو نو بیا دَ خورجی کمرے ته ورغله ۔ هغه ویښه وه او چا سره یې په موبائیل خبرے کولے ۔ خورجی چې هغه اولیده نو وے وئیل " سلام علیکم آپا"

سلمیٰ بیګم :۔ وعلیکم سلام ۔ خورجی عنبرین خو دے نه ده لیدلے ۔

خورجی :۔ دلته نه ده راغلې آپا ۔ خپله کمره کښې به وی ۔

سلمیٰ بیګم :۔ هلته نشته ۔ نورو کمرو کښې هم نشته ، ټول واش رومونه مِ اوکتل ، هلته هم نشته ۔

خورجی ( سینے له لاس راچوی ) هله پیره ! دا به څۀ کیږی ۔ هم هغه اوشوه څۀ نه چې زه یریدم ۔

سلمیٰ بیګم :۔ بینګاه خو تا سره په کمره کښې وه ؟

خورجی :۔ هاؤ ، هاؤ ، پرون ټوله ورځ او بیګاه ماسره وه خو چې نکریزے راغلے ، سرودونه او ګډاګانے شروع شوے نو هغه هم نورو جینکو سره دَ ډمو تماشے ته اودریده ۔ هغوی لا تماشے ته ولاړے وې چې زه ترینه خپلې کمرے ته راغلم او اوده شومه ۔ بیا ترینه خبر شوے نه یم ۔

سلمیٰ بیګم :۔ هغه اوشوه چې څۀ نه زۀ یریدم ؟

خورجی :۔ ته اودریږه زۀ رنګ ورکوم ( هغے ته رنګ کوی ) ”موبائیل ئې بند دے “

سلمیٰ بیګم :۔ هائے خدایه ، زۀ خو غرقه شوم ، دَ خلقو دَ خندا شوم ، دا به څۀ کیږی ۔ جینئ خو لاړه دَ ګوتو نه مِ اووته ۔

خورجی :۔ دَ هغے سترګے داسے سرے شوے وے چی ماته به یې هم جواب ګرځوو ۔ خو هله مِ پریښوه چی قسمی مِ کړه ۔ اوس نه پو هیږم چی داسے یې ولے اوکړل ۔

سلمیٰ بیګم :۔ دے جینئ خو مونږ اوشرمولو ۔ دا به څۀ کیږی ، نن خو دَ هغے جنج دے ۔

خورجی :۔ مونږ هغے نه یو شرمولے هغه بے غیرته عدنان اوشرمولو ۔

سلمیٰ بیګم :۔ دا کار به ګینې هغه کړے وی ؟

خورجی :۔ واه آپا واه ، بل څوک کیدیشی ۔ زما سل په سله یقین دے چې هغه بوتلے دے او څۀ قصور دَ هغے هم دے ، هغه په زور خو نه دے بوتلے ۔ کیدیشی دا واپس کور ته تلی وی ۔

سلمیٰ بیګم :۔ اوس به څۀ اوکړو خورجی ۔

خورجی :۔ اوس په دے خبره کانې کیږده او په خوله لاس کیږده ۔ ماته دَ هغوی ځایونه معلوم دی ۔ زۀ ورپسی هلته ورځم ، که پیدا شو خو هغه به ترینه ګاډی کښې ځان سره راولم ۔

سلمیٰ بیګم :۔ ته به مونږ څنګه خبر کړے ؟

خورجی :۔ زۀ به لس ، شل منټه کښې تاته رنګ اوکړم ، که کار اوشو



www.pukhto.net



او که اونشو ۔

سلمیٰ بیګم :۔ ډیره ښه ده ۔

خورجی :۔ زۀ ورپسې دا دے لاړم ( هغه خپلے کمرے ته جرنده اچوی او بهر اوځی ) دَ هغے دَ تلو نه پس سلمیٰ بیګم شهباز خان ته رنګ کوی ، هغه کورته او خپلی کمرے ته راغواړی او هغه ته دا ټوله قیصه کوی ۔ شهباز خان چی دَ هغے دَ تلو خبره ووری نو سر پرے اوګرځی او دَ غصے نه پرے رچ راشی او وایی ” دا به څۀ کیږی ، زۀ خو به دَ خلقو دَ خندا شم “ هغوی لا دا خبرے کولے چی دیکښے دَ خورجی رنګ راغئ او وے وئیل ” آپا دَ هغے نه زړۀ صبر کړه ۔ دَ هغے خبره یقینی ده هغه او هغه بے غیرته عدنان علاقه غیر ته تلی دی او دَ هلته نه یې افغانستان ته دَ تلو اراده ده “۔

سلمیٰ بیګم خپل سر په دواړه لاسونو کښې نیسی اووائی ، ” هائے ربه ! څومره مِ په مینه ساتلے وه “۔

شهباز خان :۔ دا ستا دَ لاسه داسے شوه ، تا وے چې تعلیم پرے اوکړه دا زړۀ مِ وائی چی دَ هغے په ځائے ورته تا ډولئ کښې واچوم ۔

سلمیٰ بیګم :۔ شهباز خانه ! که بد نه ګڼی نو زۀ خو ویم دواړه به عالمی کره ورشو او د دے واقعے نه به یې خبر کړو ۔

شهباز خان :۔ نو هغه به څۀ اوکړی ۔ هغے غریب ته خو ما دومره کار حواله کړے دے چې دَ سرګرونو موقعه ورته هم نه ملاویږی ۔

سلمیٰ بیګم :۔ ته ګوره که څۀ حل یې را اوځی ۔

شهباز خان :۔ هاں ، دا هم کيديشي ، خدائے دے اوکړی ۔

هغوی دواړه عالمی کره ورغی ۔ عالمے چی هغه اووينی نو دَ چائے نه پاسی او سره دَ ځامنو دَ هغوی مخے له ورغی ۔ دَ عليک سليک نه پس عالمې ورته وائی ۔

راغی خان جی ، راغی بی بی دے کښې ته کينئ ۔

شهباز خان :۔ ناستے له نه يم راغلے عالميه خو يو تپوس له راغلے يم ۔

عالمې :۔ خان جی حکم کوئ ۔

شهباز خان :۔ عالميه ! ماخو ته خپل رور او ستا اولاد خپل بال بچ ګڼلو خو کيديشی زما دَ لاسه تاسره څۀ بدشوے وی ۔ دا راته اووايه چی ما تاسره څۀ بد کړی دی چی په شرمونو دے اوشرمولم۔

دَ عالمی رنګ زيړ شی هغه ته په ځير ځير ګوری او وائی " ولے خان جی ، څه چل شوے دے ، زۀ پو هـ نشوم ۔

شهباز خان :۔ بيګاه ستاځوی عدنان زما لور متيزه بوتلے ده ۔

عالمے :۔ اوه خدايه ۔ دا څۀ اوشو ۔ دَ هغه دا مجال ۔ زۀ خو خپل نائيک ته ډير کوز سترګے شوم ۔

شهباز خان :۔ کوز سترګے تـه نـه زۀ شوم چې لور مِ متيزه لاړه ۔ تا پورے خلق نه خاندی عالميه ما پورے به خلق خاندی ۔ زۀ به خپلو تربورانو سره څنګه سترګے لګوم ۔ زۀ به دَ کاکی خيلو جنجيانو ته څۀ ويم (هغه ژاړی او سلګئ وهی ) ، دَ هغه سره سلمیٰ بيګم هم ژاړی ، عالمے ، دَ هغه ځامن او ګل خوبان هم ژاړی ۔





عالمې :۔ خان جی ! زما ځوی تاسره بد نه دی کړے بلکه ماسره يې کړی دی ۔ هغه زما دشمن دے که دَ هغه غوښے مِ په ګولو کښې وانه لوزولے نو زما نوم به عالمے نه وی ۔ ناصر خانه ته اوسجاده خان دواړه ورپسی اوځئ چې هر ځائے مو اوليدو نو ما پورے يې لږ راولئ چې دا زړۀ پرے يخ کړم ( هغوی ټوپکے اخلی او روانيږی )

شهباز خان :۔ اودريږی هلکو ! زما دَ هغه په ويشتو کښې غرض نشته ۔ زۀ ويم چی دا خبره پټ په پټه پاتے شی ۔ زما عرض په خپله لور کښې دے چې ډولئ کښې يې ورته واچوم او اوړی يې "۔

عالمې :۔ خان جی ! مونږ خو دَ کور او صحرا خلق يو۔ دَ هغوی ځايونه مونږ ته څۀ معلوم دی چی ورپسی ورشو او هغه ترينه راولو البته د دے خبرے يو حل شته

شهباز خان :۔ د دے څۀ حل دے ۔

عالمې :۔ خان جی که بد نه ګڼئ او وئ چی دا خبره دے پټ په پټه پاتے شی او جنجيانو ته کوز سترګے نشو ۔ نو د دے حل شته او هغه دا دے چی (دَ هغۀ په سترګو غټې غټې اوښکے اوړی راؤړی ) . . . چې زۀ به تاله دَ لور په بدل کښې لور درکړم ۔ جنجيانو ته زما . . . .زما . .لو . .ر . ډولئ کښې واچوه ، تاتـه اجازت دے "۔ عالمے شهباز خان او دَ هغۀ ښځے تـه ګوری او شهباز خان او دَ هغـۀ ښځه په حيرانتيا يو بل ته ګوری ۔

ګل خوبان :۔ دَ ناصر خان پلاره ! دا ته څۀ وائے ، هغه خو مونږ ورکړے



Pukhto.Net
www.pukhto.net

ده دَ بل په نامه ناسته ده او دَ بل دَ واکه ده ''۔

عالمې :۔ هغه ته مِ ویلے ده ، ورکړے مِ نه ده ۔ ورکړے به مِ هله وه چې نکاح یې ورسره شوے وې او دَ هغه کور ته تلے وې ۔ بله خبره دا ده چې داسے ډیرے لونړه به زۀ دَ خان جی او بی بی عزت نه لوګے کړم ۔ خان جی داسے دے خوښخه ده ۔

شهباز خان :۔ عالمیه ! که داسے اوشی نو زۀ به ستا دَ خپو خاؤرے ښکل کړم ۔

عالمې : ناصرخانه ! تاته زما فیصله منظوره ده ۔

ناصر خان :۔ بابا د دے بل حل نشته ۔ مونږ خپل او دَ خان جی عزت په دے طریقه بچ کولے شو ، دے نه علاوه بله لار نشته ۔

عالمې ۔ سجاد خانه بچے ته څۀ وائے ؟

سجاد خان :۔ بابا دَ خان جی عزت زمونږ عزت دے ۔ مونږ دا وایو چې دَ کاکی خیلو جنجیانو او دَ خان جی تربورانو ته مخ تورن نشو ، ډیره ښه فیصله ده او ماته منظوره ده ، خو عدنان به دَ سره وی ، هغه به زمونږ دَ ټولو دشمن وی ۔

عالمې :۔ وَه دَ نر بچیه ! هغه سره هم داسے پکار دی (ګل خوبان ته) دَ ناصر خان مورے ته بی بی کره ورشه ، خپله لور دے دلته راوله او تیاره یې کړه خو بل ثوک درباندے پو هـ نشی ۔

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆





## نهم باب

عنبرین دَ خورجی په اشاره باندے دَ نکریزو جینکو سره غلے غوندے اووته او دَ هغے په ښودلے شوے ګاډی کښې کیناسته ۔ دَ ګاډی ډرائیور دَ مخکښې نه په ګاډی کښې ناست وو او دَ هغے انتظار یې کوو۔ چې څنګه نورګاډی روان شو نو هغه هم روان شو ۔ دَ نکریزو ګاډی کاکی خیل ته لاړل او دَ هغوی ګاډی په لوے سړک روان شو ۔ چې لږ مخکښې لاړل نو دَ ګاډی ډرائیور توصیف ګاډی دَ سړک غاړے ته اودرو او هغے ته یې اووے '' بی بی چرته به ځې ''

عنبرین :۔ عدنان له مِ اورسوه ، هغه چرته دے ؟

توصیف :۔ زۀ خو عدنان نه پیژنم او نه راته دَ هغه ځائے معلوم دے ۔

عنبرین :۔ ته چا رالیږلے یې ؟

توصیف:۔ زۀ تابش رالیږلے یم ۔

عنبرین :۔ تابش څوک دے ، زۀ خو هغه نه پیژنم ۔

توصیف :۔ ډیره ښه ده چې هغه نه پیژنے ، هغه کوم ښه سړے دے ۔

عنبرین :۔ دا سړے څوک دے او تۀ دَ هغه په خوله ولے راتلے ؟

توصیف :۔ دا یو بدمعاش او بدکرداره سړے دے ۔ دَ خورجی سره دَ هغه تعلقات دی او زۀ هغه رالیږلے یم ۔

عنبرین :۔ کیدیشی عدنان هلته وی ۔

توصیف :۔ عدنان هلته نشته بی بی ۔ دا ټول فراډ دے ۔ که زما منے نو هلته مه ځه ۔ هغه انسان نه ځناور دے ۔ تۀ یوه معصومه او پاکه

بی بی یې هسې نه چې څۀ نقصان درته اورسوی ۔ چرته بل ځائے راته اوښایه چې هلته دې اورسوم ۔

عنبرین :۔ بل به چرته لاړه شم ، زما خو هیڅ څوک قابلِ اعتماد نشته ۔ زه صرف دَ خورجی په وینا راوتے یم ۔ هغه وې چې دا ګاډی والا به ما عدنان له اورسوی ۔

توصیف :۔ تاسره دَ عدنان څۀ رابطه نمر یا موبائیل نمبر شته ؟

عنبرین :۔ نه هغه سره موبائیل شته او نه ماسره ۔

توصیف:۔ بی بی په ننی ورخت کښې موبائیل نمبر دَ شناختی کارډ نه هم ضروری دے ۔

بهرحال اوس ماته څۀ حکم دے ۔ بی بی ، که خفه کیږے نه نو ګاډې به واپس کړم او تا به خپل کور ته اورسوم ۔

عنبرین :۔ ما دَ کور لارے بندے کړے دی ۔ کور ته خو چرے هم نه ځم ۔

توصیف:۔ چې کور ته نه ځی نوزۀ خو تا دغه ظالم له نشم بوتلے ، بی بی تا دومره غلط قدم ولے پورته کوو۔

عنبرین :۔ دا هرڅه ما دَ خورجی په وینا کړی دی ۔

توصیف:۔ خورجی ستا خیر خواه نه بلکه دشمنه ده ۔ هغه ډیره چالاکه او بدکرداره ښځه ده ۔

عنبرین :۔ اوس زۀ څۀ اوکړم چرته لاړه شم ۔

توصیف :۔ بی بی نن صبا د اعتبار وخت نه دے خو بی بی که تۀ په ما اعتبار کوے نو زۀ تا یو محفوظ ځائے ته رسولے شم ۔


www.pukhto.net



عنبرین :۔ کوم ځائے ته ۔

توصیف :۔ اسلام آباد ته ۔ هلته به ته محفوظ یې او چې کله حالات ښه شی نو امید کوم خپل مراد ته به اورسې ۔

عنبرین (ژاړی) روره هسے نه چې ته راسره فراډ اوکړے ۔

توصیف :۔ بی بی زه هم ښه سړے نه یم ۔ زما کاروبار هم ټول دغه بدمعاشانو او بدکرداره خلقو سره دے خو الحمدللہ زۀ دَ خور او رور شته پیژنم ۔ ماته پته ده چې ته دَ کالج سټوډنټه یې او دَ دنیا دَ چالونو نه خبر نه یې خو زه په دے هر څۀ پوهـ یم ۔ ستا دَ اغوا دَ پاره دَ ډیرو مودے نه پلیننګ کیدو ۔ د دے پلیننګ اهم کردار خورجی ده ۔ هغه تاته هغه څۀ جوړول غواړی څۀ چې هغه په خپله ده ۔ زۀ هغه ډیره ښه پیژنم ، هغه ډیره بے رحمه ښځه ده ۔ اوس ستا خوښخه ده ، زۀ تامجبوروم نه ، وایه چې هلته دے اورسوم ، دلته دے پرېږدم ، عورت فاؤنډیشن ته دے اورسوم او که تانے ته دے اورسوم ۔

عنبرین :۔ روره ستا کور چرته دے ؟

توصیف:۔ زما کور ډیر لرے دے زۀ دَ بارے ، تور کانی اوسیدونکے یم زۀ تا هلته نشم بوتلے ځکه هغه لارے ډیرے خطرناکے دی ۔ ځائے په ځائے تالاشی کیږی او که دَ طالبانو په ګرفت کښې ورغلو نو بیا زما هم خیر نشته او ستا هم ۔

عنبرین :۔ تۀ چرته اوسیږے ؟

توصیف:۔ بی بی زۀ پیښور کښې ، په سیول کوارټرو کښې په یو

وړوکی شان کوارټر کښې اوسیږم ۔

عنبرین :۔ تاسره نور څوک دی ۔

توصیف :۔ ماسره هیڅوک نشته ، زۀ بالکل یوائے اوسیږم ۔

عنبرین : روره ما هلته اورسوه پلیز ۔

توصیف :۔ خورے هغه کوارټر ستا دَ اوسیدو قابل نه دے ، هغه .....!

عنبرین :۔ روره پلیز ، هرڅه چې دے ، زۀ به پکښې څه ورځے تیرے کړم ۔

توصیف :۔ ډیره ښه ده ، زما پرے هیڅ اعتراض نشته ۔

دے سره هغه دَ پیښور په روډ ګاډې روان کړی ۔

## دویمه برخه

دَ مازیګروخت وو ۔ عدنان دَ کاکی خیل دَ سړک په غاړه په بوټو کښې پټ ناست وو او دَ عنبرین دَ ډولۍ په انتظار وو چې دَ هغې اخری دیدن اوکړی او هغې ته اخری سلام پیش کړی ډولۍ موټرو په غرار کښې او دَ ډزو په تړقار دَ طوطی خیل نه را اووته او چې څومره به هغوی نزدے کیدل نو دَ هغۀ دَ زړۀ تلوسے به زیاتیدے ۔ چې کله دَ موټرو فون ، فان رانزدے شو نو دَ هغۀ زړۀ په ټوپونو شو ۔ هغه دَ خپل جذبات نه مجبور شو اودریدو ۔ په دیکښې هغه دَ لرے نه یو سپین موټر اولیدو چې ناوے شوے راروان وو ۔ چې کله دَ هغه خواله رااورسیدو نو دَ هغه رنګ زیړ شو ، دَ بوټو دَ شپول نه را اووتو او په تندی یې ورته لاس کیښود ۔ دَ موټر ډرائیور ، ګوهر کاکی او ناوے دَ هغۀ دَ سلام ډیو



www.pukhto.net



جواب اونکړو او په یو غر دَ هغه په خوا کښې تیر شو ۔ بیا ډیره شیبه هلته ولاړه وو او چې دَ جنجیانو اخری ګاډے دَ لاسونو په پړقار او دَ ډزو په تړقار کښې تیر شو نو دَ هغه په سترګو کښې غټې غټې اوښکے راغلې ، دَ هغه دغه اوښکے لا روانے وې چې ډولۍ کاکی خیل ته اورسیده ۔ هغه ډیر شیبه ولاړ وو او دَ خیال په وریځو کښې یې عنبرین سره خبرے کولے ۔ ځان سره لګیا وو ۔ عنبرین هم لاړه ۔ عنبه رین هم لا ....ړه ، عنبرین دومره خو راته اووایه چې "ما خپله وعده واپس واخسته" تۀ خو لاړے دَ بل دَ کور شوے خو زۀ چرته لاړ شم ۔ زۀ څۀ اوکړم عنبرین ... زمونږ لارے واقعی بیلې بیلې شوے ؟ زۀ بیا تاسره ملاویدے نشم ۔ زۀ په کومه لاره لاړ شم ۔ تانه بغیر دَ ژوند ټولے لارے بے خوندہ دی ۔ زۀ خو به لیونے شم ، پاګل به شم ... ته یې پاګل ، ته یې لیونے ۔ لیونے توروی که سپین ؟ ستا هغې سره څۀ نسبت ؟ څۀ رشته او څه تعلق ؟ څه ؟ دَ مینے تعلق ؟ مینه خو تا په خپله اولیده ، چې هغه لاړه او ته یې پریښودے ۔ هغه دَشهباز خان طوطی خیل لور ده او تۀ دَ هغې دَ یو غریب زمیدار ځوی یې لږ ځان ته خو پام اوکړه نو بیا داسے خبرے کوه ۔ آیا تۀ دَ هغې دَ مینے جوګه یې ۔ آیا ستا پلار شهباز خان سره جغ اوړے شی ۔ ته دَ خانانو په وندر کښې تلے شی ؟ نه چیرے هم نه ۔ څه خانیه خپله غریبی کوه ، خپله مزدوری کوه او خپل څادر سره خپے غزوه ۔ هغه ډیره شیبه دَ سړک په غاړه ناست وو او دغه خود کلامی یې کوله ۔ دَ خونکاره نمر دَ ځوانۍ زور ختم شوے

وو۔ دَ هغۀ دَ پلوشو چاړے پسې شوے وې او هغه دَ تور غر په سوکه داسے ښکاریدو لکه دَ یو قاتل په زیزمه چې دَ مقتول دَ وینے څاڅکے څلیږی ۔ عدنان چې هغه ته اوکتل نو یره یې ترینه اوشوه ، هغه هم عدنان سره سترګے لګولے نشوے ، شاید چې په خپلو کړو پښیمانه وو ، هغه هم په سلګو ، رپیدو دَ تور غر نه پناه شو بالکل داسے لکه یو ظالم ته چې دَ خپل ظلم احساس اوشی دَمظلوم ، مظلومیت دَ هغه دَ برداشت نه بهر شی او دَ هغه خپل ضمیر هغه دومره ملامته کړی چې هلته نور ایساریدے نشی ۔ دَ هغه دَ تلو سره سکنی ماښام دَ شپے زیرے راؤړو ۔ یو خوا ډلے ډلے توتاکرکی او نور مارغان خپلو خپلو جالو ته روان شو او بل خو دَ ښاپیر کوډلے په فضا کښې خورے شوے ۔ عدنان هم ستړے ، ستومانه ، نامراده او نیمګړے نیمه خوا په دے اراده خپل کور ته روان شو چې دَ مور په غیږه کښې ورپریوځی او هغے ته دَ خپل تاله شوی ارمانونو حال اووائی ۔ هغه دَ هغه اوښکے اوچے کړی ، هغه له تسلی ورکړی او دَ هغۀ په زړۀ کښې نوے عزم پیدا کړی ۔ په دے غرض چې هغه کور ته اورسیدو نو تیارۀ لګیدلے وه خو دَ هغه پلار او رونه لا دَ شهباز خان دَ حجرے نه ، نه وو راغلے ۔ هغه چې څانګیدلے څانګیدلے کورته دننه شو نو مور ته یې اواز اوکړو " مورے چرته یې " ؟ ګل خوبان چې دَ هغۀ اواز وورېدو نو هغه له رامنډه کړه ، په دواړه مخه یې ښکل کړو ، بیا یې دروازه بنده کړه او وے وئیل ۔ ته راغلے څویه ؟


www.pukhto.net



عدنان :۔ ( دَ مایوسی په انداز کښې ) هاؤ مور راغلم ۔

ګل خوبان :۔ هغه جینۍ دے څۀ کړه ؟

عدنان :۔ کومه جینۍ ؟

ګل خوبان :۔ کشره بی بی ، عنبرین بی بی ۔

عدنان (مسکې شی ) واه مورے واه ۔ تاته لاپته هم نشته ۔ هغه خو لاړه وادۀ شوه کنه مورے ۔ اوس به په سره بنارسی کښې دَ وادۀ په پالنګ کښې ناسته وی۔

ګل خوبان :۔ دَ وادۀ په پالنګ کښې به هغه نه ستاخور ناسته وی ۔ هغه دے څۀ کړه ۔

عدنان ( په حیرانتیا ) مورے تاته خو زما دا امید نه وو ۔ زما خور څۀ ګناه کړے ده چې په پردی پالنګ کښې یې کینوے ؟ هغه خو زما مخکښے لاړه ، کاکی خیل ته۔

ګل خوبان :۔ کاکی خیل ته ستا خور بخت بی بی لاړه ۔ دا راته اووایه چې هغه دے څۀ کړه تا خو مونږ ټول اوشرمولو ۔ داسے هم څوک کوی لکه تا چې اوکړل ۔

عدنان :۔ ولے مورے څۀ چل شوے دے ، ماته خو هیڅ معلومات نشته ۔

ګل خوبان :۔ عنبرین بی بی دے چا کره کینولے ده ۔

عدنان :۔ مورے ! هغه وادۀ شوه ، لاړه کاکی خیل ته ۔

ګل خوبان :۔ عدنانه کاکی خیل ته دَ هغے په ځائے ستا خور لاړه ۔ ستا په تبس کښې هغه لاړه ۔ ستا سزا هغے ته ملاؤ شوه ۔


Pukhto.Net

عدنان :۔ زما په تس کښې ولې ما څۀ کړی دی ۔

ګل خوبان :۔ تا عنبرین بی بی نه ده تختولې ؟ تا هغه دَ کوره نه ده ویستلې ؟

عدنان :۔ نه مورې ، زۀ دَ هغې نه خبر نه یم ، ماته خو هیڅ پته نشته ۔

ګل خوبان :۔ ته رشتیا وائې عدنانه ؟

عدنان :۔ مورې ماستا دَ سینې پې شکلې دی ۔ زۀ دَ غیرتی پلار په غیرِه کښې لوې شوې یم ۔زۀ به دا دَ بې غیرته کار څنګه اوکړم او بیا خپلو نائیکانو او خپل خانانو سره ۔ داسې به چرې هم اونشی او نه به کیږی ۔

ګل خوبان :۔ ښه نو داسې شوی دی ، عنبرین بی بی دَ نکریزو په شپه دَ کوره اوتې ده ۔ شهباز خان او دَ هغه ښځې وې چې هغه تا بوتلې ده ۔ دواړه نن سحر وختی راغلی وو او دواړو ژړل هغوی سره مونږ هم ژړل ۔ بیا دې پلار په دې پخلا کړل چې دَ عنبرین په ډولۍ کښې زما لور بخت بی بی کینوه ۔ (ژاړی) او دغه رنګې دَ عنبرین په ډولۍ کښې هغه لاړه (عدنان هم ژاړی) هائې خدایه ! څوی له مِ په ګوتو هم څه ورنه غلل او خپله لور هم رانه لاړه ۔ هائې خدایه ډوبه شوم ۔ اوځه دَ کوره زر اوځه ، تا پسې دې پلار او رونړه ګرځی ۔ که یې اولیدې نو روغ دې نه پریږدی ۔ وژنی دې ۔ شابه څویه دَ کوره اوځه "(دَ کور ورډبیږی) اوځه شابه ۔ دَ کوره او څه څویه ، زما خبره اومنه ، زۀ دې هم نشم بچ کولې ...(ورډبیږی) یَه درغلم ....او څه شابه کنه (ژاړی) وژنی دې



www.pukhto.net



څویه ګوریې ۔

عدنان :۔ زما په ژوند کښې پاتې څۀ دی ۔ زۀ نور دَ بې غیرتۍ په دې ژوند خوشحاله نه یم ۔ زما په تس زما خور لاړه ، اوچ په اوچه لاړه (ورډبیږی)

ګل خوبان :۔ چې اوځې نه نو دې کوتې ته خو دننه شه کنه ، وَه دَ خدائې عقربه دَ خپل ځان په خپله دشمن یې ۔

عدنان :۔ مورې زۀ نه غل یم نه دَ غلو ملګرې یم ۔ نه غلط یم نه دَ غلطو خلقو ملګرې یم او که هسې مِ وژنی نو ....( ورډبیږی) ۔

ګل خوبان :۔ څویه تۀ ولې نه پوهیږې ...درې عزرائیله درته ور کښې ولاړ دی ۔

عدنان :۔ مورې ته اودریږه چې زۀ ورته په خپله ورلږې کوم (هغه ورله روانیږی)

ګل خوبان :۔ نه څویه ته مه ورځه ۔ زۀ په خپله ورځم ۔ ( هغه ورله ورځی ، عالمې ) ناصر خان او سجاد درې واړه کور ته راځی ۔ چې عدنان ته اوګوری نو عالمې ځامنو ته وائی ،

عالمې :۔ هلکو! هغه حرامی راغلې دې ، خو روږمبې شروع به پرې زۀ کوم او چې زۀ پرې زړۀ یخ کړم نو بیا نور کار ستاسو دې ، هغه ورته کلاشنکوف نیسی او چې ګوته راکاږی نو ګل خوبان دَ هغه کلاشن کوف له دیکه ورکړی او تولې ګولې دَ برنډې په دیوال اولګی ۔ عالمې هغې له دیکه ورکوی او بیا ګوته راکاږی ، ګل خوبان دَ کلاشن کوف

شپیلی نیسی او لاندے زمکے ته یې کړه وی ۔ باقی پاتے تولے ګولۍ په زمکه کښې ښخے شی ۔ عدنان هغه ته داسے ولاړ وی لکه دَ ټریفک یو سپاهی چی دَ ټریفک بندولو دَ پاره خواره لاسونه ولاړوی ۔ چې چارجرتش شی نو هغه منډه کړی او دَ کلاشن کوف په کونداغ هغه په سر وهی ۔ دَ ګوزار سره عدنان په زمکه پټې سترګی راپریوځی ۔

عالمے چی هغه له بل ګوزار ورکوی نو ګل خوبان دَ هغه دَ لاسه کلاشن کوف واخلی عالمے دَ هغهٔ لاش له لتے ورکوی او وائی " دَناصر خان مورے ! ته راکړه دا کلاشن کوف ما قسم خوړلے دے چې زهٔ به د دهٔ غوښے په ګولو کښې الوځوم "۔

ګل خوبان :۔ دَ ناصر خان پلاره ! چی څهٔ دے کول هغه دے اوکړل که بل ګوزار دے ورکړو نو ښه به نه وی "۔

عالمے :۔ څهٔ څهٔ ، څهٔ دے اووے ؟ ته په ما دپکے کوې ؟ تهٔ دا پلیت زمانه بچ کی ۔

ګل خوبان :۔ دَ ناصر خان پلاره ۔ دا څهٔ چی دے اوکړل دا دے هم زیاتے اوکړو ....دے غریب څهٔ کړی دی ۔ دے خو دَ څهٔ نه خبر هم نه دے ۔ د دے غریب څهٔ ګناه ده ۔

عالمے ۔ دے غریب دے ؟ دے بے ګناه دے ؟ د دهٔ دا ګناه لږه ده چې د ده په ټس کښې زما لور لاړه ۔

ګل خوبان :۔ دَ ناصر خان پلاره ۔ دهٔ هیڅ نه دی کړے ۔ د دهٔ په ځائے درته زهٔ قسم خورم چې دے بے ګناه دے ۔ هغه ده نه ده بوتلے ، بل چا به



www.pukhto.net



بوتلے وی ۔ ته لږه حوصله اوکړه ، لږ کینه ۔

عالمے :۔ کینم نه ۔

ګل خوبان :۔ مخکښے زما خبره ووره نو بیا چی دے څهٔ خوښ وی هغه ورسره اوکړه ۔ دهٔ کښی نور پاتے څهٔ دی ۔ هغه خو مړ دے ( ژاړی ) او مړی تختی نه ۔

عالمے :۔ ښه ته څه وائے ۔

ګل خوبان :۔ ستاسو دَ راتلو نه مخکښے ترینه ما دا تول تپوسونه اوکړل ۔

عالمے :۔ او دهٔ انکار اوکړو ، دا خبره ده کنه ۔ جینۍ یې څهٔ کړه چاکره یې کینولے ده ؟

شهباز خان سره دَ ښځے او دواړو ځامنو الله یارخان او بازخان ، عالمی کره راځی ۔ هغوی تولو ته ګوری خو هغوی دومره غصه وی چی نه هغوی سلام واچوی او نه ورته هغوی سترې مشی اووائی ۔ هغوی چی عدنان په وینو کښې لیت پیت په زمکه پروت او وینی نو یو بل ته ګوری ۔

شهباز خان :۔ دا څوک دے عالمیه !

عالمے :۔ دا هغه رذیل عدنان دے ۔

شهباز خان :۔ دَ جینۍ څهٔ معلومات اوشو ۔

عالمے :۔ دَ جینۍ معلومات خو به هله کیږی چې دے په هوش کښی راشی ۔

شهباز خان :- تا چې وې ته به د دۀ غوښې په ګولو کښې الوځی - دے
خولا ژوندے دے ، ولې ؟

عالمے (ګل خوبان ته اشاره) دا دے مور رانه بچ کړو یو ځل ګولۍ په دغه دیوال اولګیدے ، په دویم ځل لاندے په زمکه -

شهباز خان :- تا نه بچ شو خو زمونږ نه ، نه بچ کیږی ، دے زما دشمن دے او مالـه یې راکـړه ، دۀ لـه بـه زۀ سزا ورکـوم - زۀ به ده له هغه سزا ورکوم چې دا ټول کلې به یاد ساتی -

عالمے :- زما زړۀ پرے لانه دے یخ - چې زۀ پرے زړه یخ کړم نو بیا به یې درکړم -

شهباز خان :- عالمیه ! زما په دشمن تاته دَ ګوزار حق نشته - دے زما دشمن دے او دۀ له به سزا زۀ ورکوم تۀ نشی ورکولے - زۀ درنه دے خپله قبضه کښې اخلم ، ستا خو پرے اعتراض نشته ؟

عالمے :- نه ، زمونږ پرے هیڅ اعتراض نشته -

ګل خوبان :- اعتراض ولے نشته ، تاسو د دے مړی نه څۀ غواړئ -

شهباز خان :- دے لا مړ نه دے - چې مړ شی نو لاش به یې درکړم -

ګل خوبان :- خان جی :- دۀ څۀ کړی دی ؟ دا غریب خو بے ګناه دے -

شهباز خان :- دَ ګناه ، ثواب پته به روستو لګی - الله یاره او بازخانه ، دے اوچت کړئ او په ګاډی کښې یې واچوئ -

ګل خوبان (عالمی او ځامنو ته) - تاسو ورته ګورئ او هغه درنه اوړی -



www.pukhto.net



عالمے :- ده کوم ښه کار کړے دے -

ګل خوبان :- اودریږه خان جی - دَ دۀ دَ اوږو نـه مخکښې دا کلاشن کوف راواخله او ما پرے پوټی پوټی کړه نو هله به دے اوړی -

شهباز خان :- عالمیه ! ستا خبره اومنو او که ستا دَ ښځے -

عالمے :- خان جی ، تـه خپـل کـار کـوه ، مور اخر مور وی (دَ هغۀ په سترګو کښی اوښکے راځی) "دَ ناصر خان مورے ، ته کوټے ته دننه شه ، څه ورځه "-

ګل خوبان :- ولے دننه شم ، چرے هم نه ، زور مو نصیب مه شه ، زور مو اوبه شه - عالمے هغه نیسی ، کوټے ته یې دننه کوی او ور ورپسی بنده وی - هغه ور ډبوی - چغے وهی او په زوره زوره ژاړی -

عالمے :- څه خان جی ! خپل دشمن دے اوړه ، چې په سترګو مې نه لګی "- الله یار خان او باز خان هغه ډنګه ډولۍ نیسی او ګاډی کښې اچوی - چې ګاډې روان شی نو عالمے یوه چغه اووهی او په چغو چغو ژاړی ، په ژړا کښی وائی "عدنانه بچے ! زۀ ډیر بے وسه ووم، ماتۀ څکه بچ نه کړے شوے چی ما ستا بـچ کـول نـه غوښتل - تۀ زمونږ په شریکه دشمن وے خو ....اوس مو اصلی دشمن ته حواله کړے - څه بچے دَ خدائے پـه امـان "- دے سره هغه یوه زړه بوګنونکے چغه اووهی او په زمکه راپریوځی -

## دریمه برخه

دَ ګوهر کاکی ناوے بخت بی بی پـه ناوے شوے ډبل بیډ کښې دَ

ریښمی جال په سائبان کښې په سره بنارسۍ کښې دَ پرفیوم په چپو کښې دَ هغه په کمره کښې ناسته وه دَ هغه انتظار يې کوو۔ هغې سره خوا کښې خدمتګاره دَ هغې دَ تحفظ په غرض ناسته وه او غلې غلې يې ورته دَ وادۀ د رومبۍ شپې دَ رموزواوقاف درس ورکوو۔ چې لس بجې شوې او ګوهر کاکی دَ خپلو دوستانو دَ ګپ شپ نه اوزګار شو نو کورته ورغې۔ دَ هغه دَ خپو په اواز باندې دَ بخت بی بی زړۀ په درزیدو شو، چې هغه کمرې ته ورغې نو خدمتګاره غلې غوندې اووته۔ ګوهر کاکی وربند کړو، مسکې شو غلې غوندې يې هغې ته اوکتل۔ بیا هغې سره کیناستو او په خوند خوند يې دَ هغې دَ مخ نه بنارسۍ لرې کړه۔ دَ هغې دَ مخ په لیدو سره دَ هغۀ دَ خولې نه اختیاره اووتل "ماشاء الله" دې سره بخت بی بی سترګې اوغړولې مسکۍ شوه او وې وئیل "سلام علیکم" ګوهر کاکی باندې دَ هغې په پستو شونډو، دَ سلام پاسته تکی دومره خواږۀ اولګیدل چې زړۀ يې غوښتل چې دَ سلام دَ جواب نه مخکښې دَ هغې شونډې ښکل کړی۔ بهرحال دې نه مخکښې دَ سلام جواب ضروری وو نو هغه په ډیره مینه اووې "وعلیکم سلام ورحمت الله وبرکاته"۔ دې سره هغه بیا مسکۍ شوه او مسکا سره دَ هغې ګل پاڼی شونډې بیلی بیلی شوې۔ غټې غټې تورې سترګې يې اوغړولې، هغه ته يې اوکتل خو اوشرمیده او سترګې يې بیا پټې کړې۔ ګوهر کاکی دَ جنت دَ حورې نوم اوریدلې وو خولیدلې يې نه ده۔ چې هغه يې اولیده نو په هغې يې



www.pukhto.net



دَ حورې ګمان راغې۔ دَ هغه دَ زړۀ یو لوې ارمان پوره شو۔ هغه دا غوښتل چې تهوله شپه ناست وی او دَ هغې دَ کرشماتی حسن تماشه کوی ځکه چې کوم صفات هغه په ښځه کښې غوښتل هغه ټول په هغې کښې موجود وو۔ هغه خپل ځان دَ فطرت د دې ښکلې ډالۍ مستحق نه ګڼلو۔ بهرحال دَ خدای دَ شکرادا کولو دَ پاره هغه جانماز راواخستو او دَ شکرانې دَ نمونځ نیت يې اوکړو۔ بخت بی بی چې هغه په نمانځه اولیدو نو هغه هم غلې غوندې پاڅیده، جانمازيې را واخستو او هغه سره خوا کښې په نمانځه اودریده۔

## څلورمه برخه

ګوهر کاکی او دَ هغۀ ناوې بخت بی بی لا دَ ځوانۍ په نشه کښې غیږ په غیږ او خوله په خوله اودۀ وو چې دَ هغه په موبائیل رنګ راغې۔ موبائیل کړنګیدو کړنګیدو چې په خپله بند شو۔ یوه شیبه پس بیا رنګ راغې، ګوهر کاکی هغه په پټو سترګو اوچت کړو، په نیم کښو سترګو يې اوکے کړو او په خوبولې اندازيې اووې "هیلو، څوک خبرې کوې"؟

اواز :۔ ستا یوه همدرده او ستا په غم کښې شریکه، دَ مرحوم نواز خان کونډه، خورجی خبرې کوم۔

ګوهر کاکی :۔ سلام علیکم خورجی۔ تاسو څنګه يې بی بی جی۔ څنګه دې بې وخته یاد کړم۔ خیر خو دې؟

خورجی :۔ بې وخته مِ ځکه یاد کړې چې تهوله شپه مِ بې ارامه وه۔ دا

راته اووايه چې تا شپه څنګه تيره کړه ۔

ګوهر کاکی :۔ ډيره ښه ، ډيره اعلٰے Fantastic ، (بخت بی بی هم ويښه شی) ۔

خورجی :۔ واه جی واه ۔ دَ خپلې ناوے نه بغير فينټاسټک ؟

ګوهر کاکی :۔ دَ ناوے نه بغير ؟ څه مطلب ؟

خورجی :۔ زهٔ افسوس کوم چې ستا ناوے دَ نکريزو په شپه خپل ډرائيور سره اوتے ده ۔ زهٔ حيرانه يم چې دَ هغے نه بغير تا شپه څنګه تيره کړه ۔

ګوهر کاکی (خاندی) تابه خوب ليدلی وی بی بی جی ۔ زما ناوے خو دا ده ماسره پرته ده ۔

خورجی :۔ دروغ مه وايه ګوهره ، که تهٔ زما نه خبره پټول غواړے نو پټولے نشې ځکه چې زهٔ هم د دغه کور ښځه يم ۔ ماته ډير افسوس دے چې هغه خپل ډرائيور سره تلے ده او مونږ ټول يې دَ خلقو دَ خندا کړو ۔

ګوهر کاکی (خاندی) ته زما په خوله يقين اوکړه چې هغه لا اوس هم ماسره په بيډ کښې ده ۔

خورجی :۔ دا هغه نه ده ، دا به بل څوک وی ۔

ګوهر کاکی :۔ دا به بل څوک وی ؟ څهٔ مطلب ؟

خورجی :۔ تهٔ ترينه تپوس اوکړه چې د دے څه نوم دے (موبائيل بند کړی)۔



www.pukhto.net



ګوهر کاکی پاسی او دَ هغے نه تپوس کوی " ستا څهٔ نوم دے "؟

بخت بی بی (په يره يره) "بخت بی بی"۔

ګوهر کاکی :۔ اف خدايه دا څه اوشو ۔ تهٔ دَ چا لور يې ؟

بخت بی بی :۔ زهٔ دَ عالمی لور يم ۔

ګوهرکاکی :۔ ستا نوم عنبرين نه دے ؟ تهٔ د شهباز خان لور نه يې ؟

بخت بی بی :۔ نه زما نوم عنبرين دے او نه زهٔ دَ شهباز خان لور يم ۔

ګوهر کاکی :۔ ما خو نکاح عنبرين سره تړلے ده ۔ تهٔ دَ کومے راغلې ۔

بخت بی بی :۔ هغه دَ نکريزو په شپه دَ کوره اوتے ده ۔ زما پلار ستاسو او دَ شهباز خان دَ عزت ساتلو دَ پاره دَ هغے ډولۍ کښې زه کينولم ۔

ګوهر کاکی :۔ عنبرين چاسره اوتے ده ۔

بخت بی بی :۔ زما رور سره ۔

ګوهر کاکی :۔ اوه ستا رور زما دَ نکاح ښځه اوتختوله ۔ ماپورے او زما ټول ټبر پورے يې خند اوکړه او زهٔ به دَ هغه خور ته ښځه اووايم ۔ شابه ځان تيار کړه چې خپل کور ته دے اورسوم ۔

بخت بی بی :۔ صيب جی ۔ ديکښے زما څهٔ قصور دے ؟ زما څهٔ ګناه خطا ده ۔ ماته دَ څهٔ سزا ملاوېږی ؟ دَعنبرين د غلط قدم سزا ده چې دَ هغے په ځائے زهٔ ډولۍ کښې واچولے شوم زما دَ ورور دَ غلط قدم سزا دا ده چې د ډولۍ نه کوزيږم ۔ زهٔ دَ خپل عزت تپوس دَ چانه اوکړم ۔

ګوهر کاکی :۔ دا تپوس دَ هغه چانه اوکړه چی چا ډولۍ کښې کينولے يې ۔ شابه تياريږه ۔

بخت بی بی :۔ صیب جی که زما نه څۀ غلطی شوے وی نو زۀ درنه معافی غواړم ۔

ګوهرکاکی :۔ نه تانه غلطی نه ده شوے ، ستا هیڅ ګناه ، خطا نشته ، خو دا خبره پته نشی پاتے کیدے ، یوه ورځ به دا ضرور ښکاره کیږی ۔ ښۀ خبره دا ده چې دا قیصه په دے ځائے ختمه کړو او تا پټ په پټه کور ته اورسوم شابه ځان تیار کړه ۔

بخت بی بی :۔ صیب جی ۔

ګوهر کاکی :۔ نورے خبرے مه کوه تیاریږه ۔ زۀ ګاډے را اوباسم چې دے ارسوم ۔ دَ ګوهر او بخت بی بی په ښکالو باندے دَ هغه مور او پلار دواړه پوهـ شوے وو ۔ هغوی ډواړو دَ هغوی خبرے اوریدلے وې ۔ چی ګوهر دَ کمرے نه بهر اوځی نو مور ترینه تپوس کوی "ولے ګوهره چرته ځے " ؟

ګوهر چی مورته خبره شروع کړی نو پلار یې هم راشی او هغه سره اودریږی چی هغوی دَ ټولے خبرے نه خبر شی نو پلار ورته وائی " ځه ځویه دا پلار کره اورسوه او ته هم یو څو ورځو له اسلام آباد ته لاړ شه ۔ مونږ به میلمنو ته دا بهانه اوکړو چې هغوی په هنی مون بهر ته تلی دی ۔ نور زۀ پوهـ شه او شهباز خان پوهـ شه ، تۀ ځان اوباسه "۔

هغوی لا دا خبرے کولے چی بخت بی بی تیاره شوه او دَ هغه په انتظار کښې په درشل اودریده ۔ ګوهر ګاډے ستارټ کړو ۔ دَ هغه مور ، پلار دواړو هغه په مینه او ډکو سترګو ګاډی کښې کینوله ۔ دَ ګوهر په


www.pukhto.net



سترګو کښی هم اوښکے راغلے ۔ بخت بی بی لا خپلی اوښکے په کاکو کښې ټینګې ساتلے وې خو چی کله ګاډے روان شو نو ګوهر هم سلګۍ وهلے او دَ هغه مور پلار هم ۔

دَ سحر اذانونه دَ سحر په خاموشه فضا کښې کړنګیدل چی ګوهر کاکی دَ عالمی دَ کور مخے ته ګاډے اودروو ۔ هغه دَ ګاډی نه کوز شو ، هغے ته یې دَ ګاډے کړکۍ لرے کړه او هغے سره یې دَ ګاډی نه په کوزیدو کښې مدد اوکړو ۔ عالمے دَ سحر نمانځه له پاڅیدلے وو او جمات ته روان وو۔ چی څنګه هغه ورلرے کړو او بخت بی بی ته یې اوکتل نو په حیرانتیا یې اووے ۔ " بخت بی بی تۀ " دے سره ګوهر کاکی ګاډی له خپه ورکړه اوروان شو ۔ عالمی هغۀ ته یو نظر اوکتل ، بیا یې دَ هغے په سر لاس کیښودو او کور ته یې دننه کړه ۔

Pukhto.Net پښتو

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

☆☆☆

☆

## لسم باب

د عدنان دَ تلو نه پس دَ تابش په سفارش باندے خورجی نجمه بیا بحال کړے وه او هغے خپل کار شروع کړے وو ـ خورجی چې دَ عنبرین په تلاش کښې دَ طوطی خیل نه دَ هغے دَ وادۀ په ورځ اوتے وه نو دَ هغے ډولی له هم لاړه نه ړه ځکه چې هغے ته پته وه چې عنبرین اوتے ده او دَ کاکی خیلو جنج به تشه ډولۍ واپس ځی ـ په دغه خوشحالۍ کښې هغه خپلی بنګلے ته لاړه او پرله پسے یې دوه بوتلے اوڅکلې ـ چی کله دَ هغے سترګے سرے شوے اوجذبات یې دَ برداشت نه اووتل نو تابش ته یې رنګ اوکړو ـ چی دَ هغۀ له خوا ورته څۀ جواب ورنه کړے شو نو بیا ئے عنبرین ته اوکرو او چی کله دَ هغے نه هم مایوسه شوه نو بیا یې په ټی وی دَ یو غیر اخلاقی فلم سی ـ ډی اولګوله او هغے سره په مشغوله شوه ـ په دغه شغل کښې یې سترګے ورغلے او دَ سحر نه دَ شپې دوو بجو پورے اوده پرته وه ـ چی کله په روستۍ شپه کښې ویښه شوه نو بیا یې تابش له رنګ ورکړو خو دَ هغه موبائیل بند راتلو ـ دے نه پس یې عنبرین یو ځل بیا کنټیک (Contact) کولو کوشش اوکړو خو دَ هغے رابطه ورسره اونشوه ـ بیا څۀ نورو دوستانو له یې کالونه ورکړل خو چا سره یې هم رابطه اونشوه البته یو ګو هر کاکی سره یې خبرے اوشوے او چی کله هغه دَ خپل شیطانی حرکت نه مطمئنه شوه نو بیا اوده شوه یؤلس بجے ناشتے له راپاسیده او چې دَ خپل ډول سنګارنه اوزګاریده نو دولس بجے وې ـ دَ ناشتے نه مخکښے


www.pukhto.net



یې تابش له بیا رنګ ورکړو او هغه له یې په ناشته دعوت ورکړو خو هغه دَ ناشتے په موډ کښې نه وو ـ چې هغه دَ ناشتے نه فارغه کیده او خپلے کمرے ته راتله نو تابش ورله د راتلو خبر ورکړو ـ هغه په خپله کمره کښې دَ هغه په انتظار کیناسته ، یو بوتل یې په خپل میز کیښودو او بل یې دَ هغۀ ، چی تابش راغۍ نو خورجی په ډیره مینه هغه ته هرکلے اووے او دَ هر کلی سره یې ورله مبارکی هم ورکړه او وے " مبارک شه تابشه چی ستا دَ زړه ارمان پوره شو " نن زۀ ډیره خوشحاله یم چې زه خپل دوست ته کوز سترګے نشوم او ما دَ هغه ارمان پوره کړو ـ یو ځل دے بیا مبارک شه تابشه او دَ مبارکی سره سره دے خپل بوتل اوچت کړه ـ

تابش :ـ دَ څۀ مبارکی ؟ که ته دَ عنبرین خبره کوې نو ماله په ګوتو هیڅ نه دی راغلے ـ

خورجی :ـ ولے ؟ هغه خو دَ ګوتے په اشاره ما ستا په ګاډی کښې کینولے وه ـ

تابش:ـ تا به کینولے وی ، ستا په خلوص کښې څۀ شک نشته خو داسے معلومیږی چی هغه لاړه دَ بل چا شوه ـ

خورجی :ـ دَ بل چا شوه ؟ څه مطلب ؟

تابش :ـ مطلب دا چی زه ورپسې په خپله نه ووم تلے ، بل سړے مې لیږلے وو خو داسے معلومیږی چې هغه پرے خوښ شو ـ

خورجی :ـ تا ورسره رابطه نه ده کړے ؟

تابش :۔ څو څو ځله مې کوشش اوکړو خو دَ هغه موبائیل خاموش دے ۔

خورجی :۔ ماخپله وعده پوره کړه اوس ته هم خپله وعده پوره کړه (هغه دَ بوتل نه یو ګوټ کوی )

تابش:۔ تاخپله وعده نه ده پوره کړې ۔ پوره به هله وه چې ستا دَ وعدے مطابق هغه تا ماسره ملاؤ کړے وه ( هغه دَ بوتل نه پرله پسی دوه ، درے ګوټه اخلی )

خورجی :۔ خوښخه دے نه وه چې زۀ ورسره په خپله راغلے وے او دَ هغے لاس مې ستا په لاس کښې درکړے وې ۔ ( په بوتل خوله کیږدی او نیمې ته یې رسوی )

تابش:۔ چې داسے دے کړے وې نو هله به ستا وعده پوره شوے وه ۔

خورجی :۔ اخوا دیخوا مه کوه ، لاړ شه نکاح نامه اولیکه او ماله یې راؤړه چې دواړه پرے دستخطے اوکړو او دَ وادۀ رسم ادا کړو ( هغه پوره بوتل تش کړی او خالی بوتل په میز کیږدی )

تابش :۔ ته ماسره ډیر زیاتے کوې ۔ دَ بل کرۀ په ما ولے راتپې ؟

خورجی :۔ دا هم ستا کرۀ دی ۔ دا هم ستا وینه او هم تۀ د دۀ پلار یې ۔

تابش:۔ تاسره د دے څۀ ثبوت دے چې زۀ دَ دۀ پلار یم ( هغه بوتل تشوی او په میز یې اړدی )

خورجی :۔ زمانه بل لوئے ثبوت څۀ کیدیشی ۔ زۀ د دۀ مور یم او ماته هرڅۀ معلوم دی ۔

تابش :۔ کیدیشی دے دَ بل چا وی ۔



www.pukhto.net



خورجی :۔ تابشَ ، سمے خبرے کوه ۔ ( هغه پاڅی او یو بل بوتل راخلی ) ۔

تابش:۔ ولے دا سمے خبرے نه دی ؟ نه دا زما اولاد دے او نه زۀ د ده پلار یم ۔

خورجی ( په بوتل خوله اړدی او نیمې ته یې رسوی ) "ګوره تابشه ماستا دَ پاره څۀ څۀ نه دی کړے ستا دَ پاره ما خپله ځوانی خاؤرے ایرے کړه خپل خاندان مې رسوا او دَ خلقو دَ خندا کړو ۔ ته ماله زما دَ قربانۍ دا صله راکوې ، ډیره دَ افسوس خبره ده چی ته داسے وایې ۔

تابش:۔ تۀ په دۀ کښې دومره دلچسپی ولے اخلے ؟ پریږده چې پیدا شی دارالاطفال ته به یې اولیږو ۔

خورجی :۔ نه داسے نشی کیدے ۔ زۀ ویم چې دے زما وارث شی (هغه بوتل په خوله راړوی او ټول څکی)

تابش (خاندی) ښه نو د دے هم یوه لار شته ۔ زۀ به تاسره نکاح اوکړم خو دَ نکاح نه مخکښے به خپل ټول جائیداد بشمول دا بنګله او خپل ټول مال ودولت ماله راکړے ۔

خورجی :۔ چې دا تاله درکړم نو دۀ ته به څۀ پاتے شی ۔ د دۀ مستقبل به څۀ وی ۔

تابش (خاندی) که هلک وو خو د دۀ مستقبل به داسے وی لکه زما او که جینۍ وه نو لکه ستا۔

خورجی :۔ زۀ نه غواړم چی زما اولاد دے ستا یا زما غوندے شی ۔

تابش:۔ یو مور ، پلار هم دا نه غواړی چې دَ هغوی اولاد دے په غلطو لارو سر شی ۔

خورجی :۔ ټیک ده ، زۀ به خپل ټول مال ودولت تاله درکړم خو ته به ماله د دے ماشوم دَ تعلیم وتربیت او د دۀ دَمستقبل ګارنټی راکوې ۔

تابش:۔ چرے هم نه ، زما په دۀ کښې هیڅ دلچسپی نشته ۔ زۀ خو صرف ستا دَ شرم پټولو دَ پاره ، ستا په وینداسے کوم ۔ زۀ د دۀ النه پالنه نشم کولے ۔

خورجی :۔ زۀ تا څنګه پوهـ کړم چی دا ستا اولاد دے ، دا ستا وینه ده ( په اوچت اواز )

تابش:۔ زۀ دا څنګه اومنم چی دا صرف زما وینه ده او په دے کښی دَ بل چا ګډون نشته ( په اوچت اواز) ستا تعلقات خو صرف زما پورے محدود نه دی ۔

خورجی :۔ تانه بغیر زما تعلقات چاسره دی ۔ اووایه ، شابه ، شابه ( په اوچت اواز )

تابش (غلے غوندے ) زبانی درته اووایم او که ویډیو سی ۔ ډیز درته اوښایم ۔

خورجی :۔ ښه نو لکه تا زما ویډیو سی ۔ ډیز هم تیار کړی دی ؟

تابش :۔ مانه دی تیار کړے ، هغه چا تیار کړی دی ، چاسره چی تا پروګرامونه کړی دی ۔

خورجی ( په غصه ) ته انتهائی بے شرمه ، او بے غیرته سړے یې ۔





ایډییټ (Ediot)

تابش ( په غصه ) ولے بده درباندے اولګیده ۔

خورجی :۔ راکړه ماله هغه ټول سی ۔ ډیز او چی بیا په دے طرف رانشی ۔

تابش :۔ ستادَ پروګرامونو ویډیو سی ۔ ډیز په بازار کښی خرڅیږی ۔ که ته غواړے نو نجمه اولیږه چی دَ بازار نه درله راوړی ۔

خورجی ( په غصه ) ۔ تۀ یو شیطان فطرته اوبے حیا سړے یې ۔ بے شرمه ، بے غیرته ۔

تابش :۔ تۀ یوه بازاری ډمه یې او دَ هرچا په غیږه کښې پرته یې ۔

خورجی ( په غصه ) څۀ دے اووے ؟ څوک بازاری ډمه ده ۔

تابش :۔ وودے نه ریدل ۔ تۀ او صرف تۀ ۔

خورجی په هغه دَ بوتل ګوزار کوی ۔ هغه سرټیټ کړی ، بوتل په دیوال اولګی او چوری چوری شی ۔ تابش هم په طیش کښې راشی ، هغه پرے هم دَ بوتل ګوزار کوی خو هغه ډیر په چالاکۍ ترینه ځان بچ کړی ، بوتل دَ T.V په سکرین اولګی ، سکرین او بوتل دواړه چوری چوری شی ۔ خورجی دَ هغۀ دَګوزار په جواب کښې طماچه را اوباخی او هغه ته یې نیسی ، تابش هم ډیر په تیزۍ سره طماچه را اوباخی او هغه ښنخه کړی ۔ دواړو یو بل ته طماچے نیولے وی او دَ قهر سترګے یې په یو بل ښخے کړے وی ۔ په دیکښے دوه غبرګے ډزے اوشی ۔ تابش په شا لاړ شی او کټ کښې پریوځی ۔ خورجی دَکټ نه لاندے



Pukhto.Net
www.pukhto.net

دَ بوتل په شیشو پریوځی ۔ ډزو سره نجمه خپل کار پریږدی او دَ خورجی کمرے ته منډه کړی خو چې هغوی په وینو کښې لیت پیت اودَ ځنکدن په حالت کښې اووینی نو واپس منډه کړی او په یو شغ دَ کوره اوځی ۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆





## یوُلسم باب

سیدر حیم کاکی او دَ هغهٔ ښځے دَ شهباز خان او دَ هغه دَ ښځے له خوا دَ اوومے انتظار کوو خو چی دَ هغوی له خوا ځوک اوومے له ورنه غلل نو مازیګر سید رحیم کاکی په ګاډی کښې کیناستو او دَ شهباز خان حجرے ته لاړو ۔ په حجره کښې هغه او دَ هغه دواړه ځامن موجود وو ۔ دَ هغه په لیدو باندے دَشهباز خان رنګ زیړ شو ۔ دَ روغ جوړ نه پس سید رحیم کاکی دَ میلمنو په خاص کمره کښې کینولے شو ۔ شهباز خان هغه ته یو نظر په خړو سترګو اوکتل او څهٔ ویل یې غوښتل خو جرأت یې اونکړے شو ۔ کاکی خان په هغه پوهـ شو او وے وئیل "شهباز خان ! تا دَ ناوے دَ خیر خیریت تپوس اونکړو۔

شهباز خان :۔ هنّ ، هاؤ ، خان لالا زما لور عنبرین څنګه ده ؟

سید رحیم کاکی :۔ ستا دَلور ماته پته نشته چې څنګه ده او کوم ځائے ده خو تا چی کومه ناوے مونږ ته په ډولۍ کښې اچولے وه ، هغه مو خپلو وارثانوله لیږلے ده او اوس ستا لور پسی راغلے یم ۔ ورشه پاسه هغه راوله چې زهٔ یې په ګاډی کښې ځان سره بوځم ۔

شهباز خان :۔ خان لالا ، تاته ډیر ملامته یم چی ....

کاکی خاکی (دَ هغهٔ خولے نه خبره اخلی ) نه ، نه ، خیر دے داسے کله کله کیږی ۔ په وادهٔ کښی ګنه ګونه وی او کیدیشی دَ هغے په ځائے پکښی چا بله کینولے وی ۔ اوس هم څهٔ تلی راغلې نه دی ۔ زهٔ به یې پټ په پټه اورسوم او یو غوږ او بل غوږ به خبر نشی ۔



www.pukhto.net

شهباز خان :۔ خان لالا تاته ډير ملامته يم او ملامته ځۀ چې شرمنده يم او تا سره سترګے نشم لګولے ۔ خولے له مِ نه راځی خو تانه ځۀ پړده زما لور او ستا اينګور دَ وادۀ په شپه چا بوتلے ده ۔

کاکی خان :۔ چا بوتلے ده ؟ ځۀ مطلب ؟ ستا په کور ډاکه راغلے وه ؟ او دوے ټول کور نه يې زما اينګور بوتله ؟ د دے مطلب دا دے چی تا ماسره دهوکه کړے ده او زۀ تانه دا تپوس کوم چې دا ولے ؟

شهباز خان :۔ ستا دَ ولے جواب زۀ لا جوابه کړے يم ۔ خان لالا زه ستا مجرم يم ۔ زۀ په اعتبار کښې اووهلے شوم ۔ زما خپل ډرائيور ماسره داسے اوکړل۔

کاکی خان :۔ اعتبار کښې خو زۀ اووهلے شوم ۔ تا دَ خپلې لور په بدل کښې دَ يو غريب زميدار لور ماته په ډولۍ کښې واچوله ۔ ستا ځۀ خيال وو چې دا خبره به پټه په پټه پاتے شی ۔ دَ اوښانو غلا په ټيټه نه کيږی شهباز خانه ۔ تۀ خپل ځان دَ بدنامی نه بچ کوے اوما بدناموے ۔ د دے خواۀ شا کلو ټولو خلقو ته پته ده چې ستا لور زما اينګور ده ۔ چا چې دا بوتلے ده په هغه ځۀ اعتبار که هغه يې بازار ته اوباسی نو ستا نوم به څوک نه اخلی ماته به ګوته نيسی ۔ او وائی به چې دا دَ سيد رحيم کاکی اينګور ده ځکه چی ټولو ته پته ده چې تا ماته په ډولۍ کښې اچولے ده ۔ دے نه علاوه هغے پسې دَ پنځوس جريبه زمکے دَ مهر انتقال دے ۔ صبا که دغه زمکه هغه خپل خاوند پسې انتقال کړی يا يې په بل چا خرڅه کړی نو بيا ؟ زۀ خو تا په شرمونو اوشرمولم ۔



www.pukhto.net



شهباز خان :۔ زۀ ځۀ اوکړم خان لالا ، زمانه خو يو ، دوه خطا دی ۔

کاکی خان :۔ ته داسے اوکړه چې هغه هر چرته وی ، لاړ شه ورپسې او راې ولـه ۔ اوس به ځۀ لوړه جوړے ته راکاړو خودا خبره چی څومره زړيږی هومره به د دے بوئيں خوريږی ۔

شهباز خان :۔ دَ هغے هيڅ پته نه لګی خان لالا ۔ هلک مِ په وهلو وهلو اوپړسوو خو هغه دغه يوه خبره ټينګه کړے ده چې ماته پته نشته ۔

کاکی خان :۔ کوم هلک ؟

شهباز خان :۔ عدنان چا چې هغه بوتلے ده هغه ما نيولے دے او ماسره دے او که تۀ پرے ځۀ دم درخا چُف کړے او ځۀ انکشاف ترينه اوکړے ؟

کاکی خان :۔ تۀ هغه ماله راوله ، زۀ هغه ليدل غواړم ۔

شهباز خان :۔ دا هيڅ ګرانه نه ده ( ځامنو ته ) ورشئ هلکو هغه راولئ ۔

Pukhto.Net

هغوی دواړه ورغلی او هغه په داسے حالت کښې راولی چې دَ هغه نه قميص ويستلے شوے وی او دَ هغه مخ سر په وهلو وهلو پړسيدلے وی ۔ کاکی خان هغه ته په غور سره ګوری او وائی "ښه بچے يو تپوس درنه کوم خو رشتيا رشتيا به وائی چی ستا دا جينئ خوښخه وه ۔

عدنان :۔ هاؤ خان جی زما خوښخه وه ۔

کاکی خان :۔ تا چی هغه بوتله نو تاته دا پته نه وه چی دَ هغے نکاح زما ځوی سره شوے ده ۔

عدنان :۔ مانه هغه تختولے ده او نه ماته دَ هغے دَ نکاح پته شته ۔

کاکی خان :۔ تا چې اوس اووے چې ستا خوښخه ده ۔
عدنان :۔ خوښخیدل نه څۀ ګناه ده او نه څۀ جرم دے ۔
کاکی خان :۔ او اغوا کول یا تختول ؟
عدنان :۔ دا ګناه هم ده او جرم هم دے ۔
کاکی خان :۔ چې تا نه ده اغوا کړے نو دا کار چا اوکړو ۔ ستا په چا شک دے ۔
عدنان :۔ دا کار هر چا چې کړے دے خو دیکښے دَ خورجی لاس دے ۔
کاکی خان :۔ خورجی څوک ده ۔
شهباز خان :۔ دا زمونږ دَ نواز خان تېږ دے ۔
کاکی خان :۔ خورجی خو دَ شهباز خان دَ کور عزت دے هغه به دا کار څنګه اوکړی ۔
عدنان :۔ دا تپوس تاسو دَ هغے نه اوکړئ ۔
شهباز خان :۔ خان لالا لس کاله دَ نواز خان دَ مرګ اوشو او تر اوسه پورے هغه دَ هغۀ په پټ کښی ناسته ده ۔ دَ هغے دَ ستر او پړدے دا حال دے چې په دے لسو کالو کښی یعنی دَ نواز خان دَ مرګ نه پس ما دَ هغے مخ نه دے لیدلے ۔ ماسره هم دَ پړدے په شا خبرے کوی او دَ ځامنو نه م هم ستر کوی ۔ په خپله بنګله کښې نوکر نه ساتی ۔ یوه خدمتګاره ورسره وی نور هیڅ څوک نه ۔ شپه ورځ په خپله کمره کښې ناسته وی او هغه پسی ژړا ګانے کوی او دا رذیل په هغے الزام لګوی ۔ هغه خو فرشته ده فرشته ۔





کاکی خان :۔ عدنانه بچے چې څۀ شوی دی هغه اوشو ۔ تاسره زمونږ نور څه کار نشته ۔ تۀ اوس مونږ ته صرف دَ هغه ننجخه پته اوښایه چې هغه چرته ده ۔
عدنان :۔ خان جی تاسو زما په خوله ولے اعتبار نه کوئ ۔ ماته دَ هغه هیڅ معلومات نشته ۔
کاکی خان :۔ ګوره بچے زما دے سپینو ږکو ته اوګوره ولے م شرموے ته مونږ ته هغه ځائے اوښایه په کوم چې ستا شک دے ۔ زۀ تاسره وعده کوم چې تا ته مونږ هیڅ نه وایو ۔ چې پټ په پټه دا کار اوشی نو زمونږ حیا به په حیاشی او وایه بچے شاباش ۔
عدنان :۔ خان جی چې تاسو زما په خوله یقین نه کوئ نو تپوس رانه ولے کوئ ۔ ما خو درته اووې چې دَ خورجی نه تپوس اوکړئ کیدیشی هغے ته معلومات وی ۔
شهباز خان :۔ اینې ته ګورے دے رذیل ته ۔ تاویږی راتاویږی او هغے غریبې له راځی خپل ځان خلاصوی او مونږ له هغه خوله کښې راکوی ۔
کاکی خان :۔ ولے شهباز خانه دے کښې څۀ قباحت دے ۔ یو خوله تپوس ترینه اوکړه ۔
شهباز خان :۔ دَ هغے نه به مونږ څۀ تپوس اوکړو خان لالا ، هغه غریبه خو دَ ځان په حال نه ده ، بله دا چې هغے مونږ ته ویلے دی چې هغه ده پسې اوتے ده ۔



Pukhto.Net
www.pukhto.net

کاکی خان :۔ ستا پوره يقين دے چې دا کار دۀ کړے دے ۔

شهباز خان :۔ سل په سله ۔

کاکی خان :۔ نو بيا ته ورته لاګوړے ۔ اونيسه ورته کلاشن کوف اودوړه يې کړه ۔

شهباز خان :۔ هم داسے به کوو ۔ د دے بله لاره نشته ۔

کاکی خان :۔ په تا مِ اعتبار نشته ۔ دے ماته حواله کړه ۔ دے زما دشمن دے ۔

شهبازخان :۔ دے زمونږ دَ ټولو دشمن دے ۔

کاکی خان :۔ دۀ له لاس خپې اوتړۍ او زما ګاډي ته يې اولئ۔ چې ده ته زه دَ مرچکو لوګے اوکړم نو په خپله به دا ده شی ۔ الله يارخان او باز خان هغه له خپې لاس کلک اوتړی او دَ سيد رحيم کاکی ګاډي کښې يې واچوی ۔

## دويمه برخه

دَ عالمی په کور دَ غمونو هغه شرق را پريوتو چې دَ هغۀ خوشحاله کورنۍ يې ټوله په زړۀ سوری کړه ۔ دَ عدنان په وجه دَ هغوی دَ زړونو نه لا وينے څڅيدے چې دَ پاسه پرے دَ بخت بی بی غم راغی۔ په عالمی باندے سپنې مړے شوے وې ۔ دَ پټی تګ راتګ يې کم شوے وو او زيات وخت به يې په کور کښې تيره وو دَ ماسخوتن او سحر نمونځونه به يې په جمات کښې کول ځکه چې دا په تياره کښې وو۔ دے نه علاوه نور ټول نمونځونه يې کور کښې کول ۔



www.pukhto.net



دَ شهباز خان او دَ سيد رحيم کاکی دَ کورونو نه علاوه دَ عنبرين او عدنان دَ واقعے نه دَ کلی څوک خبر وو او نه دَ بخت بی بی او ګوهر کاکی دَ کيس نه ۔دا هر څه صرف دغه دريو کورنو ته معلوم وو خو عالمی ته داسے ښکاريده چې دَ دواړو کلو هر سړے او هره زنانه د دے واقعاتو نه خبر دی ۔ هغه ته خپل ځان ډير ملامته او کچه ښکاريدو ۔ په آئينه کښی دَ مخ کتو نه هم شرم ورتلو ۔ چې هر چرته به يې دوه ، درے کسان خپلو کښې په خبرو اوليدل نو هغه ته به دا احساس کيدو چې دغه کسان جوړ دَ هغوی خبرے کوی ۔ دَ پټی دَ تګ راتګ نه علاوه هغه دَ شهباز خان حجره هم پريښې وه او چی دَ جنج په ورځ دَ هغه دَ حجرے نه راوتے وو نو بيا نه وو ورغلے ۔ دغه شان دَ هغۀ ځامن ، ناصر خان او سجاد خان هم وو بلکه هغوی خو ورپسی کلے هم پريښے وو ۔ سحر په خړه به پټی ته لاړل نو ټوله ورځ به يې پټی کښې کار کوو او ماسخوتن تياره به کلی ته راتلل ۔ شهباز خان به کله کله ورپسے سړے را اوليږو خو عالمی به ورته څه انه ، بهانه اوکړه او خبره به يې اخوا ديخوا کړه ۔ لس ، دولس ورځے پس چې دَ تابش او خورجی لاشونو بدبوی شروع کړه نو دَ ګوانډ خلقو پوليس ته اطلاع ورکړه ۔ پوليس چې موقعے له راغلل او جائے واردات يې اوليدو نو دواړه لاشونه يې فورا پوسټ مارټم له اوليږل او دَ کيس تفتيش يې شروع کړو ۔ پوليس دَ خورجی دَ کمرے خفيه څيزونه چې هغے کښې مختلف تصويرونه فلمی او غير فلمی ويډيو سی ډيز شامل وو په

خپله قبضه کښې واخستل ـ دَ تابش او خورجی طماچې یې لیبارټرۍ ته اولیږلې او دَ رپورټ په لیکلو کښې مصروف شو ـ دې نه علاوه دَ تابش دَکور تالاشی هم واخستلے شوه او دَ غیر اخلاقی ویډیو سی ډیز نه علاوه دَ شرابو او نور ممنوعه مشروبات ، دَ پوډرو او چرسو ډیرے پیټۍ برآمد شوے ـ پولیس ته پوره معلومه شوه چې دا دواړه په هر لحاظ سره بدکرداره وو ـ دواړه دَ شرابو په نشه کښې وو او دواړو په یو بل فائر کړے دے او یو بل یې ویشتلے دے ـ دَ پوسټ مارټم نه پس دَ هغوی وارثان خبر کړی شو او دواړه لاشونه خپلو خپلو وارثانو ته حواله شول ـ

دَ تابش لاش دَ هغه خپلوانو علاقه غیر ته یوړو او دَ خورجی لاش شهباز خان طوطی خیل ته راؤړو ـ دَ خورجی ستر او پړده په ټول کلی کښې یو مثال وه ، دَ هغې دَ تقویٰ او پرهیز ګاری به هر سړی خبرے کولے ـ دَ هغې په بے ګناه قتل هره سترګه لونده او هره شونډه اوچه وه ـ هم دغه وجه وه چې دَ خواؤ شا کلو ټولو خلقو په ګڼ شمیرتعداد کښې دَ هغې په بے ګناه مرګ دَ غم او افسوس اظهار اوکړو او دَ هغې قتل له یې دَ شهادت درجه ورکړه ـ دَ شهباز خان حجره درے ورځے پرله پسے دَ خلقو نه ډکه وه خو عالمې ، دَ هغه ښځه او دَ هغه ځامن نه دَ هغې جنازے له ورغلل او نه دعا له ـ دَ کلی خلق خو په داسے موقعه هر سړے دَ نظره اوباسی او په تیره تیره دَ عالمی غوندے محنتی ، خدمتی او دَ کار سړے دَ چا هیریدے شی او که دَ نور چا په خیال کښې



www.pukhto.net



وو او که نه خو دَ ګل دین کاکا او عملی ماما کله هیریدے شو ځکه چې هغه بله ورځ دَ هغۀ دَ لور په وادۀ کښې هرڅه دَ هغه په لاس وو ـ پوره یوه میاشت یې دَ هغۀ حجره نیولے وه خو اوس ولے ښکاره نشو ـ چې چرته به په لاره ، کوڅه ، پټی یا حجره کښې دوه څلور کسان جمع شو نو دا خبره به یې مینځ ته را واچوله او په دے به یې شخوند وهو ـ ډیرے خولے او ډیرے وے ، چابه څۀ وے چا به څۀ خو دَ مینځ نه څوک خبر نه وو او دَ بنیادی خبرے معلومات چاته نه وو ـ ګل دین کاکا او عملی ماما لکه دَ دوو فلاسفرانو په دے بنیادی نکته ډیر سوچ او فکر اوکړو خو هیڅ په پته پو هـ نشو ـ عالمې په دغه ګرما ګرمۍ کښې د کوره بهر اونه وتو ـ ګل دین کاکا ورپسې څو څو ځله پټی ته لاړو خو هغه یې اونه لیدو ـ څو څو ځله دهغه دَ ځامنو مخکښے روستو هم تیر راتیر شو خو دَ هغوی نه په تپوس یې زړۀ اوبه او نه څکلے، چې اونشوه نو یو مازیګر ورپسې کور ته ورغې او وریې ورته اوډبوو ـ دَ عالمی په ځائے ورسره دَ هغه ښځے خبرے اوکړے او په دے یې ترینه ځان خلاص کړو چې هغه ناجوړه دے او کټ کښې پروت دے ـ ګل دین کاکا خو په داسے کارونو کښې ډیر ماهر وو ، هغه ته هغه زوړ متل رایاد شو چی " غل کنډر کوو وري او موندو " ، جوړ غټ پریکړی یې اووے ـ "ماته پته ده خورے چې هغه ناجوړه دے خو زۀ دَ هغه تپوس له راغلے یم ، خورے پړده اوکړه زۀ هغه لیدل غواړم "ـ په دے چل ګل دین کاکا ته ، کور ته دَ ورتلو او هغه سره دَ ملاقات موقعه په لاس



Pukhto.Net

راغـلـه ـ عالمې واقعی ناجوړه وو او په کټ کښې پروت وو ـ دواړه روغ جوړ اوکړل او ګل دین کاکا هغه ته مخامخ په کټ کښې کیناسو هغه تـه چې دَ خبرے مـوقـع ملاؤ شوه نو وے وئیل "ماوے چې ناجوړه به وی ګیـنـې عـالـمـے دَ پاتـے سـړے نه دے ـ منې که نه ، زما شک بالکل صـحیـح ثـابت شو ـ دا ښه ده چې تپوس له دے راغلم ګینې تابه ګیله کوله او زه به خبر نه ووم ـ ما وے راشه ګل دینه تپوس یې اوکړه ـ

عـالـمـې :ـ ډیره مهربانی ګل دین کاکا چې په دے مات ګوډ وجود دے دومره تکلیف اوکړو او زما تپوس له راغلے ـ

ګـل دیـن کـاکـا :ـ خبر خـو به نه یې ، دَ نواز خان ښځه خورجی بی بی وفـات شـوه ـ خـداې دے اوبښـی ډیره نره او پښـتـنه ښځه وه ـ لس کاله کـنـتـون یـې اوکړو او مجال شته که چای مخ لیدلی وی ـ یره عالمیه ! یـوه جـنـتی ښځه وه ، که دَ هغے جنازه دے لیدلے وے نو حیران شوے به وے خلق ورله لکه دَ مچ ، میرو را چلیدل اوې چی ځنګه مُلا دَ الله اکبر اواز اوکـړو نـو دَ تـوتـاکرکو سیلونه لا روان وو او ټول اسمان یې تک تور کـړو ـ زۀ خـو خـداې شته په دے خبرو ډیر نه پو هیږم خو چې دَ یو مُلا نـه مِ په دے باره کښې تپوس اوکړو نو هغه راته اووے چې دا توتاکرکی نـه وو بـلـکه فرشتے وے دَ جنازے نمونځ له راغلے وے ـ او دَ هغه خبره مِ تـکـے پـه تـکـے مغزو واخسته ځکه چې جنازه اوشوه نو بیا هیڅ نه وو اسمان بالکل صفا وو ـ

عـالـمـې :ـ بالکل ، بالکل ـ خورجی ډیره پښـتـنه ښځه وه ـ خداې دے



www.pukhto.net



جنتونه ورکړی ـ

ګل دین کاکا :ـ سره زما او سره دَ ستا ـ

عالمې :ـ آمین ـ

ګل دین کاکا :ـ ولے عالم خانه ! ستا خداې مه که شهباز خان سره سپړه مړه شوے ده څه ؟ . . .تۀ خو خیر ناجوړه وې خو هغه ستا هلکان مِ هم پکښے اونه لیدل ـ

عـالمې :ـ ګل دین کاکا ، زۀ په خپله ناجوړه یم او دَ هغوی نه خبر نه یم چې ورغلی دی او که نه ـ

ګـل دیـن کـاکـا:ـ نـه ، نـه ، دغـه درے ځـلـور ورځے خو خداې شته زۀ دَ شهـباز خان دَ حجرے نه خو ځیدلے نه یم لکه ستا مِ ښه پوره ډېره اچولے وه او هـر سـړے مِ دَ نـظـره ویستلو خو نه مِ ته اولیدے او نه مِ ستا ځامن . . .او رشتیا هغه لورم راته وے چې زمونږ خورجی بی هم نه په مړی کښې وه او نه په دریمه کښے ـ

عالمې :ـ دغه درے ځلور ورځے هغه هم جوړه نه وه ـ

ګـل دین کاکا:ـ ماوے که ستاسو تر مینځه خداې مه که څۀ خړه راغلے ده ـ

عالمې :ـ هیڅ نشته ګل دین کاکا ، زما او دَ هغه رغیدن نه کیږی ـ

ګـل دیـن کاکا :ـ بالکل بالکل ، ښه زۀ به درنه اوس لاړ شم ، خداې دے هیڅ مه کوه ـ

عالمې :ـ کینه چاے اوڅکه ګل دین کاکا ـ

Pukhto.Net

ګل دین کاکا :۔ قدرمن شے ، لاړم درنه سلام علیکم ۔

عالمې :۔ وعلیکم سلام په مخه دے ښه ۔

شهباز خان ته هم پته لګیدلے وه چې عالمې او دَ هغهٔ ځامن دَ خورجی جنازے له نه دی راغلے او دَ هغوی دَ خفګان غټه وجه دَ عدنان پورتکو نه او اوړه ده ۔ هغه هم ورته واګے سستے کړے او خپلې مرضۍ ته پریښودل ۔

دلته عالمې په زړهٔ کښې دَ شهباز خان نه ډیر ګیله من وو او په زړهٔ کښې وې چې شهباز خان هغه سره هغه کار اوکړو چې په هرطریقه ناجائز او دَ پښتو دَ روایاتو خلاف دے ۔ هغه ورته خپل ځوې دَ قربانۍ دَ پاره پیش کړو نو هغه پرے چاړه راکاږی ، هغه خپله ږیره ورکړه نو هغه یې دَ ویښه اوباسی ۔ دَ هغه ځوی دَ شهباز خان په مخکښے ویلے وو چې "عدنان زمونږ دَ ټول په شریکه دشمن دے " د دې نه هغه دا فائده واخسته چې په وینو رنګ ښنګ او دَ هغه بے هوشه ، پټے سترګے ځوې یې اوچت کړو او ګاډی کښې یې ترینه یوړو ۔ عالمې چې په دے کلی کښې یې دَ مړانے یو درز وو هغه ولے چپه خوله پاتے شو ۔ دَ هغه نه خو یې هغه ښځه نره وه چې خپل بچی پسې یې لکه دَ مرغۍ ځانګونه وهل خو بے وسه وه او هغه هیڅ اونه وې بلکه التہه یې خپل ځوې ګرم کړو او هغه ته یې اووے چې " دے زما په سترګو ښه نه لګی ، لرے یې کړه " ۔او چی هغه یې ترینه یوړو نو بیا یې ولې ژړل ۔ چغے یې ولې وهلې ۔ عالمی ته به دا خبرے مخکښے مخکښے کیدے او



www.pukhto.net



لکه د مچو به یې ټکونه ورکول ۔ شهباز خان ته دا پته هم لګیدلے وه چې دَ عالمی لور بخت بی بی په ړومبۍ شپه واپس راغلے ده خو هغه یادَ هغه ښځے دَ هغے هډو تپوس اونکړو ، نه په خپله ځوک راغلل او نه یې دَ خدمتګارے په خوله دَ همدردۍ اظهار اوکړو ، حالانکه هغوی به هر وخت دَ هغوی راتلو ته سترګے نیولے وې او دَ هغوی دَ راتلو قدمونه به یې شمارل ۔

عالمې په خپل غیرت او خپله پښتو داسے کلک ولاړ وو چې نه پرے دَ خپلی ښځے ژړا څهٔ اثر اوکړو او نه یې دَ خپل ځوی نه دَ تپوس کولو ضرورت محسوس کړو ۔ دوه ځله یې پرے ګوته راخله او ډک چارجریې پرے اوچلوو ، او که دَ هغه مور دَ هغهٔ دَ بچ کولو دَ پاره مینځ ته نه وه راغلے نو هغه به اوس دَ کلی په لویه هدیره کښې پروت او دَ خورجی دَ راتلو انتظار به یې کوو ۔

دَ خورجی دَ مرګ تر پنځلسمے پورے هغه کور پروت وو ، او دَ شهباز خان په انتظار کښې یې سترګے ، سپینے شوے خو چی هغه یې پوښتنه اونکړه نو دَ کټ نه پاڅیدو او لکه دَ پنجرے دَ مړز یې دَ کوریز ټولے ښې دَ ځان نه اوڅنډلے ، په نوے عزم د استقلال پټې ته روان شو او لکه دَ نور کله غوندے یې دَ یوے په موټی لاس کیښودو ۔

☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

☆

## دولسم باب

دَتابش او خورجی دَ قتل په سلسله کښې دَ پوليس تفتيشی ټيم خپل کار شروع کړے وو دَ لاشونو پوسټ مارټم شوے وو ۔ دَ هغوی تصوير کشی او فوټو ګرافی هم شوے وه دَ خورجی دَ کور او دَ هغے دَ کمرے نقشے جوړے شوے وے ۔ پوليس ته دَ خپلې پيشه ورانه تجربے او ذاتی معلومات په بناء پوره يقين وو چې تابش او خورجی دواړه مقتولين هم دی او دَ يو بل قاتلان هم دی ۔ پوليس ته دَ ګواه ضرور وو خو په ګوانډيانو کښې څوک هم دے ته تيار نه وو ځکه چې دَ فائر په وخت چا هم څوک ليدلی نه وو البته دَ هغوی په ښودنه دَخورجی دَ ملازمے نوم دَ پوليس په مطلوب کسانو کښې شامل شو۔ پوليس دَ هغے دَ ګرفتاری دَ پاره ځائے په ځائے چاپے اووهلے او اخر يې اونيوله ۔ دَ هغے دَ بيان نه ثابته شوه چې هغوی دواړه دَ يو بل قاتلان دی ۔ دَ هغوی دَ نشے ثبوت دَ هغوی دَ ميډيکل رپورټ نه شوے وو البته دَ هغوی دَ طماچو ليبارټری ټسټونه لاپاتی وو ۔ چې کله دغه ټسټونه مکمل شو او دَ هغے رپورټ پوليس له راغی نو دَ هغوی ټوله تجربه ناکامه شوه چې په دواړو طماچو ډزے نه دی شوے ۔ دے نه پس پوليس دَ تفتيش دائره وسيعه کړه او عدنان سره شهباز خان هم په تفتيش کښې شامل شو ۔

په شهباز خان او عدنان په يوه ورځ چاپے اووهلے شوے ۔ دَ عدنان په ځائے عالمې ګرفتار شو او شهباز خان سره دَ هتکړو په اميل کښې



www.pukhto.net

ګنګخړې (پښتو ناول) پرويز شيخ

تانے ته بوتلے شو او دواړه په حوالات کښې واچولے شو ۔ د عالمی دا خيال وو چې هغوی دواړه دَ عدنان او عنبرين دَ کيس په وجه حوالات کښې واچولے شو ۔ عالمې دَ ځان نه زيات په شهباز خان خفه وو چې دَ عدنان په وجه دَ هغه دَ نامے جامے کورنۍ سپکه شوه ۔ عالمی په حوالات کښې هم دَ هغه دومره خيال ساتو څومره چې به يې دَ هغه په حجره کښې ساتو ۔ دَ خپلې اوږے نه څادر لرے کوز کړو ، دَ حوالات په فرش يې اوغوړه وو ، په خپله په فرش کيناستو او هغه ته يې اووے " خان جی په څادر سمله ، ډډه واچوه " شهباز خان دَ هغۀ په غوړيدلی څادر سملاستو او هغه ته يې اووے " عالميه ! راځه ماسره کينه ځاے ډير دے " ۔

عالمې :۔ نه خان جی ، خو ځه مه ، ښه په قلاره سمله ۔ زما جامے خړے دی خيرے پرے نه ښکاری خو ستا په سپينو جامو يريږم ۔

شهباز خان :۔ عالميه ! زۀ او ته دَ يو عمر او يوے زمانے خلق يو ، تاسره دے خداې ښه اوکړی ، په هر ځائے او هره موقعه کښې دے زما دَ عزت خيال ساتلے دے ۔ زما او ستا دَ خان او زميدار نه بلکه دَ دوو رونړو رور ولی ده خو دَ ځوی نه دے ډير خفه يم ۔ ما په هغه لکه دَ خپل ځوی اعتبار اوکړو خو هغه زما عزت له لته ورکړه ۔ زما دَ سپينی جامے خيال يې اونه ساتو ، په شرمونو يې اوشرمولم او لا به شرميږم او زما سره به ته هم شرميږے ، زما خو چا سره دَ سترګو لګيدو شان پاتے نشو ۔

عالمې :۔ خان جی خدایے دے مه کوز سترګے کوه ۔ ستا عزت زما عزت دے او خدایے مه که ستا بے عزتی زمابے عزتی ده ۔ ما خو هغه په هغه ورځ لرے کوو خو ته راغلے او تارانه خلاص کړو ۔ اوس هم څۀ تلی راغلی نه دی که دَ هغه په مرګ ستا عزت ګټلې کیږی نو تاته اجازت دے لرے یې کړه ۔

شهباز خان :۔ ښنګه یې لرے کړم عالمیه ! هغه خو مونږ لکه دَ خپلو بچو ساتلے دے ۔لاس مِ نه ورځی او اوس خو خبره لاړه زما دَ وس نه اووته ۔

عالمې :۔ ولے خان جی څۀ اوشو ؟

شهبازخان:۔ هغه بله ورځ کاکی خان راغلے وو او هغه ته مِ حواله کړو ۔ اوس هغه پوهـ شه او دَ هغه کار ، که یې وژنی او که یې پریږدی اختیار دَ هغه دے ۔ دے سره دَ عالمی په سترګو کښې غټې غټې اوښکے راغلے هغه شهباز خان ته په ډکو سترګو اوکتل او وے وئیل "کاکی خان ته دے ولے حواله کړو خان جی "؟

شهباز خان :۔ هغه زمونږ دَ ټولو دشمن دے ، زما ، ستا او دَ کاکی خان ۔

عالمې :۔ نه خان جی نه ، عدنان زما ځوے دے ، زما دَ زړۀ ټکړه ده خو ستا په وجه زما دشمن دے ځکه چې ستا عزت ماته دَ خپل عزت نه ګران دے او په دے باره کښې ما تا سره لوظ کے دے خو کاکی خان سره ما هیڅ لوظ نه دے کړے ۔ زۀ ستا په عزت او غیرت ولاړ یم خو د دے دا مطلب نه دے چې هغه دومره بے ثوکه دے چی دَ چا څۀ خوښخه وی هغه دے ورسره کوی ۔ ستا دَ عزت ساتلو دَ پاره ما خپله پیغله لور


www.pukhto.net



په شنو جامو کښې ستا دَ لور په ډولۍ کښې واچوله ، دے دَ پاره چې زما خان بے عزته نشی ، دے دَ پاره چې دَ دواړو کورنو په مینځ کښې جنګ جهګړه رانشی او هر څه پټ په پټه اوشی ۔ خان جی ، ته دَ پښتو روایات اوګوره ، کوم یو پلار خپل ځوی سره داسے کړی دی لکه ما چې ورسره ستا دَ عزت دَ پاره اوکړل خو تا ما سره څۀ اوکړل ؟ زما ځوې دے هغوی ته حواله کړو ...کاکی خان ماسره څۀ اوکړل؟ زما لور یې ماته واپس کړه ... تا زما دَ لور په سر لاس کښې نه ښودو ۔ که تۀ دَ خپلې لور تپوس زما دَ ځوی نه کوې نو زۀ دَ خپلې لور دَ بے عزتۍ تپوس دَ چانه اوکړم ؟ تانه که دَ سید رحیم کاکی نه ؟ شهباز خانه ! ما چې دَ خپلې لور په سر لاس کیښودو نو هغے زما نه مخ واړه وو ۔ زما په سترګو کښې دَ بے وسۍ په اوښکو دَ هغے رحم رانه غۍ ځکه چې هغے ته زۀ یو ظالم انسان ښکاره شوم ۔ هغے په چپه خوله ماته ډیرے ګیلے اوکړے ، خپلې مور ته یې ډیرے ګیلی اوکړے ، خپلو رونړو ته یې مخ واړه وو ۔ دَ واده جامے یې بدلې کړے ، متهې یې اونغښتی او غوجل ته اړمه شوه ۔ شهباز خانه! لکه ښنګه چې ته دَ خپلی لور په عزت ولاړ یې داسے ما له هم پکار وو خو ....خو زۀ ستا په وجه خاموش ووم ۔ اوس چی تا زما ځوې کاکی خان ته حواله کړو نو ...نو که دَ هغۀ نوک ته هم نقصان اوسیدو نو زۀ دَ هغۀ دَ نوک جواب په سوک کوم ۔ دَ هغه نه د ډب جواب په ډز او دَ هغه دَ سر جواب به په سرونو کوم ۔

شهباز خان :۔ دا ته لا کومے خبرے کوے عالمیه ۔ ولے ته دَ خپلے خبرے نه روستو شوے څۀ ۔ دے نه خو دا معلومه شوه چې زما لور ستا په صلاح تلے ده ۔

عالمې :۔ خبرے له بل رنګ مه ورکوه شهباز کانه ، ستا دَ عزت دَ پاره ما خپل ځوے دَ خپلے مور دَ غیږ نه را اوشوکوو او تاته مِ حواله کړو ۔ که تۀ دَ خپلې لور تپوس زمانه کوے نو زۀ دَ خپلې لور دَ بے عزتۍ تپوس دَ چانه اوکړم ؟ تانه که دَ سید رحیم کاکی نه ، وایه ؟

شهباز خان :۔ تانه ماسره احسان کړے دې او نه کاکی خان سره ۔ تا باندے سترګے پټې وے ۔ خپل غرض په مخه اخستے وې ۔ تا خپله لور په خانانو کښې ورکول غوښتل خو دَ بده مرغه ستا ارمان پوره نشو۔

عالمې :۔ دا ته وایې شهباز خانه ؟

شهباز خان :۔ ظاهره خبره ده دلته خو بل څوک نشته ۔

عالمی خپل سر په دواړه لاسه کښې اونیوو ۔ په دیکښے یوسپاهی راغے ، هغه دَ حوالات جنګلے نما تنبې لرے کړے او هغوی ته یې اووے "بهر را اوځۍ مشر خان مو غواړی "۔ هغوی دواړه دَ سپاهی په نګرانۍ کښې دَ حوالات نه بهر اووتل او دَ ایس ایچ او دفتر ته ورغلل ۔ چې په بیچونو کیناستل نو ایس ایچ او هغوی ته یو نظر اوکتل او وے وئیل " شهباز خان څوک دے " ؟

شهباز خان :۔ زۀ یم صیب ۔

ایس ایچ او :۔ عدنان څوک دے ؟





عالمی :۔ عدنان نشته صیب ، زۀ دَ هغه پلار دَ هغه په ځائے راغلے یم ۔

ایس ایچ او :۔ ښه مشره ستا ځوے عدنان او شهباز خان ته د تابش او خورجی په کیس کښې مونږ سره شاملِ تفتیش نه دی ۔ شهباز خان خو راغلے دے البته ستا ځوے نشته ۔ ته داسے اوکړه چې هغه را اوغواړه ۔ چی هغه راشی نو ته به ځې خو تر څو چی هغه نه وی راغلے نو دَ هغه په ځائے به تۀ حوالات کښې پروت یې ۔

عالمې صیب زما ځوې کور نشته ګینې راغلے به وو ۔

ایس ایچ او :۔ دغه ستا مسله ده ۔ چی کورنشته نو پیدا یې کړه ، چرته خو به وی ۔

شهباز خان :۔ صیب ماته څۀ حکم دے ؟ ۔

ایس ایچ او:۔ تۀ هم مونږ سره شامل تفتیش یې ۔

شهباز خان:۔ عجیبه ده صیب ۔ مړ هم مامدزے او پړ هم مامدزے ۔ هم مِ اورندار مړه شوه ، کورم تباه شو او بل تاسو سره شاملِ تفتیش شوم ، البته غوندے کار دے صیب ، دعویٰ ماله پکار ده ۔

ایس ایچ او:۔ تاله پکار ده خو چی تااونکړه نو مونږ خو خاموش نشو کیناستے ۔

مونږ ته په دے عرض شامل تفتیش کړے یې چی دَ کیس په امپرومنټ کښې مونږ سره مدد اوکړے ۔ په چا دے شک دے او په چا دعویٰ کول غواړے ، وغیره وغیره ۔

شهباز خان :۔ صیب زما یا دَ هغے څوک ښکاره دشمن نشته البته دَ



www.pukhto.net

شک په بنا تاسو دَ عدنان نه تپوس کولے شي ـ کیدیشي نورکسان درته هغه اوښائی ـ

ایس ایچ او:ـ مشره ! ستا ځوے چرته دے ؟

عالمې ( شهباز خان ته ګوته نیسی ) زما دَ ځوی تپوس د دهٔ نه اوکړه صیب ـ

ایس ایچ او :ـ ځوې ستا دے او تپوس د ده نه اوکړم ؟

عالمې :ـ هاؤ صیب ځوې زما دے خو دَ خورجی دَ قتل نه مخکښے هغه په یو بل الزام کښې د دهٔ په قید کښې پروت دے او لا تراوسه د دهٔ تفتیش جاری دے ـ

ایس ایچ او:ـ (شهباز خان ته ) دے چی ځهٔ وائی ، دا صحی دی ؟

شهباز خان:ـ ځهٔ موده مخکښے هغه ماسره نوکر وو خو اوس هغه نشته ، تلے دے ـ

ایس ایچ او :ـ کوم خوا او چرته تلے دے ؟

شهباز خان :ـ هغه اوس سید رحیم کاکی سره دے ـ

ایس ایچ او :ـ ستا په هغه دَ قتل شبه شته ؟

شهباز خان :ـ شبه خو په هر چا کیدیشی صیب ـ هم داسے په شک شک کښی یقین ته رسیدهٔ کیږی.

ایس ایچ او :ـ ( یوسپاهی ته ) " ته ورشه هلکه ، مرزا صیب ته وایه چې یو موبائیل سکواډ تیار کړی) (شهباز خان ته ) " مرزا صیب سره به لاړ شے او عدنان به راولے ـ او ته مشره بهر اوځه هغه برنډه کښې



www.pukhto.net



کټ کښې ډډه واچوه "ـ

## دویمه برخه

عدنان دَ سید رحیم کاکی دَ قید نه خلاص کړے شو او تانے ته راوستے شو ـ په وهلو وهلو دَ هغه سر او مخ ځائے په ځائے زخمی وو ـ عالمی چی خپل ځوی ته اوکتل نو په چغو چغو په ژړا شو ـ ایس ایچ او دواړو ته یو نظر اوکتل او وے وئیل " مشره چغے مه وهه غلے کینه "ـ ایس ایچ او یو ځل بیا عدنان ته په ځیر ځیر اوکتل ، مخ یې ترینه واړه وو او شهباز خان ته اووے "بنه شهباز خان ، ته دَ تابش او خورجی دَ قتل په باره کښې څهٔ وایې ؟ دَ شک ، شبے نه علاوه تاته دَ دعوے حق هم حاصل دے ځکه چی ته دَ خورجی نزدے رشته دار یې ـ

شهباز خان :ـ زه به څهٔ اووایم صیب ؟ زما چې په چا شک دے هغه دواړه تاسو ته مخامخ ناست دی ـ زما په دے دواړو یعنی په پلار او ځوی دَ خورجی دَ قتل شبه ده ـ

ایس ایچ او ـ په دواړو ؟ دا ستا حجره نه ده چې ته څهٔ وائے دَ هغے تعمیل به کیږی ـ دا تانه ده دلته به په سوچ او فکر خبره کوے ـ دا دَ ډبل 302 کیس دے ـ دیکښے ملزمانو ته سزائے موت هم ملاویدے شی او عمری قید هم خو دَ دعوے نه مخکښے سوچ اوکړه که بے ګناه دعویٰ دے اوکړه نو ګوری دَ خدای به هم مجرم شے او خلقو ته به هم مخ تورن شے ـ

شهباز خان :ـ صیب داسے معلومیږی چی دا کار یو کس نه دے کړے

Pukhto.Net

بلکه دوو کسانو کړې دې نو بس په دې دواړو زما دعویٰ ده ـ

ایس ایچ او :ـ ته په دې دواړو شک کوې که دعویٰ ؟

شهباز خان :ـ زۀ پوهـ نشوم صیب ؟

ایس ایچ او :ـ که تۀ پرې دعویٰ کوې نو دې دَ پاره به دَ چشم دید ګواهانو ضرورت وی ـ او هغه به تۀ پیدا کوې او که تۀ پرې شک کوې نو بیا دَ ګواهانو ضرورت نشته ، ملزم دومره اووهلے شی چې هغه په خپله چغې وهی چی دا قتل ما کړې دې ـ دې ته اقبال جرم وائی ـ په دعویٰ کښې دَ ګواهانو په بیان کښې چې لږ معمولی تضاد راشی نو بیا په هغه نکتو وکیلان بحث کوی او تر هغې پکښې ګوتې وهی چې ملزمان بری شی خو چی په شک کښې اونیولے شی او اقبال جرم اوکړی نو بیا دَ هغې سزا، سزاے موت یا عمری قید دې ـ

شهباز خان ( مسکې شی ) هم دا دَ شک نوعیت ښه دې صیب ـ په دې کښې یې راتپنګ کړی ـ

ایس ایچ او :ـ دا زما کار دې ، دې نه بے غمه اوسه خو یو تپوس درنه کوم او هغه دا چې تا او سید رحیم کاکی په کوم جُرم کښې عدنان په حبس بے جا کښې اچولے وو؟

شهباز خان :ـ ما حبس بے جا کښې نه دې اچولے صیب ـ دا کار کاکی خان کړې دې ـ

ایس ایچ او :ـ هغه ته خو تا حواله کړې دې ـ دا ولے ؟

شهباز خان :ـ هاؤ صیب ـ الا بلا ، ګردنِ ملا ، ما ترینه ځان خلاص



www.pukhto.net



کړو او هغه ته مِ حواله کړو ـ

ایس ایچ او :ـ شهباز خان ! دۀ څۀ جرم کړې دې ـ

شهباز خان :ـ دۀ دومره لوې جُرم کړې دې چې دَ هغه جرم نوم هم زما په خوله نه راځی ، دۀ زما لور اغوا کړې ده او دَ هغې دَ مرګ او ژوند هیڅ پته نه لګی ـ

ایس ایچ او :ـ لور یې ستا اغوا کړې ده او حواله دې کړو سید رحیم کاکی ته ـ دا ولے ؟

شهباز خان :ـ دې زمونږ په شریکه دشمن دې صیب ـ ماخپله لور دَ کاکی خان ځوی له ورکړې وه ـ دَ هغې دَ وادۀ نیته ایښې شوې وه او نکاح هم تړلے شوې وه ـ دَ نکریزو په شپه دے ظالم هغه اولمسوله او اغوا یې کړه ـ

ایس ایچ او :ـ تا په دۀ دَ اغوا رپورټ درج کړې دې ؟

شهباز خان:ـ نه صیب ، خپله حیا راباندې ګرانه ده ، ما وې دَ خلقو دَ خندا به شم ـ

ایس ایچ او:ـ دَ سید رحیم کاکی جنجیان تشه ډولۍ لاړل ؟

شهباز خان :ـ نه صیب ، دَ هغې په بدل کښې مو ورته دَ عدنان خور او دَ عالمی لور په ډولۍ کښې واچوله ـ

ایس ایچ او:ـ هغه جینۍ اوس هم هلته خپل خاوند سره ده ؟

شهباز خان:ـ نه صیب ، هغه یې په ړومبۍ شپه خپل پلار کره را اولیږله ـ



Pukhto.Net پښتو

ايس ايچ او:۔ ستا دَ لور مجرم عدنان شو خودَ عدنان دَ خور مجرم څوک شو ، ته که کاکی خان ؟

شهباز خان:۔ دَ هغې مجرم نه زهٔ يم نه کاکی خان بلکه دَ هغې مجرم دَ هغې پلار دے صيب ۔ دا دے عالمے ناست دے ، تپوس ترينه اوکړه ۔ هم ده راته په خپله خوله ويلے وو چې دَ هغې په بدل کښې زما لور ډول کښې واچوه ۔

ايس ايچ او :۔ او تا هم داسے اوکړل ، بغير نکاح ، بغير حقِ مهر او بغير ګوره ؟

شهباز خان:۔ بالکل صيب ۔ هم داسے مِ اوکړل ۔

ايس ايچ او :۔ دَ تابش او خورجی په قتل کښې دَ عدنان څهٔ دلچسپی ده ۔

شهباز خان:۔ دَ تابش معلومات ماته نشته البته زما دَ لور دَ اغوا په کيس خورجی دَ موقعے ګواه وه ځکه يې هغه دَ مخے لرے کړه ۔

ايس ايچ او:۔ خورجی اخلاقی لحاظ سره څنګه وه ۔

شهباز خان:۔ هغه يوه پرده نشينه ، ستر پوشه ، تقویٰ داره او دَ صوم صلوٰة پابنده او تهجد ګزاره ښځه وه ۔ دَ هغې دَ ستر او پردے دا حال وو چې زمانه به يې هم په خپل کور کښې ستر کوو۔ دَ نواز خان دَ مرګ لس کاله اوشو او په دے لسو کالو کښې ما دَ هغې مخ نه دے ليدلے ۔

ايس ايچ او :۔ شاباش ، ډير ښه ، دَ تالاشۍ په دوران کښې دَ هغې دَ کمرے نه مونږ ته څهٔ تصويرونه په لاس راغلی دی ۔ تهٔ خو دَ هغې





پيژندګلو کولے شې کنه ؟

شهباز خان :۔ هاؤ صيب ، دومره خو کولے شم ۔

ايس ايچ او:۔ (هغه ته دَخورجی يو تصوير ښائی ) " دا تصوير دَ هغې دے " ؟

شهباز خان:۔ هاؤ ، هاؤ صيب ، دا بالکل دَ هغې تصوير دے ۔

ايس ايچ او :۔ ښه اوس دے نورو تصويرونو ته اوګوره ( هغه ورته دَ خورجی مختلف تصويرونه ښائی) دے بل تصوير کښې ورسره څوک دی ؟ دا نور اوګوره ، ديکښې ورسره څوک دی ؟ ...دا بليو پرنټ اوګوره ، دا دَ چا دے ؟ وايه کنه ؟ خاموش ولے شوے ( شهباز خان سترګے خکته کړی وی ) دا وه ستا هغه حياداره او سترپوشه بابی چې ته يې په صفت نه مړيدے ...ښه يو تپوس درنه بل کوم ، ستا په قول دَ نواز خان دَ مرګ لس کاله اوشو خو دَ حيرانتيا خبره دا ده چې دَ نواز خان کړلے شوے تخم لس کاله پس زرغون شو ۔

شهباز خان :۔ څهٔ مطلب صيب ؟

ايس ايچ او :۔ مطلب دا چې دَ خورجی په ميډيکل رپورټ کښې ليکلی شوی دی چې دَ هغې په خيټه دَ شپږو مياشتو ماشوم هم وو ۔

شهباز خان :۔ دا زهٔ څهٔ اورم صيب ۔

ايس ايچ او :۔ رپورټ دا دے ماسره پروت دے ، دا په خپله هم لوستلے شې ۔

شهباز خان :۔ اوه خدايه ( هغه خپل سر په دواړه لاسه کښې نيسی ) ۔



Pukhto.Net
www.pukhto.net

ایس ایچ او :۔ په دے باره کښې ته څۀ وائے ۔ آیادا هم عدنان کړی دی ؟
ښه اوس به راشو ستا دَ لور کیس له ... ستا لور عدنان په زور بوتلے ده
که په رضا ؟

شهباز خان :۔ دا خو چې هغه پیدا شی نو معلومات به ترینه اوشی ۔

ایس ایچ او :۔ ستا پوره یقین دے چی هغه ده بوتلے ده ۔

شهباز خان :۔ بالکل صیب ، زما پورا یقین دے ۔

ایس ایچ او :۔ دے نه مخکښے ستا دَ لور او عدنان خپلو کښې
انډرسټینډنګ وو ؟

شهباز خان:۔ هاؤ صیب ، دے زما لور سره ډرائیور وو ۔ هغه به یې
کالج ته بوتله رابوتله او هغے سره دَ خورجی په بنګله کښې اوسیدو ۔

ایس ایچ او :۔ دَ وادۀ نه مخکښے ستا لور د دے وادۀ مخالفت کړے وو ؟

شهباز خان:۔ هاؤ صیب ، هغے څۀ ګڼے وړے وړے خو مونږ وے تیک به
شی جینۍ ده ۔

ایس ایچ او:۔ هغے دَ خپل وادۀ مخالفت ولے کوو ۔

شهباز خان :۔ دَ عدنان په لمسه باندے ۔

ایس ایچ او:۔ هغه یوه تعلیم یافته جینۍ وه ، هغے ته دَ خپل ژوند
تیرولو پوره پوره حق حاصل وو ۔ ته ولے دَ هغے په لاره کښې خنډ جوړ
شوے ؟ تا ولے دَ هغے خواهش پوره نه کړو ۔ تا ولے دَ هغے ارمانونو ته
تیلے ورته کړو ، دا ځکه چی عدنان او دَ هغه خاندان ستاسودَ ناستے
پاستے جوګه نه وو ؟ ځکه چې دے غریب دے او ته خان یې ؟ ...ګوره



www.pukhto.net



شهباز خانه ! هوا یا ګیس یو نرم ځیز دے او دومره نرم چې مونږ یې په
وجودی شکل کښی لیدلے نشو خو چی دغه هوا ډیره اوزورلے شی او
دَ وتو لاره ورته ملاؤ نشی نو لوے لوے غرونه او ښارونه پړمخ اړه وی ۔
اوبه هم یو نرم او نازک ځیز دے خو که هغے ته دَ وتو لاره ملاؤ نشی نو
لوے لوے آبادۍ لکه دَ خسنو ګنګخرو ځان سره اوړی ۔ دغه رنګے
انسانی خواهشات هم دی ۔ چی دا پوره نکړی شی نو ښه معززے
کورنۍ سپکے شی ۔ کچه کچه ځوانۍ په سرو وینو کښې ککړے
شی او تورو خاؤرو له لاړے شی ۔ لوئے لوے او غټ غټ دستارونه په
خپو کښې راخکلے شی ۔ خائسته او خورے نیازبینے ، درنے پیغلے
سرتورے شی او زړے میاندے بے کوره شی ...

اوس به راشو عدنان له ...ښه عدنانه د دے جینۍ څۀ نوم دے ؟

عدنان :۔ د دے نوم عنبرین دے سر ۔

ایس ایچ او :۔ دا جینۍ ستا خوښخه وه؟ ( عدنان پلار ته ګوری ) پلار
ته مه ګوره دا تانه ده ۔ زۀ تانه سرکاری تپوسونه کوم ، ښه وایه ۔

عدنان :۔ هاؤ سر ، زما خوښخه وه ۔

ایس ایچ او :۔ تا ورسره دَ وادۀ دَ خواهش اظهار کړے وو ۔

عدنان :۔ نو سر ، مانه وو کړے خو هغے کړے وو ۔

ایس ایچ او :۔ تا ولے نه کوو ؟

عدنان :۔ ماته خپل حیثیت معلوم وو سر زما او دَ هغه جوړ نه راتلو ۔
هغه دَ خان لور وه زه دَ هغه دَ یو غریب زمیدار ځوې یم ۔ هغه زما بی

بی وه او زهٔ دَ هغې نوکر ووم ـ بله دا چې زهٔ خان جی دَ هغې دَ عزت دَ تحفظ دَ پاره هغې سره کړے ووم ما نه هغې سره دَ واده جرأت کولے شو او نه کولے شم ـ

ایس ایچ او :ـ تا چې هغې سره دَ وادهٔ جرأت نشو کولے نو دَ هغې دَ اغوا جرأت دے ولے اوکړو ـ

عدنان :ـ سر زهٔ دومره نمک حرامه نه یم ـ ما دَ یوے غریبې ، غیرتی مور پیٔ رولی دی ، دَ یو غیرتی پلار په غیږه کښې مِ لویے کړے دی ـ دَ خانانو په عزت خو مونږ دَ خپلو سرونو نه علاوه دَ خور ارمانونه او دَ هغے عزت هم قربان کړو سر ـ ( دَ ایس ایچ او په سترګو کښې اوښکے راشی خو په ځان ځوک پوهـ نکړی ، ډیر په تیزی سره پاځی او واش روم ته ورځی ـ هلته په مخ اوبه واچوی ، سترګے اوچے کړی ، واپس راځی ، په خپله کرسۍ کینی او وائی " چې تا نه دے کړے نو چا کړے دے ؟ ستا په چا شک دے ؟

عدنان:ـ زما چې په چا شک دے هغه دوی نه منی ، حالانکه څو څو ځله مِ ورته اووے چې دَ هغې نه تپوس اوکړی ـ

ایس ایچ او :ـ ستا په چا شک دے ؟

عدنان :ـ زما چې په چا شک وو اوس خو هغه هم دَ مینځ نه اووته ـ

ایس ایچ او :ـ څوک ؟ خورجی ؟

عدنان :ـ جی سر ـ

ایس ایچ او :ـ په هغے دے ولے شک کوو؟



www.pukhto.net



عدنان :ـ شک نه سر ، زما پوره یقین دے چې دَ بی بی په اغوا کښې دَ هغے لاس دے ـ

ایس ایچ او:ـ تهٔ په کوم دلیل دا خبره کوے ؟

عدنان :ـ سر ، زهٔ دَ چا په خوله یقین نه کوم خو دا هر څه ما په خپلو غوږو اوریدلی دی . . . صیب که خبره رانه لږه اوږده شی نو مائنډ کوی خو به نه ـ

ایس ایچ او :ـ که اوږده شی نو نه مائنډ کوم خو که دروغ دے اووے نو مائنډ کوم ـ

عدنان :ـ سر ، زه عنبرین بی بی سره ډرائیور ووم او هغه به مِ کالج ته بوتله رابوتله ـ تاسو خو سر دَ خورجی کور لیدلے دے چې دَ هغې دَ ډرائیور کمره او دَ ګاډو ګیراجونه دَ نور کور نه جُدا دی ـ زهٔ هلته دَ ډرائیور په کمره کښې پاتے کیدم ـ زهٔ کور ته نشوم ورتلے ځکه چې ماته دَ ورتلو اجازت نه وو ـ زما کار دَ هغې کالج ته بوتلل ، راوستل او دَ ګاډی صفائی وه ـ یوځو ورځے پس خورجی دَ ډرائیور په حیث زما ډیوټی ختمه کړه او بی بی به یوائے کالج ته تله راتله ـ په دغه ورځو کښې دَ خورجی ملازمه نجمه تلے وه نو دَ هغې کار یعنی اخلے پخلے او سودا راؤړل زما په ذمه شو ـ خورجی به زما په موجودګی کښې یا به په خپله کمره کښې وه او که بهر به راوته نو پټ مخ به راوته ـ

سر ، زه به چې خپلے کمرے ته لاړم او کټ کښې به پریوتم نو ناوخته کښې به څوک په دیوال راووختو او دَ خورجی کمرے ته به لاړو ـ

قيصه خو لويه ده خو يوه شپه ورته دَ کمرے نه بهر په بوټو کښې پټ شوم ۔ يوه شيبه پس خورجى دَ خپلى کمرے نه را اووته دَ عنبرين کمره يې هم دَ بهر نه بولټ کړه او زما کمره هم او نيغه خپلې کمرے ته لاړه ۔ لږه شيبه پس يو سړے زما خوا کښې په ديوال رااووختو او دَ خورجى کمرے ته ورغى ۔ زما پرے دَ غل ګمان راغى خو چې په کش کړپ پوهـ نشوم نو يوه شيبه پس ورپسى غلے غلے ورغلم او کړکۍ سره غلے اودريدم ۔ (چپ شى)

ايس ايچ او :۔ ښه وايه کنه ولے خاموش يې ؟

عدنان (شرميږى) سر، بابا مِ ناست دے او خان جى هم ناست دے د دوى په مخکښے زۀ هيڅ نشم ويلے ... که تاسو پوره بيان اوريدل غواړئ نو زۀ به يې درته ځانله په ځانله اووايم ۔

ايس ايچ او :۔ نه ، نه ، ته به دا هر څه د دوى په مخکښے وائے چى د دوى پرے يقين اوشى او که ته داسے اونکړے نو ته ملزم نه بلکه مجرم يې ۔ ښه وايه ۔

عدنان:۔ سرګستاخى معاف ماچى څۀ ليدلى او اوريدلى دى نو هغه زما په خوله نه راځى ۔

ايس ايچ او :۔ دا به ته وايې او ضرور به يې وايې ۔ ښه وايه۔

عدنان :۔ سر ، هغه خورجى چى په خپل کور کښې به پټ مخ ګرځيده ، ماچى هغه په کوم حالت کښې اوليده نو په خپلو سترګو مِ يقين نه راتلو ، سر ، هغه په نيم عريان لباس کښې ملبوسه وه او


www.pukhto.net



خورے زلفې دَ هغه په غيږ کښے پرته وه ۔

ايس ايچ او:۔ دا سړے څوک وو ؟ د دۀ څۀ نوم وو ؟

عدنان :۔ ماته هم دَ هغۀ دَ نوم معلومات نه وو خو دَ هغے دَ خولے نه مِ دَ هغه نوم وواوريدو ۔ دَ هغه نوم تابش وو سر ( چپ شى )

ايس ايچ او :۔ ښه وايه کنه ، تۀ خو چپ شوے ؟

عدنان :۔ سر ، څنګه اوويم هغه خبرے زما په خوله نه راځى ۔

ايس ايچ او :۔ دَ سړى بچے شه ګوريے هغه چغے به درنه اوباسم چى دا تولہ تا نه به اوکړنګيږى ۔ (چوکه ورپسې راخلى ) ۔

عدنان :۔ سر ، ډب مه راکوه ، بيا به رانه هر څۀ هير شى ۔

ايس ايچ او : ښه وايه شابه ۔

عدنان :۔ خورجى هغه ته دَ ګيلے په انداز کښې اووے " تابشه ، تا چى کوم تخم کړلے وو هغه زرغون شوے دے ( ټول يو بل ته ګورى ) ۔ هغه ورته اووے " دا زما نه دے دا به دَ بل چا وى " هغے ورته اووے "نه دا ستا دے " ۔ په خبرو خبرو زما ذکر هم راغى او تابش اووے "غم مۀ کوه دا به په عدنان ورواړه وو او لکه دَ نواز خان به ترينه يو ګرز اوباسو "
(عالمې او شهباز خان يو بل ته ګورى )

ايس ايچ او :۔ نواز خان څوک وو؟ ( عالمى ته ګورى )

عالمې :۔ نواز خان دَ شهباز خان ورور وو او دَ خورجى خاوند وو ۔

ايس ايچ او :۔ دے نه خو معلومه شوه چى نواز خان تابش وژلې دے ... ښه وايه ۔

عدنان :۔ خورجی هغه ته په کلکه اووې چې ”ماسره واده اوکړه چې دا ناجائز ماشوم جائز شی نو هغه انکار اوکړو ۔ چې خورجی ورته ګیله اوکړه او خپل زاړه خدمات او قربانۍ یې ورته وریاده کړے نو هغه راضی شو خو په یو شرط ۔ ( هغه چپ شی )

ایس ایچ او:۔ ته خو چپ شوے ولے ؟ شابه وایه ۔

عدنان ، سر پلار مِ هم ناست دے او خان جی هم دے ماله د دوی نه شرم راځی ۔

ایس ایچ او :۔ دَ انسان بچے شه ګوری هډوکی به دے مات کړم ۔ شابه وایه ۔ مشره دا ځوے دے پوهـ کړی چې خپل وضاحت اوکړی ګوریې ستاسو دَ پاره به بد شی ۔

عالمې :۔ شرمیږه مه بچے چی څۀ دے لیدلی دی هغه صفا صفا اووایه ۔

عدنان:۔ سر دَ خان جی په مخکښې خنګه اووایم ۔

ایس ایچ او:۔ دعویٰ دربانډے دے کوې ، ده ته وضاحت اوکړه ۔

عدنان :۔ سر، تابش راضی شو خو په یو شرط ، هغه ورته اووے ”ټیک ده زۀ به تاسره نکاح اوکړم خو دَ نکاح نه مخکښې زما او دَ عنبرین یو ملاقات اوکړه ۔ هغے ورته اووے ”ټیک ده ، دا څۀ دومره ګرانه نه ده ، اوبه شی خو زۀ دَ عنبرین نه کمه یم څۀ“ ۔ هغه ورته اووے ”زۀ دَ هغے سترګے خکته کول غواړم“ ۔ هغے جواب ورکړو ”تاته خو ما اسانه کړے ده ،یواځې ځی راځی“



www.pukhto.net



تابش ورته اووے ” څو څو ځله مِ لاس ورکړو خو لفټ یې رانکړو ۔ هغے ورته په فیصله کن انداز اووے ”بیا په ننۍ شپه راشه ، ما به ستاسو دَ ملاقات اهتمام کړے وی “چونکه دَ آئنده اتوار په شپه دَ بی بی واده وو نو هغے دا پلان جوړ کړو چې زما په نوم به هغه دَ رخصتۍ نه مخکښې دلته راولی ۔ دے نه پس زما او دَ عنبرین ځانله په ځانله ملاقات نه دے شوے ګینی مابه ورته دَ محتاط اوسیدو ویلے وو۔

ایس ایچ او :۔ دے نه پس څۀ اوشو ۔

عدنان:۔ دے نه پس هغے عنبرین طوطی خیل ته راوسته خو ماته دا پته نه وه چی دَ هغے واده دے ۔ دَ هغے دَ تلو نه پس هغه ماته مائل شوه او زما دَ ګیرولو دَ پاره یې هره لوبه اوکړه خو زه ترینه خداې اوساتلم ۔ چې په دے اونشوه نو ماته یې دَ وادۀ پیشکش اوکړو ۔ چی ما انکار اوکړو نو ماته یې دَ سل جریبه زمکے ، دَ سل تولے کالی او دَ لاکهونو روپو په بدل کښې دَ وادۀ دَ پاره اووے چی په دے اونشوه نو بیا ئے دَ پولیس دهمکی راکړه ۔ چې زۀ ډیر تنګ شوم نو ماورته اووے ” چې ته ماسره واده کوے نو دے ماشوم سره به څۀ کوے ۔ دا به زما په اوږو سوری که دَتابش “ دے سره هغے ته پته اولګیده چې زه دَ هر څۀ نه خبر یم ۔ هغے زمانه په مخ شړق اوویستلو ،ما خپله غاړه غوته واخسته او کور ته راتلم ۔ هغه په درشل اودریده او وے وئیل ۔” عدنانه دَ تلو نه مخکښې دَ خپلی خور په سر لاس کیږده ۔ زما په زړۀ کښی دَ هغه په حال رحم راغی ۔ چی ور روان شوم او ورنزدے شوم نو کمرے

تـه منډه کړه او دَ بالخت نه طماچه راخسته ، ما ډیر په تیزی سره خپله طماچه دَ هغې په سر کیښودۀ ، دَ هغې نه مې طماچه واخسته او روان شوم ، چې لږ مخکښې لاړم نو طماچه مې تشه کړه کارتوس مې یو خوا بل خوا اوغورځول او تشه طماچه مې هغې ته لړه کړه ۔

ایس ایچ او :۔ دے نه پس دے عنبرین سره ملاقات شوے دے ؟

عدنان :۔ دے نه پس نه دے شوے سر ۔

ایس ایچ او (شهباز خان ته) دَ عدنان په خبره ستا تسلی اوشوه که نه ۔

شهباز خان :۔ هاؤ صیب دے هلک خو دومره پخې خبرے اوکړے چې زه ورته حیران شوم

ایس ایچ او:۔ ستاپه دوی دَ خورجی دَ کیس یا دَ عنبرین دَ کیس څۀ دعویٰ یا شک شته ؟

شهباز خان:۔ نه صیب دَ دعوې یا شک ګنجائش پاتے نشو ۔ دوی زما له خوا ازاد دی ۔

ایس ایچ او :۔ چې ستا دَ طرفه ازاد دی نو زما له خوا هم ازاد دی ۔ ځئ هلکه ، تاسو ځئ ''۔

شهباز خان:۔ صیب که ستاسو خوښخه وی نو زۀ به هم درنه لاړ شم

ایس ایچ او:۔ تۀ لا نشې تلے ، تۀ کینه ۔

(عالمې او عدنان پاڅی او روانیږی ) :۔عالمې :۔ لاړو درنه صیب ، سلام علیکم ۔

ایس ایچ او :۔ وعلیکم سلام :۔ ښه شهباز خانه ! دَ خورجی او عنبرین



www.pukhto.net



کیس خو ستا له خوا ختم شو او هغوی لاړل خو اوس به دے بل کیس سره څۀ کوے ۔

شهباز خان:۔ بل کیس سره به څه کوم زۀ پو هـ نشوم ۔

ایس ایچ او :۔ تاچې دَ عنبرین په ځائے دَ عدنان خور ډولۍ کښې واچوله او بغیر نکاح دے پردی سړی ته حواله کړه ، دا تا ښۀ اوکړل که بد ۔ که دغه جینۍ ، دَ هغې پلار یا دَ هغې رور په تا باندے دَ بے عزتۍ دعویٰ اوکړی نو بیا ؟ تاسره د دے څۀ جواب دے ؟

شهباز خان :۔ دا خو واقعی زمانه لویه غلطی شوے ده ۔

ایس ایچ او :۔ او که دا خبره ، پرنټ یا الیکټرانک میډیا ته اووته نو بیا به څۀ کوے ؟ عزت خو دے لاړو او خانی به دے هم وریسې لاړه شی او دَ جیل نه به را اونه ځے ۔ تا دَ ظلم انتها کړے ده ۔

شهباز خان:۔ زۀ څۀ اوکړم صیب ، زما خو دماغ کار نه کوی ۔

ایس ایچ او:۔ دغه ستا مسله ده ، زما کار صرف قانونی نکات ښودل وو ۔

شهباز خان:۔ که زۀ ورسره جوړه اوکړم صیب ؟

ایس ایچ او:۔ که هغوی جوړے ته غاړه کیږدی نو دیکښې ستا خیر دے ۔ باقی خپله خوښخه کوه۔

شهباز خان :۔ ماته اجازت دے صیب تلے شم ۔

ایس ایچ او :۔ هاؤ ځه ورځه ۔

شهباز خان ۔ سلام علیکم صیب ۔

## دیارلسم باب

عـدنان دَ شهباز خان دَ پنجے نه اوتے وو خو د عنبرین دَ مینے دَ پنجے نه وو اوتے ـ تـولـه ورځ بـه پـلار او رونړو سره په پټې کښې لګیا وو او په چپه خولـه بـه یې پـه تـصـور کښـې دَ هغـے تصویر سره لوبے کولے ـ دَ هغـے تصویر به په مختلفو موقعو په مختلفو شکلونو دَ هغه مخے له راتلو ، کـلـه دَ کـالـج دَ طالبِ علمے په روپ کښې ، کله دَ باور چنړې په شکل کښې ، کله دَ خنده رویه حسینے په شکل کښې ، کله دَ یوے پریدونکے پیغلے په روپ کښې ، کله دَ یوے حسینے ، نازه نینے ګل اندامے په روپ کښـې او کـلـه دَ ښـاپیرۍ په روپ کښې ، هغه په هر شکل کښې نیاز بیـنـه او هـر صورت کښې حسینه وه ـ چې کله به هغه ګوډ کوو نو د ګـنو په هره دوپچه کښې به ورسره هغه وه ، کله به ورته مخکښے شوه کـلـه روسـتـو او کـلـه بـه ورسـره ځنګ کښې روانه وه ـ دَ ګوډ په دوران کښـې هغه څو څو ځله کوداله اوچته اونیوه چې هسے نه په کوداله دَ هغـے خپـې اولـګی ، کله کله به یې په ډوډۍ کښې دیکه ورکړه ، کله کـلـه به یې په ہے خیالۍ کښې پرے دَ روستو نه دَ ''باؤ'' اواز اوکړو ـ دے نـاګـهـانـه اواز سره بـه هـغـه اوتـر شـو او چې پـه یـره یره به یې روستو مخکښے اوکتل نو هیڅ به نه وو ـ

دا حـال دَ هـغـه پـه پټې کښـې وو خو چې کله به کور ته لاړو او خپلې مـظـلومے خور ته به یې اوکتل نو دَ هغے په ډکو سترګو کښې به ورته ډیـرے ګیـلـے مـانـے ښکاره شوے ـ دَ هغے په چپه خوله به ډیر تپوسونه



www.pukhto.net



وو، هـغـه تپـوسـونه چې دَ هغے جواب هغه سره نه وو ـ هغه ته پته وه چې هـغه دَ هغه په وجه دَ ظلم ښښخه شوه ـ هغه ته به دا احساس هم کیـدو چې دَ هـغے په زړۀ کښې د هغے دَ رور مینه پاتے نشوه ـ کله کله بـه دَ هغے دَ زړۀ دَ پاره هغه هغے سره ټوقے ټقالے هم اوکړے او هغے به هم اوخاندل خو دَ هغے په خندا کښې به دَ مایوسۍ تیرے صفا لیدلے شوے ـ کـلـه کله به هغه دَ هغے په سر لاس کیښودو خو دَ هغه په لاس کښې نـه حـرارت وو نـه تـوانـائـی وه نـه جـرأت وو او نه ډاډګیرنه وه ـ دَ وخت تیـریدو سره هغه ته دا احساس اوشو چې هغه په کور او په صحرا دَ چا پـه سـتـرګـو ښۀ نه لګی ـ دَ هغه دا احساس په احساس کمترۍ کښې بـدل شوـ په خپل کور کښې ورته ځان پردے ښکاریدو ـ هغه به زیات وخت پـه پټـو او پـه جـنـګـۍ کښې تیره وو ـ دَ هغه خوراک ، څخاک دَ نیـش بـرابـر وو ـ چې کـلـه بـه دَ پلار یا مور په وینا ماښام ، ماسخوتن کورته راغۍ نو دَ شپے به پټ په پټه بهر اووتو او په خپلو پولو ، پټو به ګرځیدو ـ عالمي هم هغه دَ نظر لاندے ساتو او هغه به هم ورپسې وتو او دَ هـغـه دَ کـړو ، اوړو جاج به یې اخستو ـ دَ خوراک ، څخاک او دَ کار روزګـار نـه پـاتـے شـو ـ دَ هـغـه ښکلې ځوانی او خائسـتـه وجود پـه غـور ځیـدو شـو ، سـتـرګې یې تغے او دَ ژوند پانړه یې زیړه شوه ـ مور به چې دَ هـغـه حالت ته کتل نو نیمه نه پاتے کیده ـ دَ هغے په وینا بانډے پـلار پـه زیـارتونو اوګرځو ـ نظر بوستان بابا له یې بوتلو ، په هغه یې دَ بـابـا دَ قبـر کانړی اومړل ، په منجورانو یې ورله نظر مات کړو ، دَ هغوی

ورکړی شوی ځابنتونه یې پرے څو څو ورځے اوځکل دَ هغوی ورکړې شوی تعویزونه یې ورله په شنو ، تورو او رنګینو کپړو کښې بند کړل او پـه غـاړه کښـې یـې ورته واچول چی په دے اونشوه نو بیا ئے پیریانو بـابـا له بوتلو ، هلته منجورانو دم کړو او ټول پیریان یې راغونډ کړل په بوتل کښې یې بند کړل او بوتل یې سر بند کړو خو بیا هم دَ احتیاط دَ پاره یې ورلـه یـوه لپـه ځابنتونه او یو چونګ تعویزونه ورکړل ـ دغه ټول تـعـویزونه ورله مور دَمخلتف رنګ په کپړو کښې بند کړل او په غـاړه کښـې یې ورته واچول ـ چی په دے یې ښیګړه اونشوه نو بیا یې یـو عـامـلِ کـامـل لـه بـوتلو ـ دَهغه نه ورته معلومه شوه چې په هغه باندے یوے ناپاکے ښځے ، په ناپاکه بدن ، په ناپاکه وینه ، په ناپاکه کاغذ پـه ناپـاکـه ځـائے کښې تعویذ کړے دې ـ هغه تعویز دَ یوے زیړ خیتې بیـمـارے چیـنـدخے په خولے کښې بند شوے او ګنډلے شوے دے ـ چې څـو مـره څـو مـره چیـنـدخـه سخا کیږی هو مره به دَ هغه بدن کمزورے کیږی او بیماری به یې زیاتیږی ـ دا دَ هغه دَ بیمارۍ تشخیص وو چې د دے تـریـنـه هغه فیس وانه خستو البته دَ تعویزدَ راویستو او دَ هغے دَ عـمـل دَ ضـائـعـه کـولـو دَ پارهٔ یې ترینه دَ لس زره روپو مطالبه اوکړه ـ عـالـمی په خوشحالۍ خوشحالۍ هغه له لس زره روپۍ ورکړے ـ دے سره عامل پاڅیدو خپلې خلوت خانے ته لاړو ـ لږه شیبه پس یې هغه چیـنـدخـه راؤړه او دَ هغه په مخکښے یې دَ هغے دَ خولے نه هغه تعویذ را اوویستـلـو ـ دے سره عـالـمی مسکې شو او دَ تسکین یوه لویه ساه



www.pukhto.net



یـې واخسـتـه ـ بیـا ئے ورلـه خپـل لیکلے شوے تعویز او دَ هغے متعلق هدایات ورکړل او رخصت یې کړو۔

عـدنان ته خپل مرض معلوم وو خو دَ هغے په علاج نه پو هیدو ـ هغه تـه پتـه وه چې دا ځـابنتـونـه او تـعـویزونه او ټوټکے دَ جعلی پیرانو او مـنجورانو دی ـ دیکښے هیڅ نشته او دوی هیڅ نشی کولے خو بیا هم دَ مـور او پـلار دَ زړونـو دَ پاره دغـه تـعـویزونه دَ یولوے امیل په شکل کښـې یـې په غاړه کښې زانګیدل ـ خبره دے له راغله چې بیا به پرے پـه ورځ کښـې یـو ځـل دوه یـا ورځ ترمینځه غوټه او په غوټه کښې بے هوشی هم راتله ـ

یـوه ورځ هـغـه په جنګۍ کښې اودهٔ وو چې خوب کښې ورله عنبرین راغـلـه ـ دَ هـغـه کټ تـه اودریـده او ورتـه یـې اووے " هـایے نامرده ! تـه خـوبـونه کوے او دے سپو ته دے زهٔ پریښې یم " دے سره دَ هغه سترګے اوغـړیدے خو چی هغه یې اونه لیده نو یوه تندری چغه یې اوویستله "زه درغلم عنبرین ـ زهٔ درغلم " دے سره یې دَ کټ نه ټوپ کړو او خپلے یبله خپے او سر تور سر یې منډه کړه ـ

## دویمه برخه

دَ عـدنـان پـه بیـمـارۍ هیڅوک نه پو هیدل البته په ټول کلی کښې یو عـمـلـی مـامـا او ګـل دین کاکا داسے وو چې هغوی ته دَ هغه دَ بیمارۍ پتـه وه خو دَ علاج نه یې هغوی هم معذوره وو ـ یو ځل په خبرو خبرو کښـې عـمـلـی مـامـا ګـل دیـن کـاکا ته اووے "یره صدر صیب ، چی دَ

عـالـمي دے ځوی ته ګورم نو دا زړۀ مې حلال حلال او قطرے قطرے شي ـ څۀ ښـکـلی ځـوانـی او خـائست خداې ورکړے وو ـ غمے وو غمے په ګـوتمه کښې دَ سـاتـلـو وو خو دے ځواني مرګے بيمارۍ داسے نيولے دے چې ګل دین کاکا (دهغـه دَ خـولے نـه خبره اخلی) چې لکه ستا يې نچوړی کړو ـ

عملی ماما :ـ څۀ دے اوو ے ؟

ګـل ديـن كـاكا:ـ هسے ما وے چې ستا هم لكه دَ عدنان ښكلې ځوانی وه خـو چې پـه دے مـوذی مـرض اختـه شـوے نـو لـكـه زما په ځوانه ځوانۍ كښې بوډا شوے ـ

عـمـلی ماما:ـ هاے ربّه ! څه بے پروا ذات يې ـ نه دے زړۀ شته او نه يې پـه چا سيـزے ـ ستـا تـقسيـم او ستا عطا ته حيران يم ـ څوک قسمت سره لوبے كوی ، په چا قسمت لوبے كوی ـ څوک پيسے سره لوبے كوی ، په چا پيسه لوبے كوی ـ څوک مينے سره لوبے كوے ، په چا مينه لوبے كـوی ـ څوک دنيا سره لوبے كوی په چا دنيا لوبے كوی ـ دنيا ټوله لوبه لـوبـه ده ـ كـلـه يـوه لوبه او كله بله . . .صدر صيب ، په دنيا كښې دوه څيـزونـه داسے دی چې دَ هغے قيمت هيڅا سره نشتـه ـ يوه مينه ده او بـلـه ويـنـه ده ـ ميـنـه دَ روح سره تعلق ساتی او يو ابدی څيز دے ـ وينه بـدن سـره تـعـلـق سـاتـی او يـو فـانـی څيز دے ـ دَ انسان بدن تـه دَ وينے ضـرورت وی او دَ ويـنے نـه بـغيـر انسان ژوندے نشی پاتے كيدے ـ دغه رنـګے دَ هـغـه روح تـه دَ ميـنے ضـرورت وی ـ اګر چې دَ مينے نه بغير



www.pukhto.net



انسـان جسـمانی لحاظ سره ژوندے وی خو دَ هغه روح مړ وی ـ بعضے خـلـق ميـنے له دَ نفسانی خواهش پوره كولو او دَ جنسی لذت اخستو رنګ وركـوی او كـوم خلق چې دغه غواړی نو دَ هغوی مينه حيوانی وی او دغـے ميـنے تـه ميـنه نه بلكه نفسانی اوجنسی لذت ويلے شی ـ ميـنـه يو ديرپا او لافانی څيز دے ـ هغه نه زړيږی ، نه ختميږی ، نه فنا كيـږی او نـه روكيـږی بـلـكـه دَ وخت تيـريدو سره دَ هغے اثر زياتيږی ـ صـدر صيـب ، دے عدنان هلک ته چې زۀ اوګورم نو خپله هلكانه راته رايـاده شـی ـ هـغـه تيـر وختونه ، هغه دَ دوو زړونو ټوپونه ، هغه لارے كوڅے ، هغه انتظار او تلوسے ، هغه دَ ګودر غاړے ، په غاړو هغه جاړے ، هـغـه پـه شـنو پټو كښې منډے ، هغه ټوقے او ملنډے ، دَ شړشم آزيړ ګلونه ، آ دَ قيں ، قُوں اوازونـه ، پـه سره غرمه كښی آ سارنه ، آ دَ يو بل لارے ته كتنه ، او سوم خدايه اوسوم ، يو لپه شوم ـ

ګل دين كاكا:ـ يَه هلكه عملی جانه ! ته ژاړے ، دا ولے ؟

عملی ماما:ـ زۀ نه ژاړم صدر صيب ، زړۀ مې ژاړی ـ

ګل دين كاكا:ـ بيادے هغے سره چرته ليدل كتل شوی دی ؟

عـمـلی ماما:ـ څوڅو ځله ، هغه بله ورځ مخے له راغله ، دَ نظر چشمے يې اچـولے وے ، نـوسـیِ دَ لاس نه نيولے وه او ډاكټر له يې بوتله ـ چې يو بل سره مو سترګے اولګيدے نو بياډيره شيبه ولاړ وو ، هغے هم ژړل او ما هم

☆☆☆☆

☆☆☆

## څوارلسم باب

ګوهر کاکی خپله دَ ړومبۍ شپے ناوے، سرے خپې، سرۀ لاسونه، په سره بنارسۍ کښې پټه په ګاډی کښې کینوله او سرے سترګے یې خپل پلار کره اورسوله ۔ په ټوله لاره دَ هغے یوے یوے سلګۍ دَ هغۀ دَ زړۀ جهان لړځوو ۔ دَ هغے خوږے خبرے او په تیره تیره دَ هغے دا ګیله چی "صیب جی دیکښے زما څۀ قصور، څۀ ګناه، خطا"؟ دَ هغۀ په زړه لکه دَ سومبو لګیدو ۔ چی کله هغه په کور دننه کیده نو هغه ورته په مایوسه نظر اوکتل، ګاډی له یې خپه ورکړه او په یو شغ دَ هغه ځاے نه اووتو او اسلام آباد ته روان شو ۔ په ټوله لاره ورته هغه مخکښے مخکښے کیده او هغه ته داسے محسوسیده لکه چی هغه خوب وینې یا دَ یو افسانوی کردار مطالعه کوی ۔ اسلام آباد ته چی اورسیدو نو دَ خپل وادۀ دوه میاشتے چُهټی یې په خپله بنګله کښې تیره کړه ۔ په دے دوو میاشتو کښې هغه نه دفتر ته لاړو او نه بازار ته ۔ دَ ضرورت هر څیز به ورله ملازم راؤړو ۔ پوره دوه میاشتے یې خپل موبائیل بند کړے وو په دے دوران کښې نه هغه چاته رنګ اوکړو او نه یې دَ چا کال موصول کړو ۔ چی کله یې چُهټی ختمه شوه او دفتر ته لاړو نو ټولو افسرانو او ماتحت عملې ورله مبارکی ورکړه ۔ هغه دَ ټولو مبارکی په روڼ تندی واخسته او هیچا ته یې دَ خپلې المیے ذکر اونکړو ۔ کله کله به ورته مور پلار رنګ کوو او هغوی سره به یې دَ روغ جوړ خبرے کیدے ۔ دے نه علاوه یې نه دَ عنبرین تپوس کړے وو



www.pukhto.net



او نه دَ بخت بی بی ۔ مور ورته څو څو ځله کلی ته دَ راتلو اووے خو دَ "نن درځم او صبا درځم" په بهانو به یې ترینه ځان خلاصوو او دَ هغوی خبره به یې زانګوله ۔ هغه ته ځان دومره کچه، سپک او شرمنده ښکاریدو چې چاسره یې سترګے نشوے لګولے ۔ هغه له به په عنبرین هم غصه ورتله او په خپل ځان هم ۔ په عنبرین به غصه ځکه ورتله چی هغے په هغه کبر اوکړو او په ځان به په دے ورتله چې هغه په بخت بی بی کبر اوکړو ۔ هغے ته یې سپک اوکتل او دَ خپله لاسه یې پلار کره بوتله ځکه چی هغه عنبرین نه وه، ځکه چې هغه دَشهباز خان لور نه وه بلکه دَ یو غریب زمیدار لور او یوه ساده بوده او معمولی تعلیم یافته جینۍ وه ۔ خو کومه مینه چې هغے هغه له ورکړے وه هغه دَ هغه په زړۀ نقش وه ۔ دَ هغے دَ زلفو په وږمو دَ هغه ذهن لا تر اوسه معطر او دَ هغے دَ نورانی مخ په ځلا دَ هغه زړۀ منور وو ۔ کله کله به هغه په زړۀ کښې وې چې هغه هغے پسې په خپله ورشی، دَ هغے نه معافی اوغواړی او ځان سره یې راولی خو بیا به یې ډیر زر دَ خپل خواهش تردید اوکړو او اوبه یې وئیل "هغه به دے ته تیاره شی ؟ هغه به دَ هغه خواست اومنی ؟ هغه دَ عنبرین دَ کبر سزا هغے له ولے ورکړه ۔

دَ هغه مور پلار چی کله دَ عنبرین نه مایوسه شو نو هغه دَ پاره یې دَ بلے رشتے تکل شروع کړو ۔ دے دَ پاره چې کله دَ هغه مور هغه پسې اسلام آباد ته لاړه او د هغه نه رائے اخسته نو هغه دَ بلے رشتے نه

چورلټ انکار اوکړو ، او ورته یې اووے چې وی نو بخت بی بی به وی ګینې نـه دے وی ـ چې اونشوه نو هغه کلی ته واپس راغئ او خپل خاونـد تـه یې دَ هـغـه دَ خـولی خبره اورسوله ـ دَ هغه پلار هم دَ هغه خیـال سره اتـفـاق اوکړو خو مسله هغے پسې دَ ورتګ وه او هغوی دا جرأت کولے نشو ځکه چې هغوی خو هغه په خپله دَ کوره ویستلے وه ـ ښـځے او خاوند به ټوله ورځ او ټوله شپه په دے خبرو زړونه خوړل چې څـوک وراولیـږی او پـه کـومو سترګو یې وراولیـږی ـ دے دَ پاره هغوی ګوهر کاکی دَ مشورے دَ پاره را اوغوښتو ـ درے واړه کیناستل او په دے مسله یې خبرے کولے ـ اخر ټول په دے صلاح شو چې دَ هغه مـور ، پلار بـه پټ پـه پټـه هغوی له جرګه ورشی او دَ هغوی خوله به بوئی کړی ـ دَ اتوار په ورځ مازیګر سید رحیم کاکی او دَ هغه ښځه په ګاډی کښې کیناستل دَ عالمی کور ته په جرګه ورغلل ـ دَ هغه دَ کور مـخے ته ډیره ګڼه ګوڼه وه ـ دَ هغوی په تپوس باندے هغوی ته اوویلے شـو چې دَ عالمی دَ لور وادهٔ دے او جنجیان راغلی دی ـ کاکی خان او دَ هـغـه ښـځے چې دا وواریدل نو یو بل ته یې اوکتل او هم دَ هغه ځایے نه نیمګړے نیمه خوا واپس شو ـ

## دویمه برخه

دَ کلی دَ دود ، دستور او روایاتو مطابق عالمی دَ کلی مشرانو ته دَ خپلے لـور دَ وادهٔ ویـنا ښـه پـه ټینـګـه کـړے وه البتـه یو شهباز خان او دَ هغه کـورنـئ پاتے وه ـ هـغـوی تـه دَ وادهٔ دَ بلنے په باره کښې عالمی خپلې





ښځے او ځامنو سره څو څو ځله صلاح اوکړه خو دَ چا زړه هم پرے اوبه نه څکلے او څوک هم دَ هغوی راغوښتو ته تیار نشو ـ شهباز خان هم دَ وادهٔ دَ بـلـنـے پـه غرض دَ هغه لارے ته سترګے نیولے وے خو چې هغوی بـلـنـه ورنـکـړه نو دَ وادهٔ په ورځ سره دَ ښځے نابللے ورغئ ـ دَ مشرئ په کـټ کښې کیناستو او بالخت ته یې ډډه اووهله ـ یو کس ، دوو سره به یې خبرے هم کولے او په رو رو کښې به یې دَ میلمنو جائزه هم اخسته ـ دَ کـلـی غریب خلق ښه په اخلاص دَ میلمنو خدمت ته ولاړ وو ـ ګل دیـن کاکا دَ یو مشر په حیث دَ میلمنو سترې مشی ته ولاړ وو او عملی مـاما به هرمیلمه دَ هغهٔ دَ حیثیت مطابق ځائے ته رسوو او هلته به یې کیـنـوو ـ عـالمی شهباز خان سره سترې مشی اوکړل خو دَ هغه ځامن خوالـه ورنـه غـلـل ـ شهباز خان او دَ هغهٔ ښځه دے وادهٔ له نابللے ولې راغـلـی وو ـ دیـکښـے دَ هـغـوی یـو مـطلب داوو چې دَ کلی خلقو ته دَ هـغـوی ترمینځه دَ ناچاقئ پته اونه لګی ـ بله خبره دا وه چې دَ شهباز خـان او دَ هغه دَ ښځے لا تر اوسه دَ عدنان په وضاحت تسلی نه وه شوے او دَ هغوی دا یقین وو چې عنبرین هغه بوتلے ده او چرته یې کینولے ده او دے وادهٔ لـه بـه یې پـه څـهٔ ناڅهٔ طریقه راولی ـ دلته به شهباز خان په دنـګـه غـړئ دَ عـدنان سارنه کوله او هلته په کور کښې دَ هغه ښځے دَ کـور په ګوټ ګوټ کښې دَ هغے لټون کوو ـ په دے غرض هغه دَ ګوټ خیـلے جیـنـکـئ یـې هـم یـوه په یوه اوکتې ـ دَ ناوے مخ کتنه یې هم اوکړه او هـغـے له یې دَ روایاتو مطابق پیسے هم ورکړے او تر هغے هلته



www.pukhto.net

وه چې بخت بی بی یې په خپله ډولۍ کښې کینوله ـ دغه رنګے شهباز خان دَ بخت بی بی او دَ داؤد دَ نکاح په رسم کښې برخه واخسته او دَ تصدیق دَ پاره یې دَ هغه په نکاح نامه خپل دستخط هم اوکړو ـ بخت بی بی په ډولۍ کښې واچولے شوه خو دَ هغې ژړا نه قلاریده دَ هغې سلګۍ نه اودریدې ـ داسے معلومیده لکه چې هغه دَ خاوند کور ته نه بلکه قربان ګاه ته روانه وی ـ په ژړا ژړا کښې یې څو څو ځله دَ ډولۍ نه دَ وتو کوشش هم اوکړو ـ چې اونشوه نو مور ورته قرآن په سر کیښودو ـ دے سره دَ هغې ژړا قلاره شوه خو کله کله به یې وړے وړے سلګۍ راتلے ـ په دغه سلګو سلګو کښې هغه دَ خاوند کورته اورسیده ـ

## دریمه برخه

ګوهر کاکی ته دَ بخت بی بی په وادهٔ سخته ذهنی صدمه اورسیده ـ هغه ډیره شیبه خپل سر په دواړه لاسه نیولے وو لکه چې دَ هغه په سر یو لوے بوجهـ پروت وی او هغه خپل سر له سهاره ورکوی ـ مورچې هغه په داسے حالت کښې اولیدو نو دَ هغه سر یې خپلې سینے پورے اونیوو او هغه له یې تسلی ورکوله ـ هغه ته دَ مور تسلی داسے ښکاریده لکه چې دَ چا په کور اور اولګی ، دَ هغه دَ ژوند ټوله سرمایه او ټول سامان اوسوزی ، کور لوټے لوټے او ایره ایره شی او دَ کلی محلت خلق راځی هغه له تسلی ورکوی او هغه ته دَ صبر تلقین کوی دَ هغه سر دَ مور په سینه پروت وو خو هغه ته داسے ښکاریده لکه چې دَ هغه



www.pukhto.net



سر په دیوال پروت وی ، یخ پخ او دَ مینے دَ حرارت نه خالی ـ یوه شیبه پس هغه خپل سر اوچت کړو ، پاڅیدو او په درنو خپو خپلې کمرے ته روان شو ـ دَ خپلې کمرے یو یو څیز ته به یې کتل او په زړه کښې به یې راتله چې په دے څیزونو به دَ هغې سترګے لګیدلے وی ، په دے څیزونو به دَ هغې ګوتے لګیدلے وی ـ چې څومره به وخت تیریدو هومره به دَ هغه اشتیاق زیاتیدو ـ دَ کمرے په هر دیوال او په هر ګوټ کښې ورته دَ هغې تصویر ښکاریدو خو هغه نه وه ـ هغه ډیره شیبه دَ خیال په سترګو دَ هغې خیالی تصویر ته کتل او په زړهٔ کښې به یې ورسره پټې پټې خبرے کولے په دے کښے کښې دَ هغهٔ سترګے اولګیدلے ـ

دَ هغه سترګے ایله ترخے شوے وے چې دَ هغه دَ غوږو راغلل "سلام علیکم" هغه په مسکا اووے "وعلیکم سلام ورحمت الله وبرکاته ، دے سره هغه دَ چا خندا وورېده او چې هغه سترګے اوغړولے او مخکښے روستو او اخوا دیخوا یې اوکتل نو هیڅ څوک نه وو ـ دے سره هغه ته دَ هغې یادونه بیا مخکښے شو ـ دَ هغې دَ یادونو دا سلسله لا شروع وه چې هغه ته دَ هغې بل یاد رایاد شو ـ پاڅیدو، اودس یې اوکړو او هغه جانماز باندے نمانځه ته اودریدو په کوم چې هغه ولاړه وه ـ ټوله شپه یې نفلونه ، تهجدو او دعاګانے کولے ـ په دعاګانو کښې یې دَ نورو وسیلو نه علاوه دَ خپل نیکهٔ بختیار کاکیؒ حواله هم ورکړه ـ چې کله دَ خپلو دعاګانو نه مطمئن شو نو دَ هغې په بالخت یې سر کیښودو او اوده شو ـ

## څلورمه برخه

دَ واده زلمے داؤد لا خپلو ملګرو سره بهر په حجره کښې ناست وو چې دَ مور په جواب کور ته راغے ، هغه دَ ناوے ليدو له خپلې کمرے ته ورتلو چې مور ورته په غولي کښې ولاړه وه ۔ هغے ورته په غوږ کښې اووے چې ناوے ناجوړه ده او هسپتال ته اوړل پکار دی ۔ داؤد چې دا ووريدل نو وار يې خطا شو خو دَ مور په ډاډ ګيرنه خپې کلکے کړے او ګاډي پسې بهر اووتو ۔ لږه شيبه پس يې ګاډې راوستو ، هغه يې پکښې کينوله او هسپتال ته روان شو ۔ چې هسپتال ته اورسيدل نو ناوے يې ډاکټرانو ته حواله کړه او هغوی بهر اودريدل ۔ لږه شيبه پس يوه نرس بهر را اووته او وے وئيل "د ناوے خاوند څوک دے "؟ داؤد زر په سينه لاس کيښودو او وے وئيل "زۀ يم سسټر" هغه مسکۍ شوه او هغه ته يې اووے " زر روپۍ مبارکی راکوه شابه ، خداې يوښکلے ځوے درکړو " داؤد په وارخطائی اووے "ځوې "؟دے سره پرے سر اوګرځيدو او قريبه وه چې په زمکه راپرېوتے وې خو مور دَ لاسه اونيوو او ګاډی له يې روان کړو۔ نرس حيرانه پاتے شوه او هغوی ترينه لاړل ۔ هغه په غصه خپل وارډ ته ورغله او ټولو ډاکټرانو او نرسانو ته يې دا خبره اوکړه ۔ داؤد او دَ هغه مور په ګاډی کښې کيناستل کورته لاړل او ناوے يې خپل بچی سره په هسپتال کښې پرېښوده ۔

## پنځمه برخه

سحر چې عالمی دَ مانځه دَ پاره جمات ته دَ تلو تيارے کوو نو دَ هغه دَ



www.pukhto.net



کور ور اوډبيدو دَ عالمی وار خطا شو چې بيا څه چل اوشو ۔ هغه په تونده ورله ورغے ۔ چې وريې لرے کړو نو دَ داؤد استاذی ورله يو کاغذ ورکړو ۔ عالمی په حيرانتيا او رپيدونکی لاس کاغذ اونيوو او تپوس يې ترينه اوکړو "تۀ څوک يې او دا څۀ دی "؟

استاذې :۔ زۀ د داؤد استاذے يم ستا لور دَ مياں خيل په هسپتال کښې ده او هغے ته ستاسو ضرورت دے۔

عالمې ( په يره او هيبت ) ولے ناجوړه ده ؟

استاذې :۔ ناجوړې وه خو بيماری يې ختمه شوه ۔ مبارک شه خداې يوښکلے نوسې درکړو۔

عالمې :۔ نوسې ؟

استاذې :۔ او دا کاغذ ستا د لور طلاق نامه ده ۔

عالمې :۔ طلاق نامه ۔

استاذې :۔ هاؤ طلاق نامه ، لاړم درنه ۔ سلام عليکم ۔

عالمی ډکے سترګې اسمان ته اونيوے او په چغه يې اووے "يه خدايه ماکوم جرم کړے دے چې دَ هغے په وجه شرميږم ۔ يه خدايه ما واخلے زۀ لاژوندے ولې يم ۔ ما خو چرے هم چا پورے خندا نه ده کړے ۔ دا زۀ دے ولے دَ خلقو دَ خندا کړم "۔ د هغه په چغو او ژړا باندے دَ هغه ښځه او ځامن هم پاڅيدل ، هغوی ته چې پته اولګيده نو هغوی په ګډو وډو سر شو ۔ بيا دواړه ځان سر وسله واخسته او دَ هغے مرګ پسې روان شو ۔ چې څنګه هغوی دَ کوره اووتل نو مور يې په دواړه لاسه په

مخ راکیښوه هغوی پسې یې دَ تلو کوشش کوو خو عالمي اونیوه او په کوټه کښې یې بند کړه ـ

## شپږمه برخه

ډاکټرانو او نرسانو ته چې دَ بخت بی بی او دَ هغې دَ ماشوم دَ حیثیت پته اولګیده نو هغوی هغه په کپړه کښې اونغښتو ، هغې له یې غیږ کښې ورکړو او هم په هغه ساعت یې دَ هسپتال نه رخصت کړه ـ هغه چې دَ هسپتال نه اووته نو ډیره شیبه دَ هسپتال مخې ته په سړک ولاړه وه ـ هغه نه پوهیده چې چرته لاړه شي ـ خپل خاوند کره لاړه شي او که خپل پلار کره ـ داؤد خو هغه پریښوده او هغه ترینه لاړو ـ دَ مور پلار دَ کور نقشه دَ هغې ذهن کښې ګرځیده ، دَ داؤد دَ کور خیال دَ هغه په ذهن کښې ګرځیدو خو دَ هغې خپل کور چرته هم نه وو ـ دَ هغې دَ ساه اخستو ځائې چاسره هم نه وو ـ هغې په خپل قسمت او په خپلې بې وسۍ ژړل خو دَ صبا ستوری هغې پورې خاندل ـ

لویه دنیا هغې ته لکه دَ کټورې راغونډه شوې وه او هغه پکښې لکه دَ بې کوره میږې کله په یوه غاړه او کله په بله غاړه حیرانه ګرځیده ـ چې څۀ ځائې پورې به لاړه نو بیا به واپس شوه او په بل طرف به یې مخه اوکړه ـ د ډیر سوچ او فکر نه پس هغه په یو طرف روانه شوه ـ دَ سحر رڼا لګیدلې وه خو دَ هغې په زړۀ او ذهن کښې لا هغسې تیرې وې ـ چې کله دَ هغې دَ ژوند دا امید ټولې لارې ختمې شوې نو هغې په زړۀ کښې فیصله اوکړه ـ کومه فیصله ؟ هغه فیصله چې هغه سړې دَ



www.pukhto.net



ژوند دَ ټولو لانجو ګونجو نه خلاصوی ـ هغه فیصله چې دَ سکون او امن بلنه ورکوی ـ هغه فیصله چې هغه سړې په لږ ساعت کښې خپل صحی مقام ته رسوی ـ

هغه په تیزو تیزو قدمونو په سړک روانه وه او خپل ماشوم ځوې یې خپلې سینې سره لګولې وو ـ په تلو تلو کښې هغه ، هغه مقام ته اورسیده د کوم چې هغې ارمان کوو ـ دَ سړک دَ غاړې سره دَ سیند غاړه هم جنګیده او کله کله خو به داسې ښکاریده لکه چې دغه دواړه یو بل سره غاړه وتلې دی خو هغه مخکښې روانه وه ، هغه ځائې ته چرته چې دَ سیند ټولې اوبه راغونډې شوې وې او دَ چکر په شکل کښې تاویدې او دَ غولۍ په شکل کښې لاندې تلې ـ دَ سیند دَ غولۍ متعلق هغې لکه دَ نورو وړو اوریدلی وو چې غولۍ سړې اونیسی نو دَ دې دنیا نه یې ډیر لاندې دَ زمکې تل ته اورسوی ـ هلته اوبه نه وی بلکه اوچه وی ، په دغه اوچه لکه د دې دنیا آبادۍ وی ، ښارونه او بازارونه وی ـ هلته د دنیا غمونه نه وی بلکه بې غمی وی ، خندا وی او خوشحالۍ وی ـ هلته دهوکه ، فراډ ، ظلم ، جبر او زیاتې نه وی ـ هلته مینه ، محبت ، تماشې او سیلونه وی ـ هلته باغونه ، تلاؤ نه او شنۀ شنۀ غرونه وی ، هلته دَ بیګاه ، صبا غم نه وی ، هلته دَ موسم شدت او دَ خوراک شکایت نه وی ـ هلته موسم خوشګواره او سازګاره وی ـ هلته ډاکې ، غلا نه وی ځکه چې هر سړې موړ وی ـ هلته دَ هرچا عزت محفوظ وی ځکه چې ټول پاک او معصوم وی . . . هغې دا خبرې ډیر مخکښې

اوریدلے وې او په ماشوموالی یې څو څو ځله د دغه ځائے ارمان کړے وو خو چې رو رو لوئیده نو دغه خبرے ترینه هیریدے او چې کله پیغله شوه او دَ ځوانۍ رنګینی یې په اننګو کښې اوغړیده نو هغه زړے خبرے ټولے ورته موضوعی او دروغ ښکاره شوے ـ خو چې کله ګوهر کاکی دَ واده په رومبۍ شپه هغه ګاډی کښې کینوله او پلار کره یې راوسته نو هغے ته په لاره دَ ماشوموالی هغه تیرے هیرے خبرے یوه په یوه بیا رایادے شوے او زړۀ یې غوښتل چې هغه دَ بے غمۍ دنیا نه لاړه شی ـ یوځل دوه یې دَ ګاډی نه دَ وتو خیال په زړۀ کښې راغلے وو خو دَ ګوهر کاکی په وجه هغے داسے اونکړے شو چې هسے نه هغه دَ هغے دَ لارے خنډ جوړ شی او هلته یې تلو ته پرے نه ږدی چرته چې هغه تلل غواړی ـ بیا دَ پلار په کور کښې هم هغے څو څو ځله هلته دَ تلو کوشش کوو خو دَ مور دَ سترګو دَ څوکۍ په وجه هغه ناکامه شوه ـ دَ واده نه مخکښے چې کله دَ هغے دَ خیټې په کور کښې دے ورُوکی میلمه ساه واخسته نو دَ هغه دَ هرے ساه سره به دَ هغے ساه تله راتله ـ چې کله په ډولۍ کښې واچولے شوه نو دا ماشوم هلته په تلو خوشحاله نه وو ځکه چې دَ هغه دَ پلندر کور په هغه ښه نه لګیدو ـ هغه په هره طریقه خپله مور هلته دَتلوو نه منعے کوله ـ هغۀ ژړا کوله خو دَ هغۀ ژړا بغیر دَ خپلې موره بل چا نه اوریده ـ هغه ذیل کوو ، په ذیل کښې یې لتې وهلے ، ډډے په ډډے اوختو رااوختو او خپله موریې هلته دَ تلو نه منعے کوله خو دَ هغه یوه خبره هم چاوونه



www.pukhto.net



ریدله ـ چې کله دَ داؤد کور ته اورسیده او هغه ته دَ دغه پردی کور احساس اوشو نو بیا ئے ذیل راواخستو او دَ مور په خیټه کښې لتې وهلے ـ هغے تر ډیر ساعته پورے هغه له تسلی ورکوله خو هغه دَ چا خبره هم نه منله او آخر یې مور دَ داؤد دَ کور نه په وتو مجبوره کړه ـ چې کله دَ هغه مور په هسپتال کښې په بیډ واچولے شوه نو هغه ته د دے نوے کور احساس اوشو ـ دَ هغه ژړا ختمه شوه او په خندا خندا دے بلے دنیا ته راغی ـ

یوځل دَ هغے په زړۀ کښې راغله چې دا ماشوم هم ځان سره هغه دَ بے غمۍ دنیا ته بوځی چې دَ خپل پلار ارمان ورنشی ، هلته مور او ځوی دواړه په خندا خوشحالۍ اوسیږی دَ نورو وړو سره هغه لوبے کوی او هغه ورته ګوری ، خو بیا یې په زړه کښې راغله چې دا خو پردے امانت دے او دَ هغے پکښے هیڅ واک او اختیار نشته ـ په دے غرض هغے دا فیصله اوکړه چې دا ماشوم هم دلته پریږدی ... هغے دَ سرنه بورقه لرے کړه ، دَ سړک په غاړه یې کیښوده ـ هغه یې په لاس سمه کړه او ماشوم یې پرے کیښودو ـ هغه اودۀ وو خو په خوب کښې به کله کله مسکې شو لکه چې دَ مور په تګ باندې خوشحاله وی ـ کله کله به یې په مخ او تندی خړه راغله لکه چې مور ته وائی "ما هم ځان سره بوځه ، ما چاته پریږدے"؟ هغه تیټه شوه هغه یې په دواړه مخه ښکل کړو او ورته یې اووے "تا خپل پلار ته پریږدم ، یریږه مه ، پلار به دے راشی او تا به ځان سره بوځی" ـ هغه پاڅیده خپله بنارسۍ

یې دَ سر نـه کـوزه کړه او په هغه یې په مزه مزه اوغوړوله ـ بیا ترینه ډکے سترګے روانه شوه ـ دَ سیند په کمر او دریده ، سترګے یې بره اسمان تـه اونیوے او دَ خپل ماشوم دَ سلامتئ دَ پاره یې دعا کوله ـ هغه لا په دعا کښې مصروفه وه چې دَ ماشوم ژړا یې وورېده ـ هغے لکه دَ بجلئ دَ کړنګ هغه له رامنډه کړه او چې اوې کتل نو ماشوم یو سړی دَ زمکے نـه اوچت کړے وو او خپـلې سینـے پـورے یې لګولے وو ـ هغـه چې ورنـزدے شـوه نو دواړه لاسونه یې هغه ته اونیول او وے وئیل " ماشوم راکړه " خو چې هغه ته یې اوکتل نو لاسونه یې هم روستو کړل او په خپـلـه هـم روستو شوه ـ په حیرانتیا یې اووے "صیب جی تهٔ " ګوهر کاکی مسکې شو او وے وئیل "هاؤ بخت بی بی زهٔ "۔

بـخـت بـی بـی :ـ مـاهم ستا انتظار کوو ، دا ښه ده چې راغلے ، دا خپل امانت دے سمبال کړه ـ

ګـو هـر کاکی :ـ زما امانت ماسره دے خو تانه بغیر به یې څنګه سمبال کړم ـ دۀ ته ستا ضرورت دے

بـخـت بـی بـی :ـ نـه صـیب جی ، زهٔ نـوره نشم ایساریدلے ، ماهم ستا انـتـظـار کوو، چې تهٔ راغلے نو زما کار ختم شو ـ زهٔ ډیره لرے روانه یم ، ډیره لـرے ، هـلـتـه زمـا مـلـګـرے زما انتظار کوی ، زهٔ درنه لاړم ( هغه روانیږی ) ـ

ګو هر کاکی :ـ تهٔ چې څهٔ کول غواړے ماته پته ده ـ خو چې دۀ سره تهٔ نـه یـې اودے ژاړی نو هلته به هم ستا روح پریشان وی ـ د دے ماشوم دَ



www.pukhto.net



پـاره واپس شه بخت بی بی ـ د ده په خاطر واپس شه ( ماشوم ژاړی ) ته ورتـه اوګـوره ، مـا سینـے پـورے نیـولے دے خو دے ستا مینه غواړی ـ دومـره ظلم مه کوه پلیز ، پلیز ( هغه خپه نیولے شی ) "راشه بخت بی بی ، ده ته زمونږ دواړو ضرورت دے راشه "

بخت بی بی راځی ، ماشوم دَ هغهٔ دَ غیږ نه اخلی او خپلې سینے پورے یې نیسی ګوهر کاکی دَ هغے بنارسئ دَ هغے په سر اچوی ـ بیا دَ هغے بـورقـه راخلی دَ هغے په سر یې اړدی ، دَګاډی کړکئ ورته لرے کوی او وائی "راځه بخت بی بی کینه " ـ

بخت بی بی :ـ صیب جی ...؟

ګوهر کاکی :ـ راځه بخت بی بی پلیز ـ

بخت بی بی :ـ صیب جی ته چرته ځے

ګوهرکاکی :ـ زهٔ اسلام آباد ته روان یم خپل کور ته ـ راځه کینه ـ

بخت بی بی :ـ صیب جی ...

ګـو هر کاکی :ـ مامعاف کړه بخت بی بی ـ ما تاسره ډیر زیاتے کړے دے ـ بیـګاه مې توله شپه خدای ته ژړلی دی او ته مې ترینه غوښتے یې او هله دَ جانماز نه پاڅیدم چې ستا دَ ملاویدو بشارت راکړے شو۔

بخت بی بی ( مسکئ شی ) ته رشتیا وائے صیب جی ـ

ګو هر کاکی :ـ بالکل رشتیا ـ

دے سره دواړه په خندا شی ـ په ګاډی کښې کینی او روان شی ـ

☆☆☆☆

## پنځلسم باب

عدنان لکه دَ شهزاده سيف الملوک دَ اوسپنې څپلۍ په خپو او سليمانۍ ټوپۍ په سر د خپلې بدرې جمالې په تلاش کښې اوتے وو او دَ هغے لټون يې کوو ـ هغه خواؤشا کلي ټول اوکتل ، دَ کلي دَ جينکو دَ کالج مضافات يې اوکتل ، دَ لوے هديرے په جاړو او بوټو کښې اوګرځيدو خو هغه يې چرته اونه ليدله او هغه به يې څنګه ليدلے وه هغه ځۀ سړے خو نه وو چې په لارو کوڅو کښې به يې اووينی ـ هغه که هر چرته وه خو په کور کښې به دننه وه او دَ هر چا کور ته خو هغه سر دننه کولے نشو او نه يې په لاره کوڅه کښې دَ چانه دَ هغے تپوس کولے شو ـ بهر حال چې خپل زړۀ يې تله کړو او دے نزدے علاقه کښې يې اونه موندله نو دَ تلاش دائره وسيعه کړه ـ

په تلاش تلاش کښې هغه دَ خورجی بنګلے ته هم اورسيدو ، هغه بنګلے ته چې په هغے کښې هغه موده تيره کړے وه ـ هغه چې هلته ورغے نو دَ هغے دَ کور ټوله نقشه بدله وه ـ ټول موسمی ګلونه اوچ شوی وو ـ ناياب ګلونه او بوټی ويستلی شوی وۀ او اوړلی شوی وو ـ دَ کمرو ورونه ، کړکۍ ، الماری ، شوکيسونه ميزونه ، کرسۍ ، صوفے ، ډبل بيډونه ، بسترے او نور لوښی لرګی غيب وو ـ ټولے کمرے وازے خولے پرتے وې دَ خورجی په کمره کښې دَ هغه او تابش په وينو سور قالين پاتے وو او هغے باندے پيشوګانو خپلو بچو سره لوبے کولے ـ ځائے په ځائے دَ کبانو سرونه ، لشے ، دَ چرګانو بڼے ، خپې او کولمے او



www.pukhto.net



نورے ګندګۍ پرتے وې ـ په کمره کښې سوړ او ګندهبوئيں وو ـ

دَ هغه په ورتلو باندے پيشوګانو دَ کمرے نه بهر ته منډه کړے ، څۀ نورو کمرو ته لاړل او څۀ په بوټو کښې پټ شو ـ هغه دَ کمرے په خوله کښې اودريدو او دَ حسرت په سترګو يې دَ کمرے ديوالونو ته کتل ـ هغه ډيرشيبه په دغه حالت کښې ولاړ وو او په يو سوچ کښې ډوب وو ـ دَ هغه ذهن ته دَ خورجی تصوير ، دَ هغے جلال وجمال ، دَ هغے رعب داب ، دَ هغے ناسته پاسته ، دَ هغے خبرے اترے او دَ هغے يوه يوه ادا او دَ کبر تاثرات لکه دَ فلم دَ پټی دَ هغه مخے ته راتلل او تيريدل ـ هغه يوه په يوه ټولے کمرے اوکتے البته دَ عنبرين کمرے ته يې دَ تلو جرأت اونکړے شو ـ دَ هغۀ دَ کمرے او دَ باور چی خانے حال دَ نورو نه بدتر وو ـ هغه چې خپل چکر ختم کړو نو بيا چمن ته ورغی ، هلته کيناستو اوچو بوټو ته يې کتل او سترګے يې ډکيدے او تشيدے ـ بيا ئے په زړۀ کښې راغله چې دے ټولو ترو بوټو او چمن له اوبه ورکړی ، کيديشی دا تاند شی ـ دے دَ پاره دَ اوبو دَ مشين کوټۍ له ورغی ـ هلته نه مشين وو او نه دَ مشين څۀ نښخه ـ هلته ډير په مايوسۍ کيناستو او دے ټولے ورانۍ ته ګوته په خوله شو ـ بياپاڅيدو يوه سرسری نظاره يې بيا دَ کور اوکړه ـ ځان سره يې غلے غوندے اووے "کُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ٥ " دے سره په درنو خپو او دروند سر دَ کور نه بهر شو او دَ عنبرين په لټون کښې په نامعلوم منزل روان شو ـ

نمر په غرغره وو چې دَ يو ټکر خوا کښې په يوه غونډۍ کيناستو او دَ



Pukhto.Net

نمر دَ زیړو پلوشو تماشه یې کوله ـ دَ نمر تولے پلوشے دَ ټکر په اوبو پریوتے او دغه اوبه دَ طلائی مائعے په شکل کښې لاندے پریوتے او بهیدے دَ اوبو په دهارو کښې دَ مختلف رنګونو څلا ښکاریده ـ دغه رنګین څاڅکی دَ مختلف رنګو په شکل کښی لکه دَ باران وریدل ـ دَ ټکر دغه اوبه به ډیره شیبه دَ چکر په شکل کښې تاویدے ، هغے سره راغلی ګنګخړی به هم تاویدل ، دَ غولۍ په ډوغل کښې به لاندے تلل کله به غیب شو او کله به ښکاریدل ـ

دَ اوبو او ګنګخړو دغه پټ پټونی کښې دَ هغه دلچسپې رو رو زیاتیده او دے حد ته اورسیده چې هغه ته هر ګنګخړے دَ ځان غوندے بے اسرے او بے وسه ښکاره شو ، اوبه یوه ظالمه او بے رحمه زمانه ، په مظلومو ګنګخړو دَ اوبو زور ګری ، دَ یو جابر ستمګری ، دَ هغے شور دَ ظالم دَ قهر اوازونه او دَ هغے زګونه دَ ظالم دَ وخکو زګونه ښکاریدل ـ چې کوم ګنګخړې به اوشاریلے شو ، دَ لادو بادو به پریوتو او دَ هغے دَ پنجو نه به ازاد شو نو په مستۍ ، خوشحالۍ ، په ګډا او چورلکونو به روان شو ـ دغه رنګے دَ بے وسه مظلوم ژوند هم دے ـ په قدم قدم تیندکونه ، ډغرے او دَ مخ سپیرے دَ هغه دَ مقدر ازلی لیک او فیصله ده چې هغه نه بدلیږی او نه ورانیږی ـ هغه فیصله چې هغے باندے دَ نظر ثانی ضرورت نشته ـ دَ هغے نه انکار کول دَ حقیقت نه انکار کول دی ـ او دَ هغے خلاف شکایت کول ګناه ګڼلے شی ـ دَ ګناه دَ خیال سره هغه دَ اوبو او ګنګخړو دَ لوبے نه سترګے واړولے او بره اسمان ته یې


www.pukhto.net



اوکتل چې دَ خپلې نظریے تائید یا تردید د اسمان دَ مالک نه اوکړی خو دَ هغه نظر ډیر بره اونه ختو بلکه په فضا کښې بانډه شو او دَ توتاکرکو په سیلونو او دَ هغوی په مستۍ پریوتو ـ چې دَ هغوی دَ کشش نه ازاد شو نو بره په تپوسانو پریوتو ـ هغوی په خورو وزرونو او دوربینی سترګو دَ دنیا او دَ دنیا دَ خلقو نظاره کوله او لکه دَ جاسوسی الوتکو یې دَ هر چا دَ حرکات سکنات او ناستے پاستے عکس بندۍ کولے ـ دے سره دَ هغه په زړه کښې یو پُر امیده خیال راغۍ د دے خیال په راتلو سره دَ هغه زړۀ دَ خوشحالۍ نه یو توپ اووهو ، په سترګو یې څلا راغله او په مخ یې رڼا خوره شوه ـ هغه توتاکرکو او تپوسانو ته مخاطب شو او وے وئیل ، "اے دَ هوا مستو مارغانو ! اے خوشحاله توتاکرکو ! اے بے غمه تپوسانو ! یو سوال مِ اومنۍ ، یوه ارزو مِ اومنۍ ، لږ خو راته اووایۍ چې زما دَ خوږ زړګی درمان ، زما دَ ارمان جهان ، زما عنبرین چرته ده ؟ اے دَ ټکر شوره ! لږ خاموش شه ، چپ شه (دے سره هغه دَ ټکر په اوبو دَ کانی ګوزار کوی ) چې د دوی زیرے وورم "ـ

هغه نور هم څۀ ویل غوښتل خو یو سړے راغۍ دَ هغه شاته اودریدو او وے وئیل ، "ته څوک یې او دلته څۀ کوې " ؟ هغه چې شاته اوکتل نو یو دروند مسلح سړے دَ هغه شاه ته ولاړ وو ـ نمر په ترخ نظر دواړو ته اوکتل او دَ تور غر نه پناه شو لکه چې هغه ته وائی " زۀ درنه لاړم ، نور تۀ پوهـ شه او دا سړے"ـ هغه سړی بیا اووے ، " تاته ویم کنه ، ته څوک یې او دلته څۀ کوې " ؟

عدنان:۔ زۀ دَ خدایٖ بنده یم او دَ خدایٖ په زمکه ناست یم ۔

اجنبی :۔ اوه ، دَ خدایٖ بنده ؟ دا مونږ ولے دَ خدایٖ بندیان نه یو ؟

عدنان :۔ ولې نه ، راځه ته هم کینه او تماشه کوه ۔

اجنبی :۔ دَ څه تماشه ؟ دَ اوبو ؟

عدنان :۔ دَ دوارِو ، دَ اوبو او ګنګخرِو ۔

اجنبی :۔ خبرے دې چاسره کولے ؟

عدنان:۔ دلته بل څوک نشته ۔ ځان سره لګیا ووم۔

اجنبی :۔ دلته بل څوک نشته خو کیدیشی تا په موبائیل چاسره خبرے کولے ۔

عدنان :۔ نه ماسره موبائیل شته او نه په موبائیل پو هیږم ۔ ته زما تالاشی اخستے شې ( هغه یې تالاشی اخلی )

اجنبی :۔ کیدیشی تا موبائیل په اوبو کښې غورځولے وی ، کیدیشی تا پکښے طماچه هم غورځولے وی ۔

عدنان :۔ طماچه ؟ تۀ زما په خوله اعتبار ولے نکړے ، ماسره نه موبائیل شته او نه طماچه ۔

اجنبی :۔ دَ هغه نه په مخ سپیړه اوباسی " بکواس مۀ کوه ، شابه دے اوبو ته ورټوپ کړه ، خپل موبائیل او طماچه دے راواخله ۔

(عدنان دَ هغه په خبره مسکې شی ) خوله مه وازه ، شابه دے اوبو ته ورټوپ کړه ۔ دے ډب کښې سر ډوب کړه او هلته ترینه سر رااوباسه چې خپل موبائیل او طماچه ترینه راواخلے ۔



www.pukhto.net



عدنان یو نظر هغه ته ګوری او بیا لاندے جورو اوبو ته ګوری ۔ اجنبی دَ هغه غوږ سره هوائی فائر کوی ۔ عدنان دے ناګهانی فائر سره دومره اویریدو چې دَ یرے نه یې ټوپ اووهو او چی په ځان پو هیدو نو لاندے ډب ته پریوتے وو ۔ هغه په اوبو کښې لاس خپې وهلے او اجنبی ورته دَ پاس نه وے " سر ډوب کړه ګینی درغله ګولۍ " عدنان سر ډوب کړو خو چی ساه یې بنده شوه نو سر یې بهر کړو ۔ اجنبی دَ هغۀ دَ یرولو دَ پاره یو بل ډز اوکړو ۔ ګولۍ دَ هغه سر سره جخته تیره شوه یو "شین" یې اوکړو او اوبو کښې سړه شوه ۔ دَ ډز سره هغه بیا سرغوپه کړو او په اوبو کښې یې برېوکۍ شروع کړې ۔ ډیره شیبه په اوبو کښې غیب وو ۔ بیا اخر چې دَ سر نه یې مخکښے خپې ښکاره شوے ۔ خپو پسې لاسونه او لاسونو پسې سر یوه شیبه په اوبو کښې چورلیدو ، لاندے باندے تلو راتلو او اخر دا چې لکه دَ نورو ګنګخرِو ازاد شو او په خکته روان شو ۔

ډزو پسې یو څو کسان نور هم راښکاره شو هغوی چې هغه په اوبو کښې اولیدو نو یو کس اوبو ته ورکوز شو هغه یې اونیو او دَ نورو په مدد یې بهر را اوویستلو ، هغوی هغه په یوه غټه ګټه پړمخ واچوو ۔ دے سره دَ هغه دَ خولے او سپیږمو نه دَ اوبو چینی روانے شوے ۔ چې کله دغه چینې اوچے شوے نو هغه یې په ډنګه ډولۍ اوچت کړو ، دَ حجرے په کوټه کښې یې واچوو او ور یې ورپسی بند کړو ۔ عدنان دوه ورځے په بے هوشه حالت کښې پروت وو ۔ په دریمه ورځ چې هغه په

هوش کښې راغې نو بیا یې ترینه تپوس شروع کړل ـ ته څوک ؟ دلته څۀ لـه راغلـے وې ؟ چا رالیږلے وې ؟ نور ملګری دے څوک دی ؟ دَ چا جاسوسی دے کوله ؟ دَ چا په سر دے پیسے اخستے دی ؟ څومره پیسے دے اخستے دی ؟ دَ کوم تنظیم سره تعلق ساتے ؟ " وغیره وغیره ـ

دا ټول تپوسونه دَ هغه نه څو څو ځله اوشو خو چې هغه جواب ورنکړے شو نو بیا یې ورته چوکے اونیوے ، دَ هغه بدن ټول پاڼے ، پاڼے او موړے موړے شو خو هغه ورته داسے ولاړ وو لکه یو مجاهد ته چې په جنګ کښې توره ماته شی ، خالی لاس ولاړ وی ، دَ ژوند امید یې پاتے نشی او دَ شهادت دَ پاره دَ دشمن ګوزارونو ته ارته سینه او خواره لاسونه ولاړ وی ، نه یې دَ خولے نه چغه اوځی ، نه ویش او نه چونْ ، خو اخر ترکومه ، یو ګوزار یې په سر برابر شو او لکه دَ نړیدلے غر لاندے راپریوتو ـ

څۀ وخت پس هغه په هوش کښې راغی ـ خو په سُرهـ کښې رانه غی ـ اوس هغه ، هغه حالت ته رسیدلے وو څۀ نه چی هغه یریدو او دَ څۀ پیشګوئی چې ورته دَ غیب نه شوے وه . . . چې چابه لیدو نو دَ کانی ګوزار به یې پرې کوو . . . .لاسونه به یې ورپسې پرقول او خپې به یې ورپسې دربولے ـ هغه به دَ "قیس " اواز اوکړو او منډه به یې کړه ـ

☆☆☆☆

☆☆☆

☆



www.pukhto.net



## شپاړسم باب

دَ پښتنون دَ پاره دَ لور ، خور شرم د دنیا دَ هر غم نه زیات وی عالمی ډیر دَ مړانے وخت تیر کړے وو خو معلومه نه ده چې دَ چا ازار ورپسې شو ـ په اخری عمر کښې پرے دَ غمونو باران شروع شو او هغه دَ شیبے دَ پاسه شیبه او دَ شرق دَ پاسه شرق ـ هغه دَ ځوی په غم زړۀ خوړو چې دَ لور غم پرے راغی ـ هغه دَ هغے په غم کښے ډوب وو چې دَ پاسه پرے دَ هغے شرم راغی ، په هر طرف ترینه ساګ سیلی اوړے وو او هیڅوک یې دَ تسلی ، مشورے او همدردی پاتی نشو ـ دَ هغه ځامن ناصر خان اوسجاد خان وو خو هغوی کښې دَ تسلی یا ډاډ خبره نه وه بلکه هغوی د دغه اور دَ پاسه دَ بل اور لګولو کوشش کوو ، اګر چی دَ هغوی ړومبی کوشش ناکام شوے وو او خپله خور بخت بی بی په ګوتو نه وه ورغلے خو هغوی همت نه وو بائیللے او خپلې منډے تړړے او جدوجهد یې جاری ساتلے وو ـ دَ ورځے به یې پټی کښې کار کوو او دَ شپې به غلے غلے په طوطی خیل ، کاکی خیل ، میانْ خیل او خواؤ شاکلو کښې ګرځیدل ـ دَ هر چا غوږ ایستنه به یې کوله ، دَ هرے حُجرے دیوالونو ته به یې غوږونه نیول او په دے امید به یې هرے لارے تـه کتل که چرته د چا دَ خولے نه دَ هغے متعلق څۀ خبره اوخیژی او څۀ سراغ ورته ملاؤ شی ـ

دَ هغوی مور او پلار ته دَ هغوی دَ ارادو پته وه خو هغوی دَ ملامتے نه هیڅ نشو ویلے ـ دَ هغوی په زړونو کښې چې دَ کرکے ، قهر او غصے

کوم اوربليدو دَ هغے اظهار دَ هغوی دَ سرو سترګو نه کيدو ـ دلته دوی دَ هغے دَ ويشتـو دَ پاره ګوتے په کلاشن کوف ايښے وو او هلته هغے دَ مور پلار او رونړو په غم کښې اخته وه او دَ هغوی دَ سلامتئ دَ پاره يې هـروخت لاسونه په دعا اوچت وو ـ هغے ته دَ خپل شرم او بدنامئ پته وه او دا هم ورته معلومه وه چې دَ هغے په وجه دَ هغے مور ، پلار او رونړه کـوز سترګی دی خو ديـکښے هـغے هيڅ نشو کولے ، د دے شرم کار د هغے پلار دَ رونړو په صلاح او مشوره کړے وو ـ هغوی د شهباز خان په عزت داسے کلک ولاړ وو چې خپل عزت ترينه هير وو ـ هغے ته پته وه ـ چې ديکښے دَ هغےڅۀ قصور او ګناه نشته ـ که ګناه خطا ده نو ټوله دَ هغـوی ده ـ خو دا ورتـه څوک اووائی او څوک يې پوهـ کړی ـ هغوی دَخپـله لاسه هغه په ډک سيند کښې ورواچوله نو لامبو اولاس خپې به څنګه نه وهی ـ

ګـو هر کاکی بـه لـمـحـه لـمـحـه او ساعت په ساعت دَ هغے نه زاريدو قربانيدو او دَ هغے دَ خوشحالئ دَ پاره به يې هره ورځ هغے له نوے نوے تـحـفـے راوړے ـ هغـے هم دَ خپل سرتاج ـ دَ مينے پوره پوره خيال ساتو خو کـلـه کله به يې ترينه په نه څۀ خبره باندے ځان خفه کړو ـ هغه ته پته وه چې هغه هسے چيړل کوی نو هغه به هم ترينه ځان مرور کړو او ساعت ، ګهړی به بوټ وو خو چې هغے ته به دَ هغۀ دَ خفګان احساس اوشـو نو په څۀ بهانه به يې ورسره خوله ګډه کړه ـ بيا به دواړه په خندا شـو او دَ دواړو به دَ خپلے مينے اظهار دَ کاکی په ښکلولو باندے اوکړو ـ





هـغـوی دواړو لـکـه دَ دوو ميـئـنو او دوستانو په يو کور کښې اوسيدل خـو نـکـاح يې لانه وه شوے ـ کله چې دَ هغے دَ نکاح شرعی حد پوره شـو نـو دواړو نـکاح اوکړه ـ دے نه پس دَ هنی مون دَ پاره مری ، سوات او کـاغـان تـه لاړل ، هـلـتـه يې دَ ژوند دَ مزو خوند واخستو او دغـه خونـدونـه وار تـر واره زياتيـدل ـ پـه مـختلفو ځايونو او مختلف فوز کښـې يې فـوټـوان اوويستـل او چـی کـلـه اسلام آباد ته واپس شو نو ګـو هر کـاکی هـغـه فـوټـوان دَ مبارکئ دَ خط سره خپل مور پلار له اوليـږل ـ هـغـوی چې دَ هغـۀ دَ واده او دَ خپـل نوسی نه خبر شو نو د ډيـرے خـوشـحـالئ نـه پـه جامو کښې نه ځائيدل او هغه شپه پرے نه تيـريـده ـ سحـر وختی دواړه په ګاډی کښې کيناستل او اسلام آباد ته لاړل ـ هـلـتـه چـی يـې خپلـه نـاوے اينـګـور اونـوسې اوليدو نو دَ خوشـحالئ سره سره يې دَ الله ډير شکر ويستلو چې څۀ دَ پاره هغوی هرے قـربـانـئ تـه تيار وو هغه خداې ويرپا او په اسانه ورکړه ـ دَ ګوهر کـاکی مـور ، پـلار غـوښـتـل چـی پـه څۀ ناڅۀ طريقه عالمې او دَ هغه ښځـه د دے نـه خبر کړی خو دَ بـخـت بی بی او ګو هر کاکی په وينا هغـوی داسے اونـکړے شو او دَ هغوی دَ مشورے مطابق يې دَ مناسب وخت دَ مناسب ځاے او دَ مناسبے موقعے انتظار کوو ـ

هـلـتـه دَ عالمی زړه په ډکو بانډه وو او هر شپه به يې دَ ځامنو پس پسو تـه غـوږ نيـولـے وو ـ دَ هـغـه دَ خپـو لاندے زمکه سوزيده ځکه چې دَ هـغـه خيل خانه تباه کيده ـ دَ هغے په خوږو خوږيدو خو دَ دنيا دَ پيغور



www.pukhto.net

نه هم یریدو ـ کله کله به يې په زړه کښې راغله چې د دے کلی نه کډه واخلی او داسے ځائے ته لاړ شی چې هلته يې څوک نه پیژنی ـ بیا به يې په زړۀ کښې راغله چې په دے کلی کښې خو هغه پلار په نیکۀ اوسیږی ـ دلته پیدا شوی دی ، دلته مړۀ شوی او ښخ شوی دی هغوی چاته پریږدی ؟ دغه وسوسے او اندیښنې به هغۀ ته راتلے او دَ هغه په وجود به دَ اور لنبې گرځیدے ـ

شهباز خان هم دَ هغۀ نه ځان راخکلے وو او تلۀ راتلۀ يې ختم شوی وو البته کله کله به يې دَ ناظریا نوکر په خوله هغه له سلام لیږو خو عالمې دَ هغۀ په سلام شکی وو چې آیا دا سلام دَ طنز دے او که دَ خیر خواهی ـ

هلته گل دین کاکا باندے دَ هغوی دَ ناچاقی او زړه بداوی بوئیں لگیدو او کیده کیده چې اخر ورته هغه سوړه معلومه شوه کومه چې دَ هغوی دَ خفگان باعث گرځیدلے وه ـ بیائے پکښے گوتے وهلے وهلے او یو لوے ډوغل يې ترینه جوړ کړو او بیا دَ نورو یارانو او دوستانو په مداخلت يې لوے غار جوړ کړو ـ عملی ماما سره به يې هره ورځ دَ عدنان او عنبرین په کیس گوته مجلس کوو او هر لاره وی ته به يې خوله نزدے کړه او په غوږ کښې به يې ورته پټ په پټه ټوله قیصه اوکړه ، هغه دَ غوږ خبرے لاړے په هوا کښې خورے شوے او دَ لاس ، گوتو سترگو او دَ روځو په اشارو په بدلو نومونو او په بدل زمان ومکان دغه قیصے د هر چا په خولے شوے دَ شهباز خان نوکران او ناظر



www.pukhto.net



خو دَ مخکښے نه خبر وو خو پوهـ ځان يې ناپوهـ کړی وو ـ خو اخر خبره شهباز خان او دَ هغه ځامنو ته اورسیده ـ

شهباز خان ډیر لوبغاړے سړے وو ، هغه کوشش کوو چې ټوپک دَ بل په اوږه کیږدی او هغه دَ روستو نه گوته راکاږی ، خو دَ هغه ځامن ویښ شوی وو او هغوی ځان له په خپلو خپو اودریدل او په دے کلی کښې خپل مقام او حیثیت جوړول غوښتل ـ دے دَ پاره هغوی دا غوښتل چې رومبی شروع دَ عالمی یا دَ هغۀ دَ ځامنو نه اوکړی ـ هغوی دَ یو ځائے بل ځائے نه بدمعاشان ، اجرتی قاتلان او خوشکمار ټوپک ماران راوستل او په حجره کښې يې ځان سره ډیره کړل ـ دَ عالمی او دَ هغۀ دَ ځامنو یرولو دَ پاره به يې ورځ کښې یو چکر دوه پټو ته وهو او خشنگیۀ به يې کولے ـ عالمی ته چې پته اولگیده نو هغه هم خپلو ځامنو ته دَ وسلے گرځولو اجازت ورکړو او ورته يې اووے که په سترگو يې پوهـ شویۀ نو اسره پرے اونکړیۀ ـ شهباز خان چی دَ عالمی دَ ځامنو په نیت پوهـ شو نو هغه دَ خپل ځاے نه یو قدم دوه روستو شو او په بله ورله راتاؤ شو ـ دَ ناظر په خوله يې عالمی ته اووے چی "زما دَ مینې نه اوځه او زما زمکه نوره مۀ کره ـ عالمی دَ هغه په جواب کښې اووے چی "ستا مینه او ستا زمکه دے ستا نصیب شی ، زۀ دے تیار فصل ته ایساریم چې دا ترینه واخلم نو ځم به" دَعالمی دَ خولے خبره هغه شهباز خان ته اوکړه ، شهباز خان راضی شو خو دَ هغه ځامنو نه منله ـ شهباز خان عالمی سره نیغ په نیغه او سینه په سینه

زور آزمائی کول نه غوښتل ـ هغه په چل ول دَ هغه دَ سینے نه ځان بچ کول او دَ هغهٔ ځانګ ته ځان رسول غوښتل ـ د ډیر سوچ او فکر نه پس هغه تانے ته لاړو او دَ هغهٔ په ځامنو یې دَ میښے دَ غلا دعویٰ اوکړه۔ ناصر خان او سجاد دواړو په پټې کښې ګوډ کوو چې پولیس پرے چاپه اووهله ـ هغوی یې اونیول او وسله یې ترینه واخسته ـ بیا ئے ورله شاته لاسونه اوتړل په ټول کلی کښې یې اوګرځول ـ بیا ئے ګاډی کښې کینول تانے ته یې بوتلل ـ دَ غلا په کیس کښې زمونږ دَ پولیس کارکردګی ډیره کامیابه وی ـ هغوی په رومبی شپه اقبال جرم اوکړو ـ ناصر خان او سجاد خان لا په حوالات کښې وو او پولیس پرے د لسو ورځو ریمانډ راواخستو ـ هلته شهباز خان ټول خانان او بدمعاشان راغونډ کړل او دَ عالمی فصل یې تاله کړو، بیا یې ټوله زمکه په ټریکټر واړوله او سادین یې کړه ـ په ځاروو ورله پرې واچول او جنګی یې ورله لوټے لوټے کړه ـ عالمې او دَ هغه ښځه په جنګی کښې وو او هغوی دواړو دَ تباهی دا ټوله نظاره په خپلو سترګو اولیده ـ دَ شهباز خان ځامن او سړی چې د دے نه اوزګار شونو بیا یې دَ هغهٔ په کور حمله اوکړه او کډه کوډه یې ورله بهر ته اوغورځوله ـ د عالمی په مداخلت باندې دَ شهباز خان کشر ځوی باز خان دَ هغه په سر دَ کونداغ ګوزار اوکړو عالمې دَ درد دَ لاسه لکه دَ ګوزنی چرګ چورلیدو او تاوید او په دغه چورلیدو او تاویدو کښې راپریوتو او سترګے یې اسمان ته اونیولے ـ دَ کلی خلق چې ورله



www.pukhto.net



رارسیدل نو هغه خپل مقام ته رسیدلے وو۔

په دے کلی کښې دَ عالمی خپل مین او عزیزان، تربوران ډیر وو خو په توده زمکه ځوک خپه نه اړدی ـ په تانه کښې رپورټ درج شو او په الله یارخان او بازخان دَ عالمی دَ مرګ دعویٰ اوشوه مابنام تیاره عالمې خاؤرو ته اوسپارلی شو ـ د هغه په جنازه کښې طوطی خیل او کاکی خیل نه علاوه دَ خواؤ شا کلو ګڼ شمیره خلقو برخه واخسته ـ

## دویمه برخه

سحر چې دَ کلی خلق دَ عالمی کور ته د دعا دَ پاره ورتلل نو دَ هغه دَ کور دروازه او دَ کوټو ټول وروونه لرے وو خو په کور کښې هیڅوک نه وو ـ دا معلومه نشوه چې ګل خوبان شپه په شپه چرته اوتختیده، دَ هغے کډه څهٔ شوه او ځاروی یې چا بوتلل، اوس شهباز خان او دَ هغهٔ ځامنو ته میدان صفا شو ځکه چې دَ هغوی غټ دشمن عالمې مړ شو ـ په کلی کښې دَ هغهٔ، دَ هغهٔ دَ ځامنو دَ هغهٔ دَ ښځے اوکډے څهٔ نښخه پاتے نشوه ـ هلته دَ عالمی ځامنو باندې چې یو ریمانډ ختم شو نو بل راواخستے شو او دَ هغوی له خوا حیرت انګیز انکشافات اوشو ـ هغوی دَ شهباز خان دَ میښې دَ غلانه علاوه دَ لس غلاګانو، شپږ شوکو، پنځه اغوا برائے تاوان، څلور بینک ډکیتی او دَ دهشت ګردی دَ دریو دهماکو اقبالِ جرم اوکړو ـ دَ هغوی متعلق نوے نوے خبرے به روزانه اخبارونو کښې راتلے ـ

شهباز خان دَ پیسو په زور هغوی داسے بند په بند اوتړل چې هډو رپ

قدرے یې نشو وهلے او په خپلو خولو یې دَ هغه جرمونو اعتراف اوکړو چې هر یو جرم یې دَ سزاے موت او عمری قید نه کم نه وو. دَ هغۀ ځامنو باندے دَ عالمي دَ مرګ دعویٰ وه خو دَ عالمي دَ پوسټ مارټم نه پس چې دَ هغه میډیکل رپورټ راغې نو په هغے کښې دَ هغه مرګ دَ ګوزار نه ، نه بلکه دَ هارټ اټیک په وجه شوے وو. پولیس به کله کله چکر وهو ، چائے شربت به یې اوکړل ، جیبونه به یې ډک کړل او واپس به لاړل ، لس اتهه ورځے پس دَ هغوی بی بی اے اوشوه او په ړومبۍ پیشۍ کښې کنفرم شوه. بیا به ښه ډاډه په کلي کښې پرانستې ټنۍ اونچه بریت ګرځیدل او ځاے په ځاے به یې اخ ټخ کوو. دَ انسان ژوند هم عجیبه دے. هغه دَ چا خبره چې کله دریاب او کله کریاب ، یو وخت داسے وو چې دَ شهباز خان دا دواړه ځامن او دَ هغه لور دَ کلي دَ خلقو دَ مخالفت په وجه دَ کوره بهر ته نشو وتلے ټولو ترینه ګیره اچولے وه او لارے یې ورته نیولے وے. شهباز خان دَ خلقو دَ یرے نه ځان پسې دَ حجرے ګیټ بند کړے وو او هغوی کتابونه په لاس ولاړ وو. هغه عالمي ته دَ مدد خواست اوکړو او هغۀ پرے هم هڅو اوچ اونه خوړل دَ هغوی مقابلے ته اووتو ، خپل ځان او ځامن یې دَ هغوی دَ تحفظ دَ پاره قربانۍ ته تیار کړل. دَ هغوی په وجه او دَ هغوی دَ حفاظت په وجه هغوی بچ شو او ځان او ځامن یې دَ ټول کلي دشمنان کړل. اوس دَ هغوی هغه محافظ هغوی په خپله مړ کړو او دَ هغه په مرګ غرتیدل. دَ عالمي دَ مرګ په وجه په کلي باندے دَ هغوی رعب


www.pukhto.net



پریوتو او داسے پریوتو چې بیا به کور په کور او کوڅه په کوڅه دَ الله یارخان اودَ باز خان قیصې او قصیدے وې. ګل دین کاکا خو دَ هغوی په صفت نه مړیدو. هغه دَ شمشاد په بټ او مسکین دَ کبابو په کړهۍ څوڅو ځله دا خبره راوا چوله چې "عالمي عقرب خو تیره کړه دَ تورو خاؤرو لاندے شو خو د دے ځامنو به یې څۀ کیږي ، توبه خدایه توبه ، هغه دَ چا خبره چې میږي ته خداې په قهر شي نو وزرے ورکړي. عالمي ته چې خداې په قهر شو نو ځامن یې ورکړل. یو ترینه لاړو لیونے شو ، دوه ترینه لاړل جیل ته ، دے ترینه لاړو هدیرے ته او ښځه ترینه لاړه میرے ته. اویې ته ګوره ورته عملي جانه ، په خپله به یې وي چې خان ، خان وي او غریب ، غریب وي ، اوس ټینګ شه ورته. شهباز خان دریاب دے دریاب او دا مونږ غریب خلق دَ دریاب ګنګخړې یو. دَ دریاب چپو سره کله یو ځاے پریوځو کله بل ځائے"۔

دَ عالمي دَ ښځے هیڅ پته نه لګیده. "چاوے باړے ته تلے ده چاوے میرے ته تلے ده ، چا وے باجوړ ته خپلې پلارګنۍ له تلے ده. دَ عالمي خپلو تربورانو او عزیزانو به هم هغوی پسې ګډے وډے خبرے کولے. دَ شهباز خان دَ ځامنو کیس میاشت یوه نیمه کښې فیصله شو او دواړه بری شو. دَ هغوی دَ بریّت په خوشحالۍ کښې شهباز خان دَ یوے لوے پارټۍ بندوبست اوکړو. دَ علاقے ټولو لویو لویو خانانو ته یې بلنه ورکړه. دَ هغه ځامنو پکښې دَ شپې دَ پاره دَ ډمو پروګرام اوکړو. د ډمو سره سره دَ شراب وکباب پروګرام هم اوشو. هلته دَ

عالمي دَ څلوېښتې شپه وه خو دَ هغه په کور کښې څوک نه وو۔ دَ هغه ښځه ګل خوبان معلومه نه ده چې دَ چا په در لوغړیده او دلته دَ کلي په لوے ډاګ کښې دَ ډمو دَ ګونګروګانو شړنګار او دَ دوکړو ډنګار وو۔ ډموله د لرے لرے نه خلق راغلي وو او دَ لوے دائرے په شکل چاپیره ناست وو۔ الله یار خان، باز خان او دَ هغوی بچه پارټي په مستئ او څشنګئ دَ میدان په یو سر او بل سر ګرځیدل۔ په ناسته، ولاړه او روانه روانه کښې به دَ شرابو بوتلې الوتے تکے خوړلے کیدے او عجیبه عجیبه مستئ کیدے، الله یار خان او باز خان چې به په مستئ راغلل نو ډمو سره به په ګډا شو۔ چې یو به ګډیدو نو بل به پرے روپئ شیندلے او چې بل به ګډیو نو هغه به دغه کار وو۔ دَ ډمو تماشے ته دَ کوټو په چهتونو ښځے هم ولاړے وې۔ د ډمو دَ شړنګ او دَ دوکړئ ډنګ سره دَ هر چا سر په ګډا او خوله په خندا وه۔ دَ مستئ نشه یې دَ بادو په اس سوره وه او په سر پرته هره ټوپئ کړه۔ شپه پخیده او دَ سرود خوند او مزه زیاتیده۔ دَ عیش ونشاط په دغه مجلس کښې دَ مئینو لاسونه دَ یو بل په اوږو پراته وو۔ ټول دَ ځان نه بے خبر وو که ځوانان او که زاړۀ وو۔ په دغه ناخبرئ کښې به کله کله تماش بین هم په ځان پوهـ نشو، میدان ته به یې ټوپ کړے او دَ الله یار خان په ډله کښې به دَ ډمو سره په ګډا شو۔ دا ګرما ګرمي لاشروع وه چې یو خائسته ځوان، چې سپینې جامے یې اغوستے وې، سپین ښادر یې دَ ځان نه تاؤ کړے وو او سپین غټ پټکی یې په سر تړلے وو په





مستئ مستئ میدان ته راغئ، دَ بجلئ په رڼا کښې صفا ښکاریده چې دَ هغه په مخ لا نه سرۀ وو او نه شنۀ۔ دَ هغه دَ سپین مخ په اننګو کښې دَ بجلئ رڼا او په غټو غټو سترګو کښې یې ځلا ښکاریده۔ هغۀ په راتلو سره کلاشن کوف دَ ښادر نه را اوویستلو او مسکې شو۔ باز خان چې هغه ته اوکتل نو هغه له ورغئ۔ دَ لاس نه یې اونیوو او ځان سره یې په ګډا کړو۔ هغه دَ هغۀ دَ خاطره کلاشن کوف لاندے کړو او یو پیر یې اووهو۔ په دویم پیر کښې هغه کلاشن کوف اوچت کړو ډیر په تیزئ سره یې دَ هغۀ سینے ته اونیوو او دَ ګولو بخئ یې پرے تیره کړه په دیکښے دَیوے غاړے نه اواز اوشو "تښتئ خلقه طالبان راغلل"۔ دے اواز سره میدان ګډوډ شو۔ ډمو او ډمانو هم منډه کړه او هغوی سره الله یارخان هم۔ هغه باندے دَ روستو نه یو زبردست برسټ اوچلیدو او ګولئ دَ هغه په ملا اولګیدلے۔

بازخان او الله یار خان په میدان کښې راپریوتل او په وینو کښې رنګ بنګ په خاؤرو کښې لوغړیدل او په دغه لوغړیدلو لوغړیدلو کښے دواړو ساه ورکړے۔ دوه مړه په میدان کښې پراته وو خو څوک یې دَ اوچتولو نه وو۔ تماش بینو منډے وهلے او هر یو "دوه خپلې دوه پردئ کړے او وې یې خدایه ما سیلئ کړے" او لاړل اووتل۔ په دغه خلقو کښې دَ الله یارخان او باز خان قاتل هم اووتو۔

دَ هغوی دَ مرګ خبر په سترګه رپ کښې خور شو۔ سحر چې دَ هغوی دَ جنازے اعلان اوشو نو قبر له څوک نه تلل ځکه چې ځائے په



Pukhto.Net
www.pukhto.net

ځائے کاغذونہ غورځیدلے وو چې "کہ چا دوی لہ قبرونہ اوویستل ، یایې دَ دوی جنازہ اوکړہ یایې د دوی پخ کړے ډوډۍ اوخوړہ نو دَ هغوی بہ هم دا حال وی "۔ لاشونہ دَ مردہ خانے نہ راؤړے شوی وو خو قبرونہ تیار نہ وو ۔ شهباز خان تہ چې پتہ اولګیدہ نو دَ پولیس پہ ذریعہ یې دَ کلی دَ جمات یوے غاړے تہ پہ خپلو نوکرانو قبرونہ اوویستل خو دَ جنازے دَ پارہ مُلا نہ ملاویدو ۔ دَ لرے لرے ځایونو نہ میلمانۀ راغلی وو او پہ دے انتظار وو چې څوک خو بہ مخکښے شی ۔ پہ ټول کلی یو ګل دین کاکا وو چې هغہ بہ دَ شهباز خان دَ نوکرانو سرہ میلمنو تہ وړاندے ، روستو کیدو ۔ چې مُلا رانہ غی نو دَ شهباز خان پہ وینا ګل دین کاکا مخکښے شو او پہ هغہ ځائے یې دَ جنازے امامت اوکړو چرتہ چې ډمے ګډے شوے وې او چرتہ چې دَ هغوی وینې لا پرتے وې ۔

ګل دین کاکا ډیر سر کښی وو چې پہ ټول کلی کښې صرف یو هغہ تہ دَ ډوډۍ دَ مشرۍ ویلے شوی وو ۔ هغہ د دے راز نہ عملی ماما هم خبر نہ کړو او پہ خپل زړہ کښې خوشحالیدو چې دَ شهباز خان پہ نظر کښې هغہ او صرف هغہ دَ کار سړے هم دے او قابلِ اعتماد هم ۔ دے دَ پارہ یې هغہ یې دَ جنازے امامت تہ هم مخکښے کړو او دَ دیګونو مشرۍ یې هم ورکړو ۔ دے دَ پارہ هغہ دَ کور نہ تیار راغلے وو او ځان سرہ دَ پلاسټک یوہ غټہ ګوټۍ هم راؤړے وہ ۔ ډوډۍ لا شروع نہ وہ خو دَ هغہ نہ نور صبر نہ کیدو ۔ ړومبۍ شروع پرے هغہ اوکړہ ۔ ځان تہ یې دَ روژونہ علاوہ دَ ګوټے ګوټے څیزونہ پہ مجمعہ کښې واچول او



www.pukhto.net



ښہ درز یې ورکړو ۔ چې ښہ موړ شو نو بیا یې دَ واسکټ دَ جیب نہ ګوټۍ را اوویستلہ ، هغہ یې ډکہ کړہ او کور تہ روان شو ۔

میلمانۀ هم پہ منډہ وو او دَ هغوی دَ خدمت هم څوک نہ وو ۔ تر ناوختہ پورے شهباز خان دَ خلقو دَ راتلو انتظار کوو خو چې څوک رانہ غلل نو دَ هغہ پہ وینا کولالانو ډک دیګونہ واړول او خپې یې سپکې کړے۔

دَ شهباز خان دَ ځامنو دَ مرګ نہ دَ عالمی ښځہ ګل خوبان هم شپہ پہ شپہ خبر شوہ ۔ هغہ سحر پہ خړہ پاڅیدہ ، نمونځ یې اوکړو او دَ ځامنو ملاقات لہ جیل تہ لاړہ ۔ دَ ملاقات پہ دوران کښې هغے خپلو ځامنو تہ د پلار دَ قاتلانو دَ مرګ ذکر اوکړو ۔ هغوی دَ مور پہ خبرہ خوشحالہ نشو بلکہ دے خبر سرہ دَ هغوی روڼې خړے شوے ۔ مور ترینہ پہ حیرانتیا تپوس اوکړو "ولے بچو ! تاسو دَ پلار دَ قاتلانو پہ مرګ خفہ یې ۔

ناصر خان :۔ نہ مورے ، دَ هغوی پہ مرګ خفہ نہ یو ۔ خفہ پہ دے یو چې زمونږ خوا پړے یخہ نشو مونږ بہ بدل دَ چانہ اخلو ؟

ګل خوبان :۔ نہ ځویہ تہ ، تاسو دے خدای پہ خیر را اوباسی دا ډیرہ هغوی لہ خدای خپلہ سزا ورکړہ۔

سجاد خان :۔ مورے خلق څۀ وائی چې دا مړی چاوکړل ؟ څۀ پتہ یې لګی ؟

ګل خوبان :۔ هاؤ ځویہ ، خلق وائی چې دا طالبانو کړی دی ۔

ناصر خان :۔ مورے زمونږ خو هډو چا تپوس اونکړو ۔ هډو څوک ملاقات لہ رانہ غلل۔

ګل خوبان :- دا ګیله دَ چانه مه کوه بچے ۔ په توده زمکه ځوک خپه نه اړدی ۔ هر سړے اوبه پوکی او ځان ساتی ۔

سجاد خان :- مورے چی کله کلی ته لاړه شی نو کریم خان کاکا ته اووایه چې زمونږ په فصل او پوله پټی خیال کوی ۔

دَ سجاد خان دے خبرے سره هغه په خپل خیال کښې خپلې لوټے لوټے جنګی کښې اودریده او خپل تاله شوی فصل ته یې کتل ۔ دَ شهباز خان دَ سرو خوشماشۍ او دَ هغوی مستۍ ته یې کتل ۔ هغه منظر ته یې کتل چې دَ هغوی په ځاروو پړی واچولے شو او په ډب ډوب کور ته اوشړلې شو ۔ دَ هغے کډه دَ کور نه بهر اوغورځولے شوه او دَ هغے خاوند دَ باز خان په ګوزار را او پرکیدو دے سره دَ هغے په سترګو کښې غټې غټې اوښکے راغلې خو بهیدیدو ته یې پرے نښودے ځکه چې هغے ته دَ خپلو اوښکو دَ قیمت پته وه ۔ سجاد خان دَ فصل په باره کښې دَ کریم خان ذکر کړے وو خو هغه په دے حیرانه وه چی هغه ته څۀ اووائی ؟ دا چې فصل خو ټول تاله شو، زمکه لاړه دَ بل شوه او جنګۍ لاړه ټوټے ټوټے شوه ۔ هغه لا په دغه خیالانو کښې ګرځیده چې هغه ورته اووے ۔

سجاد خان :- تۀ کوم خوا لاړے مورے ؟ تاته ویم کنه ؟

ګل خوبان :- هنّ ، هاؤ ۔ بالکل به ورته اوویم ځویه ۔ دا غم مۀ کوه ۔

ناصرخان:- مورے یو کار بل هم اوکړه ۔ سید عالم ته اووایه چې زمونږ دَ غوایانو جوړه او میښه خرڅه کړی او دَ وکیل بندوبست راله


www.pukhto.net



اوکړی ۔

دے سره ګل خوبان بیا په خپل خیال کښې لاړه او دَ غوایانو دَ جوړے اولنګے میښې سره اودریده ۔ یو ځل یې بیا په سترګو کښې اوښکے راغلے خو زر یې هغه اوچے کړے او وے وئیل :- ښه بچے ډیره ښه ده ۔ څه بچو زه درنه ځم ، خدای مو خوشحاله ساته ، بیا به راشم ۔ ( هغه په ډکو سترګو دَ هغوی نه روانیږی ) ۔

## دریمه برخه

دَ ځامنو دَ مرګ نه پس شهباز خان ډیرے یواځے شوے وو ۔ یواځے به په حجره کښې پروت وو او زړۀ به یې خوړو البته کله کله ورله ناظر یا نوکر راغی او دَ کلی او زمیدارو متعلق خبرے به اوشوے ۔ دَ عالمی دَ مرګ نه پس اګر چه څۀ خلق دَ الله یار خان او دَ باز خان دَ یرے نه دَ هغوی په پره کښې شامل وو خو دَ زمیدارو اکثریت ترینه خفه وو ځکه چې هغوی ته پته وه چې دَ عالمی غوندے تابعدار سړے هغه ته ښه نشو نو دَ هغوی دَ پاره خو ډیره ګرانه ده ۔ عالمی دَ شهباز خان او دَ هغۀ دَ ځامنو دَ پاره څۀ څۀ نه وو کړے ؟ دَ هغۀ په اوږو دغه دواړه لوے شوی وو او دَ هغه په وجه تر دے حده رارسیدلی وو او هغه سره یې څۀ اوکړل هغه یې اووهلو او مړ یې کړو ۔ کله کله به شهباز خان ته هم دَ هغۀ قربانۍ مخکښے شوے خو دغه قربانۍ به هغه یوه په یوه ټولے رد کړے او ځان سره به یې اووئیل دا دَ وخت وخت خبرے دی“۔

دَ الله یار خان او باز خان مرګ سره دَ هغۀ سوچ هم ګډوډ شوے وو او

Pukhto.Net

کله کله به په ګډوډو سر شو ۔ دغه حال دَ هغهٔ دَ ښځې سلمیٰ بیګم هم وو ۔ هغوی لا دَ ځامنو په مرګ زړونه خوړل چې دَ پاس نه پرے یو بل غم راغلے۔ او هغه دا چې هغه ته یو ګمنام خط په ګوتو ورغے۔ چې په هغے کښې دَ هغهٔ نه دَ یو کروړ روپو ، دَ سل جریبه زمکے او دَ حیات آباد دَ بنګلے مطالبه شوے وه ۔ هغه چې خط اولوستلو نو یخے اوبه پرے تویے شوے ۔ هغه لا په دغه سوچ کښې وو چې دَ حیات آباد تانړې دَ موبائیل پولیس سکواډ راغلے ، هغه یې په ګاډې کښې کینوو او ځان سره بوتلو ۔ چې هلته اورسیدو نو ایس ایچ او ته پیش شو ۔ دَ علیک سلیک نه پس شهباز خان هغهٔ ته اووے "صیب ښنګه مو یاد کړم "۔

ایس ایچ او :۔ تهٔ لا مونږ هیر کړے نه یې بلکه هر وخت مونږ ته یاد یې خو فی الحال مِ د تعزیت دَ پاره راغوستے یې ۔ په اخبار کښې مِ ستا دَ ځامنو دَ مرګ په سلسله کښې یو فیچر دَ نظره شوے وو نو ما وې چې دعا ورته اوکړم ۔ خداې دے هغوی له جنتونه ورکړی اوتاله دے خداې دَ صبر او نیک کارونو توفیق درکړی آمین ۔

شهباز خان :۔ مهربانی صیب ، ډیره مهربانی ۔

ایس ایچ او :۔ ګوره شهباز خانه ، ماتاته ویلے وو چې جوړه اوکړه ، جوړه کښې دے خیر دے خو تا دَ جوړے په ځائے دَ هغوی فصل تاله کړو او هغه مشر غریب دے مړ کړو۔

شهباز خان:۔ هغه صیب په هارټ اټیک مړ شوے دے ۔

ایس ایچ او :۔ ماته هر څهٔ معلوم دی شهباز خانه ، خو چپ کښې خیر



www.pukhto.net



دے ۔ او دَ هغے په بدل کښې ستا دوه ځلمی ځامن لاړل ۔

شهباز خان :۔ صیب ، ماسره دَ ظلم دَ پاسه ظلم کیږی ، ځامن یې راله هم مړهٔ کړل او اوس رانه دَ یو کروړ روپو ، دَ سل جریبه زمکے او دَ حیات آباد دَ بنګلے مطالبه کوی ۔

ایس ایچ او :۔ روپۍ خو روپۍ دی ، چې هم شکرے دے هم پې دی خو په زمکه او بنګله څهٔ کوی ۔

شهباز خان:۔ په زمکه هغوی یو دارالعلوم او هاسټل جوړه ول غواړی او بنګله هغوی دَ جینکو دَ مدرسے دَ پاره غواړی ۔

ایس ایچ او :۔ دا خو ډیره ښه خبره ده ۔ ورکړه ، دا هر څهٔ ورکړه ۔ تا له خداې ډیر څهٔ درکړی دی ۔ چې په بدویې لګوې په نیکه لاره کښې ولے نه ورکوے ۔ او ستا پاتے څوک دی ؟ دغه یوه جینۍ ؟ ته خو هغے ته هم لور نه بلکه دشمنه وائے ځکه چې ستا خبره یې نه ده منلے . دَ هغے څهٔ اوشو ؟ څهٔ پته یې اولګیده که نه ؟

شهباز خان:۔ نه صیب ، هیڅ پته یې نه ده لګیدلے ۔

ایس ایچ او :۔ عدنان کلی کښې دے ؟

شهباز خان:۔ دَ ځائے ، ځائیږی نه یې خبر نه یم البته دومره راته پته ده چې هغه لیونے شوے دې ۔

ایس ایچ او :۔ اینے ته ګوره کنه ۔ مادرته ویلے وو چې جوړه ورسره اوکړه دا هلک بے ګناه دے او خبره دے حد له راغله چې په وهلو وهلو دے هغه غریب لیونے کړو ۔

Pukhto.Net

شهباز خان:۔ هغه مانه دے لیونے کړے خپل عمل لیونے کړے دے ۔

ایس ایچ او :۔ اوس دے څۀ خیال دے ؟

شهباز خان:۔ زړه پـه زړۀ ده صیـب ۔ هغـه نه بغیر بل هیڅوک نشی کیدے ۔

(یـوسپاهی راځی او ایس ایچ او ته وائی ) "صیب یوه زنانه تاسو سره لیدل غواړی "

ایس ایچ او :۔ راځی دے ۔

شهباز خان :۔ صیب که څۀ د پړے خبره وي نو زۀ به درنه لاړ شم ۔

ایس ایچ او :۔ نه ، ته کینه ، دَ پردے هیڅ خبره نشته ۔

یـوه جیـنـۍ پړونـے پـه سر دَ ایس ایچ او دفتر ته راځی ۔ هغه ته سلام کـوی او هغـه تـه مـخامـخ دَ هغه میز ته اودریږی او هغه له یو کاغذ ورکوی ۔

ایس ایچ او :۔ دا څۀ دی ؟

جینۍ :۔ تاسو یې لږ اولولۍ سر ۔

ایس ایچ او:۔ (کاغذ لولی ) "دا خو دَ کوټ میرج دَ آرډر نقل دے ۔

جینۍ جی سر ، دغه نقل دے او اصل دا دے ماسره دے ۔

ایس ایچ او :۔ تا توحید سره وادۀ اوکړو ؟ تۀ عنبرین یې ؟

عـنبـریـن :۔ جی سر ، مونږ وادۀ له قانونی شکل ورکړو ۔ دا نقل تاسو خپل ریکارډ کښې کیږدۍ ۔

ایس ایچ او :۔ او عدنان ؟ هغه پاتے شو ؟



www.pukhto.net



عـنبـریـن ۔عدنان ؟ څوک عدنان ؟ ښه ښه هغه زما ډرائیور ؟ هغه سره زما دَ واده هیڅ خبره نشتـه ۔

ایس ایچ او :۔ دَ هغه نه خبریې ، هغه خو تا پسې لیونے شوے دے ۔

عنبرین :۔ دا خو ډیر ښه اوشو چې هغه لیونے شو ۔

ایس ایچ او :۔ ولې څنګه ؟

عنبرین :۔ لیونی سره به څوک څۀ واده اوکړی ۔

ایس ایچ او :۔ دا توحید هلک څوک دے او څۀ کاروبار کوی ؟

عـنبـریـن :۔ دا هـلـک ، نـه دے سـر ، دا دَ پـنځوسو کالو سړے دې او دَ دووښځو خاوند دے ۔

ایس ایچ او :۔ دے څۀ کاروبار کوی ؟

عنبرین :۔ هم دا کاروبار کوی ۔ زما غوندے بے اسرے جینکۍ ګوری ، واده ورسره اوکړی څۀ مودۀ ورسره تیره کړی او بیا یې خرڅے کړی ۔

ایـس ایـچ او:۔ خرڅے یې کړی ؟ څۀ مطلب ؟ ته چې وائې دوه ښځے یې شته ۔

عـنبـریـن:۔ زۀ دروغ نه وایم سر ۔ دوه ښځے یې شته خو دَ هغوی خبرے روانـے دی ۔ یـوه پـنـجاب ته تلونکے ده او بله تیراه ته ۔ زۀ به یوائځے پاتے شم ۔

ایس ایچ او:۔ تاسره به څه کوی ۔

عنبرین :۔ هم هغه ، څۀ چې نورو سره کوی ۔

ایس ایچ او:۔ او تۀ بیا هم دۀ سره په وادۀ خوشحاله یې ۔

Pukhto.Net پښتو

عنبرین :۔ خوشحاله نه یم خو بله لاره مِ نشته ۔

ایس ایچ او :۔ ولې عدنان ؟ هغه خو شته کنه ؟

عنبرین :۔ یو خو دا چی هغه لیونے دې ۔ بله دا چې هغه زما پلار ته قابلِ قبول نه دے ۔

ایس ایچ او:۔ ستا په وجه هغه څومره بے عزته شو، څومره اووهلے شو او په دغه وهلو وهلو کښې لاړو لیونے شو۔

عنبرین :۔ بیا خو زما په مور، پلار دَ هغه دَ لیونتوب زیرے پکار دے ۔

ایس ایچ او :۔ دَ هغوی نه زیاته خوشحاله خو ته یې ، که داسے نه ده ۔

عنبرین (دَ عدنان په خیال کښې لاړه شی ) هنّ ، څۀ ، هاؤ بالکل هم داسے ده ۔

ایس ایچ او:۔ تا په خپل انجام سوچ کړے دے ؟

عنبرین :۔ هاؤ ، کړے مِ دے ، تباهی ، بربادی ، ذلت او رسوائی خو دا څیزونه ما دَ پاره څۀ نوې نه دی ۔ دا څیزونه دَ هغے وخت نه شروع شوی دی چې زۀ دَ کوره اووتم او اوس خو دے سره عادت شوم ۔

ایس ایچ او :۔ غلطی تا اوکړه او سزا هغه ته ورکړے شوه دا ولے ؟

عنبرین :۔ ماته پته ده چی هغه بے گناه دے خو زمونږ په معاشره کښې دا هم څۀ نوے خبره نه ده ۔ گناهگار پاتے شی او سزا اکثر بے گناه ته ملاویږی ۔

ایس ایچ او :۔ راوتے هغه پسې وی او واده توحید سره کوے ، ولے ؟

عنبرین:۔ زۀ واقعی هغه پسې راوتے ووم خو هغه ته زما دَ راوتو هیڅ





معلومات نه وو ۔ دا ټول کار خورجی کړے دے ۔ ما دا هر څۀ دَ هغے په وینا اوکړل ۔ کوم سړے چی ماپسی راغلے وو هغه دَ تابش ورکړو وو۔

هغۀ زۀ تابش له بوتلل نه غوښتل او ما هم دا نه غوښته چی زۀ دے هغه له لاړه شم ۔ زۀ چې دَ هغۀ دَ اخلاق نه متاثره شوم نو هغۀ سره مِ دَ وادۀ نیت اوکړو ۔

ایس ایچ او :۔ هغه کوم تاثر وو چې تۀ یې هغه سره په وادۀ مجبوره کړے ۔

عنبرین:۔ خبرے ډیرے دی خو دَ ټولو نه لویه خبره دا ده چې هغه دَ تابش دَ پنجے نه بچ کړم ۔ تابش یو بدکرداره او بداخلاق سړے وو ۔

ایس ایچ او :۔ تاته دَ هغه دَ کردار څۀ معلومات دی ؟ ستا هغه سره تعلق وو؟

عنبرین :۔ مانه هغه لیدلے وو او نه مِ ورسره تعلق وو خو دَ هغۀ او دَ خورجی دَ قتل په ورځ ما هغه او دَ هغه کردار اولیدو او دَ هغه خبرے مِ وورېدے ۔

ایس ایچ او :۔ تۀ دَ هغه دَ قتل په ورځ هغه سره وې ؟

عنبرین :۔ زۀ هغه سره نه ووم مونږ ورته پټ ولاړ وو او دَ هغوی ټولے خبرے مو اوریدے ۔

ایس ایچ او :۔ تاسره بل څوک وو ؟

عنبرین :۔ ماسره توصیف وو ۔

ایس ایچ او:۔ دے نه معلومه شوه چې دغه دواره قتله تاسو کړی دی ۔



www.pukhto.net

عنبرین :۔ هاؤ صیب دغه دواړه قتله مونږ کړی دی ۔

ایس ایچ او :۔ ستا بیان ریکارډ کیږی چې بیا منکره نشے ۔

عنبرین :۔ ماته پته ده سر ، چی ټیپ ریکارډر آن دے ۔

ایس ایچ او :۔ او تهٔ بیا هم اعتراف جرم کوے ۔

عنبرین :۔ دغه دواړه قتله جرم نه بلکه دَ معاشرے تطحیر دے ۔

ایس ایچ او :۔ داسے دے ولے اوکړل ۔

عنبرین :۔ خورجی زما ټول ژوند تباه کړو ۔ که ما داسے نه وے کړې نو داسے ډیرے پیغلے به لکه زما رسوا شوے وے ۔

ایس ایچ او:۔ تا چی دَ عدنان سره دَ وادهٔ وعده کړے وه ، هغه پاتے شوه ۔

عنبرین:۔ ماخو درته مخکښے اووے سر چې په هغے زما مور ، پلار خوشحاله نه دی ۔

ایس ایچ او :۔ ته چې توحید سره واده کوے نو توصیف سره به څهٔ کوې ۔

عنبرین:۔ توحید او توصیف دواړه رونړه دی ۔ دَ توصیف دَ ناګهانی مرګ نه پس ما مجبوراً توحید ته غاړه کیښوده ۔

ایس ایچ او :۔ تا عدنان سره دَ واده وعده ماته کړه ؟ (عنبرین چپ پاتے شی ) چپ ولے یې ۔ جواب راکړه۔ (شهباز خان ته اشاره کوی ) دا سړے پیژنے ؟ څوک دے ؟

عنبرین :۔ دا شهباز خان دے ۔

ایس ایچ او :۔ دے ستا پلار نه دې ؟ تهٔ داسے هم ویلے شی چې "دا زما پلار دے"



www.pukhto.net



عنبرین:۔ دے واقعی زما پلار دے خو پلار داسے نه وی ۔ د دهٔ په وجه زهٔ دربه در شوم۔ رسوا شوم او ذلیله شوم ۔ د دهٔ په وجه زهٔ تاڼه کښې ولاړه یم ۔ د دهٔ په وجه زهٔ کچهرو کښې ګرځم ۔ د دهٔ په وجه زهٔ دَ پردو سړو محتاجه شو۔ د دهٔ په وجه زما عزت غیر محفوظ شو ۔ د دهٔ په وجه زهٔ یو داسے بازاری سړی سره وادهٔ ته جوړه شوم چې دَ هغهٔ دَ نوم نه هم ماله کرکه راځی ۔ دهٔ زما وادهٔ یو داسے سړی سره کول غوښتل چې نه هغه ما لیدلے وو او نه یې زه لیدلے ووم ۔ د دهٔ په وجه عالمی بابا خپله لور زما ډولۍ کښې واچوله ، د دهٔ دَ عزت دَ پاره او دهٔ هغه سره څهٔ اوکړل هغه یې مړ کړو ۔ دَ هغه ځامن یې په جیل کښې بندیان کړل ۔ د دهٔ په وجه زما دوه ګلونه رونړه لاړل او دَ تورو خاؤرو لاندے شو ۔ دهٔ زما دَ عزت محافظ اووهلو او په دغه وهلو وهلو کښې لیونے شو ( هغه لا لګیا وه چې بهر په تاڼه کښې شور شو۔ یو سړے دننه راتلل غواړی خو دَ ګیټ سنتری یې دننه نه پریږدی ۔ ایس ایچ او چی دا هنګامه اولیده نو یو سپاهی ته یې اووے ) سنتری ته وایه چې دغه سړے راپریږدی ، په وینو او خاؤرو کښې ککړ یو هلک دَ ایس ایچ او دفتر ته راځی ، دَ راتلو سره هغه ایس ایچ او ته سلام کوی او ورتر غاړه ووځی " صیب سلام علیکم ! جک جوړ ، تکړه ، خوشحاله ، تازه یې صیب ، په بدن ښنګه یې ، صحت دے ښنګه دے ، بال بچ او کلې اولس دے ښنګه دے ۔ څهٔ تکلیف خو درته نشته ، که څهٔ اخوا دیخوا وی نو اواز

کوه ، هر وخت تابعداریم ، ستا دے په خدائ قسم وی چی ما خپل خدمت کښې هیر نه کړے ۔ اوې خان ، بیګاه او نن تهوله ورځ م په زړهٔ راوریدے او ما وے چی انشاء الله سحر وختی به ورسره ملاقات کوم ۔ زهٔ وختی راروان شوے وو خو په لاره کښې واړه راپسې شو په کانو یې ویشتلم او چغے یې وهلے چی "لیونے راغی لیونے" چی دَ هغوی نه م ځان خلاص کړو او تاله راغلم نو دلته دغه سنتری دننه نه پریښودم ۔ وې یې ته دننه نشے تلے ، ماورته وې ولی نشم ، په تهوله لار راغلم او دغلته نشم تلے ، دا خو صیب ماته بیخی لیونے ښکاری ۔ (دَ ایس ایچ او دَ لاس نه پرق اوباسی ) اوې صیب یوه خبره به درته بله اوکړم ، لیونے په خپله دے او ماته لیونے وائی ۔ دے دَ نوکرۍ نه مات کړه صیب ، لرے کړه ، زمانه دے خوښ ، لیونے دے ۔

ایس ایچ او:۔ (خاندی) ښه عدنانه ته څهٔ وائے ؟ (دَ عدنان نوم سره عنبرین هغه ته په ځیر ځیر ګوری ، سترګی یې ډکے شی او مخ ترینه واړه وی )

عدنان :۔ زما یو رپورټ اولیکه صیب چی عنبرین زما ده او زما به وی ، او شهباز خان ته اووایه چی مټ دې خلاص او توره دے تیرهٔ ۔

ایس ایچ او ( شهباز خان ته ګوته نیسی ) دا سړے پیژنے ځوک دے ۔

عدنان :۔ دا نه پیژنم صیب ۔

ایس ایچ او ( عنبرین ته ګوته نیسی ) دا جینۍ پیژنې ، دا څوک ده ؟

عدنان :۔ پیژنم یې نه ، خو وړے یې دَ عنبرین بی بی دی ، داسے ده که


www.pukhto.net



نه ۔

ایس ایچ او :۔ اوه مائی ګاډ ۔

عدنان (عنبرین ته ګوری ) ته عنبرین یې ۔ رشتیا رشتیا به وائے چی ته عنبرین یې ۔که دروغ دے اووے نو بیا تاسره زما کچی ۔

عنبرین :۔ هاؤ زه عنبرین یم ۔

عدنان ( په برق برق خاندی او دَ خولے لاړے یې په وخکو رائحی ) ماوے چی تهٔ عنبرین یې۔ دروغ خو م نه دی ویلے کنه ( شهباز خان ته وائی ) ته اووایه مشره انصاف په تا ، خبره م رشتیا شوه که نه ، (عنبرین ته) ماوچې ته عنبرین یې ۔ تهٔ چرته وی عنبرین ستا په لټون خو زما خپې ماتے شوے ۔ ستا ماسره کچی ده که متې ۔ څه چی څو مړے دلته څهٔ کوے ( عنبرین په خپله لوپټه دَ هغهٔ دَ خاؤرو چخو ډکے سترګی پاکوی ، دَ هغهٔ دَ مخ او سر تازه وینه اوچوی )۔ " دلته بیا رانشې ، دے پردو سړو کښې څهٔ کوے ؟ اوې تا دَ مرغۍ جاله لیدلے ده ؟ مالیدلے ده په جاړه کښی ۔ دوه وړے وړے اګۍ دی پکښې ۔ اوې ۔ هلته په جاړو کښې تکے سرے سرے بیرے دی ۔ (عدنان هغه دَ مټ نه نیسی ) " څه چی څو مړے ، راځه ، راځه (عنبرین دَ ایس ایچ او دَ میز نه دَ کورټ میرج آرډر نقل راخلی ۔ نقل او اصل دواړه یو ځائے کوی ، دواړه پوټې پوټې کوی او دَ ردی ټوکری ته یې اولی ۔ بیا هغه دَ لاس نه نیسی او په مړو خپو دَ دفتر نه روانیږی ، عدنان په تلو تلو کښی وائی " لاړو درنه صیب ، سلام علیکم ، لاړو درنه مشره سلام علیکم ۔

Pukhto.Net

هيڼ هيڼ " (خاندی) ۔ چې هغوی بهر اوځی نو ايس ايچ او شهباز خان ته وائی " اودے ليدل شهباز خانه ! ستا لور تانه پيژني ځکه چې تا هغه اونه پيژنده ۔ ستا دشمن تانه پيژني ځکه چې هغه ليونے شو ۔ لږ سوچ اوکړه ، لږ فکر اوکړه ۔ ستا دَ تباهي يوه بله مرحله هم را روانه ده او هغه دا چې ستا لور دَ تابش او خورجي دَ قتلونو اقبالِ جرم اوکړو او دَ هغے بيان ريکارډ شو ۔ اوس د دغه ليونی له مخه ما هغه ګرفتاره نه کړه خو تر څو ؟ هغه دَ قانون دَ ګرفت نه نشی خلاصيدے ۔ که نن نه وی نو صبا ، که صبا نه وی نو بله ورځ ۔ اوس هم که تهٔ هغه بچ کول غواړے نو په هغے دعویٰ اوکړه او دَ دعویٰ نه پس ورسره جوړه اوکړه ۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆



www.pukhto.net



## شپاړسم باب

دَ ناصر خان او سجاد خان کيس په سيشن کورټ کښې چليدو ۔ په هغوی ګڼ شميره کيسونه او دفعے لګيدے چې په هغے کښې دَ هر جرم دفعه شامله وه ۔ دَ بحث په ورځ دَ هغوی له خوا دَ ملک مشهور وکيلان راغلی وو چې په هغے کښې دَ سپريم کورټ هغه وکيل هم شامل وو چا چې دَ آئين پاکستان خاکه تياره کړے وه ۔ هغه سره معاونين دَ پيښور دَ هائی کورټ دوه وکيلان هم وو ، سيشن جج چې هغه اوليدل نو دَ هغوی په مخکښے ورته خپل ځان دَ عدالت په کرسۍ ډير سپک ښکاره شو ۔ هغه ورته دَ کرسۍ نه پاځيدو خو مشر وکيل هغه په کرسۍ کينولو او ورته يې اووے " چې تهٔ کرسۍ پريږدے نو فيصله به څوک کوی " دے سره هغه په کرسی کيناستو او دَ مقدمے سماعت شروع شو ۔ په هغوی باندے چې کوم الزامونه لګيدلی وو ۔ په هغے کښې ځينې دَ هغوی د پيدائش نه مخکښے شوے وو ۔ ځينے داسے وو چې هغه وخت کښې دَ هغوی عمرونه دَ دوو او څلورو کالو ترمينځه وو ۔ ځينے پکښے داسے وو چې دَ هغے ملزمان نيول شوی او په هغوی کيس چليدو ۔ ځينے پکښے داسے وو چې دَ عدالت په ريکارډ کښې دَ هغے نومونه نه وو پوليس هغوی داده کړی وو هغوی خپله اقبال جرم کړے وو ۔ سرکاری وکيل په دے باندے زور اچولے وو " چې هغوی جرم نه دے کړے نو اقبالِ جرم يې ولے کوو " مشر وکيل مسکے شو او دَ هغهٔ نه يې تپوس اوکړو "ولے صيب ، ستا

زمونږ دَ پوليس په کارکردګۍ کښې څۀ شک دے ؟ زۀ تا دَ يو شپې دَ پاره دوی ته حواله کوم نو تۀ ګوره ، دا دَ کوم جرمونو اقبال چې دوی کړے دے ، د دے نه په څو چنده زيات به تۀ اوکړې ـ دا خو صيب زمونږ د پوليس کمال دے ، دے سره سرکاری وکيل مسکے شو او دَ فائل پاڼه يې واړوله ـ مشر وکيل به په يو يو کيس بحث کوو او سيشن جج به په مسکا مسکا هغه خارجه وو ، چې ټول کيسونه ختم شو نو په اخره کښې يې په ابتدائی کيس يعنی دَ شهباز خان دَ ميښې دَ غلا دَ کيس په باره کښې دَ تانيدار نه تپوس اوکړو "دَشهباز خان دَ ميښې دَ غلا دعوىٰ هم په دوی ده " تانيدار په سينه لاس کيښودو "بالکل جی " مشر وکيل ورته اووے ستا په سرکاری کوارټر کښې چې کومه ميښه ولاړه ده دا دَ شهباز خان نه ده ؟ هغه سترګے خکته کړے خو په خوله يې هيڅ اونه وې ـ سيشن جج دَ هغه دَ جواب انتظار اوکړو خو چې هغه جواب ورنکړو نو دغه کيس يې هم خارج کړو ـ

وکيلانو په مسکا مسکا دَ جج صيب شکريه ادا کړه او دَ عدالت نه بهر اووتل ـ

**دويمه برخه**

چې دَ ناصر خان او سجاد خان کاغذی کارروائی ختمه شی نو هغوی او موريې په يو اوږد موټر کښې کينی او کلی ته روان شی ـ چې ګاډې



www.pukhto.net



دَ مين روډ نه کوز شی او مخکښے لکه دَ قاسم او علی بيګ دَ سړکونو سنګهم ته اورسی نو ګاډې دَ کاکی خيل په طرف روان شی ـ ناصر خان ډرائيور ته وائی ـ استاذ لار دے غلطه کړه ـ ګاډې دے بل لاس ته راواړه وه ـ تۀ دَ طوطی خيل په ځائے کاکی خيل ته روان يې ـ

ډرائيور :ـ په دے حالت کښې به طوطی خيل ته څنګه لاړ شې ـ خلق به درپورے خاندی ـ ماسره به دمه اوکړې ـ اوبه لامبې ، جامے به بدلې کړې ، سرخنه به اوکړې ، چائے ، شربت به اوڅکې ، ځان سر به وسله واخلې او په خپله لاره به ځې ـ داسے مونه ده خوښخه ده ؟

ناصر خان :ـ خبره دے بده نه ده استاذ خو مونږ دانه غواړو چې زمونږ په وجه تاته تکليف اورسی ـ

ډرائيور :ـ زما دَ تکليف غم مه کوه روره ، ماته هيڅ تکليف نشته ـ

سجاد خان :ـ يره استاذ خوشحاله اوسے ،خدای دے مه خرابه وه ـ

کاکی خيل د دغه سنګهم نه دومره لرے نه وو ـ چې هغوی مخ اړه وو راړه وو نو په کاکئ خيل کښې وردننه شوی وو۔ ګاډی په حجره کښی اودريدو ـ چې هغوی دَ ګاډی نه کوز شو نو هغوی يې بيل بيل واش رومز ته اوليږل او دَ هغوی مور ته يې اووے " راځه مورے ته هم لږه دمه شه بيا به دوی سره يو ځائے ځې ـ څه ته مونږ کره ورشه ـ

ګل خوبان :ـ ښه بچيه ، ډيره ښه ده ـ

**دريمه برخه**

ناصر خان او سجاد خان په تږم اوبو اولامبل ، دَ مودو مودو کويلے خيرے

يې دَ ځان نه اوتوکلو ، ځانونه يې ټيک ټاک کړل ، صفا جامے يې واغوستې او واره په واره بهر را اووتل ۔ د کمال خبره دا ده چې دَ هغوی جامے دَ ډرائيور دَ روغے راستے په وجه دَ هغوی په بدنونو بالکل صحي راغلے ۔ چې کله هغوی سټ شو نو بيا په ډائننگ روم کښې لګيدلے دَ چايو ميز ته کيناستل ۔ هغوی چائے څکله او ډرائيور دَ هغوی سروس کوو ۔ چې چائے اوڅکلے شوه نو هغوی يوے بلے خائسته کمرے ته بوتلے شو ۔ ډرائيور هغوی ته په مسکا اووې " که خفه کيږې نه نو دے بالختونو ته بے غمه ډډے واچوې او ښه په ارام اوده شي ۔ دَ ماښام ډوډې به هم دلته اوخورې نو بيا به ځې "۔

ناصر خان :۔ سجاد خان ته ګوری او وائی " يره سجاد خان ، خبره خو بده نه ده ، لږ ساه صورت مو په ځائے شی او لږ ارام به هم اوکړو ۔

سجاده خان :۔ ډيره ښه ده لالا ، هم داسے مِ خوښه ده " دے سره ډرائيور بهر اوځی ۔ لږه شيبه پس هغه يو ماشوم څوے په غيږ واپس راځی ۔

ناصر خان چې دَ هغه په غيږ کښې ماشوم اووينی نو دَ هغه نه تپوس کوی ، " استاذ دا ماشوم څوک دے ؟ دا دے څوے دے ؟ ماشاء الله ، خداې دے د نظره نه کړی دا خو ډير خائسته دے بالکل ستا غوندے دے ۔

ډرائيور :۔ هاؤ کنه صيب۔ دا زما څوے دے ځکه زماغوندے دے ( هغه دَ ناصر خان خواله راځی او وائی ) "ماما له چاچې ورکړه ۔ ماما ته سلام اوکړه "۔



www.pukhto.net



ناصر خان هغه له لاس ورکوی او هغه ښکلوی ، بيا يې سجاد خان له راولی او ورته وائی "ماما له چاچې ورکړه ، ماما ته سلام اوکړه ، سجاد خان هغه ښکلوی او وائی "ماشاء الله ، ډيرخائسته ماشوم دے ، خدای دے درته لوے کړی "۔ بهر په غولی کښې يو ښکلې ځوان ، غټې پټکی په سر او کلاشن کوف په لاس ګرځی راګرځی او کله کله هغوی ته اوګوری ۔ دَ ناصر خان او سجاد خان سترګے چې په هغهٔ اولګی نو دواړه دَ هغه حسن ته حيران شی ۔

ناصر خان دَ ډرائيور نه تپوس کوی "استاذ دا هلک څوک دے چې کلاشن کوف په لاس بهر ولاړ دے "۔

ډرائيور :۔ (مسکې شی ) " دا تاسو اونه پيژندو ؟ دا هغه طالب دے چې ستاسو دَ پلار په سر کښې يې دوه کسان دَ هغه په لاره اوليږل ۔

ناصر خان او سجاد خان ( په حيرانتيا ) اوه ، دا هغه ځوان چې زمونږ دَ پلار بدل يې اخستے دے ۔ د دهٔ خو لاسونه دَ ښکلولو دی "۔ دے سره هغوی دواړه پاڅی دَ کمرے نه بهر اوځی ۔ ځلمے چې هغوی اووينی نو کلاشن کوف ځنګ ته واچوی او هغوی له راروانيږی ۔ ناصر خان هغه له خوره غيږ ورځی خو هغه ورله دَ غيږ په ځائے لاس ورکوی ۔ ناصر خان دَ هغهٔ لاسونه ښکلوی او هغه هم دَ ناصر خان لاسونه ښکلوی ۔ هغه بيا سجاد خان له لاس ورکوی او دواړه دَ يو بل لاسونه ښکلوی ۔ ډرائيور هغه ته ګوری او وائی " راځه کمره کښې کينه " هغه په خوله هيڅ نه وائی ، دَ ځنګ نه کلاشن کوف رااوباځی او دَ

ناصرخان غاړے ته یې اچوی ـ بیا دَ سر نه پټکی کوزوی د ناصر خان په سر یې اږدی او غلے غونے وائی "زما کار ختم شو ، نور کار ستا سو دے " ګل خوبان هغوی ته پټه ولاړه وه او دَ هغوی تماشه یې کوله ـ ناصر خان او سجاد خان لاځۀ ویل غوښتل چی په دیکښے دَ هغوی مور راغله او په مسکا یې هغوی ته اووے "دا څوک دی بچو ! دا مو اوپیژنده ؟ داستاسو خور بخت بی بی ده ـ دا ډرائیور استاذ ستاسو اوخے ګوهر کاکی دے او دا ماشوم ستاخوریې دے " دے سره دَ ناصر خان اوسجاد خان سترګے دَ اوښکو نه ډکے شی خو دا معلومه نه وه چی دا اوښکے دَ خوشحالۍ دی او که دَ خفګان ؟ خو چی کله ناصر خان د هغے په سرتور سر دَ مینے لاس کیښودو نو ټول په ژړا شو ـ دے نه پس ناصر خان دَ هغے په سر لوپټه واچوله او یو څل یې بیا دَ هغے لاسونه ښکل کړل ـ دغه رنګے سجاد خان هم څو څله دَ هغے لاسونه ښکل کړل ـ ناصر خان هغے نه معافی اوغوښته او وئیل " بخت بی بی تا چې کوم کار اوکړو دا مونږ نشو کولے ـ تا زمونږ سترګې خلقو ته اوچتی او څان ته خکته کړے ـ

بخت بی بی :ـ نه لالاجی داسے مه وایه ، زۀ ستاسو دَ خپو خاؤرے یم ـ ماخپل فرض ادا کړو چی زما دَ پلار روح خوشحاله شی ـ او دَ شهباز خان په زړه کښې دا رانشی چې دَ عالمی کورنۍ ختمه شوه۔

ناصر خان :ـ بخت بی بی تر اوسه زما دا خیال چې ښځه ښځه وی او سړے سړے وی ـ ښځه یو کمزورے او بے وسه بنیادم دے او سړے توانا او



www.pukhto.net



طاقت وو ـ ښځه ، بزدله او یریدونکے وی او سړے ، بهادر او دلیروی خونه ، داسے نه ده ـ ښځه ، ښځه هم وی او مور هم ، ښځه خور هم وی او رور هم وی ـ ښځه کمزورے هم وی او طاقتوره او بهادر هم ـ تا زمونږ دَ پلار روح خوشحاله کړو او مونږ بدقسمته داسے پاتے شو۔ نن نه پس تۀ زمونږ خور نه بلکه رور یې ، په عمر کښې کشر او په مړانه کښې دَ ټولو نه مشر ـ

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

☆☆☆

☆

## اوولسم باب

شهباز خان چې دَ ناصر خان او سجاد خان دَ خلاصيدو نه خبر شو نو هم په هغه ورځ فالج اووهلو ، دَګوهر کاکی ګاډې په پل تير شو کاکی خيل ته لاړو او دَ شهباز خان ګاډې په پُل وراوختو هسپتال ته لاړو ـ هغه سره په ګاډی کښې يوه ښځه وه او بله خدمتګاره ـ دَ هغه په زړه ډيرے خبرے وې او هغه ځۀ ويل غوښتل خو ژبه يې نه ګرځيده او دَزړۀ خبرے يې په خوله نه راتلے ـ چی هغه په هسپتال کښی داخل شو نو ښځه ترينه کور ته راغله او خدمتګاره يې ورسره پريښوده ـ

هلته عنبرين او عدنان دَ حيات آباد تانړے پوليس اونيول ـ عنبرين يې دَ تابش اوخورجی په کيس کښې په حوالات کښې بنده کړه او عدنان يې پاګل خانے ته اوليږلو ـ ګوهر کاکی چې دَ عدنان نه خبر شو نو هغه يې دَ پاګل خانے نه اوويستلو او دَ پنډۍ په سی ايم ايچ هسپتال کښې يې داخل کړو ـ دَ هغۀ دَ خدمت دَ پاره يې خدمتګاره اوليږله او په خپله اسلام آباد ته لاړو ـ هلته به يې خپله ډيوټی هم کوله او دَ هغه خبر به يې هم اخستو ـ دَ عدنان ټستونه شروع وو او دَ هغه دَ بيمارۍ په شخيص کښې ډاکتران لګيا وو چې هغه عنبرين پسې هم خپله منډه ، ترړه شروع کړه ـ چې کله هغه جيل ته شوه نو بيا ئے زړو وکيلانو سره خبره اوکړه ـ هلته دَ عدنان دَ بيمارۍ مکمل تشخيص اوشو او هغه ته اوويلے شو چې په سر دَ ګوزار په وجه دَ هغه په مغزو کښې زخم راغلے دے ـ ګوهر کاکی چې دَ هغه دَ مغزو دَ زخم خبره



www.pukhto.net



وورېده نو پريشان شو او ډاکتر ته يې اووے ـ

ګوهر کاکی :ـ دا زخم به ښه شی ؟ زما مطلب دے چې ستاسو اميد شته ـ

ډاکټر :ـ دغه سر ټيفيکيټ خو نشو درکولے البته مونږ پُر اميده يو ـ

ګوهر کاکی :ـ ډاکټر صيب ، دَ اپريشن ضرورت خو نشته ؟

ډاکټر :ـ نه ، فی الحال خو ځۀ داسے خبره نشته ـ مونږ کوشش کوو چی دغه Damaged veins يعنی زخمی رګونه په انجکشنو سره ټيک شی ـ دعا ورته کوئ چی د اپريشن نه بچ شی ـ بهرحال زۀ پُر اميده يم ـ تينک يو ـ دے سره ډاکټر دَ هغه نه روان شو ـ دَګوهر کاکی په ذهن يو لوے بوجه وو ـ يو خوا دَ عدنان دَ ژوند او مرګ مسله وه بل خوا دَ عنبرين دَ مرګ او ژوند مسله وه ، هغه په دے دواړو مسلو کښې داسے انختې وو چې خپل دفتری کارهم ترينه پاتے وو او چې کله به دفتر ته لاړو نو هله به د کرسۍ نه پاڅيدو چې دَ هفتو هفتو کار به يې ختم کړو ـ دے دَ پاره بـه هغه کله کله تهوله ورځ او تهوله شپه خوړه خو خپل کار به يې ختموو ، دَ هغه دَ مصروفيانو متعلق په کور کښی هيچا ته علم نه وو البته پلار ته يې دَ عنبرين او دَ عدنان دَ کيسونو خبره کړے وه ـ هغه سره به يې کله بلمشافه او کله په موبائيل صلاح کوله او دَ هغه نه به يې مشوره اخسته ـ په دے دومره موده کښې هغه نه عنبرين سره ملاقات کړے وو او نه يې دَ هغے کيس سټډی کړے وو ، البته دَ هغے وکيلانو سره به يې دَ هغے دَ کيس متعلق خبرے کولے ـ

ناصر خان او سجاد خان سره چې دَ هغوی دَ گرفتارۍ په ورځ کومه وسله نیولے شوے وه ۔ نو دَ هغوی دَ بریّت په وجه یې سیشن کورټ لـه دَ هغـے دَواپسۍ درخواست ورکړے وو ۔ په رومبۍ پیشۍ کښې دَ هغه درخواست منظور شو او عدالت دَ وسلے دَ واپسۍ آرډر اوکړو ۔ گوهر کاکی هغه آرډر تانه کښې ورکړو او دواړه کلاشن کوفے یې سره دَ کارتوسو کور ته راؤړے ۔ ناصر خان او سجاد خان دَ حجرے په کټونو کښې پراتـۀ وو بالختونو تـه یې ډډے وهلے وې سجاد خان سترگے پټې کړے او ناصر خان او سید رحیم کاکی خپلو کښې خولے ورکړے وې چې دَ گوهر کاکی گاډې حجرے ته دننه شو ۔ هغه دَ گاډی نه کوز شو ، د هغوی وسلے یې دَ گاډی نه را واخستے او هغوی له یې ورکړے ۔ ناصرخان چې خپلې وسلے ته اوکتل نو دَ ډیرے خوشحالۍ نه یې خوله وازه اوتختیده ۔ چې دا یې اوکړل نو کور ته لاړو ، یوه پیالۍ چائے ئې اوڅکله ، خپل اودۀ ماشوم جوهر کاکی یې ښکل کړو ۔ بهر حجرے ته لاړو ، په گاډی کښې کیناستو او پنډۍ ته روان شو ۔

گل خوبان خپلو څامنو ته دَ شهباز خان دَ ظلم او جبر تولـه قیصه تکې په تکې کړے وه ۔ دَ هغوی دَ فصل تاله کیدل ، دَ هغوی دَ څاروو دَ جنگۍ ورانیدل ، دَ هغوی په څاروو پړې اچول ، دَ هغوی کله دَ کور نه بهر غورځیدل ، په عالمی دَ کونداغ گوزار کیدل او دَ هغه دَ مرگ تولے خبرے هغے اوکړے ۔ په ژړا کښې هغے اووے چې "زما نیمه کله بهر پرته وه ، نیمه په کور کښې وه ، او ستاسو پلار پټې سترگے په زمکه



www.pukhto.net



پروت وو ۔ چې دَ شهباز خان څامن او دَ هغه اشرگندی لاړل نو دَ کلی خلق راغلل ۔ ماوے گینۍ ستاسو پلار بے هوشه دے ۔ یو څو کسانو چې دَ هغه نبض اوکتو نو خپلو کښې یې پس پسی اوکړل او بهر اووتل ۔ لږه شیبه پس دَ جمات په لوډ سپیکر کښې دَ هغه دَ مرگ او دَ جنازے اعلان اوشو ۔ ماچې دا واوریدل نو بیا په څان نه یم پوهـ شوے خو چې سترگے مې اوغړولے نو زه دلته پرته ووم ، کله مې دلته پرته وه او څاروی مې کاکی خان دَ پالنے دَ پاره په خپلو زمیدارو تقسیم کړی وو ۔ ستاسو په پلار کفن کاکی خان اچولے دے او ستاسو دَ پلار بدل په یوائے سربخت بی بی اخستے دي چې نه ترینه زۀ خبر ووم او نه گوهر کاکی خو چې کله یې بدل واخستو او واپس راغله نو ماله یې مبارکی راکړه ۔ دے نه علاوه یې دَ طالبانو له خوا څائے په څائے کاغذونه غورځولے وو چې کله چا دے مړو له قبرونه اوویستل ، د دوی جنازه یې اوکړه یا دَ دوی پخ کړے دوډۍ یې اوخوړه نو د هغوی به هم دغه حال وی لکه د دوی چې وو ۔ یو څو ورځے پس یې شهباز خان له یو خط اولیږو چې په هغے کښې دَ هغۀ نه دَ سل جریبه زمکے ، د حیات آباد دَ بنگلے او دَ یو کروړ روپو مطالبه شوے وو ۔ هغے دا غوښتل چې شهباز خان اعصابی طور سره مفلوج کړی او داسے واقعی اوشو ۔

## دویمه برخه

په کومه ورځ چې عدنان جین کیدو په هغه ورځ دَ عنبرین دَ کیس پیشۍ هم وه کیس هغه وکیلانو ته سپارلې وو او هغوی له یې خپل

Pukhto.Net

فیس ورکړے وو نو په دیکښے دَ هغه دَ موجودګی څۀ خاص ضرورت نه وو۔ هغه شپه په اسلام آباد کښې اوکړه او سحر چې سی ایم ایچ ته ورغی۔ نو عدنان جین شوے وو او دَ هغه انتظار یې کوو ۔ ګوهر کاکی هغه اوخپله خدمتګاره په ګاډی کښې کینول او پېښور ته روان شو ۔ چې کچهری ته ورغی۔ نو ګوهرکاکی ، عدنان او خپله خدمتګاره په ګاډی کښې پرېښودل او په خپله عدالت ته ورغی۔ ۔ دَ عنبرین په کیس وکیلانو بحث کوو ۔ دے کیس دَ پاره وکیلانو ډیره تیاری کړے وه ۔ دَ خپل ملک دَ ډیسائډډ کیسونو نه علاوه دَ هندوستان ، بنګله دیش ، یورپ او امریکے دَ ډیسائډو کیسونو حوالے یې ورکولے سیشن جج وې چې دا وکیلان دی که پیریان ۔ چې دَ کوم کیس متعلق هغۀ اوریدلے هم نه وو دَ هغے فیصلے یې ورته په کتابی شکل کښې په ګوته کړے ۔ دَ هغوی مخکښے هغه ته خپله مطالعه ډیره کمه ښکاره شو او لکه دَ ناصر خان او سجاد خان دَ کیس یې هغه بری کړه ۔ ګوهر کاکی چې دَ وکیلانو دَ چائے ، شربت نه فارغ شو نو بیا یې دَکاغذی کارروائی انتظار کوو۔ لږه شیبه پس هر څۀ مکمل شو او هغه دَ هر څۀ نه بے غمه شو بیا عنبرین له ورغی۔ او هغے ته یې اووے "راځی جی چې ځو ۔ عنبرین هغه ته دَ شکرے دَ اوښکو په ډکو سترګو اوکتل او وے وئیل "تاسو خو زما ډیرلوے خدمت اوکړو ، بلکه زما ژوند دے په بیعه واخستو ۔ لږ راته ځان اوښایه چې ته څوک یې او چا رالیږلے ؟



www.pukhto.net



ګوهر کاکی ( مسکې شی ) "زۀ چې دَ چا دَ مخه راغلے یم هغه په ګاډی کښې ناست دے او ستا انتظار کوی ...راځی جی ...پلیز "

عنبرین په زړه اوخوړه چې دَ هغے پلار شهباز خان په خپلو کړو ستومانه دے دا سړے هغه رالیږلے دې او په خپله په ګاډی کښې ناست دے زما انتظار کوی چې ګاډی ته ورغلل نو حیرانه شوه چې هلته دَ هغے پلار نه بلکه دَ هغے لیونے مئین عدنان ناست وو۔ عدنان ته هم دَ هغے دَ کیس معلومات نه وو ۔ هغه هم دَ عنبرین په لیدو حیران شو او داسے حیران شو لکه چې خوب وینی او په خوب کښې ورته عنبرین ولاړه ده ۔ هغه او دَ ګوهر کاکی خدمتګاره دَ ګاډی نه کوز شو او هغے سره یې روغ جوړ اوکړل ۔ دَګوهرکاکی دَ خوشحالی انتها نه وه ۔ نن هغه دومره خوشحاله وو چې دَ خوشحالی نه یې سترګے دَ اوښکو ډکے وې ۔ هغه خدمتګارے ته اووے "ته راځه مخکښے کینه او دغه دواړه لیونی خپلو خبرو ته پرېږده "دے سره هغه بیا مسکے شو او ګاډی له یې خپه ورکړه ۔ ګاډی روان وو ۔ عنبرین دَعدنان سر په خپل غېږ کښې ایښے وو ، کله به یې دَ هغه اوښکے اوچولے او کله خپلې ۔ چې ګاډی دَ طوطی خیل او کاکی خیل سنګهم ته اورسیدو نو ګوهر کاکی ګاډے کاکی خیل ته تاؤ کړو۔ عنبرین په هیبت اووے "تاسو چی لاره غلطه کړه ۔ طوطی خیل ته دا بله لاره تلے ده ۔

ګوهر کاکی :۔ ماته پته ده بی بی خو په داسے حال کښې به تاسو کلی او کورته ځنګه لاړ شی۔ زما په کور کښې به لږ دمه شی۔ ، کپړے به

بدلۍ کړي ، یوه پیالۍ پیالۍ چائے به اوڅکی ، بیا به مو په ګاډی کښې کینوم او کلی ته به مو اورسوم ۔

عنبرین :۔ نو ، نو ۔ ما پلیز دلته کوزه کړه ۔

ګوهر کاکی :۔ ولې بی بی په مادے څۀ شک دے ؟

عنبرین :۔ نه صیب ، تۀ زما دَ پاره دَ نیکۍ فرشته یې ۔ تاخو زمانه دَ اجل فرشتے اوشړلے ۔ ۔ ۔ که تۀ نه وې نو زما سزاے موت یقینی وو ۔

ګوهر کاکی :۔ نو بیاولی بی بی جی په ما اعتبار نه کوے ۔

عنبرین :۔ زاړۀ زخمونه مِ مه تازه کوه پلیز ، دا لویه قیصه ده خو بس دغه کلے او دغه خلق په ما ښه نه لګی ۔

ګوهر کاکی :۔ دغه کلی کښې خو زۀ هم اوسیږم بی بی ۔ زما دَ خاطره پلیز ۔

عنبرین O.k,go on ۔ ( ګوهر کاکی ګاډے روان کړی ) ۔

ګوهر کاکی :۔ بی بی جی داسے څۀ خبره ده چې د دغه کلی او د دغه خلقو نه نفرت کوے ۔

عنبرین :۔ ټولو نه ، نه بلکه دَ یو سړی نه ، دَ یو کس نه ؟

ګوهر کاکی :۔ دَ یو کس خیر دے بی بی دے خو ما وې که د دغه کلی دَ ټولو خلقو نه نفرت کوے ۔

عنبرین :۔ نه ، نه ، صرف دَ یو کس نه ۔

ګوهر کاکی :۔ بی بی جی زۀ د دغه کلی اوسیدونکے یم او دغه ټول خلق زه پیژنم ۔ هغه څوک دے چې تاسو ترینه نفرت کوی ۔



www.pukhto.net



عنبرین :۔ هغه ګوهر کاکی دے ؟

ګوهر کاکی :۔ اوه ، ګوهر کاکی ، هغه واقعی قابلِ نفرت دے خو بی بی جی داسے څه خبره ده چې ستاسو ترمینځه یې ورانے راوستې دے ۔

عنبرین :۔ تۀ دَ ورانی خبره کوے ، دَ هغه دَ لاسه خو زه تباه شوم ، ذلیله شوم رسوا شوم ، که ستا غوندے فرشته دَ انسان په شکل کښې زما مدد له نه وه راغلے نو اوس به زۀ پهانسی ګهاټ ته رسیدلے ووم ۔

ګوهر کاکی :۔ هرڅۀ الله کوی بی بی جی ۔ انسان خو صرف یوه وسیله ده (هغه ګاډے حجرے ته دننه کوی ۔ ۔ ۔ چې ګاډے اودروی نو هغه ترینه کوزیږی ۔ هغوی ته کړکۍ لرے کوی او ورته وائی "راځۍ بی بی جی ۔ راځۍ " ۔

هغوی ټول چې کور ته ننوځی نو دَ کور ټول خلق هغوی له راپاځی ۔ عنبرین چې ګل خوبان ، ناصر خان ، سجاد خان او بخت بی بی اووینۍ نو حیران حیران ګوهر کاکی ته ګوری او هغوی چې عنبرین او عدنان اووینی نو هغوی دوی ته حیران حیران ګوری ۔ ټول یو بل له غاړے ورکړی ۔ دَ ګوهر مور نایله بیګم ګوهر ته وائی " ګوهره ، دا دوه مفروران دے دَ کومے راپیدا کړل ؟

دَ ګوهر دَ نوم په اوریدو سره عنبرین هغه ته په حیرانتیا ګوری او وائی " ته ګوهر کاکی یې ؟ ګوهر کاکی مسکے شی او وائی " جی زۀ ګوهر کاکی یم خو هغه ستا ګوهر کاکی نه یم بلکه دَ بخت بی بی ګوهر او دَ جوهر کاکی پلار یم " ۔

عنبرین هغه ته په مړو سترګو ګوری او وائی "ته انسان نه بلکه...(ټول دَ هغې خولې ته ګوری) ... ته انسان نه بلکه ....فرشته یې"۔

نائله بیګم (خاندی) یَه لورې دومره په سر یې مۀ خیژه وه ګوری بیا به ترینه ځان روک شی ۔

عنبرین :۔ نه مورې نه ، انسان داسې نشی کیدے ۔ مادۀ سره څۀ کړی وو او ده ماسره څۀ اوکړل ۔ ما چې چاته دَ خپل سر دشمن ویلې ، هغه زما دَ سر محافظ اوختو ، آئی ایم سوری ګوهر ، آئی ایم ریبلی سوری ۔ ما معاف کړه ګوهره ، ماتاسره ډیر زیاتې کړې دے ۔

ګوهر کاکی هغې ته په ډکو سترګو ګوری ، دَ هغې په سر لاس اړدی او وائی ۔ Take it easy please

عنبرین : زه درنه یو ځل بیا معافی غواړم ۔ ما معاف کړه پلیز ۔

ګوهر کاکی :۔ عنبرین زۀ ستا په مینه او ستا په وفا فخر کوم ۔ تا چې دَ مینې او وفا کوم مثال قائم کړو دا دَ ټولو پیغلو دَ پاره دَ لارې یو مثال دے ۔ زۀ ستا دَ مینې تقدس ته سلام پیش کوم ( هغه په تندی لاس اړدی ) یوه خدمتګاره راځی او هغوی ته وائی " چائې تیاره ، ډائننګ روم ته راځئ "۔

ګوهر کاکی :۔ دَ چائې څکلو نه مخکښې یوه صلاح کوو تاسو ټول کینئ (ټول کینی او دَ هغۀ خولې ته ګوری ) "ما په خپل زړۀ کښې یوه فیصله کړې ده او زۀ امید کوم چې تاسو ټول به ماسره په دے متفق



www.pukhto.net



یې ۔ فیصله دا ده چې دَ عنبرین او عدنان وادۀ زر تر زره اوشی ۔ (ټول خاندی او خوشحالیږی )۔

عدنان دَمور دَ اوږې نه سر اوچتوی او وائی " واه هبی واه ، ماته پته هم نشته او وادۀ کیږی ۔ زۀ دے وادۀ ته تیار نه یم ۔

عنبرین ( دَ هغه نه غوږ راکاږی ) زه به تانه غوږونه اوباسم ( ټول خاندی )۔

ګوهر کاکی :۔ ښه نو دَ دوی دَ وادۀ نیټه ستاسو په صلاح دا شوه چې دا صبانې اتوار نه بلکه راتلونکې اتوار د دوی دَ وادۀ نیټه شوه ۔

عدنان :۔ صبانې اتوار ولې نه ؟ ( ټول خاندی )

ګوهر کاکی :۔ عنبرین بی بی ته هم څۀ اووایه کنه ۔

عنبرین:۔ هاؤ ، ضرور ، دَ وادۀ نه مخکښې زۀ دَ خپل شهید بابا په قبر دَ ګلونو سهره اچول غواړم (دے سره ټول په ژړا شی او چغې وهی ۔ دَ هغوی ژړا ، انګولا لاشروع وی چې دَ کلی دَ جمات په لوډ سپیکر کښې اواز راشی:۔ " یو اعلان ووری ۔ دَ طوطی خیل شهباز خان په حق اورسیدو ، صبا لس بجې به یې په لویه هدیره کښې جنازه وی ۔ انالله وانا الیه راجعون ۔

عنبرین په ډکو سترګو ټولو ته ګوری او دَ ګل خوبان په غیږ کښې سر اړدی ۔

**ختم شو**